فسئلوا اهل الذكر ان كنتم لا تعلمون

فتاوی دیوبند پاکستان

المعروف بہ

فتاوی فریدیہ

پښتو نهم جلد

افادات

محدث کبیر فقیہ العصر مفتی اعظم عارف باللہ مولانا مفتی محمد فرید رحمہ اللہ

جامعہ دار العلوم حقانیہ اکوڑہ خٹک

تخریج او ترتیب

مفتی انور شاه، مفتی احمد عباس (کرک)

ترجمه او کمپوزنگ

مولانا عبد المنان صاحب مدظله، مولانا نجم الرحمن فضلي مدظله

زیر سرپرستی

مولانا حافظ حسین احمد صدیقی نقشبندی

مهتمم دار العلوم صدیقیه زروبی ضلع صوابی

جدید مکتبہ رشیدیہ

جادہ میوند سرچوک کابل | محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور

0782690850 | 091-2580074

دکتاب نوم: فتاوی دیوبند پاکستان المعروف بفتاوی فریدیه (**نهم جلد**)

افادات: محدث کبیر فقیه العصر مفتی اعظم عارف بالله مولانا
مفتی محمد فرید مجددی زروبی رحمه الله
شیخ الحدیث وصدر الافتاء جامعه دار العلوم حقانیه اکوړه خټک

ترتیب اوتخریج: مفتی انورشاه، مفتی احمد عباس (کرک)
دار الافتاء دار العلوم صدیقیه

مترجمین: مولانا عبد المنان صاحب مدظله، مولانا نجم الرحمن فضلی مدظله

تصحیح: مفتي محمد یعقوب نائل

ستنګ : دار الترجمه اوکمپوزنګ سنتر عبد الغنی پلازه محله جنګی پشاور

مخونه: ۵۹۲

دچاپ کال: اګست ۲۰۱۸ء مطابق ۱۴۳۹ھ

ناشر

جدید مکتبه رشیدیه

محله جنګی قصه خوانی پشاور 091-2580074

دکتاب ترلاسه کولو ځایونه

(۱) پیښور	(۵) پروان	(۹) جلال آباد	(۱۳) لوګر
(۲) اکوړه خټک	(۶) کندوز	(۱۰) قندهار	(۱۴) خوست
(۳) کوټه	(۷) غزنی	(۱۱) بغلان	(۱۵) کابل
(۴) فاریاب	(۸) مزارشریف	(۱۲) لشکرګاه	جاده سرچوک

د مضامينو فهرست

مضمون	صفحه

باب اللباس والزينة

صفحه	مضمون

مضمون	صفحه

باب الشعر

مضمون	صفحه

باب الأسماء

صفحه	مضمون

باب الختان

باب الضیافة و إجابة الدعوة

باب السّلام

صفحه	مضمون

باب التداوی والمعالجة

صفحه	مضمون

صفحه	مضمون

باب الرياضة البدنية

باب الأشربة

مضمون	صفحه

باب الرشوة

مضمون	صفحه

باب أموال اليتامى

باب التصوير

باب الغناء ورسومات النكاح

مضمون	صفحه

باب الكذب

مضمون	صفحه

باب الشتم

مضمون	صفحه

باب الوعد

صفحه	مضمون

باب حقوق الأستاذ

باب توهين الامام والعلماء

مضمون	صفحه

باب ختم القرآن وتعليمه وآدابه والأجرة عليه

مضمون	صفحه

باب آداب الكواغذ

باب التوبة

باب الأمر بالمعروف والنهى عن المنكر

مضمون	صفحه

باب ترک الموالات

باب أحكام الآلات الجديدة

مضمون	صفحه

باب مسائل الكهرباء وعدّادها

باب مسائل البيشى

باب التصرف في الملكية

صفحه	مضمون

الله الله

فتاوی فریدیه

نهم جلد

باب اللباس والزينة

الله الله

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَکَ وَتَعَالٰی

قُلۡ مَنۡ حَرَّمَ زِيۡنَةَ اللّٰهِ الَّتِيۡ اَخۡرَجَ لِعِبَادِهٖ وَالطَّيِّبٰتِ مِنَ الرِّزۡقِ، الآية.

(سورة الاعراف)

....

باب اللباس والزينة

مسنون لباس او د پګړۍ تعریف

سوال: علماء کرام دې مسئلې باره کې څه وايي چې نن سبا طالبان بلکې عالمان هم يو نيم ګز پګړۍ تړي ځينې زېړ رنګ، ځينې سپين رنګ او ځينې شين رنګ، په دې اړه څه شرعي دليل شته؟ او جناب دا هم وليکئ چې په کومو کتابو کې ددې يادونه شوې، ځکه چې پېښور او باړه کې په همدې جګړه ده. ځينې عالمان وايي، چې دا خو بلکل پګړۍ نه دي، شرعي پګړۍ خو درې ګزه وي، نو موږ ته ډاډ من ځواب راکړئ ؟ بينوا توجروا

المستفتي طالب العلم ثمرګل آفريدي قمبر خېل ضلع پشاور... ۱۹۶۹ع/۱/۲۷.

الجواب: مولانا لکهنوي رحمه الله تعالى دعمامې (پګړ ی) معنا داسې ليکلې ده چې عمامه هغه ټوټه ده کومه چې په سر باندې تړل کيږي، (التعليق الممجد) (۱) نو دا رومال هم عمامه ده البته عرف سليماني او نورو کې دې ته عمامه نه ويل کيږي او ښکاره شوه چې مسنون لباس کميس (۲) پګړۍ (۳)

---

۱) قال العلّامة عبدالحى اللكنوى: العمامة بكسر العين ما يعتم به الرجل رأسه.
(التعليق الممجّد على موطّا محمد رحمه الله تعالى: ۷۰)

وفي قواعد الفقه: العمامة بالكسر ما يلفّ على الرأس.
(مجموعة قواعد الفقه ۳۸۹)

۲) عن أم سلمة رضي الله عنها قالت: كان أحب الثياب إلى رسول الله ﷺ القميص.
(شمائل الترمذي، باب ماجاء في لباس رسول الله ﷺ ص ۳۶)

۳) عن جابر رضي الله تعالى عنه: أن النبي ﷺ دخل ... (باقي حاشيه په بل مخ)

څادر(۱) وغيره دي، که هغه دپېغمبر لباس سره برابر وي که کم وي او يا هم زيات وي. **وهوالموفق**

د شعار تعريف او کالر لګول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې کميس کې کالر لګول څنګه دي؟ د «من تشبّه بقوم فهو منهم» کې راځي که نه؟ دلته يو سړی وايي چې د کالر لګوونکو حشر به د کافرانو سره وي، مهرباني به مو وي، ښه تحقيق وکړئ، چې کالر شعار دی او که نه؟ د شعار تعريف او د حديث لفظي ترجمه په پوره وضاحت سره وليکئ؟ أجركم على الله.

المستفتي: يوسف خان سرډېری چارسده

الجواب: «من تشبه بقوم (۲) فهو منهم» حديث او د الله تعالى دا قول «ولا ترکنوا الى الذين ظلموا» (۳) د ايت مقصد دا دی چې فاسقانو د رغبت او ميلان له وجې چې کوم امر کېږي نو هغه ناروا او منکر ګرځي او د کوم قوم شعار عملي کول د رغبت او ميلان ښکاره دليل دی؛ نو ځکه يې استعمال ناروا دی (۴)، کالر د نکټايي له لوازمو څخه دی کوم چې د نصاراوو قومي

(د حاشيې پاتې برخه) عام الفتح مكة وعليه عمامة سوداء.
(سنن أبي داؤد ۲:۵۶۳، باب في العمائم، كتاب اللباس)

۱) عن أنس بن مالک رضي الله عنه قال: كان أحب الثياب إلى رسول الله ﷺ يلبسه الحبرة. (شمائل الترمذي ص ۳۹، باب ماجاء في لباس رسول الله ﷺ)

۲) عن ابن عمر رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: من تشبه بقوم فهو منهم.
(سنن أبي داؤد ۲:۵۵۹ كتاب اللباس، باب في لبس الشهرة)

۳) (سورة هود، آيت نمبر ۱۱۳، پاره: ۱۲)

۴) قال العلامة محمّد طاهر رحمه الله تعالى: من تشبه ...(پاتې حاشيه په بل مخ)

او مذهبي تنبه ده، نو ځان ساتنه تري ضروري ده.بس والسلام. **وهوالموفق**

نارينه ته کوم ډول وربښم حرام دي

سوال: څه وايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې کوم ډول وربښم حرام دي؟ بينوا توجروا

المستفتي محمد منصور وزيرستاني

الجواب: وربښم صرف له چنجي نه د راوتلي جنس نوم دی[۱] نو که ددې لنګی سدا (پلنوالي) او لحمه (اوږداولي) يا صرف لحمه (اوږد والی) يې د وربښمو وي نو نارينه وو ته يې استعمالول حرام دي[۲]، وهو الموفق

پتلون نکټايي اچول او د لمانځه حکم

سوال: څه وايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې پتلون او نيکټايي اچول په اسلام کې منع دي او که نه؟

(د حاشيې پاتې برخه) بقوم فهو منهم أى من تشبه بالكفار في اللباس وغيره أو بالفساق أو بأهل التصوف أو بالصلحاء فهو منهم۔
(مجمع بحار الأنوار ۳:۱۷۸، باب الشين مع الباء)

۱) وفي البناية: الحرير هو الإبريسم المطبوخ وسمي الثوب المتخذ منه حريرا وفي جمع التفاريق: الحرير ما كان مصمتا أو لحمته حرير۔
(البناية في شرح الهداية ۱۴:۴۳۶ كتاب الكراهية، فصل في اللبس)

۲) قال العلامة الشامي رحمه الله تعالىٰ: إعلم أن لبس الحرير لا يجوز بلاضرورة مطلقًا فما كان سداه غير حرير ولحمته حرير يباح لبسه في الحرب للضرورة۔
(ردالمحتار ۵:۲۵۱، كتاب الحظر والإباحة، فصل في اللبس)

وفي السراجية: يكره لبس الحرير للذكر صغيرا كان أو كبيرا...يكره مالحمته حرير وسداه غير حرير۔
(فتاوى سراجيه ص ۳۲۷-، ۳۲۸ كتاب الكراهية والإستحسان، باب اللبس)

که يو کس تول عمر دا ډول جامې اغوندي نو څه حکم لري؟
او په دا سې جامه کې لمونځ کول روا دي که نه؟ بينوا تو جروا
المستفتي: سيف الرحمن پشاور يونيورستي

الجواب: پتلون که د ذهني غلامۍ پر بناء نه وي نو مباح ده، (۱) او نکتايي خو مذهبي تشبه ده (په صليبي شکل باندې مبني دی) ځکه يې استعمال ناروا دی. (ورد في الحديث مثله) (۲) او لمونځ په دا سې جامه کې له مکروه والي سره روا ده. (۳) **وهوالموفق**

---

۱) وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله ولا يضر التصاقه) أى بالألية مثلًا... وأمّا لو كان غليظا لا يرى منه لون البشرة إلّا أنه التصق بالعضو وتشكل بشكله فصار شكل العضو مرئيا فينبغي أن لا يمنع جواز الصلوة لحصول الستر۔
(رد المحتار ۱:۳۰۲ باب شروط الصلوة، مطلب في النظر إلى وجه الأمرد)

وفي المرقاة: (قال رسول الله ﷺ :من تشبه بقوم فهو منهم) أى من شبه نفسه بالكفار مثلًا في اللّباس وغيره أو بالفسّاق أو بالفجّار أو بأهل التصوّف أو الصلحاء الأبرار (فهو منهم) أى في الإثم والخير۔ (مرقاة المفاتيح ۸:۲۵۵، كتا ب اللباس، مسئلة التشبه)

۲) عن عائشة رضي الله تعالى عنها: أن رسول الله ﷺ كان لايترك في بيته شيئا فيه تصليب أى صورة الصليب التي للنصارى من نقش في ثوب أو غيره إلّا قضبه، ولفظ البخاري إلّا نقضه أى قطعه وكسره وغير صورة الصليب۔
(بذل المجهود ۵:۶۸، كتاب اللباس، باب الصليب في الثوب)

۳) وقال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي: يكره في الصّلاة ما يأتي ... ۳۰: الصّلاة بثياب فيها تصاوير الحيوان أو الإنسان ... ويكره الصليب ...(باتي حاشيه په بل مخ)

د عامې (پګړۍ) شرعي حيثيت او بې عامې د لمانځه حکم

سوال : څه وايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زمونږ امام د جمعې په ورځ تقرير کې دخولۍ مسئله بيان کړه. فتوی يې ولګوله چې صرف خولۍ په سر کولو سره لمونځ نه کيږي. مهرباني وکړئ. تاسو صاحبان مونږ ته دا مسئله تفصيلي بيان کړئ؛ بينوا توجروا

المستفتی: صوفي اشرف حسن خټک رجمنټ ايف ايف کهاريان چهاونی.

الجواب: مسلمانانو ته پګړۍ ترل سنت دي، (۱) که لمانځه کې وي. که د لمانځه نه بهر وي. که امام وي او که مقتدي. نو بې پګړۍ لمونځ مکروه تنزيهي يعنې خلاف اولی دی او غوره

(د حاشيې پاتې برخه) في ثوب لحديث عائشة أن رسول الله ﷺ كان لايترک في بيته شيئا فيه تصاليب إلّا نقضه۔

(الفقه الإسلامی وأدلته، ۲:۹۷۴، المبحث الرابع، مکروهات الصّلاة)

۱) قال العلامة أنور شاه الكشميري رحمه الله تعالى: شيخ عبدالحق رحمه الله تعالى در ترجمه مشکوة گفته بدانکه پوشيدن عمامه سنت است واحاديث بسيار در فضل آن وارد شده۔ (العرف الشذي على هامش سنن الترمذي ۱:۴۳۶، أبواب اللّباس، باب ماجاء في العمامة السوداء)

وقال الشّيخ محمّد زكريا رحمه الله تعالى: قال المناوى: العمامة سنة لاسيما للصّلوة وبقصد التجمل لأخبار كثيرة۔

(خصائل نبوي شرح شمائل ترمذي ص ۶۷، باب ما جاء في عمامة النبي ﷺ)

نه دی (۱) البته لمونځ يې صحيح او درست دی (۲) بس۔ **وهوالموفق**

د پګړۍ اندازه، کیفیت او دپرېښودونکي حکم

سوال: څه وايي علماء کرام په دې مسئله کې چې دپګړۍ شرعي حیثیت څنګه دی. بینوا توجروا.

المستفتي: عبدالمعبود ډارچوټا لاهور.... ۶/ محرم ۱۳۹۶ھ

الجواب: په اتفاق سره پګړۍ په سر کول سنت ده. ځکه چې نبي ﷺ پګړۍ تړلې او نورو ته يې د په سر کولو ترغيب ورکړی. فليراجع الى كتاب اللباس في المشكوة (۳) وأبي داود و غيره (۴).

---

۱) وفي المنهاج: وبالجملة أن ترک العمامة ترک الأولى نعم! جاز ترک مالا يكون مطلوبًا شرعًا عند مصلحة العوام۔

(منهاج السنن شرح جامع السنن ۲:۲۲۵، باب ماجاء في الصلوة في الثوب الواحد)

۲) قال العلامة عبد الحي اللكنوي رحمه الله تعالىٰ: وقد ذكروا أن المستحب أن يصلى في قميص وإزار وعمامة ولا يكره الإكتفاء بالقلنسوة، ولا عبرة لما اشتهر بين العوام من كراهته ذلک۔

(عمدة الرعاية على هامش شرح الوقاية ۱:۱۹۸، قبيل باب الوتر والنوافل)

۳) عن عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنهما قال: عَمَّمَني رسول الله ﷺ فسدلها بين يدیّ ومن خلفي، وعن ركانة عن النبي ﷺ قال: فرق ما بيننا وبين المشركين العمائم على القلانس۔ (مشكوة المصابيح ص ۳۷۴، كتاب اللباس)

۴) عن جابر رضي الله عنهما أن النبي ﷺ دخل عام الفتح مكة وعليه عمامة سوداء ... وعن جعفر بن عمرو بن حريث عن أبيه قال رأيت النبي ﷺ على المنبر وعليه عمامة سوداء قد ارخى طرفها بين كتفيه۔

(سنن أبي داؤد ۲:۵۶۲، كتاب اللباس، باب في العمائم)

خو د پګړۍ اندازه له سهي رواياتو څخه ثابته نه ده. د ځينو علماوو څخه روايت دی چې د نبي ﷺ بوه پګړۍ اوه ګزه (درې نيم انګريزي ګزه) وه بله دولس ګزه (شپږ انګريزي ګزه) او په حاوي کې بې درې ګزه هم روا ګڼلې ده. فليراجع إلى هامش أبي داؤد ۲:۵۶۲ کتاب اللباس [1]

توره پګړۍ مستحب ده او سپينه هم مستحسنه ده، البته سره او زېړه مکروه ده .د ردالمختار څخه اخيستل شوي ۵:۶۶۰ [2]، ۳۱۴ [3]

په پګړۍ کې لمونځ ادا کول په هر حال کې سنت دی. [4] البته پرېښودل بې مکروه تحريمي نه دي، په دې حديث کې

---

۱) وفي حاشية أبي داؤد: قال السيوطى في الحاوى في الفتاوى وأمّا مقدار العمامة الشريفة فلم يثبت في حديث، وقد روى البيهقي في شعب الإيمان عن ابن سلام قال سألت ابن عمر كيف كان النبي ﷺ يعتمّ قال كان يدير العمامة على رأسه ويغرزها من وراء ه ويرسل له ذوابة بين كتفيه، وهذا يدلّ على أنها عدة أذرع، والظاهر أنها كانت نحو العشرة أو فوقها بيسير إنتهى، أقول ولا أدري هذا الظاهر الذي زعمه فإن كان الظهور من هذاالحديث الذي ساقه بإعتبار ما فيه من ذكر الإدارة والغرز وإرسال الذوابة، فهذه الأوصاف تحصل في عمامة دون ثلاثة أذرع۔

(التعليق المحمود حاشية أبي داؤد ۲:۵۶۴ حاشيه نمبر ۱، كتاب اللباس، باب في العمائم)

۲) وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وندب لبس السوداء وإرسال ذنب العمامة بين كتفيه ويكره لبس المعصفر والمزعفر لقول ابن عمر رضي الله تعالى عنهما: ونهانا رسول الله ﷺ عن لبس المعصفر، وقال إياكم والأحمر فإنه زيّ الشيطان۔

(در مختار مختصراً ۵:۵۳۳،مسائل شتّى بعد كتاب الخنثى)

۳) وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: ويستحب الأبيض وكذا الأسود لأنه شعار بنى العباس ودخل عليه الصلوة والسّلام مكّة وعلى رأسه عمامة سوداء۔

(رد المحتار ۵:۲۴۷ فصل في اللّبس، كتاب الحظر والإباحة)

۴) قال العلامة أنورشاه الكشميرى رحمه الله تعالى: ...(پاتې حاشيه په بل مخ)

(من تمسك... رواه البيهقي كذا في حاشية المشكوة ۱: ۳۱ [۱]) وهو الموفق

نیمه پتلون (نیکر) او پکې د تلاوت اوريدلو حکم

سوال: څه وايي علماء کرام په دې مسئله کې چې عام طور فوځيان د سهار په وخت کې نيم پتلون اچوي چې پکې فرض عورت پټول ناکافي وي، نو څه حکم يې دی؟ ځکه چې حکومت د پي ټي ډريس (نيمه پتلون) اچولو حکم کوي. ګونډې يې زياتې لوڅې وي، په همدې حال اسمبلی کې دريږي، تلاوت او حديثونه اوري، ددې باره کې شرعي حکم څه دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: سپاهي محمد نسيم چهونيا چهاوني نزد لاهور...... ۱۹۹۰ء/۵/۲۴

الجواب: مناسبه نه ده، خوسخت انکار ترې کول هم مناسب نه دي ځکه چې [۲]

(د حاشيې پاتې برخه) شيخ عبد الحق در ترجمه مشکوة گفته بدانکه پوشيدن عمامه سنت است واحاديث بسيار در فضل آن وارد شده۔

(العرف الشذى على هامش سنن الترمذي ۱: ۴۳۶، باب ماجاء في العمامة السوداء، أبواب اللباس)

وفي المنهاج: أن العمامة سنّة ولها فضيلة مثل سائر السنن الزائدة۔

(منهاج السنن شرح جامع السنن ۴: ۲۱۲، باب سدل العمامة بين الكتفين)

وقال الشيخ محمد زكريا رحمه الله تعالى: قال المناوى العمامة سنة لا سيما للصلوة وبقصد التجمل لأخبار كثيرة۔

(خصائل نبوي شرح شمائل ترمذي ص ۶۷، باب ما جاء في عمامة النبي ﷺ)

۱) (مشكوة المصابيح ۳۰، باب الاعتصام بالكتاب والسنة)

۲) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: وحكم العورة في الركبة أخف منه في الفخذ حتى لو رأى رجل غيره مكشوف الركبة ينكر عليه برفق ولا ينازعه إن لجّ وإن رآه مكشوف الفخذ ينكر عليه بعنف ولا يضربه إن لجّ۔

(البحر الرائق ۱: ۲۶۹، باب شروط الصلوة (قوله وستر عورة وهى من تحت الخ)

ددي په عورتوالي کې د امام مالک رحمه الله خلاف شته.(١) ـ وهوالموفق

ښځو ته د غټ او سپين ټيکري استعمال

سوال : څه وايي علماء کرام په دې مسئله کې چې اوسني دور کې مترجّلانه او متؤنّثانه (د نارينو او ښځو يو بل ته ورته) لباس جوړول ډېر دي. چې په اړه يې د رسول الله وعيد موجود دی (لعن الله المترجّلات والمؤنثات) خو زموږ ځای کې د جماعت اسلامي يو رکن وايي چې د ښځو دپاره سپين لباس خصوصاً ټيکری اگر که ډېر رخت وي حرام دی چې عوامو ته يې پريشاني وراچولې ده. ځکه چې زموږ په ځای کې سپين ټيکری ډېر رواج دی. کله چې ښځې له کوره بهر وځي: نو پوښتنه دا ده چې لوی سپين ټيکری په سر کول روا دي که نا روا ؟ بينوا توجروا

المستفتي: فضل.تيمرگره دير ... ارمی ۱۹۸۴ع

الجواب: ځکه چې دا سپين ټيکری په عرف کې مشترک لباس دی. نو ناروا يې نشو گڼلی.(٢) **وهوالموفق**

---

١) قال الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالى: مذهب المالكية : عورة الرجل في الصلوة هي المغلظة فقط وهي السوأتان ...فليس الفخذ عورة عندهم ... والعورة بالنسبة للرؤية، للرجل ما بين السرة والركبة.

(الفقه الإسلامي وأدلّته ۱:۷۴۶،۷۴۷، شروط الصلاة، الشرط الرابع : ستر العورة)

٢) قال العلامة العيني رحمه الله تعالى: وهيئة اللباس قد تختلف باختلاف عادة كل بلد، فربما لا يفترق زيّ نسائهم من رجالهم لكن تمتاز النساء بالاحتجاب والاستتار.

(عمدة القاري ۲۲:۴۱، كتاب اللباس، باب المتشبهون بالنساء الخ)

وفي شرح المجلة: العادة محكمة يعني أن العادة...(باقي حاشيه په بل مخ)

ښځو ته د نارينو سره مشابهت

سوال: علماء كرام څه وايي په دې مسئله كې چې زمونږ د مروتو علاقه كې د ښځوانې زماني لباس (كميس، پاجامه) باندې تقريباً شل گز ه رخت مصرفيږي، او نن سبا چې كوم لباس اغوستل كيږي. البته عام رواج نه دى او تقريباً اووه يا اته گزه رخت پكې مصرفيږي، دا لباس اگر كه نارينوالو جامو سره مشابه دى، خو ښځينه ډول تصرفات يې پكې كړي وي، بيا دا لباس له نارينوال لباس نه بېخي ځانگړى وي، بلكې گنډلو كې هم نارينه لباس ته ورته نه وي، البته د پاجامې ورته والى وي، خو له دومره لاس وهنو سره بيا هم مردانه پاجامه نه گڼل كيږي. نو څنگه دا ډول لباس اغوستل ښځو ته روا كه ناروا دي كه روا وي، نو اولنى ډول خو به اسراف نه وي؟

(۲) كه د ښځينه شرعي لباس اندازه بيان كړئ نو ډېره مهرباني به مو وي؟ بينوا توجروا

المستفتي: سيف الله مروت متعلم دارالعلوم حقانيه... ۱۵/۹/۱۹۷۰

الجواب: ښځو ته نارينوال لباس اغوستل او نارينو ته ښځينه لباس اغوستل ناروا دي؟ قال النبي ﷺ لعن الله المتشبهين من الرجال بالنساء و المتشبهات من النساء بالرجال (رواه البخاري بحواله مشكوة ص ۲۸۷)[۱] البته صورت مسئوله كې نه تشبه شته او نه ددې اراده، ځكه چې د ښځينه او مردانه لباس رخت غالباً جدا جدا وي، هيئت او صنعت خو به ضرور بېل وي،

(د حاشيې پاتې برخه) عامّة كانت أو خاصّة تجعل حكماً لإثبات حكم شرعي ... واعلم أنه يرجع في مسائل كثيرة إلى العرف والعادة حتّى جعلوا ذلك أصلاً۔ (شرح المجلة ۷۸:۱، المادة: ۳۶)

۱) (مشكوة المصابيح ۳۸۰، كتاب اللباس، باب الترجّل)

لهذا ښځو ته د دويم ډول استعمالول څه باک نه لري[۱] ځکه چې اول ډول کې اسراف نشته.[۲] او دا د مخکېنی زماني ښځينه لباسونه دي او له پخوا نه دا کارول کيږي[۳] **وهوالموفق**

تنگ لباس اغوستل

سوال: څه وايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې مختلف رنگونه زره ورونکي وي ښځې بې د ډمو په څېر تنگ جوړوي. په گرځېدو کې بې سينې او ورونونه هم ښکاري ايا شرعا دا جائز دي او که نه؟

المستفتی محمد ثناء الله کنوزئی ... ۲۰/جولای ۱۹۷۵ع

الجواب: که د داډول لباس اغوستونکي ښځې کومه برخه ښکاره شي نو حکم يې واضح دی[۴]

---

۱) وقال العلامة العيني رحمه الله تعالى: وهيئة اللباس قد تختلف باختلاف عادة كل بلد فربما قوم لا يفترق زيّ نسائهم من رجالهم لكن تمتاز النساء بالاحتجاب والاستتار. (عمدة القاري ۲۲:۴۱، كتاب اللباس، باب المتشبهون بالنساء الخ)

۲) الإسراف: صرف الشيئ فيما ينبغي زائداً على ما ينبغي.
(مجموعة قواعد الفقه ۱۷۷، التعريفات الفقهية)

وقال ابن عباس رضي الله تعالى عنه: كل ما شئت والبس ما شئت ما أخطأتك اثنتان سرف أو مخيلة.
(صحيح البخاري ۲:۸۶۰، كتاب اللباس: قول الله تعالى: قُل مَن حَرَّمَ زِينَةَ الله ...الآية)

۳) وقال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: العادة محكمة وأصلها قوله عليه الصلوة والسّلام ما رآه المسلمون حسناً فهو عند الله حسن ... واعلم أن اعتبار العادة والعرف يرجع إليه في الفقه في مسائل كثيرة حتى جعلوا ذلك أصلًا.(الأشباه والنظائر ص ۹۳، القاعدة السادسة)

۴) وفي المرقاة: (قال رسول الله ﷺ إياكم والتعرّى)...(باتي حاشيه په بل مخ)

او که ښځه پټه وي خو د تنګی له وجې د اندامونو ترجماني کوي؛ نو بیا یې استعمالول حرام دي،کما في ردالمحتار ۳۲/۵أقول مفاده أن رؤية الثوب بحيث يصف حجم العضو ممنوعة و لو كثفا. (۱) و يؤيد حديث ينظر اليها أى الى المنعوتة. (۲) وهوالموفق

د سوچه یا ګډوډ وریښمو لنګی استعمال

سوال: څه وايي علماء کرام په دې مسئله کې چې ځينې علماء وايي چې مخلوطه لونګی حرامه ده يعنې هغه چې څه پکښې وريښم وي او څه تار وي ددې څه حکم دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي آغا جان هرنائي بلوچستان ضلع سبی.....۱۳/ اکتوبر ۱۹۷۳ع

الجواب: که دا وریښم له چینجیو نه لاس ته راغلي وي او په لحمه او سدا (اوږدوالي او پلنوالي) دواړو یا صرف په لحمه (اوږدوالي) کې لګېدلي وي نو استعمال يې ناروا دی. که نه نو روا دی (هدایه) (۳) و الله أعلم

(د حاشيې پاتې برخه) أى احذروا من كشف العورة (فإنّ معكم) أى من الملائكة (من لا يفارقكم إلّا عند الغائط وحين يفضى الرجل إلى أهله فاستحيوهم وأكرموهم)...قال ابن الملك فيه إنه لا يجوز كشف العورة إلا عند الضرورة ...(قال رسول الله ﷺ احفظ عورتك) أى من التكشف أو من الجماع (إلا من زوجتك أوما ملكت يمينك)۔
(مرقاة المفاتيح ۶:۲۰۰، كتاب النكاح، باب النظر إلى المخطوبة)

۱) (رد المحتار ۵ :۲۵۸، كتاب الحظر والإباحة، فصل في النظر والمسّ)

۲) عن ابن مسعود ﷺ قال قال رسول الله ﷺ لاتباشر المرأةُ المرأةَ فتنعتها لزوجها كأنّه ينظر إليها۔ (مشكوة المصابيح۔ ص ۲۶۸، كتاب النكاح، باب النظر إلى المخطوبة)

۳) وفي الهداية: لا يحلّ للرجل لبس الحرير لأن النبي ﷺ نهى عن لبس الحرير والديباج ولابأس بلبس ما سداه حرير ولحمته غير حرير كالقطن والخزفي الحرب وغيره... وما كان لحمته حريرا وسداه غير حرير ...(پاتې حاشيه په بل مخ)

د کالر لګولو حکم

سوال: څه وايي علماء کرام په دې مسئله کې چې د کالر څه حکم دی ؟ بينوا توجروا

المستفتی اسماعيل وزيرستاني.متعلم حقانيه ... ۲۶ ربيع الأول ۱۴۰۱ هـ

الجواب: چونکه کالر دکفارو او فاسقانو شعار دی او د طوق لعنت تتمه ده. لهذا کالر جوړول مکروه تحريمي دي. قال الله تعالی ولا ترکنوآ الی الذين ظلموا ... الآية [۱] وقال عليه الصلوة والسلام من تشبه بقوم فهو منهم.رواه أبو داود .[۲] **وهوالموفق** .

د چينجيو له وريښمو پرته د نورو وريښمو حکم

سوال : څه وايي علماء کرام په دې مسئله کې چې نن سبا ملتان کې دري قسمه لنګی.

(د حاشيې پاتې برخه) لابأس به في الحرب للضرورة ويكره في غيره لانعدامها والاعتبار للحمة على مابينا۔(الهداية ۴۵۶-۴:۴۵۵، كتاب الكراهية، فصل في اللبس)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: حاصل المسئلة على ثلاثة أوجه قال في التاتر خانية : ما لحمته غير حرير وسداه حرير يباح لبسه في حالة الحرب وغيرها، وما لحمته حرير وسداه غير حرير يباح لبسه في حالة الحرب بالإجماع ، وأما ما لحمته وسداه حرير ففي لبسه حالة الحرب خلاف بين أصحابنا۔

(ردالمحتار ۵:۲۵۱، كتاب الحظر والإباحة، فصل في اللبس)

۱) (سورة هود،آيت نمبر ۱۱۳، پاره نمبر ۱۲)

۲) سنن أبي داؤد، ۲:۵۵۹، كتاب اللباس ، باب في لبس الشهرة)

وفي المرقاة (من تشبه بقوم) أى من شبه نفسه بالكفار مثلًا في اللباس وغيره أو بالفسّاق أوالفجّار أو بأهل التصوّف والصلحاء الأبرار (فهو منهم)أى في الإثم والخير۔

(مرقاة المفاتيح ۸:۲۵۵، كتاب اللباس)

جوړیږي. لومړی بې ثار والا ده. دویمه مکس لنګی او دریمه وربښمي لنګی ده چې قیمت یې ډېر دی. د دریم قسم لنګی استعمال شرعا څنګه ده؟ ځینې حضرات څکه جائز ورته وایي چې دا حریر نه دی او ځینې یې ناروا بولي. غرض دا چې د وربښمو نه جوړ وي، په عرف کې ورته د وربښمو لنګی وایي. شرعي حکم یې وښیئ؟ بینوا تو جروا

المستفتي: مولوي نور احمد. لورلائي.... ۱۹۹۴/۸/۱ع

الجواب: له چینجیو لاس ته راغلو وربښمو پرته وربښم، وربښم نه دي. ددې استعمال ممنوع نه دی.(۱) والله اعلم

د قراقل خولی په سرول او د ناخن پالش خرڅولو او اخیستلو حکم

سوال: څه وایي علماء کرام په دې مسئله کې چې د ناخون پالش د خرڅ او اخیستنې څه حکم دی او هم د قراقل خولی په سرولو څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: نور زمان جنرل ستور، مردان ۸/محرم/۱۴۰۲ھ

الجواب: جائز دي (دواړه) (۲) **وهوالموفق**

---

۱) وفي البحر: وفي الخلاصة لا بأس بلبس الثياب الجميلة إذا كان لا ينكر عليه فيه. (البحر الرائق ۸:۱۹۰، كتاب الكراهية، فصل في اللبس)

وفي الهندية: يجب أن يعلم أن لبس الحرير حرام على الرجال في جميع الأحوال. (فتاوى هندية ۵:۳۳۰، كتاب الكراهية، الباب التاسع في اللبس)

۲) وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وشرط المعقود عليه ستة كونه موجوداً مالًا متقوماً مملوكاً في نفسه وكون الملك فيما يبيعه لنفسه.

(ردالمحتار ۶:۴كتاب البيوع، مطلب شرائط البيع أنواع أربعة)

وفي المرقاة: وكان ربما نزع قلنسوته فجعلها...(پاتې حاشیه په بل مخ)

ملتاني لنګۍ وريښمي نه دي

سوال: څه وايي علماء كرام په دې مسئله كې چې په ملتاني لونګۍ باندي ليكلي وي چې دا خالص د وريښمو ده ددې استعمال څنګه ده؟
بينوا توجروا

المستفتي: عبد الوهاب فاضل حقانيه..... ۱۴۰۱هـ/۹/۷

الجواب: ملتاني لونګۍ وريښمينه نه ده، دا لونګۍ له اوره جوړيږي او د وريښمو له چينجي نه نه تر لاسه كيږي (۱) **وهوالموفق**

سرې او ښځې ته دوسپينې او سرو زرو ګوټه اچول

سوال: .... چې دګوټې استعمال نر او ښځې ته جائز ده يا نه؟ او ښځو ته بې له سرو زرو، د سپينو زرو يا د اوسپنې ګوټمې استعمالول جائز ده يا نه؟ بينو توجروا

المستفتي: وزير محمد بلوچستاني متعلم حقانيه....۱۸/جماد ى الثاني۱۴۰۳هـ

الجواب: د اوسپنې ګوټه استعمالول نر او ښځې دواړو ته مكروه ده او د سرو ګوټمې

(د حاشيې پاتې برخه) سترة بين يديه وهو يصلّى.(مرقاة الفاتيح ۸:۲۴۶، كتاب اللباس، الفصل الثانى)

وفي السراجية: لبس الثياب الجميلة مباح إذا لم يتكبّر.
(فتاوى سراجية ص ۳۲۷، كتاب الكراهية والاستحسان، باب اللبس)

۱) وفي البناية: الحرير هو الإبريسم المطبوخ وسمي الثوب المتخذ منه حريرا وفي جمع التفاريق الحرير ماكان مصمتا أو لحمته حرير.
(البناية في شرح الهداية ۱۴:۴۳۶ كتاب الكراهية، فصل في اللبس)

صرف نارينه وو ته مكروه ده. (هنديه ۵: ۳۷۱)(۱) والله أعلم

نارينه ته ساعت په لاس كول او كالر لګول

سوال: څه وايي علماء كرام په دې مسئله كې چې ساعت په لاس كول ځينې خلك ناروا ګڼي، كه هغه له ځنځير يا پټۍ سره وي، د هغوى دا وينا څومره صحيح ده. بينوا توجروا

المستفتي مولنا آغا جان، هرنائي ضلع سبي، بلوچستان ۳/۱۱/۱۹۸۳.

الجواب: څوك چې په ټاكلي وخت با ندې كارونه سرته رسوي، امام وي كه مدرس وغيره وي د هغوى لپاره ساعت په حاجت اصلي كې راځي(۲) او ساعت په لاس كول په هر حال كې روا دي(۳) وهو الموفق.

ښځې ته د سرو يا سپينوزرو د ساعت استعمال

سوال: څه وايي علماء كرام په دې مسئله كې چې د سرو يا سپينو زرو ساعت يا ځنځير ښځو ته په لاس كول روا دي كه نا روا؟ بينوا توجروا

المستفتي: پرويز عبدالغني راولپنډي. ۹/۱۰/۱۹۷۲

---

۱) وفي الهندية :ويكره للرجال التختم بما سوى الفضة والتختم بالذهب حرام في الصحيح ... التختم بالحديد والصفر والنحاس والرصاص مكروه للرجال والنساء جميعا. (فتاوى هندية ۵:۳۳۵، كتاب الكراهية، الباب الثامن في استعمال الذهب)

۲) الحاجة الأصلية: هي ماتدفع الهلاک عن الإنسان تحقيقا كالنفقة ودور السكنى وآلات الحرب والثياب المحتاج إليها لدفع الحر والبرد أو تقديرا كالدين فانّ المديون محتاج إلى قضاءه بما في يده من النصاب دفعاً عن نفسه الحبس الذى هو الهلاک. (مجموعة قواعد الفقه ۲۵۷)

۳) وفي الأشباه والنظائر : الحاجة تنزل منزلة الضرورة عامّة كانت أو خاصّة. (الأشباه والنظائر ۹۱، القاعدة الخامسة : الضرر يزال)

الجواب: كه دا ساعت له زيوراتو) ګاڼې) څخه نه وي، نو استعمال يې ناروا دى، (۱) وهو الموفق

د ستيل د بټنې او ځنځير حکم

سوال: څه وايي علماء كرام په دې اړه چې دستيل ځنځير او بټن په كميس كې لګيدلې وي څه حكم لري؟

المستفتي: اكبر زمان ميډيكل سټو ر. ميران شاه... ۲۳ شوال ۱۴۰۱هـ

الجواب: د ستيل بټن او ځنځير روا دى. فقهاوو چې د وسپنې استعمالول كوم ځاى منع كړي هغه كې د بټن او ځنځير ذكر نشته (۲)، والله اعلم

---

۱) وفي الهندية: والنساء فيما سوى الحلي من الأكل والشرب والادّهان من الذهب والفضة والقعود بمنزلة الرجال.

(فتاوى هندية ۵:۳۳۵، كتاب الكراهية، الباب العاشر في استعمال الذهب)

وفي الاختيار: ويجوز للنساء التحلي بالذهب والفضة ...ولا يجوز استعمال آنية الذهب والفضة ...وعلى هذا المجمرة والملعقة والمدهن والميل والمكحلة والمرآة ونحو ذلك، والنصوص وإن وردت في الشرب فالباقي في معناه لاستوائهم في الاستعمال ... ويستوي فيه الرجال والنساء لعموم النهي وعليه الإجماع.

(الاختيار لتعليل المختار ۱۹۷-۱۹۶:۴، كتاب الكراهية، قبيل فصل في الاحتكار)

وقال العلامة ظفر احمد عثماني رحمه الله تعالى: لكون الذهب حل لهن للزينة لا لغيرها من الاستعمالات فكذا الساعة من الذهب يجوز لبسها للنساء على اليد للزينة ولكن لا يجوز لمعرفة الوقت.

(إمداد الأحكام ۴:۳۵۲، كتاب اللباس والزينة)

۲) وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ...(پاتې حاشيه په بل مخ)

د ضرورت پیښېدو په نیت د سرو زرو ګوتمه اچول

سوال: علماء کرام ددې مسئلې په اړه څه وايي چې يو سړی د سرو زرو ګوتمه په دې وجه په ګو ته کوي چې فرضاً که زما روپۍ يا بل څه ورک شي. نو د ضرورت پوره کېدو لپاره به دا خرڅوم نو ايا د سرو ګو ته په دې وجه اچول روا دي که نه؟ بينوا تو جروا

المستفتي: محمد شريف الله خادم دارالعلوم حقانيه... ۱۲صفر المظفر ۱۴۰۱ھ

الجواب: دګوتمې ساتنې ځايونه نور هم شته هلته يې وساتئ. د پيسو ورکېدل کله کله پېښيږي (۱) په دې پېښه کې يې د قيمت احتمال هم شته او د رنګه په ګوته کولو کې يې د ګوتمې غوښېدو او د غلو د دعوې کولو خطر هم شته. **وهوالموفق**

د سرزرو ګوتې سره لمو نځ کول اوپه ګوته کې کاڼي لګول

سوال: علماء کرام دې مسئلې باره کې څه وايي چې د سرو زرو

(د حاشيې پاتې برخه) وفي التتارخانيه عن السير الكبير لابأس بأزرار الديباج والذهب ...وحل مسمار الذهب في حجر الفص.

(الدر المختار، ۲۵۴-۲۵۰:۵، كتاب الحظر والإباحة، فصل في اللبس)

وقال العلامة نظام الدين الأعظمي رحمه الله تعالى: د سپېل ځنځير په زيور (کالی) کې نه دې شمار، چه ددې تړل دی حرام شی، بلکه د يو ضرورت په حيثيت سره استعماليږی، هاں کومه ګهړئ يا ځنځير چې د زنانه طرز او ساخت والا وی هغه سړو لره استعمالول به د (لعن الله المتشبهين بالنساء والمتشبهات بالرجال أوكما قال عليه الصّلاة والسّلام) په مطابق درست نه وی.

(نظام الفتاوی ۳۸۰:۱، كتاب الحظر والاباحة، د لاس په ګهړئ کې د اسټيلو ځنځير تړل)

۱) وفي شرح المجلة: العبرة للغالب الشائع لاللنادر. (شرح المجلة، ۹۷:۲، المادة: ۴۲)

ګوتمه د نارینو لپاره روا ده که نه؟ او د سپینوزرو د ګوتمې څه حکم دی؟

(۲) د سرو یا سپینو زرو ګوتمه اچولو کې یا په جیب کې ساتلو سره لمونځ ادا کیږي که نه؟

(۳) په ګوتمه کې د کاڼي لګولو څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

المستفتي: محمد ابرهیم، نیو بس سټینډ مردان. ۱۰/۴/۱۹۸۴ع

الجواب: سړي ته د سپینو زرو ګوتمه اچول روا دي او د سرو زرو ناروا ده. (۱) خو په جیب کې کېښودلو یا په ګوته کولو سره لمونځ ادا کیږي او په ګوتمه کې کاڼي لګول منع نه دي. (۲) والله أعلم

د نارینه وو لپاره د سرو او سپینو زرو ساعت په لاس کول

سوال: علماء کرام دې مسئلې باره کې څه وایي. ساعت د سرو زرو وي یا د سپینو زرو وي یا تسمه د سرو زرو، سپینو زرو، وسپنې، پیتلو، یا بدله اوسپنه وي، د نارینه وو لپاره په لاس کول روا دي که نه؟ ایا پهه دې سره د لمانځه په ثواب کې څه کمی راځي؟ بینوا توجروا

المستفتي پرویز عبدالغني راولپنډی... ۹/۱۰/۱۹۷۲

الجواب: د سرو او سپینو زرو د ساعت استعمالول ناروا دي. (۳) ځکه چې دا

---

۱) وفي الهندية: ويكره للرجال التختم بما سوى الفضة كذا في الينابيع، والتختم بالذهب حرام في الصحيح. (فتاوى هندية، ۵:۳۳۵، كتاب الكراهية، الباب العاشر في استعمال الذهب والفضة)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: والعبرة بالحلقة من الفضة لا بالفصّ فيجوز من حجر وعقيق وياقوت. (الدر المختار، :۲۵۴، كتاب الحظر والإباحة، فصل في اللبس)

۳) وفي الاختيار: ولا يجوز استعمال انية الذهب والفضة قال عليه الصّلاة والسّلام: من شرب في إناء ذهب وفضة فكأنّما يجرجر في بطنه نار جهنم، وعلى هذا المجمرة والملعقه والمدهن والميل والمكحلة والمرأة ونحو ذلک،... (باتي حاشيه په بل مخ)

دول ساعت نه له هغه شیانو څخه دی چې د کومو استعمال فقهاوو روا ګڼلی، نه له هغو سره مشابهت لري او نه لمونځ کول ورسره مکروه دي. څنګه چې د وربښمو له جامو سره لمونځ مکروه دی (صرح به الحموی فی شرح الاشباه والنظائر ۱۹۷) (۱) د چاندی، اوسپنې او پیتلو ځنځیر څه باک نه لري. لأنه مشابه بالحمائل والمنطقة وفی الهندية: ولا بأس بحلية السيف وحمائله والمنطقة من فضة لامن ذهب ۵: ۳۷۱ (۲) قلت والنهی انما ورد فی الخاتم (۳) لافی غیره، وهذا ما عندی ولعل عند غیری أحسن منه. وهو الموفق.

د اوسپنې ځنځیر والا ساعت حکم

سوال: علماء کرام دې مسئلې باره کې څه فرمايي چې د ځنځیر والا ساعت حرام دی که مکروه ؟

ځینې علماء کرامو حرام ګڼلی او ځینو مکروه څکه چې دا د بنګړو په څېر دی بینوا توجروا

المستفتی: وزیر محمد بلو چستاني، متعلم حقانیه ۱۸/ جمادی الثاني ۱۴۰۳ هـ

(د حاشيې باتي برخه) والنصوص وإن وردت في الشرب فالباقي في معناه لاستوائهم في الاستعمال. (الإختيار لتعليل المختار، ۱۹۸–۱۹۷: ۴، كتاب الكراهية، فصل في الاحتكار)

۱) وقال العلامة الحموي رحمه الله تعالى: قوله فلولم تجد غيرها صلّى في الحرير الخ أى يفترض عليه الصلاة فيه ... لأن الصلاة في الحرير مكروهة للرجال.
(غمز عيون البصائر شرح الأشباه والنظائر ۲:۳۶، كتاب الصلاة)

۲) (فتاوى هندية: ۵:۳۳۴، كتاب الكراهية، الباب العاشر في استعمال الذهب والفضة)

۳) وفي الهندية: ويكره للرجال التختم بما سوى الفضة والتختم بالذهب حرام على الصحيح والتختم بالحديد والصفر والنحاس والرصاص مكروه للرجال والنساء جميعا.
(فتاوى هندية، ۵:۳۳۵، كتاب الكراهية، الباب العاشر في إستعمال الذهب والفضة)

الجواب: د اوسپنيز ځنځير استعمال روا دی (لأنه كالزر والمسمار دون اللبأس وجازا من الذهب كما فى شرح التنوير() والهندية()فجوازه من الحديد بأولى وكذا الساعة لاتسمى لبأساً. وهوالموفق

غابونو ته دسرو زرو پوښ ورکول

سوال: محترم مفتي صاحب السلام عليكم ورحمة الله و بركاته د سلام وروسته عرض دادی چې يو سړي درې غابونه وېستلي. نن سبا ډاکټرانو د غابونو لګولو نوې طريقه راوېستې ده چې په دا ډول يې درې مصنوعي غابونو سره د سرو زرو پوښونه هم جوړ کړي. دا خالي پوښ اصل غاښ ته وراغوندي، په شريعت کې څه حکم لري؟ بينو توجروا.

المستفتي ملک شاه محمود خان،شمالي وزيرستان ۱۵/اکتوبر/۱۹۶۹

الجواب: ددليل له مخې جواز راجح معلومېږي. **في الدر المختار: ولا يشد سنه المتحرك بذهب بل بفضة وجوزوها محمد ويتخذ أنفاً منه لأن الفضة تنتنه** (۳)

---

۱) وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وفي التتارخانيه عن السير الكبير لابأس بأزرار الديباج والذهب ...وحل مسمار الذهب في حجر الفص.
(الدر المختار، ۲۵۴-۲۵۰:۵، كتاب الحظر والإباحة، فصل في اللبس)

۲) وفي الهندية: لابأس بلبس الثوب في غير الحرب إذاكان أزراره ديباج أو ذهب ... ولا بأس بمسامير ذهب وفضة.
(فتاوى هندية، ۵: ۳۳۵-۳۳۲، كتاب الكراهية، الباب التاسع في اللبس)

۳) الدر المختار ۲۵۵:۵، كتاب الحظر والإباحة، فصل في اللبس)......
وفي الخلاصة: ويشد الأسنان بالفضة ولا يشد ها بالذهب (پاتې حاشيه په بل مخ)

انتهى قلت علة النتن مشتركة فالراجح الجواز ولايضر الغسل بوجود الحرج في ازالته فقط يدل عليه ما في شرح الوقاية.(١) وهو الموفق

ښځو ته ناخن پالش او ورسره د لمانځه حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ښځو ته د ناخن پالش استعمال څنګه دی؟

که جائز وي او غسل هم ورسره کيږي؛ نو وجه او علت يې څه ده؟ توجروا

المستفتي: خواجه عبدالماجد صاحب. جامع مسجد صديقيه مينار والي مسجد. خانيوال.....١٩٩٨ع/٦/٢٤

الجواب: ناخن پالش د غسل او د اوداسه لپاره مانع نه وي، ځکه چې دا پالش اوبو سره نه ورکيږي.او شريعت کې يې په بل بل څه لړي کول ضروري نه دي او ددې لپاره څه نظائر هم شته. مثلاً کله چې د رنګ مال په نوکانو رنګ ونښلي نو معاف دی. کما في شرح التنوير على هامش رد المحتار ١٠٤:١في فرائض الغسل: ولايمنع ما على ظفر صباغ(٢) وفي رد المحتار ١٢٠:١: فاذا كان لايكلّف بازالة الاثر الذى يزول بماء حار أوصابون فعدم

(د حاشيې پاتې برخه) وقال محمّد رحمه الله تعالى لابأس به.

(خلاصة الفتاوى، ٣٧٠:٤ كتاب الاستحسان، الفصل السابع في اللبس)

١) وفي شرح الوقاية: وغسل سائر البدن أى جميع ظاهر البدن حتى لو بقى العجين في الظفر فاغتسل لا يجزى وفي الدرن يجزى إذ هو متولد من هناک وكذا الطين لأن الماء ينفذ فيه وكذا الصبغ بالحناء،فالحاصل أن المعتبر في هذا أى في باب جواز الغسل وعدمه الحرج.

(شرح الوقاية ٧٨:١، كتاب الطهارة، فرض الغسل)

٢) (الدر المختار ١١٤:١، مطلب في أبحاث الغسل)

التکليف هنا أولى(١)انتهى ما في بحث حکم الوشم. واضحه شوه چې څنګه جامې رنګول يو مباح غير مطلوب زينت دی؛ نو دا رنګه نوکان رنګول هم يو مباح غير مطلوب زينت دی(٢)، هذا ما عندی ولعلّ عند غيری أحسن منه. وهوالموفق.

کورونو کې نارينه او ښځو ته بېل بېل لوښي استعمالول ثابت نه دي

سوال : څه وايي علماء کرام په دې مسئله کې چې رښتيا د کور ښځو او سړيو ته بېل بېل لوښي استعمالول پکار دي، يو لوښی کارول صحيح نه دی. که هغه مينځل شوی هم وي؟ نو د قران او حديثو په رڼا کې وضاحت وکړئ؟

بينوا توجروا **المستفتي** : الله داد، رسالپور ١٩٨٩ع/٢٣/٨

الجواب: ددې ثبوت نه په قران، حديث او نه د فقهي په کتابونو کې شته. دغه فتوا ورکوونکي ته ضروري ده چې د معتبرو کتابونو حواله راولېږي.

وهوالموفق

چشمو کې د وسپنې فريم لګول

سوال : څه فرمايي علماء کرام په دې مسئله کې چې دعينکو فريم کوم چې د عامې اوسپنې وي، روا دی که نه؟ بينوا توجروا.

المستفتي: پرو فيسر عبدالغني، راولپنډی..... ١٩٧٢ع/٩/١٠

الجواب: روا دي(٣)، **وهوالموفق**

---

١) (رد المحتار ٢٤٢:١،مطلب في حکم الوشم، باب الأنجاس)

٢) قال الله تعالى : قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّهِ الَّتِي أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ وَالطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ ... الآية.

(سورة الاعراف آيت : ٣٢)

٣) قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالى :ولا يتحلّى ...(پاتې حاشيه په بل مخ)

سړي ته د سرو زرو ګاڼه، بټن، خنځير، چين او د غاښ استعمال

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئله كې چې نارينه وو ته د زرو د استعمالول، زيور، بټن، خنځير، چين يا د مصنوعي غاښ په شكل كې روا دى كه نه؟

كه روا نه وي؛ نو څوك يې چې روا بولي د هغه څه حكم دى؟

كه چېرته څوك په غاښ باندې پوښ لګوي؛ نو ايا د دغه سړي اودس به پوره وي او له جنابته به پاكيږي او كه نه؟ ځكه چې اصلي غاښ وچ پاتې كيږي؟

بينوا توجروا!

المستفتي: مولانا ضياء الله، خطيب مسجد ګيلاني،
دوبئ متحده امارات.... ۱۳/ محرم ۱۴۰۳ھ

الجواب: ومنه الصدق والصواب د سروزرو بټن او غاښ جائز ده. كما في شرح التنوير على هامش ردالمحتار ۵:۳۱۱،فصل في اللبس :وفي التتارخانية عن السيرالكبيرلابأس بأزرارالديباج والذهب()انتهى،وفي الهندية ۵:۳۷۹ وذكر الحاكم في المنتقى لوتحركت سن رجل وخاف سقوطها فشدها بالذهب أوبالفضة لم يكن به بأس عند أبي حنيفه وأبي يوسف رحمهما الله تعالى وروى الحسن

(د حاشيې پاتې برخه) الرجل بذهب وفضة مطلقاً إلّا بخاتم ومنطقة وحلية سيف منها أى الفضة إذا لم يرد به التزين ... ولا يكره في المنطقة حلقة حديد أو نحاس وعظم.
(الدر المختار ۵: ۲۵۳، كتاب الحظر والإباحة، فصل في اللبس)

وفي شرح المجلة: الحاجة تنزل منزلة الضرورة عامّة أو خاصّة ... أشارت المادة إلى أن الضرورة وإن كانت أشد الّا أن الحاجة عامّة كانت أو خاصّة تنزل أيضا منزلتها في تجويز الممنوع شرعا. (شرح المجله ۱:۷۵، المادة: ۳۲)

۱) (الدرالمختار ۵:۲۵۰، كتاب الحظر والإباحة، فصل في اللبس)

عن أبي حنيفة: انه فرق بين السن والأنف، فقال في السن لابأس بأن يشدها، وفي الأنف كره ذلك(١) انتهى. قلت: والأصل فيه ما أخرجه أبو داود أن عرفجة بن أسعد قطع أنفه يوم الكلاب فاتخذ أنفًا من فضة فأنتن عليه، فأمره النبي ﷺ بأن يتخذ أنفا من ذهب(٢) والوجه فيه أن السن أولى بالنتن لأن الفم أكثر رطوبة من الأنف. فافهم. وقلت أيضاً: ان ازالة السن عند كل غسل ثم الاعادة فيه حرج بين وهو مرفوع لنص ورد به(٣) وهوالموفق

کوم لباس په اسراف کې داخل دی؟

سوال : څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره کې چې لباس کې اسراف څه ډول راځي؟ بينوا توجروا

المستفتي :عزيزالدين متعلم حقانيه... ۹/ربيع الأول/۱۳۹۵هـ

الجواب: ناروا جامې (مثلاً د نارينه لپاره وريښمي جامې جوړې شوي وي) د ارنګه (۴)

---

١) (فتاوى هندية ٥:٣٣٦، كتاب الكراهية، الباب العاشر في استعمال الذهب)

٢) (سنن أبي داؤد ٢: ٥٨١، كتاب اللباس، باب ماجاء في ربط الأسنان بالذهب)

٣) وقال الله تبارك وتعالى: وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ.
(سورة الحج آيت: ۷۸)

۴) في الهندية: يجب أن يعلم أن لبس الحرير وهو ماكانت لحمته حريرا وسداه حريرا حرام على الرجال في جميع الأحوال... يكره لبس الديباج للرجال... ويكره للرجل أن يلبس المصبوغ بالعصفر والزعفران والورس.
(فتاوى هندية ٥:٣٣١، ٣٣٢ كتاب الكراهية، الباب التاسع في اللبس)

حلالي جامې خو چې له مشروع مقدار نه زياتي وي. (١) وهوالموفق

د نارينه لپاره د نكريزو لګول او د ښځو جامې اغوستلو حكم.

سوال: څه وايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې د سړي لپاره په لاسونو او پښو باندې نكريزي لګول روا دي يا نه؟ او سړي ته ښځينه لباس اغوستل روا دي كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم...... ۲۶ / شوال ۱۳۸۹ هـ

الجواب: دې باره كې لعنت وارد شوى. قال النبي ﷺ لعن الله المتشبهين من الرجال بالنساء (٢) رواه البخاري، وعن عائشة رضي الله تعالى عنها أن هند أبنت عتبة قالت يا نبي الله! بايعني، لا أبايعك حتى تغيّرى كفيك كأنهما كفا سَبُعٍ. رواه أبوداؤد (٣)

---

١) قال العلامة السهارنفوري رحمه الله تعالى: عن عليّ رضي الله تعالى عنه كان يمدّ كُمّ القميص حتى إذا بلغ الأصابع قطع ما فضل.

(بذل المجهود ٥:٤٠ كتاب اللباس، باب ماجاء في كُمّ القميص)

عن حذيفة رضي الله تعالى: عنه قال اخذ رسول الله ﷺ بأسفل عضلة ساقى أوساقه فقال هذه موضع الإزار فإن أبيت فأسفل فإن أبيت فأسفل فان أبيت فلاحق للإزار في الكعبين... عن ابن عباس رضي الله تعالى عنه قال كان رسول الله ﷺ يلبس قميصا قصير اليدين والطول... عن البراء رضي الله تعالى عنه قال نهى رسول الله ﷺ عن الديباج والحرير والإستبرق. (سنن ابن ماجة ٢٦٤ كتاب اللباس، باب موضع الإزارين، باب كُمّ القميص كم يكون، باب كراهية لبس الحرير)

٢) (صحيح البخاري ٢:٨٧٤، كتاب اللباس، باب المتشبّهين بالنساء الخ)

٣) (سنن أبي داؤد ٢:٥٧٤، كتاب الترجل، باب في الخضاب للنساء)

استنبط منه بعض العلماء كراهة الخضاب للرجال في الأيدي.(١) وهو الموفق

ښځو ته تندي باندې خال لګول ناروا دي

سوال: څه وايي علماء كرام دې مسئلې باره کې چې ښځې په تندي باندې خال لګوي دا روا دي که نه؟ او ګناه يې هم وليکئ. دا هم وليکئ چې لمونځ ورسره کيږي که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مست علي خان متعلم دار العلوم حقانيه ٥ محرم ١٣٩٢ هـ

الجواب: خالونه لګول نا جائز دي. قال الله تعالى: وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا(٢)

وقال رسول الله لعن الله الواشمة والمستوشمة (متفق عليه)(٣)

البته له دې سره لمونځ کول صحيح دي. دا څکه چې په لرې کولو کې يې حرج دی وفي الفتاوى الخيرية من كتاب الصلوة سئل في

---

١) قال الملا علي قاري رحمه الله تعالى: و فيه بيان كراهية خضاب الكفين للرجال تشبها بالنساء. (مرقاة المفاتيح ٨:٣١٢، باب الترجّل)

و قال العلامة السهارنفوري رحمه الله تعالى: باب في الخضاب للنساء... لكن تقييد في ترجمة الباب بالنساء يدل على أن المراد به خضاب الجسم فإن خضاب اليدين والرجلين بالحناء مستحب للنساء وحرام للرجال إلا لحاجة التداوي.

(بذل المجهود ٥:٧١ كتاب الترجل، باب في الخضاب للنساء)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله خضاب شعره ولحيته) لا يديه ورجليه فإنه مكروه للتشبّه بالنساء.

(ردالمحتار ٥:٢٩٩ كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

٢) (سورة الحشر آيت:٧)

٣) في المشكوة: عن ابن عمر أن النبي ﷺ قال لعن الله الواصلة والمستوصلة والواشمة والمستوشمة. (مشكوة المصابيح ٣٨١ باب الترجل، الفصل الأول)

رجل على يده وشم هل تصح صلوة امامته معه أم لا؟ أجاب نعم! تصح صلوته و امامته بلا شبهة (ردالمحتار ١: ٣٠٥) (١). وهوالموفق

ښځو ته د ساعت استعمال

سوال: څه وايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې د قران او حديثو په رڼا كې ښځو ته مړوند باندې ساعت تړل روا دي كه ناروا؟ بينواتو جروا

المستفتي: مشتاق احمد ٧٨٢٢٣، اير منيز بيس، پاک فضائيه لاهور

الجواب: څنګه چې ساعت هم زيور دی ښځې او سرې دواړه ورته ضرورت لري، لهذا ښځو ته ساعت تړل څه باک نه لري (٢)

البته د مړوند ښكاره كول د نامحرم په وړاندې حرام دی. (٣) وهوالموفق

---

١) (ردالمحتار ١: ٢٤٢ باب الأنجاس، مطلب في حكم الوشم)

٢) قال العلامة ظفر أحمد العثماني رحمه الله تعالى: يجوز للنساء لبس أنواع الحلى كلها من الذهب والفضة كالخاتم والسوار والخلخال والطوق والعقد والقلائد ونحوها ولا نعلم فيها خلافًا. (إعلاء السنن ١٧: ٣١٧، كتاب الحظر والإباحة، باب ماجاء في الرخصة في التختم بخاتم الذهب للنساء)

٣) قال العلامة ابن كثير رحمه الله تعالى: وقوله تعالى: (وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنهَا...الآية) أى لا يظهرن شيئا من الزينة للأجانب إلّا مالا يمكن إخفاؤه، قال ابن مسعود: كالرداء والثياب، وقال بقول ابن مسعود الحسن وابن سيرين وأبوالجوزاء وإبراهيم النخعي وغيرهم... عن عبد الله: الزينة زينتان: فزينة لا يراها إلّا الزوج: الخاتم والسوار، وزينة يراها الأجانب وهى الظاهر من الثياب.

(تفسير ابن كثير ٣: ٣٧٥، ٣٧٦ سورة النور، آيت: ٣١)

په ساعت کې د سرو زرو پرزې او د پینلو د چین حکم

سوال: څه وایي علماء دیوبند دي مسئلې باره کې چې دلاس ساعت چې ځینې پرزې یې د سرو زرو وي. د سرېو لپاره یې استعمال جائز دی که ناجائز؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبدالقدوس ساهيوال ... ۳ دسمبر ۱۹۷۴

الجواب: چې کیس د سپینو زرو او سرو نه وي نو استعمال یې روا دی که وي؛ نو ناروا دی (۱)

د پرزو په حلالوالي او حراموالي کې هیڅ دخل نشته. ونظيره المرآة كما في الهندية ۵: ۳۷۰، يكره النظر في المرآة المتخذة من الذهب والفضة (۲) انتهى ويمكن أن يستدل بما في الهندية ۵: ۳۶۸: ولا بأس بلبس الجبة المحشوة من الخز كذا في الوجيز للكردري (۳) على استعمال الساعة اللتي يكون أعضاءها من الذهب والفضة سوى الظرف المحيط لكونها مستورة وهذا ما عند غيري أحسن منه.

(۲)، او د پینلو چین څه باک نه لري. لعدم ورود النهي فيه بخلاف الخاتم (۴)

وهوالموفق

---

۱) في المرقاة: قال النووي أجمعوا على تحريم الأكل والشرب في إناء الذهب والفضة على الرجل والمرأة... فيحرم استعمالها في الأكل والشرب والطهارة والأكل بالملعقة من أحدهما والتجمر بمجمرته والبول في الإناء وسائر استعمالهما سواء كان صغيرا أو كبيرا. (مرقاة المفاتيح ۷:۲۲۰ باب الأشربة)

۲) (فتاوى هندية ۵:۳۳۴ كتاب الكراهية، الباب العاشر في استعمال الذهب والفضة)

۳) (فتاوى هندية ۵:۳۳۲ كتاب الكراهية، الباب التاسع في اللبس مايكره من ذلك)

۴) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ولا يتختم ...(باتي حاشيه په بل مخ)

د پټۍ او چین والا ساعت استعمال

سوال: علماء دین دې مسئلې باره کې څه وايي چې نن سبا څوک لاس باندې ساعت تړي نو ځيني د څرمنې پټۍ وي ځيني د اوسپنې. ځيني د پيتلو او يا د بل څه اوسپنې ځنځيرونو څخه وي. دا ډول څه ځنځيرونه رنګين وي او څه ساده او ساعت که د وسپنې جوړ وي يا بل څه نوټې نه. د دغه ماډل ساعتونو استعمال روا دی که نا روا؟ بينوانو جروا

المستفتي معين الدين... ۱۹۷ع ۲۰۰۵

الجواب: د کوم ساعت کيس د سرو يا سپينو زرو نه وي استعمال يې جائز دی. لعدم المحرم وهو استعمالهما بلا حائل كما يدل عليه ما في الهندية ۵: ۳۷۰: ولا بأس بالأكل والشرب من اناء مذهب ومفضض اذا لم يضع فاه على الذهب و الفضة ()الخ، لهذا د سرو ناجائز او بې له سرو او سپينوزرو نور جائز شو. اګر که ښکاره د سپينو زرو جواز معلوميږي. لأنه كالمسامير والأزرار والمنطقة وهي

(د حاشيي باتي برخه) إلا بالفضة... فيحرم بغيرها (الدر المختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله فيحرم بغيرها الخ)... لما روى صاحب السنن بإسناده إلى عبد الله بن بريدة عن أبيه: أن رجلًا جاء إلى النبي ﷺ وعليه خاتم من شبه فقال له: مالي أجد منك ريح الأصنام فطرحه ... والشبه محركا النحاس الأصفر، قاموس، وفي الجوهرة: والتختم بالحديد والصفر والنحاس والرصاص مكروه للرجال والنساء.

(ردالمحتار ۵:۲۵۳ كتاب الحظر والإباحة، فصل في اللبس)

۱) (فتاوى هندية ۵:۳۳۴ كتاب الكراهية، الباب العاشر في استعمال الذهب والفضة)

جائزة كما في الدر المختار على هامش رد المحتار ٥:٣١٥(١) والهندية ٥:٣٠٧(٢)
لوجود الاستعمال بلا حائل غالباً بخلاف ما مرّ فليتأمل. وهو الموفق

د سرو زرو، د وسپنې او د پیتلو د ګوتمې حکم

سوال: څه وايي علماء كرام په دې مسئله كې چې د سرې لپاره ګوتمه اچول جائز دي يا نه او د ستيل ګوتمه څه حكم لري؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبيد الله پشاور ... ۲۳ رمضان

الجواب: د سرې لپاره، د زرو، د اوسپنې او د پيتلو ګوتمه مكرو ده. لحديث (٣)

---

١) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وفي التتارخانية عن السير الكبير لابأس بأزرار الديباج والذهب... ولا يتحلى الرجل بذهب وفضة مطلقا إلّا بخاتم ومنطقة وحلية سيف منها أى الفضة... وحلّ مسمار الذهب في حجر الفصّ.

(الدر المختار ٥:٢٥٠، ٢٥٣، ٢٥٤ كتاب الحظر والإباحة، فصل في اللبس)

٢) في الهندية: في السير الكبير لا بأس بلبس الثوب في غير الحرب إذا كان أزراره ديباجًا أو ذهبًا... ولابأس بحلية السيف وحمائله والمنطقة من فضة لا من ذهب... ولا بأس بمسامير ذهب وفضة.

(فتاوى هندية ٥:٣٣٢، ٣٣٤، ٣٣٥ كتاب الكراهية، الباب التاسع، الباب العاشر)

٣) في المشكوة: عن بريدة رضي الله تعالى عنه أن النبي ﷺ قال لرجل عليه خاتم من شبه مالي أجد منك ريح الأصنام فطرحه، ثم جاء وعليه خاتم من حديد فقال مالي أرى عليك حلية أهل النار فطرحه، فقال يا رسول الله! من أىّ شئ أتخذه؟ قال: من ورق ولا تتمّه مثقالًا.

(مشكوة المصابيح ٣٧٨ باب الخاتم)

هندیه[۱] وهوالموفق

د پیتلو، جص او سټیلو د زیوراتو حکم

سوال: څه وایي علماء کرام په دې مسئله کې چې نن سبا ښځې د سرو زرو، سپینو زرو له ګاڼې پرته ګلټ، جص او د سټیل زیورات اچوي، ددې استعمال څنګه دی؟ چې اواز هم ولري استعمال او حکم یې څنګه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی شیر عالم وزیرستاني متعلم حقانیه ۳ ربیع الثاني ۱۴۰۵ھ

الجواب: په ښکاره له سرو او سپینوزرو پرته د نورو شیانو زیورات مکروه دي[۲]، یدل علیه ما في الهندية ۵:۳۷۱ وفي الخجندي التختم بالحديد والصفر والنحاس مكروه للرجال والنساء[۳]، فا فهم او د سرو او سپینو زرو والا ګاڼه چې له ګونګرېو خالي وي نو ناروا

---

۱) في الهندية: ويكره للرجال التختم بما سوى الفضة كذا في الينا بيع، والتختم بالذهب حرام في الصحيح كذا في الوجيز للكردري، وفي الخجندي التختم بالحديد والصفر والنحاس والرصاص مكروه للرجال والنساء جميعا.
(فتاوى هندية ۵:۳۳۵ كتاب الكراهية، الباب العاشر في إستعمال الذهب والفضة)

۲) في إعلاء السنن: والبحث الثاني إن النهى عن خاتم الحديد وغيره مخصوص بالخاتم أو شامل لسائر الحلي منها؟ فلم أرنصّافيه في كلام الفقهاء إلّا أن الحديث وكلام الفقهاء يرشدان إلىٰ عدم الإختصاص، لأن النبي ﷺ قال: مالي أرى عليك حلية أهل النار؟ وقال: مالي أرى منك ريح الأصنام؟ فدل ذلك على أنه غير مخصوص بالخاتم بل يشمل كل حلية من الحديد أو الشبه والنحاس والصفر.
(إعلاء السنن ۱۷:۳۲۹،۳۳۰ كتاب الحظر والإباحة، باب خاتم الحديد وغيره)

۳) (فتاوى هندية ۵:۳۳۵ كتاب الكراهية، الباب العاشر في استعمال الذهب والفضة)

نه ده (۱) کرنګ کرنګ او کړکړ کې فرق شته. **وهوالموفق**

مجاهدينو ته د سوچه ورېښمو لونګی استعمالولو حکم

سوال: ماتقول العلماء الكرم فى المسئلة الآتية: ان فى وطننا بين علماء المجاهدين اختلافا فى العمامة الحريرية وهو معبر عنها فى الأفغانية بلن ګ ى، أهى جائزة لمجاهدى الأفغانستان؟ **بينوا توجروا**

المستفتی: نامعلوم.....ربيع الاول ۱۴۰۵هـ

الجواب: لبس الثوب الذى يكون سداه ولحمته كلاهما حريرا لايجوز عند الإمام حنيفة رحمه الله كمافى ردالمحتار ۵: ۳۱۳ (۲) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة ظفر أحمد العثمانى رحمه الله تعالىٰ: يجوز للنساء لبس أنواع الحلى كلها من الذهب والفضة كالخاتم والحلقة والسوار والخلخال والطوق والعقد والقلائد ونحوها ولانعلم فيها خلافاً.

(إعلاء السنن ۱۷:۳۱۷ كتاب الحظر والإباحة، باب ماجاء في ارخصة في التختم بخاتم الذهب للنساء)

وعن بنانة مولاة عبد الرحمن بن حيان الأنصاري كانت عند عائشة إذ دخلت عليها بجارية وعليها جلاجل يصوّتن فقالت لا تدخلنها عليّ إلّا أن تقطعن جلاجلها، سمعت رسول الله ﷺ يقول: لا تدخل الملائكة بيتا فيه جرس.

(مشكوة المصابيح ۳۷۹، باب الخاتم)

۲) وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: وأما ما لحمته وسداه حرير ففي لبسه حالة الحرب خلاف بين أصحابنا وعلمائنا ...... إعلم أن لبس الحرير لا يجوز بلا ضرورة مطلقاً... والحاصل أنه عند الإمام لا يباح... (د حاشيې پاتي برخه په بل مخ)

د پګړۍ شرعي اندازه څومره ده

سوال: څه وايي علماء كرام په دې مسئله كې چې عمامه كې شرعاً څه تحديد شته يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي لوی لالا، مهمندي، فاضل حقانيه... ۱۴ ذی القعده ۱۴۰۱هـ

الجواب: عمامه شرعاً څه حد نه لري،[1] لكه څنګه چې څادر، كميس او پرتوګ څه حد نه لري چې كومه ګناه وشمارل شي، البته د رسول الله ﷺ ښخه انګرېزي شپږ، درې يا درې نيم ګزه پګړۍ ثابته ده.[2] **وهوالموفق**

(د حاشيې پاتې برخه) الحرير الخالص في الحرب مطلقاً

ردالمحتار ۵: ۲۵۱، كتاب الحظر والاباحة فصل في اللبس)

وفي الهندية: يجب أن يعلم أن لبس الحرير وهو كانت لحمته حريراً وسداه حريراً حرام على الرجال في جميع الأحوال عند أبي حنيفة رحمه الله تعالىٰ.

(فتاوى هندية ۵: ۲۳۰، كتاب الكراهية، الباب التاسع في اللبس)

۱) قال العلامة عبدالحي اللكنوي رحمه الله تعالىٰ: العمامة بكسر العين مايعتم به الرجل رأسه. (التعليق الممجد على موطأ لأمام محمّد رحمه الله تعالىٰ: ۷۰)

وفي مجموعة قواعد الفقه: العمامة بالكسر مايلف على الرأس.

(مجموعة قواعد الفقه: ۳۸۹)

۲) وفي المرقاة: أخبر من أثق به أنه وقف على شيئ من كلام النووي ذكر فيه أنه كان له ﷺ عمامة قصيرة وعمامة طويلة، وأن القصيرة كانت سبعة أذرع، والطويلة اثنى عشر ذراعاً. (مرقات المفاتيح ۸: ۲۵۰، كتاب اللبس، الفصل الثانى)

وقال الشيخ محمدزكريا رحمه الله تعالىٰ: علامه جزري رحمه الله....

(د حاشيې پاتې برخه په بل مخ)

نارینه ته په شرعي حدودو کې دننه سینګار روا دی

سوال: څه وایي علماء کرام په دې مسئله کې چې یو کس ځان ډېر سنګاروي او بیا وایي چې دا ناروا نه دی، بلکې مستحب کار دی، ایا دا خبره یې سمه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: جمعه خان، ټرياب هنګو......۵ جمادي الاولی ۱۴۰۵ھ

الجواب: تزئين (سينګار) جائز او مستحب دی چې د شرعي حکم خلاف نه وي. كما في الدر المختار: ۵/ ۶۶۰، ويستحب التجمل الخ، لقوله تعالى: قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّهِ. وخرج وعليه رداء قيمة ألف دينار (وأيضا في الزيلعي)(۱) وهو الموفق

د ښځې سر تور سر بازار کې د ګرځېدو حکم

سوال: څه وایي علماء کرام دې مسئلې باره چې ښځه بازار کې سر توره

(د حاشيې پاتې برخه)..... وايي چې ما د سير کتابونه خاص طور باندې تلاش کړي خو د حضور پاک ﷺ د پګړۍ مقدار ماته ملاو نه شو، البته د امام نووي رحمه الله څخه نقل دي چې د حضور ﷺ دوه عمامې وې، يوه وړه وه شپږ لاسه د مناوی د قول موافق، او اووه لاسه د ملا علي قاري رحمه الله د قول موافق او يوه لويه دولس لاسه وه، صاحب د مدخل د حضور ﷺ د عمامې مقدار فقط اوه لاسه ښودلی دی، دويم يې نه دی ښودلی.

(خصائص النبوي شرح شمائل ترمذي ۶۸، باب ماجاء في عمامة النبي ﷺ)

۱) الدر المختار ۵: ۵۳۳، مسائل شتّى بعد كتاب الخنثى)

وفي الهندية :وفي مجموع النوازل سئل عن الزينة والتجمل في الدنيا؟ قال: خرج رسول الله ﷺ ذات يوم عليه رداء قيمتُه ألف درهم ،وربما قام إلى الصلاة وعليه رداء قيمته أربعة آلاف درهم... وأبوحنيفه رحمه الله تعالى كان يرتدى برداء قيمته أربع مائة دينار كذا في الذخيرة.

(فتاوى هندية ۵: ۳۳۲ كتاب الكراهية ،الباب التاسع في اللبس)

کرځي. شرعاً ددې څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتي بشير صوفي. مرې........ ۱۹۸۸ء/۸/۲۸

الجواب: کومه ازاده ښځه چې دا ډول په ښکاره سر وځي یا د بل پردي سړي مخې ته اوړي راوړي حرام دي، ځکه چې د ښځې ستر ضروري او اهم کار دی. لقوله تعالی: **وَلَا تَبَرَّجۡنَ تَبَرُّجَ الۡجَاهِلِيَّةِ الۡأُولَى.** (پاره :۲۲ أحزاب)[۱]، ولقوله تعالی **وَغير متبرجات بزينة الأية** (الأحزاب)[۲]، و لقوله تعالی: «**لَا يُبۡدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ**»، الخ[۳]، او له دې پرته د څه ضروري کار لپاره بې سینګاره وتل مشروع او جائز دي. مګر په هیئت رثه او ثیاب بذله یعني د بې ډوله خرو پرو جامو په پرده کې ووځي .لقوله تعالی: **يُدۡنِينَ عَلَيۡهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ**.[۴] لقوله: **مَا ظَهَرَ مِنۡهَا**. الآية[۵]. **وهوالموفق**

د تورو جامو اغوستلو حکم

سوال: څه وايي علماء کرام په دې مسئله کې چې که کمیس تور او پرتوګ بدل رنګ والا وي؛ نو بیا څه حکم لري؟ او که دا کارونه عادتاً کیږي، نه د مذهب یا بل څه په خاطر او یا په مکتب کې لازمي وي، نو ددې جامو څه حکم

---

۱) سورة الاحزاب: آیت ۳۳)

۲) سورة النور: آیت ۶۰)

۳) سورة النور: آیت ۳۱)

۴) سورة الأحزاب: آیت ۵۹)

۵) سورة النور: آیت ۳۱

دی ؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد السبحان. جیکب آباد. پنجاب... یکم ذی الحجة ۱۳۹۷ھ

الجواب: چونکه تور شیان اغوستل جائز بلکې مندوب دي. **کمافي** شرح التنویر: وندب لبس السواد، (هامش ردالمحتار ۵/ ۴۴۰)(1) وفي الهندية ۵: ۳۳۰: ندب لبس السواد(2) البته د ماتم په اراده ممنوع دي. **کمافي الهندية** ۵: ۳۶۱ (3) فليراجع. **وهوالموفق**

---

1) الدر المختار ۵: ۵۳۳، مسائل شتّى، قبيل كتاب الفرائض)

2) فتاوى هندية ۵: ۳۳۰، كتاب الكراهية، الباب التاسع في اللبس)

3) وفي الهندية: ولايجوز صنع الثياب أسود أو اكهب تأسفًا على الميت، قال صدر الحسام: لايجوز تسويد الثياب في منزل الميت، كذا في القنية.
(فتاوى هندية ۵: ۳۳۲، كتاب الكراهية، الباب التاسع في اللبس)

اللّٰه اللّٰه

فتاوی فریدیه

نهم جلد

باب الشعر

باب الشعر

ږيره په قرآن او حديث کې ثابته ده که نه؟

سوال: څه وايي علماء کرام په دې مسئله کې چې ايا ږيره د قرآن او حديث نه ثابته ده يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولانا علي رحمن مردان ... ۱۹۷۷ء/۹/۲۴

الجواب: محترم المقام دامت برکاتکم! د **سلام** ورو ستهٔ ښکاره خبره ده چې د ږيرې مسئله ډېره اوږده مسئله ده، حالاً دومره يادول بس دي چې ږيره پرېښودل واجب ده، (۱) او وجوب يې له سنتو نه ثابت دی. ږيره خريل مکرو تحريمي دي (۲)، مرتکب يې فاسق دی او له يو موټي نه يې عادتاً هم کمول مکروه تحريمي او فسق دی (۳) **وهوالموفق**

---

۱) عن ابن عمر رضي الله تعالیٰ عنه عن النبي ﷺ: أنه أمر بإحفاء الشوارب وإعفاء اللحية... قال قال رسول الله ﷺ: خالفوا المشركين أحفوا الشوارب وأوفوا اللحى. (صحيح المسلم ۱:۱۲۹، کتاب الطهارة، باب خصال الفطرة)

۲) قال العلامة عبد الحق الدهلوي رحمة الله تعالیٰ: حلق کردن لحيه حرام است وروش افرنج وهنود است وگذاشتن آن بقدر قبضه واجب است واوراسنت گويند بمعنی طريقه مسلوک در دين است يا به جهت آن که ثبوت آن به سنت است چنانچه نماز عيد راسنت گفته اند. (أشعة اللمعات ۱:۲۱۲، باب الترجل)

۳) قال العلامة ابن عابدين: إن الأخذ من اللحية وهي دون القبضة كما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال لم يبحه أحد وأخذ كلها فعل يهود الهنود ومجوس الأعاجم فحيث أدمن على فعل هذا المحرم يفسق.
(فتاوی تنقيح الحامدية ۱:۳۵۱، کتاب الشهادة)

ږیره خریل لویه ګنا ده که وړه؟

سوال: څه فرمایي علماء کرام دي مسئلې باره کې چې شرعي لحاظ سره ږیره خریل کبیره ګناه ده او که صغیره ګناه؟ بینوا توجروا

المستفتی محمد شفیع پاک ارمی ... ۱۹۷۲ء ۶:۶

الجواب: ږیره خریل ګناه کبیره او حرامه ده. خصوصاً کله چې عادت جوړ شي. (فتاوی تنقیح الحامدیة ۱: ۳۵۱)(۱) **وهوالموفق**

ږیره لوېول افضل دي که له قبضې زیاته کمول

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې کوم سړي ببخي ږیره خریلې نه وي یا له خریلو وروسته دومره لویه شي چې له قبضې هم اوږده شي. نو له قبضې نه زیاته کمول غوره دي که لوېول؟ بینوا توجروا

المستفتی صاحب زاده بمعرفت نیاز محمد اینډ کو
چوک یادګار پشاور شهر ... ۲/ محرم ۱۳۹۲ھ

الجواب: ددې دواړو صورتونو یو حکم دی یعني له قبضې نه زیاته کمول مکروه تحریمي دي او له قبضې نه

---

۱) قال العلامة ابن عابدين: سئل في شهادة محلوق اللحية هل تقبل أم لا؟
الجواب: لم أجد نقلًا صريحا في المسئلة مع ضيق الوقت وكثرة الاشتغال فإن كان حلق اللحية يخلّ بالمروءة يمنع القبول وإلّا فلا ... فعلى هذا فإن كان ممّن يعتادون الحلق ولا يعدّونه رذيلة بينهم لا يخل بمروءته فتقبل شهادته لكن قد يقال إنّ الادمان على الصغيرة مفسق ... إنّ الأخذ من اللحية وهى دون القبضة كما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال لم يبحه أحد وأخذ كلها فعل يهود الهنود ومجوس الأعاجم.
(فتاوى تنقيح الحامدية ۱:۳۵۱، كتاب الشهادة)

وتلې اندازه یې کمول واجب دي. کما هو رأی صاحب الهدایة وابن الهمام.(۱)
او یا غوره دي. کما هو رأی البعض الآخر(۲)
نو بې مصلحته له شرعي قبضې زیاته کمول غوره نه دي، بس.

نوټ: بحر الرائق ۲:۲۸ حاشیه (منحة الخالق) له زیاتي نه کراهت معلومیږي.(۳) **وهوالموفق**

د سنت مطابق وېښتانو پرېښودلو حد

سوال: څه فرمايي علماء کرام دي مسئلې باره کې چې د وېښتانو مسنون طریقه استر کول یا اوږده پرېښودل دي. له دې پرته چې څومره وېښتان دي خلک یې انګریزي سر بولي. اګر که اوس د انګریزانو وېښتانو ته وګورو نو زموږ د سنتو برابر وېښتان یې پرېږدي. نو که ټول وېښتان یو برابر پرېښودل شي او لاندې استر نشي نو دا به صحیح وي یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتي معین الدین ګور نمنټ سکول شور سوات...... ۱۹۷۷ء/۸/۱۶

---

۱) قال العلامة ابن الهمام: (قوله وهو) أی القدر المسنون في اللحیة (القبضة) قال في النهایة وما وراء ذلک یجب قطعه هکذا عن رسول الله ﷺ أنه کان یأخذ من اللحیة من طولها وعرضها. (فتح القدیر ۲:۲۷۰، باب مایوجب القضاء والکفارة)

۲) وفي المرقاة: وفي الإحیاء قد اختلفوا فیما طال من اللحیة فقیل إن قبض الرجل علی لحیته وأخذ ما تحت القبضة فلا بأس به، وقد فعله ابن عمر وجماعة من التابعین واستحسنه الشعبي وابن سیرین. (مرقاة المفاتیح ۸:۲۹۸، باب الترجل)

۳) قال العلامة ابن عابدین: (قوله وقد صرح في النهایة بوجوب قطع ما زاد الخ)... مقتضاه الإثم بترکه إلّا أن یحمل الوجوب علی الثبوت، قلت: وظاهر قول الهدایة ولا یفعل لتطویل اللحیة الخ یفید الکراهة تأمل.
(منحة الخالق علی البحر الرائق ۲:۲۸۰، کتاب الصوم، قبیل فصل في العوارض)

الجواب: تر اوږو پورې وېښتان لويول مسنون دي لکه د غوږ تر نرمۍ او د اوږو تر منځ رسول مسنون دي، (۱) يقال لها الوفرة، والجمة و اللّمة (۲) او له اوږو ښکته لويول هم مشروع دي، (۳) البته چې ښځو سره مشابهت نه وي، (۴) چې کوم امر د مسنون اتباع سنت په نيت او ارادې وشي نو هغه د چا په تشبيه کولو ناروا کيږي نه (۵) **وهوالموفق.**

انګريزي وېښتان پرېښودل

سوال: څه وايي علماء دين دې مسئلې باره کې چې وېښته داسې سم شي چې انګريزي پيشن کېل کيږي جائز دي يا نا جائز؟ بينوا توجروا

المستفتي: نا معلوم... ۱۹۶۹ع/۲/۹

---

۱) عن أنس بن مالک قال كان شعر رسول الله ﷺ إلى نصف أذنيه... وكان له شعر فوق الجمّة ودون الوفرة.. وكانت جمته تضرب شحمة أذنيه... كان يبلغ شعره شحمة أذنيه. (شمائل ترمذي مع خصائل نبوي ۲۶،۲۵، باب ماجاء في شعر رسول الله ﷺ)

۲) قال العلامة محمّد زكريا رحمه الله: الجمة ما وصل من شعر الرأس إلى المنكبين والوفرة مالم يصل إليهما واللمّة ما جاوز شحمة الأذن سواء وصل إلى المنكبين أو لا. (حاشية شمائل ترمذي ۲۵، باب ماجاء في شعر رسول الله ﷺ)

۳) قال العلامة ملا علي القاري رحمه الله: لا شک أنّ طول الشعر ليس مذموماً ولا جاء أمر بقطع مازاد على مقدار معلوم منه.
(مرقاة المفاتيح ۸:۳۰۹، باب الترجل، الفصل الثاني)

۴) عن ابن عباس رضي الله تعالى عنه قال قال النبي ﷺ لعن الله المتشبهين من الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال. (مشكوة المصابيح ۳۸۰، كتاب اللباس)

۵) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله: اعلم أنّ التشبيه بأهل الكتاب لايكره في كل شئ فإنّا نأكل ونشرب كما يفعلون، إنّما الحرام هو التشبيه فيما كان مذموماً وفيما يقصد به التشبيه. (البحر الرائق ۲:۱۱، باب مايفسد الصلاة ومايكره فيها)

الجواب: د خلاف مسنون کېدو له وجې او هم د تشبه له وجې [۱] او د رکونت الی الکفار قلبي میلان او رجحان ، لامله هم ناجائز دي . قال الله تعالی وَلَاتَرْكَنُوْا اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا [۲] **وهوالموفق**

د سر وېښتانو شرعي حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د حضور ﷺ د سر مبارک وېښتان څنګه و او د سر د وېښتانو شرعي حکم څه دی ؟ بینوا توجروا

المستفتي شفيع الرحمن پيرپيائي

الجواب: ټول وېښتان خريل يا ټول وېښتان غټول د غوږونو تر نرمۍ پورې. تر اوږو او د نرمۍ او اوږو تر منځ ټول مسنون دي. [۳] البته ښځو [۴] او اهل هوا سره تشبيه حرامه ده [۵] **وهوالموفق**

---

۱) وفي المرقاة: (قال رسول الله ﷺ من تشبّه بقوم) أى من شبّه نفسه بالكفار مثلًا في اللباس وغيره أو بالفساق أو بالفجار أو بأهل التصوف والصلحاء الأبرار (فهو منهم) أى في الإثم والخير. (مرقاة المفاتيح ۸:۲۵۵، كتاب اللباس، مسئلة التشبيه)

۲) (سورة هود آيت: ۱۱۳، پاره: ۱۲)

۳) عن أنس بن مالک قال كان شعر رسول الله ﷺ إلىٰ نصف أذنيه... وكان له شعر فوق الجمة ودون الوفرة... وكانت جمته تضرب شحمة أذنيه ... كان يبلغ شعره شحمة أذنيه.

(شمائل ترمذي مع خصائل نبوي ۲۶،۲۵، باب ماجاء في شعر رسول الله ﷺ)

۴) عن ابن عباس رضي الله تعالىٰ عنه قال قال النبي ﷺ لعن الله المتشبهين من الرجال بالنساء والمتشبهات من النساء بالرجال. (مشكوة المصابيح ۳۸۰ كتاب اللباس)

۵) قال العلامة محمّد طاهر رحمه الله تعالى :من تشبّه بقوم)...(پاتې حاشيه په بل مخ)

ښځو ته د وېښتانو د کاټولو حکم

سوال: څه وايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ښځو ته د خپل سر د وېښتان کاټولو او کمولو څه حکم دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: رحيم الله (رح) باچا نوشهره ... ۱۴۰۳ھ

الجواب: بې له حجه او عمرې (۱) نورو وختو کې ممنوع دي او بل دا چې د نارينه وو سره مشابهت راځي. (۲) **وهوالموفق**

تور خضاب لګول جائز نه دي

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې خضاب اسود

(د حاشيې پاتې برخه) بقوم فهو منهم أى من تشبه بالكفار في اللباس وغيره أو بالفساق أو بأهل التصوف أو بالصلحاء فهو منهم.

(مجمع بحار الأنوار ۱۷۸: ۳ باب الشين مع الباء)

۱) وفي الهندية: والمرأة في جميع ذلک كالرجل غير أنها... لا تحلق رأسها ولكن تقصر كذا في الهداية. (فتاوى هندية ۲۳۵: ۱، الباب الخامس في كيفية أداء الحج)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله: قطعت شعر رأسها أثمت ولعنت، زاد في البزازية وإن بإذن الزوج لأنه لا طاعة لمخلوق في معصية الخالق، ولذا يحرم على الرجل قطع لحيته والمعنى المؤثر التشبّه بالرجال.

(الدرالمختار ۲۸۸: ۵، كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

وقال العلامة طاهر رحمه الله: المرأة إذا حلقت رأسها إن كان لوجع أصابها لا بأس به وإن كان للتشبه بالرجال يكره.

(خلاصة الفتاوى ۳۷۷: ۴، كتاب الكراهية، الفصل التاسع في المتفرقات)

ښکه دي؟ بينوا توجروا

المستفتي مسيح الله ډاکخانه نستنه چارسده ..... ۱۴۰۱ھ /۱۵/۷

الجواب: خالص په تورو باندي وېښته رنګول جائز نه دي. لحديث من سود لحيته سود الله وجهه، رواه الطبراني (۱) ولما في الهندية: وأما الخضاب بالسواد فمن فعل ذلك من الغزاة ليكون أهيب في أعين العدو فهو محمود عنه، اتفق عليه المشائخ رحمهم الله ومن فعل ذلك ليزين نفسه للنساء ويحبب نفسه اليهن فذلك مكروه وعليه عامة المشائخ، وبعضهم جوزوا ذلك من غير كراهة وروى عن أبي يوسف أنه قال كما يعجبني أن تتزين لي يعجبها أن أتزين لها كذا في الذخيرة (۲) انتهى، ولما في شرح التنوير: ويكره بالسواد (هامش ردالمحتار ۵:۲۷۲)(۳). وهوالموفق

د مودودي صاحب د ږيرې د غير محدود کېدو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې له څه مودې راهيسې جماعت اسلامي سره تړلي خلک وينو چې معمولي ږيره يې پرې ايښې وي، هغوی وايي چې شريعت کې د ږيرې هيڅ حد نشته او د مولانا مودودي د رسالو حواله ورکوي نو غوارم چې ماهنامه کې د ږيرې په شرعي حيثيت او اهميت باندې مدلل معلومات وليکئ او خپاره يې کړئ. د مسلمانانو لارښودنه وکړئ؟ بينوا توجروا

المستفتي نا معلوم .....

---

۱) قال العلامة العيني: وروى الطبراني عن جنادة عن أبي الدرداء يرفعه من خضب بالسواد سوّد الله وجهه يوم القيمة.
(عمدة القاري ۲۲:۵۱، كتاب اللباس: باب الخضاب)

۲) (فتاوى هندية ۵:۳۵۹، كتاب الكراهية، الباب العشرون في الزينة الخ)

۳) (الدرالمختار ۵:۲۹۹، كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

الجواب: ښکاره دې وي چې ږيره له يو موټي کمول د يو امام په نزد هم جائز نه ده، قال فى تنقيح الفتاوى ۱: ۳۵۱: قال العلائى فى كتاب الصوم قبيل فصل العوارض أن الأخذ من اللحية وهى دون القبضه كما يفعله بعض المغاربة مخنثة الرجال لم يبحه أحد (۱) انتهى قلت: وكذا صرح به ابن الهمام فى شرح الهداية (۲)

او مودودي صاحب چې د ږيرې د غير محدودبدو قائل دی او د ږيرې له يو موټي کمېدو مجوز دی. نو له هغوی نه دا وپوښتئ چې که تاسو د فقهاء کرامو په رايه فيصله کول غواړئ، نو له مخکې عبارت نه معلومېږي چې ستاسې رايه د هغوی له رايې سره ټکر خوري.

که په مرفوع حديثونو فيصله کول غواړئ نو په قولي حديثونو کې د ږيرې متعلق پنځه لفظونه راغلي دي او د ټولو معنا اومراد بلا تعرضه لويول دي.

قال الامام النووى فى شرح مسلم ۱: ۱۲۹: فحصل خمس روايات أعفوا وأوفوا وأرجوا ووفروا، ومعناها كلها تركها على حالها (۳) انتهى

يعنې ږيره لويه کړئ. او هيڅ تيری ونکړئ او ددې د لويولو لپاره هيڅ حد او منتهی نشته. خو مودودي صاحب د ږيرې لويول د هر چا په زړه او ارادې پورې مقيد او محدود کړي دي.

که د مودودي صاحب له فعلي حديث نه چې عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده نه امام ترمذي روايت کړی دی.

---

۱) (فتاوى تنقيح الحامدية ۱:۳۵۱، كتاب الشهادة)

۲) قال العلامة ابن الهمام رحمه الله: وأمّا الأخذ منها وهى دون ذلک كما يفعله بعض المغاربة ومخنّثة الرجال فلم يبحه أحد.

(فتح القدير ۲:۲۷۰، كتاب الصوم باب مايوجب القضاء والكفارة)

۳) (حاشية النواوى على صحيح المسلم ۱:۱۲۹، باب مايوجب القضاء والكفارة)

ولفظه كان يأخذ من لحيته من عرضها وطولها(١) نه استدلال كوي. نو په دې اړه واضحه شوه چې په دې حديث كې د حد او مقدار بيان نشته. دا حديث مجمل دے. له بيان نه مخكې د عمل قابل نه دى. له پلټنې وروسته دا حقيقت ښكاره شو چې په مرفوع حديث كې ددې څه بيان نشته. البته په موقوفو احاديثو كې يعنې د صحابه كرامو ﷺ په آثارو كې دا بيان شته. وهو ما ذكر الامام البخاري وغيره عن ابن عمر أنه كان يقبض على لحيته ويقطع ما زاد (بالمعنى)(٢)او حديث كه په ښكاره موقوف دى. خو په حقيقت كې دا مرفوع دى. لأنّ حدّ الشيئ مما لا يدرك بالرأى والقياس نو د مبين له مجمل سره د يو ځاى كولو نه وروسته معلومه شوه چې نبي ﷺ د قبضې له مقدار نه زيږه نه ده كمه كړې او د مودودي استدلال غلط دى.

خو كېداى شي چې څوك دا پوښتنه وكړي چې قولي احاديث او فعلي حديث خپلو كې ټكر شوي. نو ځينو محققينو دا ځواب وركړى چې قولي حديثونه منسوخ دي او فعلي حديث ناسخ دى او د اكثرو فقهاوو له عبارت نه څرګنديږي چې مقصود توسعه او پراخي ده. بې له تعرضه اوږدول هم جائز دي او له قبضې نه ونلې كمول هم جائز دي. بس (٣) وهوالموفق

---

١) (جامع الترمذي ٢:٥٦٥، أبواب الإستيذان والأدب، باب ماجاء في الأخذ من اللحية)

٢) وكان ابن عمر إذا حجّ أو اعتمر قبض على لحيته فما فضل أخذه.
(صحيح البخاري ٢:٨٧٥، باب تقليم الأظفار، كتاب اللباس)

٣) قال العلامة ابن الهمام رحمه الله: القدر المسنون في اللحية القبضة قال في النهاية وما وراء ذلك يجب قطعه هكذا عن رسول الله ﷺ أنه كان يأخذ من اللحية من طولها وعرضها... فإن قلت: يعارضه ما في الصحيحين عن ابن عمر رضي الله تعالى عنهما عنه عليه الصلوة والسلام أحفوا الشوارب واعفوا اللحى، فالجواب: أنه قد صحّ عن ابن عمر راوى هذا الحديث أنه كان يأخذ الفاضل عن القبضة... فأقل ما في الباب (پاتې حاشيه په بل مخ)

د فیشن (موډ) په توګه تر اوږو وېښتان اوږدول

سوال: څه فرمايي علماء دين دې مسئلې باره کې چې نن د سر د وېښتانو فېشن. چې له اوږو هم زيات اوږده وي څه حکم لري؟ د ځينو حضراتو وېښتان تر اوږو هم زيات اوږده وي. محلقين رؤسکم ومقصرين. له مخې د غوږ له نرمۍ نه اوږدول د شريعت خلاف ښکاري دا هم چې ډېره له موټي کمول که له کوم دليل نه ثابته وي نو وضاحت وکړئ؟ بينوا توجروا

المستفتي نائب صوبيدار شير محمد راولپنډي ..... يکم اکتوبر ۱۹۷۵ء

الجواب: واضحه دې وي چې له کفارو فساقو او ښځو سره تشبيه حرامه ده يعني د دوی شعار کې، قال الله تعالى ﴿وَلَا تَرْكَنُوٓا۟ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ﴾ (۱) وقال رسول الله من تشبه بقوم فهو منهم، رواه أحمد وأبو داؤد (مشكوة، كتاب اللباس) (۲) وقال النبي ﷺ: لعن الله المتشبهين من الرجال بالنساء (۳) نو که د دغه سړي وېښتان تر اوږو پورې اوږده وي نو دا خلاف سنت نه دي. ځکه چې ځينې اوقات وخت د نبي ﷺ وېښتان مبارک هم تر اوږو پورې رسېدلي و. كما في رواية مسلم: شعره يضرب منكبيه (۴) ويقال لها الجمة،

(د حاشيې پاتې برخه) ان لم يحمل على النسخ كما هو أصلنا في عمل الراوى على خلاف مرويه مع أنه روى عن غير الراوي وعن النبي ﷺ بحمل الإعفاء على إعفائها من أن يأخذ غالبها أو كلّها كما هو فعل مجوس الأعاجم من حلق لحاهم فيقع بذلك الجمع بين الروايات. (فتح القدير ۲: ۲۷۰، كتاب الصوم، باب مايوجب القضاء والكفارة)

۱) (سورة هود آيت: ۱۳)

۲) (مشكوة المصابيح ۳۷۵، كتاب اللباس)

۳) (صحيح البخاري ۲: ۸۷۴ كتاب اللباس، باب المتشبهين بالنساء)

۴) (صحيح المسلم ۲: ۲۵۸ كتاب الفضائل، باب صفة شعره ﷺ)

او که له دې متجاوز وي نو د ښځو سره د مشابهت له وجې حرام او ناروا دي او زيره له قبضې نه وتلې کمول د بخاري، کتاب اللباس کې له ابن عمر ﷺ نه مروي دي(۱)، او له مسند امام ابي حنيفه ﷺ نه هم مروي دي(۲)، فليراجع.

وهوالموفق

د تخرګ وېښتان ويستل سنت دي که خريل يې سنت دي؟

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د تخرګ وېښتان لرې کولو څه حکم دی؟ بينوا توجروا!

المستفتي: دين محمد وزيرستاني معلم حقانيه... ۲شعبان ۱۹۹۷ء

الجواب: د تخرګ وېښتان ويستل سنت او عزيمت دی او په مشين چاړې باندې خريل روا او رخصت دی (۳) **وهوالموفق**

---

۱) وكان ابن عمر إذا حج أو اعتمر قبض على لحيته فما فضل أخذه.
(صحيح البخاري ۲:۸۷۵ باب تقليم الأظفار، كتاب اللباس)

۲) ابوحنيفة عن الهيثم عن رجل أنّ أبا قحافة أتى النبي ﷺ ولحيته قد انتشرت قال فقال: لو أخذتم وأشار إلى نواحي لحيته.
(مسند الإمام الأعظم ۲۰۵، كتاب اللباس والزينة)

۳) وفي المرقاة: قال في شرح المشارق المفهوم من حديث ابي هريرة أن حلق الإبط ليس بسنة بل السنة نتفه... قال النووي النتف أفضل لمن قوى عليه لما حكى أن الشافعي كان يحلق إبطه فقال علمت أن السنة نتفه لكن لا أقوي على الوجع.
(مرقاة المفاتيح ۸:۲۹۰ باب الترجل)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: ذكر الحلق في الإبطين تبعا للجامع الصغير ايماء إلى جوازه وإن كان النتف هو السنة.
(ردالمحتار ۲:۲۲۲، كتاب الحج، باب الجنايات)

د اوسنی زمانې د خضاب (وسمې) حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې موجوده زمانه کې خضاب (وسمه) استعمالول روا دي که نه روا؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوی سیف الرحمن سرائي نورنګ بنو ۔ ۱۸/۸/۱۹۶۹

الجواب: د موجوده زمانې خضاب چونکه خالص تور دي. لهذا د جمهورو احنافو علماوو په نزد بې استعمال نه روا دی. مګر د غازیانو لپاره جائز دي.

قال النبی ﷺ فی حق أبی قحافه: غیروا هذا بشیئ واجتنبوا السواد، (رواه مسلم)(۱) وقال علیه الصلوة والسلام: یکون قوم فی آخر الزمان یخضبون بهذا السواد کحوا صل الحمام لا یجدون رائحة الجنة (رواه النسائی)(۲) وفی الدر المختار: ویکره بالسواد. وفی ردالمحتار ۳۷۲/۵ قال فی الذخیرة اما الخضاب بالسواد للغزو لیکون أهیب فی عین العدو فهو محمود بالاتفاق ان لیزین نفسه للنساء فمکروه وعلیه عامة المشائخ.(۳) وهوالموفق.

د خنزیر له وېښتانو د جوړ شوي برش استعمال

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ځینې بهرنیانو د بوټ پالش والا برشونه دخنزیرانو له وېښتانو جوړ کړي دي. مهرباني وکړئ. ووایئ چې دبوټ پالش لپاره دا ډول برشونه کارول جائز دي یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: غلام سرور منسټري آف کامرس اسلام آباد ... ۷ مارچ ۱۹۸۴ء

---

۱) (صحیح المسلم ۱۹۹:۲، کتاب اللباس والزینة، باب استحباب خضاب الشیب الخ)

۲) (سنن النسائی ۲۷۷:۲ کتاب الزینة، النهی عن الخضاب بالسواد)

۳) (ردالمحتار ۲۹۹:۵ کتاب الحظر والإباحة، فروع)

الجواب: که په جزیي توګه دا معلومه شي چې دا برش د خنزير له وېښتانو جوړ شوي. نو دد ې استعمال ناروا دی. ځکه چې خنزير نجس العين دی. وېښتان يې هم نجس العين دي. بې له موزو ګنډلو نوره فايده اخيستل ترې منعه دي (هدايه)(١) والله اعلم

د ږيرې لوېولو يا لنډولو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د ږيرې لپاره څه شرعي حد مقرر دی يا په خپله خوښه پرېښودل. د امت له علماوو دا اورېدل کيږي چې د ږيرې يو موټی اندازه سنت ده او له قبضې نه وړول يې ترک سنت ده. مع حاله يعني پرېښودل يې له مستحباتو شمېرل کيږي او په درمختار کې راغلي. لا بأس بأخذ أطراف اللحية، والسنة فيها القبضة وهو أن يقبض الرجل لحيته فما زاد منها على قبضته قطعه. كذا ذكره محمد رحمة الله تعالى في كتاب الآثار عن الامام، قال وبه نأخذ. وقال النبي ﷺ أوفروا اللحى و أحفوا الشوارب لأن المشركين يقطعون اللحية ويتركون الشوارب فقال النبي ﷺ: خالفوا المشركين يعنى اقطعوا الشوارب وأوفروا اللحى الخ. فعلم منها أن اللحية بقدر القبضة سنة كما مرّ آنفا. ومن قال بخلافه ان القبضة ليس فيه دليل قولي فهو يقول مخالف الحديث كما قال المودودی في رسائل ومسائل. او درمختار

---

١) قال العلامة المرغيناني رحمه الله: ولا يجوز بيع شعر الخنزير لأنّه نجس العين فلا يجوز بيعه إهانة لهٗ ويجوز الانتفاع به للخرز للضرورة فإنّ ذلك العمل لا يتأتّى بدونه. (هداية ٣:٥٥، كتاب البيوع، باب البيع الفاسد)

وقال العلامة الحصكفي: وشعر الخنزير لتجاسة عينه أى عين الخنزير أى بجميع أجزائه فيبطل بيعه، ابن كمال وإن جاز الانتفاع به لضرورة الخرز. (الدرالمختار ٤:١٢٦،١٢٧، كتاب البيوع، باب البيع الفاسد)

کې حضر و اباحت کې دي عن المجتبی والبزازية (المرأة) اذا قطعت شعر رأسها أثمت ولعنت وان بأذن الزوج لأنه لاطاعة للمخلوق فی معصية الخالق، ولذا يحرم قطع اللحية للرجل وهی دون القبضة كما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال لم يبحه أحد وأخذ كلها فعل اليهود والهنود، (تنقيح الحامدية: ۲۵۱)

او مفسرينو د «فليغيرن خلق الله» لاندې ږيره کلول ممنوع ليکلي. اوس استفسار دادی چې د ږيرې لويولو يا تراشلو حد د شريعت له مخې څنګه دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد مسعود الرحمن صدر جمعية علماء اسلام حلقه دربند

الجواب: امام نووي په شرح صحيح مسلم ۱۲۹مخ کې ليکلي چې د ږيرې باره کې پنځه لفظونه راغلي: «أعفوا. أوفوا. أرخوا وأرجوا. و وفروا» او ټول په ټوله معنا ترک بلا تعرض دی، (۱) لهذا د هغه مرفوع احاديثو پر بناء ضروري ده چې ږيره کې هيڅ تعرض ونشي. خو إمام ترمذي رحمة الله د عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده نه مرفوعاً نقل کړي چې پېغمبر عليه الصلوة والسلام له ږيرې نه طولاً او عرضا اخيستې ده «بحواله مشکوٰة شريف ۳۸۱» (۲) خو دا حديث د إبهام او إجمال له وجې د عمل قابل نه دی. کله چې ابهام او اجمال لرې نشي. نو دا ضروري ده چې د صحابه کرامو آثارو ته مراجعت وشي او د هغوي په قول او عمل باندې إبهام لرې شي.

---

۱) قال العلامة النووي رحمه الله: فحصل خمس روايات أعفوا وأوفوا وأرخوا وأرجوا ووفّروا ومعناها كلّها تركها على حالها.
(حاشية النواوی شرح المسلم ۱:۱۲۹، باب خصال الفطرة)

۲) عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جدّه أنّ النبي ﷺ كان يأخذ من لحيته من عرضها وطولها، رواه الترمذي. (مشكوة المصابيح ۳۸۱، الفصل الثانی، باب الترجل)

له مراجعت وروسته مو ډېر اثار وموندل چې له هغو نه د ابن عمر ﷺ اثر مشهور دی (ذکره البخاري[۱] و رواه محمد[۲] ، وأبوحنیفه)[۳] او مضمون یې دا دی چې ابن عمر ﷺ له قبضې نه بهر ونلي وېښتان اخیستي دي، نو له دې اثر نه د مرفوع حدیث ابهام له دوو وجو ختم شو. اول دا چې دغه صحابي رسول الله ﷺ په کولو لیدلی و. دوم دا چې مقادیرو کې رایه او قیاس دخل نه لري، لهذادا حدیث په ښکاره موقوف او حقیقت کې مرفوع دی او دا ترې ثابیتیږي چې دې امر کې توسعه شته. یعنې بې تعرضه یې پرېښودل جائز دي او بې تعرضه. له قبضې بهر اخیستل هم روا دي او ممکنه ده چې نسخ مراد شي چې د ځینو محققینو رایه همدا ده. خو له قبضې نه کمول یې نه له مرفوع حدیث ثابت دي اونه له آثار صحابه ﷺ نه، بلکې فتح القدیر[۴] او تنقیح الفتاوی

---

۱) عن ابن عمر عن النبي ﷺ قال خالفوا المشركين وفّروا اللحى واحفوا الشوارب، وكان ابن عمر إذا حج أو اعتمر قبض على لحيته فما فضل أخذه.
(صحيح البخاري ۲:۸۷۵، باب تقليم الأظفار، كتاب اللباس)

۲) عن ابن عمر رضي الله تعالى عنه أنّه كان يقبض على لحيته ثم يقص ما تحت القبضة، قال محمّد وبه نأخذ وهو قول أبي حنيفة رحمه الله تعالى.
(كتاب الآثار ۱۵۰، باب حف الشعر من الوجه)

۳) أبوحنيفة عن الهيثم عن رجل أنّ أباقحافة أتى النبي ﷺ ولحيته قد انتشرت، قال فقال لو أخذتم وأشار إلى نواحي لحيته.
(مسند الإمام الأعظم ۲۰۵ كتاب اللباس والزينة)

۴) قال العلامة ابن الهمام رحمه الله تعالى: وأمّا الأخذ منها وهي دون ذلك كما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم يبحه أحد.
(فتح القدير ۲:۲۷۰، كتاب الصوم، باب مايوجب القضاء والكفارة)

الحامدیه (۱) کې لیکلي دي لم یبحه أحد لهذا له دې مخالفت له اجماع نه مخالفت دی او له امام نووي نه ځینې مبهم عبارات نقل شوي دي چې نه یې قایل معلوم دی او نه یې مسلک. لهذا په داسې اقوالو تمسک کول جهالت دی. بس.والسلام

وسمه نکروزو سره یو ځای کول او د استعمالولو حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې خضاب (وسمې) سره نکروزي ګډې شي او استعمال شي نو روا دي یا نا روا؟ موطأ امام محمد رحمه الله باب الخضاب کې روا لیکلي. ایا په دې فتوا ده. که د جواز فتوا وي: نو 'من سوّد شعره سوّد الله وجهه' څه مطلب دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي سیف الرحمن سرائی نورنګ بنو... ۱۹۶۹ء/۸/۱۸

الجواب: د موجوده زمانې مائع خضاب، چې له نکریزو سره ګډ شي نو خالص تور والی نه راځي. لهذا جائز ده او امام محمد رحمه الله چې د کومو خضابو په اړه د جواز حکم ورکړی هغه مائع نه دي بلکې هغه پاڼې او پتې دي چې رنګ یې شینوالي ته مائل دی او له داسې خضابو سره نکریزې استعمالول ناروا دي. ځکه چې د دواړو په خاص اختلاط خالص تور رنګ جوړیږي

(فلیراجع إلی التعلیق الممجد ۳۹۰) حیث قال فی القاموس والمغرب هو ورق النیل والخضاب به لایکون سواداً خالصاً بل مائلاً إلی الخضرة، نعم! لوخضب الشعر أولاً بالحناء صرفاً ثم بالوسمة علیه یحصل

---

۱) قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: إنّ الأخذ من اللحیة وهی دون القبضة کما یفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال لم یبحه أحد.
(فتاوی تنقیح الحامدیة ۱:۳۵۱، کتاب الشهادة)

السواد الخالص فيكون ممنوعاً(١) انتهى باختصار۔وهوالموفق

له نامه لاندې د وېښتانو لرې كولو موده

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې له نامه لاندې وېښتانو ته څه وخت مقرر دى يا نه؟ ما اورېدلي چې څلوېښتو ورځو كې لرې كول پكار دي ايا دا صحيح دي؟ او تر دې زيات وخت اړولو وروسته ګناه كيږي؟ بينوا توجروا

المستفتي نا معلوم... ۱۴۰۱ھ ۱۵

الجواب: له نامه لاندې هفته كې يو وار وېښتان لرې كول غوره دي او له څلوېښتو ورځو اړول يې مكروه دي. لما في شرح التنوير: ويستحب حلق عانته وتنظيف بدنه بالإغتسال في كل أسبوع مرة، والأفضل يوم الجمعة وجاز في كل خمسة عشرة وكره تركه وراء أربعين مجتبىٰ (هامش ردالمحتار ٥:٣٥٨)(٢)، لما روى مسلم عن أنس بن مالك وقّت لنا في قصّ الشارب وتقليم الأظفار ونتف الإبط وحلق العانة أن لانترك من أربعين

---

١) (التعليق الممجد ٣٩٢، باب الخضاب)

وقال العلامة أنور شاه الكشميرى رحمه الله تعالىٰ: وفي الحديث النهى الشديد عن الخضاب الأسود الذى لا يميز به بين الشيخ والشاب، وأمّا اختلاط الحناء والكتم فجائز وزعم الناس أنّ الكتم الوسمة المتخذة من النيل، والحق أنّ الكتم تجلب من اليمن وتشدد الأحمرية لا السواد، والوسمة إذ لم تكن سود أشد السواد ويتميز بين الشيخ والشاب فجائزة كما في موطاء محمدّ.

(العرف الشذى على جامع الترمذي ١:٤٣٨، أبواب اللباس، باب ماجاء في الخضاب)

٢) (الدر المختار ٥:٢٨٨، كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع، فروع)

ليلة.(۱) وهوالموفق

له تورو خضابو پرته نور خضاب لګول

سوال: څه وايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې د يو سړي ږيره مخكې له وخته سپينه شوې وي نو په دې وسمه لګول وغيره جائز دي كه نه؟
بينوا توجروا

المستفتي مولانا عبد الباري ډاكخانه توپي زوړ بازار... ۱۹۸۴ء ۹،۴

الجواب: پرته له سوچه تورو الي نور رنګونه مشروع دي (هنديه)(۲) وهوالموفق

---

۱) (صحيح المسلم ۱:۱۲۹، باب خصال الفطرة)

وفي الهندية: الأفضل أن يقلم أظفاره ويحفي شاربه ويحلق عانته وينظف بدنه بالاغتسال في كل أسبوع مرّة، فإن لم يفعل ففي كل خمسة عشرة يوماً ولا يعذر في تركه وراء الأربعين، فالأسبوع هو الأفضل والخمسة عشر الأوسط والأربعون الأبعد ولا عذر فيما وراء الأربعين ويستحق الوعيد.

(فتاوى هندية ۵:۳۵۷، كتاب الكراهية، الباب التاسع عشر في الختان الخ)

۲) وفي الهندية: اتفق المشائخ رحمهم الله تعالى أنّ الخضاب في حق الرجال بالحمرة سنة وأنّه من سيماء المسلمين وعلاماتهم، أمّا الخضاب بالسواد فمن فعل ذلك من الغزاة ليكون أهيب في عين العدو فهو محمود منه اتفق عليه المشائخ رحمهم الله تعالى، ومن فعل ذلك ليزين نفسه للنساء وليحبب نفسه إليهن فذلك مكروه وعليه عامّة المشائخ وبعضهم جوز ذلك من غير كراهة. (فتاوى هندية ۵:۳۵۹، كتاب الكراهية الباب، العشرون في الزينة واتخاذ الخادم للخدمة)

قال العلامة بدر الدين العيني رحمه الله تعالى: واختلف فيه فالجمهور على أنّ الخضاب بالحمرة والصفرة دون السواد لما روي فيه... عن ابن عباس يرفعه يكون في آخر الزمان قوم يخضبون بالسواد لايجدون ريح الجنة.

(عمدة القاري ۲۲:۵۱، باب الخضاب)

ږیره کلونکی لعنتي دی

سوال: څه وایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ږیره کلونکي سړي ته لعنتي ویل شرعي لحاظ سره جائز دي یا نه؟ بینوا توجروا

المستفي محمد شفیع ۱۹۷۲ء/۲۶/۶۲

الجواب: جائز دي چې خاص کس په ګوته نه کړي (۱) **وهوالموفق**

د مزدوری لپاره ږیره خریل ناروا دي

سوال: څه وایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې یو کس ته د ږیرې په وجه نوکري نه ملاوېږي ځکه چې بوډا معلومېږي. اوس که دا سړی په دې خیال ږیره کلوي چې کار یا نوکري وغیره ملاو شي او بیا له نوکرۍ وروسته دغه یخه اراده وي چې ږیره به پرېږدم، ددې حکم څه دی ؟ بینوا توجروا

المستفتي مولانا فخر الدین. برمنګهم. انګلینډ ۱۹۷۲ء/۸/۱۵

الجواب: د نوکرۍ او مزدورۍ حاصلولو لپاره ږیره خریل حرام دي، بې فایدې هم دي. ځکه چې انګریزان دومره بېوقوفه نه دي چې دږیرې په وجه دوکه کې

---

۱) قال العلامة الشامي رحمه الله تعالٰى : حقيقة اللعن المشهورة هي الطرد عن الرحمة وهى لا تكون إلّا الكافر، ولذا لم تجز على معين... بخلاف غير المعين كالظالمين والكاذبين فيجوز أيضا لأنّ المراد جنس الظالمين وفيهم من يموت كافراً فيكون اللعن لبيان أنّ هذا الوصف وصف الكافرين للتنفير عنه والتحذير منه لا لقصد اللعن على كل فرد من هذا الجنس لأنّ لعن الواحد المعين كهذا الظالم لايجوز.
(ردالمحتار ۳:۵۸۷، مطلب في حكم لعن العصاة، باب الرجعة)

راشي-(۱) وهوالموفق

د ږيرې محل او مقدار څومره دی

سوال: څه وايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې د ږيرې محل او مقدار څومره دی؟ بينوا توجروا

المستفتي :نامعلوم ۱۹۸۷،۹،۹

الجواب: اللحية ما نبت على الذقن واللحيين والعذارين والعارضين (۲)، لاما نبت تحت الشفة السفلى والحلق والخدين (). وهوالموفق

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: ولذا يحرم للرجل قطع لحيته... قال العلائي في كتاب الصوم قبيل فصل العوارض: أن الأخذ من اللحية وهى دون القبضة كما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال لم يبحه أحد وأخذ كلها فعل يهود الهنود ومجوس الأعاجم. (فتاوى تنقيح الحامدية ۱:۳۵۱ كتاب الشهادة)

وفي شرح المجلة: درء المفاسد أولى من جلب المنافع أى إذا تعارض مفسدة ومصلحة قدم رفع المفسدة لأن اعتناء الشرع بالمنهيات أشدّ من اعتنائه بالمأمورات. (شرح المجلة لسليم رستم باز رحمه الله تعالى ۳۲،المادة: ۳۰)

۲) في مجموعة قواعد الفقه: اللحية شعر اللحيين والذقن واللحى هو العظم الذى عليه الأسنان والذقن هو مجتمع اللحيين.

(مجموعة قواعد الفقه ۴۵۳ بحث اللام)

قال العلامة محمّد طاهر رحمه الله تعالى: اللحية اسم لجمع من الشعر مانبت على الخدّين والذقن.

(مجمع البحار الأنوار ۴:۴۸۸ باب لح)

«دږيرې لپاره څه شرعي حد نشته» د ويونکي حکم

سوال: څه وايي علماء کرام دې مسئلې باره کې. زيد وايي چې د احنافو د مذهب پر بنا ږيره له قبضې کمه پرېښودل نه دي پکار. ځکه چې له رسول الله ﷺ نه پنځه الفاظ منقول دي (أعفوا. أوفوا. أوفروا. أرجوا) د ټولو معنا امام نووي دا کړې ده، «أتركوها على حالها ولا تعرضوا لها» اخر کې بيې داسې ليکلي «والمختار تركها على حالها» هو! احنافو بعضې فتاواو کې له موټې زياته کمول جائز ليکلي دي. د نورو د لائلو پر بنا فتاوی رشيديه. بهشتي زيور وغيره هم دا ليکلي دي، چې له قبضې نه کمول او خريل دواړه يو برا بر دي. اوعمر وايي چې د ږيرې لپاره کوم شرعي حد نشته. بلکې دومره وېښتان چې مخ پرې پټ وي بس دي، ځکه چې ما له يو لوی مولوي صاحب نه اورېدلي چې د ږيرې لپاره هيڅ حد نشته بلکې دومره وېښتان بس دي چې په مخ باندې ښکاري؟ بينوا توجروا

المستفي مولوی محمد اسحاق. لوند خوړ ۹ ربيع الثاني ۱۳۹۵هـ ۹۸

---

١) في الهندية: ولا يحلق شعر حلقه وعن أبي يوسف رحمه الله تعالى لا بأس بذلك، ولا بأس بأخذ الحاجبين وشعر وجهه مالم يتشبه بالمخنث كذا في الينا بيع، ونتف الفنبكين بدعة وهما جانبا الغنفقة وهى شعر الشفة السفلى.

(فتاوى هندية ٥:٣٥٨ كتاب الكراهية، البا ب التاسع عشر في الختان الخ)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: ولا بأس بالأخذ من حاجبه وشعر وجهه ما لم يشبه فعل المخنثين ولا يحلق شعر حلقه وعن أبي يوسف لا بأس به.

(ردالمحتار ٢:١٢٣، كتاب الصوم، قبيل مطلب في الأخذ من اللحية)

الجواب: د عمر قول له حدیثو[1] او فقه دواړو نه مخالف دی. فتح القدیر[2] او تنقیح الفتاوی[3] کې په عدم جواز باندې اجماع نقل شوی. ښائي دا سړی له مودودي صاحب نه متاثره وي. پکار ده چې په سمه لار باندې روان شي او خطرو کې ونه لوېږي. **وهوالموفق**

ږیره کلونکي سره د ترک موالات حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ږیره کلونکي سره ترک موالات څنګه دی؟ بینوا توجرو

المستفتي عبدالله نوښهره

الجواب: ږیره کلول اګر که یو حرام کار دی. **کما فی تنقیح الفتاوی**[4] **یحرم**

---

۱) عن ابن عمر رضي الله تعالى قال قال رسول الله ﷺ: خالفوا المشركين أوفروا اللحى واحفوا الشوارب وفي رواية انهكوا الشوارب واعفوا اللّحى، متفق عليه.
(مشكوة المصابيح ۳۸۰ باب الترجل)

۲) قال العلامة ابن الهمام رحمه الله تعالى: وأما الأخذ منها وهى دون ذلك كما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال فلم يبحه أحد.
(فتح القدير ۲:۲۷۰ كتاب الصوم، باب مايوجب القضاء والكفارة)

۳) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: ولذا يحرم للرجل قطع لحيته... وقال العلائي في كتاب الصوم قبيل فصل العوارض أن الأخذ من اللحية وهى دون القبضة كما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال لم يبحه أحد وأخذ كلها فعل يهود الهنود ومجوس الأعاجم.
(فتاوى تنقيح الحامدية ۱:۳۵۱ كتاب الشهادة)

۴) (فتاوى تنقيح الحامدية ۱:۳۵۱ كتاب الشهادة)

للرجل قطع لحية خو كفر او ارتداد نه دی (۱) باقي ترک موالات او بایکاټ هر فاسق سره مشروع دی (۲) **وهوالموفق**

د ږیري ږمنځولو لپاره د وخت ټاکلو مسئله

سوال: څه فرمايي علماء كرام دي مسئلي باره كي چي د سر او ږيري ږمنځولو لپاره د وخت ټاكلو په اړه كوم حديث ثابت دی ؟ كه كوم يو حديث مو له نظره تېر شوی وي نو پوره حواله راكړئ ؟ بينوا توجروا

المستفتي نا معلوم ...۱۹۷۵،۵،۱۴

الجواب: دوخت ټاكلو په اړه كوم حديث نه دی معلوم. **وهوالموفق**

ږيره كلوونكي نه د فاسق فاجر ويونكي امام معزولول

سوال: څه فرمايي علماء كرام دي مسئلي باره كي چي د جمعة المبارک په ورځ خطيب د حضورﷺ سيرت بيانوي وايي چي ږيره پرېښودل ضروري دي. ږيره كلوونكي شاهدي نه شي ادا كولی.

---

۱) في شرح العقائد : والكبيرة لاتخرج العبد المؤمن من الإيمان... أن مرتكب الكبيرة فاسق. (شرح العقائد ۸۴،۸۲)

۲) قال الملا علي القاري رحمه الله تعالى : قال الخطابي رخص للمسلم أن يغضب على أخيه ثلاث ليال لقلته ولايجوز فوقها إلاّ إذا كان الهجران في حق من حقوق الله تعالى، فيجوز فوق ذلک... وأجمع العلماء على أن من خاف من مكالمة أحد وصلته مايفسد عليه دينه أو يدخل مضرّته في دنياه يجوز له مجانبته... فإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة على مر الأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق.

(مرقاة المفاتيح ۹:۲۶۲باب ماينهى عنه من التهاجر والتقاطع)

فاسق او فاجر دی. د حضور ﷺ په وړاندې به د قیامت په ورځ څنګه مخ ښکاره کوو. د حضور ﷺ اتباع عملاً ضروري ده. ایا د داسې الفاظو په ویلو سره د دغه خطیب پسې لمونځ کیږي. که لرې کړل شي؟ یو بل کس مسجد کې وویل چې دغه خطیب پسې لمونځ نه کوم. اوس ځان سره د نورو خلکو د ملاتړ کوشش هم کوي چې دا خطیب له جومات نه وباسي د دغه سړي څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتي عبدالعزیز کیمل پور... ۱۱ ربیع الثاني ۱۳۹۵ھ

الجواب: دا خطیب په حقه دی. لرې کول یې ظلم دی. أن حلق اللحیة مفسق کما في تنقیح الفتاوی (۱: ۳۵۱) والعزل بلا وجه شرعی ظلم فلیراجع إلی ردالمحتار (۳: ۵۳۴) والأشباه (۲۰۲) وهوالموفق

د وېښتانو په اړه سنت ثابته

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د انګریزي وېښتانو

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: أن الأخذ من اللحية وهي دون القبضة كما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال لم يبحه أحد وأخذ كلها فعل يهود الهنود ومجوس الأعاجم، فحيث أدمن على فعل هذا المحرم يفسق.
(تنقيح الحامدية ۱: ۳۵۱ كتاب الشهادة)

۲) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وقدمنا عن البحر حكم عزل القاضي لمدرس ونحوه وهو أنه لايجوز إلّا بجنحة وعدم أهلية.
(ردالمحتار ۳: ۴۵۲ كتاب الوقف، مطلب للواقف عزل الناظر)

۳) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: ليس للقاضي عزل الناظر بمجرد شكاية المستحقين حتى يثبتوا عليه خيانة. (الأشباه والنظائر ۱۹۵ كتاب الوقف)

باره کې وضاحت وکړئ؟ بينوا توجروا

المستفتي عزيزالدين متعلم حقانيه ۹ ربيع الاول ۱۳۹۵ھ

الجواب: د وېښتانو متعلق سنت ثابته حلق دی[۱] يا وفروه. لمه. جمه کې چې کوم يو پرېږدي. [۲] او انګريزي وېښتان له دې سنت ثابته مخالف دي. دا رنګې له کفارو او فساقو سره مشابهت راځي چې هغه حرام دی[۳].

قال الله تبارك وتعالىٰ: وَلَا تَرْكَنُوْا الخ(۴) وقال علية الصلوة

---

۱) في الهندية: وفي روضة الزندويستي أن السنة في شعر الرأس إما الفرق وإما الحلق وذكر الطحاوي الحلق سنة ونسب ذلك إلى العلماء الثلاثة كذا في التتارخانية.
(فتاوى هندية ۵:۳۵۷ كتاب الكراهية، الباب التاسع عشر في الختان الخ)

۲) عن أنس بن مالك رضي الله تعالىٰ عنه قال كان شعر رسول الله ﷺ إلى نصف أذنيه...وكان له شعر فوق الجمّة ودون الوفرة... وكانت جمّته تضرب شحمة أذنيه... كان يبلغ شعره شحمة أذنيه.
وقال العلامة محمّد زكريا رحمه الله تعالىٰ: الجمّة ما وصل من شعر الرأس إلى المنكبين والوفرة مالم يصل إليهما واللمّة ماجاوز شحمة الأذن سواء وصل إلى المنكبين أولا. (شمائل الترمذي مع حاشيته ۲۶، ۲۵ باب ماجاء في شعر رسول الله ﷺ)

۳) قال العلامة محمد طاهر رحمه الله تعالىٰ: من تشبه بقوم فهو منهم أى من تشبه بالكفار في اللباس وغيره أو بالفساق أو بأهل التصوف أو بالصلحاء فهو منهم.
(مجمع بحار الأنوار ۳:۱۷۸ باب الشين مع الباء)

۴) قال الله تبارک وتعالى: وَلَا تَرْكَنُوْٓا اِلَى الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ اَوْلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُوْنَ.
(سورة هود آيت: ۱۱۳، پاره: ۱۲)

والسلام من تشبه بقوم الخ() وهو الموفق

گنجي ته د وېښتانو لګولو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زيانره ګنجيان مصنوعي وېښتان لګوي دا نه معلومېږي چې دا وېښتان د حرام څناور دي که د حلال. يا د ورېښمو وغيره. که منعه وي نو بيا غانښ لګول څنګه جائز دي؟ بينوا توجروا

المستفتي مولانا فخر الدين بر منګهم انګليډ ۱۹۷۲، ۸، ۱۵

الجواب: ګنجي ته وېښتان لګول جائز دي لدفع الشين ونظيره اتخاذه الأنف من الذهب والفضه كما ورد في الحديث الصحيح الذي رواه أصحاب السنن الثلثة وأحمد() خو د انسان وېښتان لګول مکروه تحريمي دي[۳] او د خنزير وېښتان لګول حرام او مانع عن

---

۱) في المرقاة: قال رسول الله ﷺ من تشبه بقوم فهو منهم، أى من شبه نفسه بالكفار مثلًا في اللباس وغيره أو بالفساق أو بالفجار أو بأهل التصوف والصلحاء الأبرار (فهو منهم) أى في الإثم والخير.

(مرقاة المفاتيح ۸:۲۵۵ كتاب اللباس، مسئلة التشبه)

۲) في الدراية: حديث أن عرفجة بن أسد أصيب أنفه يوم الكلاب فانتن فأمره النبي ﷺ أن يتخذ أنفه من ذهب. أصحاب السنن الثلاثة وأحمد.

(الدراية على هامش الهداية ۴:۴۵۷ كتاب الكراهية، فصل في اللبس)

۳) في الهندية: وصل الشعر بشعر الآدمي حرام سواء كان شعرها أوشعر غيرها كذا في الإختيار شرح المختار.

(فتاوى هندية ۵:۳۵۸ كتاب الكراهية، الباب التاسع عشر في الختان الخ)

صحة الصلوة دي (۱) او کله چې د خنزير وېښتان کېدو کې شک او تردد وي؛ نو د فتوی له حیثیته جائز دي، خو له تقوا مخالفت دی (۲) او تغير لخلق الله منعه دی چې په دیکښې شرعي اجازه نشته. فافهم (۳)، **وهوالموفق**

ښځو ته د فېښن په توګه د وېښتانو پرې کولو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دي مسئلې باره کې چې د محمدي د شريعت له مخې مسلمانې ښځې ته دفېښن په توګه وېښتان پرې کول څه حکم لري؟ او په کومه درجه کې ممانعت لري؟ بينوا توجروا

المستفتي محمد اسحاق هانګ کانګ ... ۱۹۷۴ء/۲/۱۱

---

۱) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالىٰ: (قوله ينتفع به) أى يجوز الإنتفاع بشعر الخنزير دفعاً لما يتوهم من منع بيعه ولكنه مقيد بالخرز للضرورة... وما ذكر في بعض المواضع من جواز الصلوة الخرازين مع شعر الخنزير وإن كان أكثر من قدر الدرهم فهو مخرج على قول محمّد بطهارته وأما على قول أبي يوسف فلا وهو الوجه.
(البحر الرائق ۶:۸۱ كتاب البيوع، باب البيع الفاسد)

۲) في المرقاة: وفي شرح السنة هذا الحديث أصل في الورع وهو أن ما أشتبه أمره في التحليل والتحريم ولا يعرف له أصل متقدم فالورع أن يتركه ويجتنبه.
(مرقاة المفاتيح ۶:۳۷ باب الكسب وطلب الحلال)

۳) قال العلامة القرطبى رحمه الله تعالىٰ: (فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللهِ) دين الله وقاله النخعي، واختاره الطبري قال: وإذا كان ذلك معناه دخل فيه فعل كل ما نهى الله عنه من خصاء ووشم وغير ذلك من المعاصي.
(تفسير القرطبي ۵:۳۷۶ سورة النساء آيت: ۱۱۹)

الجواب: چونکې په دغه ویښتانو پرې کولو کې له کفارو سره مشابهت موجود دی(۱)او کله له سړیو سره هم مشابهت راځي، لهذا دا فیشن ناروا دی(۲). **وهوالموفق**

دوایي باندې همېشه لپاره د ویښتانو ختمولو حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې.داسې دوا ئي سبا جوړه شوې ده چې په ویښتانو ولګیږي د تل لپاره ویښتان نه راځیږي. ایا ددې استعمال روا دی؟ څوک چې یې د سر د ویښتانو ختمولو لپاره استعمالوي. څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: سید نصیب علي شاه بنوي متعلم حقانیه.. ۱۳/جنوري ۱۹۷۵ء

الجواب: شرعاً غیر ممنوع ده(۳)او د طب له لحاظه هم ضرري ده. **وهوالموفق**

له نامه لاندې د ویښتانو حدود او حلقه دُبر او ذکر ویښتانو خریلو حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې له نامه لاندې

---

۱) قال العلامة محمد طاهر رحمه الله تعالى: من تشبه بقوم فهو منهم أى من تشبه بالكفار في اللباس وغيره أو بالفساق أو بأهل التصوف أو بالصلحاء فهو منهم.
(مجمع بحار الأنوار ۳:۱۷۸باب الشين مع الباء)

۲) قال النبي ﷺ: لعن الله المتشبّهين من الرجال بالنساء والمتشبّهات من النساء بالرجال، رواه البخاري. (مشكوة المصابيح ۳۸۰ كتاب اللباس، باب الترّجل)

۳) نظيره مافي الهندية: ولو عالج بالنورة في العانة يجوز كذا في الغرائب.
(فتاوى هندية ۵:۳۵۸ كتاب الكراهية، الباب التاسع عشر في الختان الخ)
وفي حاشية الصحيح للإمام البخاري: وذكر الحلق لأنه الأغلب وإلّا فيجوز الإزالة بالنورة والنتف وغيرهما. (صحيح البخاري ۲:۸۷۵ كتاب الأدب، باب تقليم الأظفار)

وبښتانو لرې کولو حدود څومره دي او د حلقه دبر څه حکم دی ؟ بینوا توجروا

المستفتي: روح الامین پشاور یونیورسټي

الجواب: کوم وېښتان چې د نورو وېښتانو غټ او ممتاز دي د هغو لرې کول ضروري دي البته د ذکر او حلقه د بر وېښتان لرې کول هم مباح دي. شامي [۱]، هندیه [۲] **وهوالموفق**

له نامه لاندې وېښتان د اوږدې مودې لپاره په دوا صفا کول

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره کې چې د اوس زماني په ايجاداتو کې داسې پوډر يا تېل نما دوايي ايجاد شوې چې د انسان په بدن لګولو سره فوراً وېښتان ختموي او تقريباً پينځه شپږ مياشتو پورې وېښتان نه ښکاري. ايا دا پوډر له نامه لاندې صفايي لپاره استعمالېدی شي که نه ؟ که استعمال ناجائز وي نو شرعي دلايلو سره ثبوت راکړئ، مننه ؟ بینوا توجروا

المستفتي: عزيز الرحمن بنوي متعلم حقانيه ... ۲۳/ جنوري ۱۹۷۵ء

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ : (قوله ويستحب حلق عانته) قال في الهندية : ويبتدئ من تحت السرّة ، ولو عالج بالنورة يجوز كذا في الغرائب.
(ردالمحتار ۵:۲۸۸ كتاب الحظر والإباحة ، فصل في البيع)

۲) في الهندية : ويبتدئ في حلق العانة من تحت السرّة ، ولو عالج بالنورة يجوز كذا في الغرائب. (فتاوى هندية ۵:۳۵۸ كتاب الكراهية ، الباب التاسع عشر في الختان الخ)

وقال العلامة ابن حجر رحمه الله تعالىٰ : قال النووي ، المراد بالعانة الشعر الذي فوق ذكر الرجل وحواليه ، وكذا الشعر الذي حوالي فرج المرأة ، ونقل عن أبي العباس بن سريج أنه الشعر النابت حول حلقة الدبر فتحصل من مجموع هذا استحباب حلق جميع ما على القبل والدبر وحولهما.
(فتح الباري ۱۰:۳۴۳ كتاب اللباس ، باب قصّ الشارب)

الجواب: ددې دوا استعمال روا دی. په دیکښې ګنا نشته. یدل علیه ما فی ردالمحتار ۲: ۳۵۸ ولوعالج بالنورة، یجوزکذافی الغرائب(۱) فافهم وهوالموفق

بریتونه چاړه باندې صفا کول بدعت نه دی

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلي باره کې چې زمونږه علاقه «زیارت» علماء کرام په دې مسئله کې مختلف دي چې بریتونه بلید یا چړې سره صفا کول جائز دي که نه؟ ځيني علماء دې نه حرام او ځيني جائز وایي. د شرعي حکم لپاره ستاسو حضور ته رجوع کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتی ادم خان کوټه شهر ۵مئی ۱۹۸۶ء

الجواب: د سلام وروسته دي واضحه وي چې حلق الشارب بدعت نه دی. کما اشار الیه ابن الهمام رحمة الله تعالى في فتح القدير(۲) ولورود رواية ((احفوا الشارب))، رواه

---

۱) (ردالمحتار ۵: ۲۸۸ كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

وفي الهندية: ولوعالج بالنورة في العانة، يجوز كذا في الغرائب.

(فتاوى هندية ۵: ۳۵۸ كتاب الكراهية، الباب التاسع عشر في الختان الخ)

وفي حاشية الصحيح للإمام البخاري: وذكر الحلق لأنه الأغلب وإلّا فيجوز الإزالة بالنورة والنتف وغيرهما.

(صحيح البخاري ۲: ۸۷۵ كتاب الأدب، باب تقليم الأظفار)

۲) قال العلامة ابن الهمام رحمه الله تعالى: (قوله ولفظة الأخذ تدل على أنه هو السنة فيه دون الحلق) يشير إلى خلاف ماذكر الطحاوي في شرح الآثار حيث قال: القص حسن ...قال الطحاوي: والحلق أحسن.

(فتح القدير: ۲: ۴۴۶: كتاب الحج: باب الجنايات)

الطحاوی ()() وفی ردالمحتار: مشیٰ علیه فی الملتقیٰ وعبارة المجتبی بعد ما رمز للطحاوی حلقه سنة (۵: ۲۵۸)() وهو الموفق

د سر او نخرګ وېښتان او نوکانو کاټولو موده

سوال: څه فرمايي علماء کرام دي مسئلې باره کې چې د سر وېښتان څو ورځې وروسته جوړول

---

۱) عن أبي هريرة رضي الله تعالىٰ عنه عن رسول الله ﷺ أنه قال: احفوا الشوارب واعفوا اللحى.

(شرح معاني الآثار: ۲۷۸، كتاب الكراهية، باب حلق الشارب)

۲) (په طحاوي کې ماته د "احلقوا الشارب" حديث نه دی پيدا شوی، البته سنن نسائي کې يوه نسخه شته چې په هغې کې د حلق الشارب لفظ راغلی دی: عن ابي هريرة رضي الله تعالىٰ عنه عن النبي ﷺ قال خمس من الفطرة ...حلق الشارب. (سنن نسائي ۷ كتاب الطهارة، نتف الابط)

۳) (ردالمحتار ۵: ۲۸۸، كتاب الحظر والاباحة، فصل في البيع)

وفي الطحطاوي: قال الطحاوي: يستحب احفاء الشوارب ونراه أفضل من قضاه وفي شرعة الإسلام قال الإمام الإحفاء قريب من الحلق وأما الحلق فلم يرد، بل كرهه بعض العلماء ورآه بدعة وينبغي أن يأخذ من شاربه حتى يوازي الطرف الأعلى من الشفة العليا ويصير مثل الحاجب.

(الطحطاوي على مراقي الفلاح ۵۲۶ قبيل باب أحكام العيدين)

وقال الحافظ ابن حجر رحمه الله تعالىٰ: وذهب بعض العلماء إلى التخير في ذلك (القص والحلق). قلت: هوالطبري ...ثم قال: دلت السنة على الأمرين، ولا تعار ض، فان القص يدل على أخذ البعض والإحفاء يدل على أخذ الكل وكلاهما ثابت فيتخير فيما شاء ...ويرجح قول الطبري ثبوت الأمرين معا في الأحاديث المرفوعة.

(فتح الباري ۳۴۷: ۱۰، كتاب اللباس، باب قص الشارب)

ضروري دي؟ او د نوکانو او تخرګ د وېښتانو څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتی شهباز خان حقاني بډه بېره پشاور ... ۲۶ جون ۱۹۸۴ء

الجواب: نوکان او د تخرګ او له نامه لاندې وېښتان له ۴۰ ورځو اړول د سنتو خلاف دي (۱)، او د سر وېښتانو خرېلو لپاره څه وخت مقرر نه دی، هره هفته کښې یو وار سر خرېل مستحب دي. (۲) ۵ ۳۹۳ **وهوالموفق**

سرې ته د خرېلو په ځای وېښتان پرېښودل غوره دي

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کښې چې د سرې لپاره د وېښتانو پرېښودل ښه دي که خرېل يې؟ بینوا توجروا

المستفتی عبيد الله پشاور ..... ۲۳ رمضان

الجواب: د حلق په نسبت وېښته پرېښودل مفضول دي (ملا علي قاري) (۳)

وهوالموفق

---

۱) في مجمع الأنهر: والسنة تقليم الأظافير ... ونتف الإبط وحلق العانة والشارب وفي القنية ويستحب حلق عانته وتنظيف بدنه بالاغتسال في كل أسبوع مرّة فإن لم يفعل ففي خمسة عشر يوماً مرة ولا عذر في تركه وراء أربعين.
(مجمع الأنهر ۴:۲۲۶ كتاب الكراهية، فصل في المتفرقات)

۲) في الهندية: يستحب حلق الرأس في كل جمعة كذا في الغرائب.
(فتاوى هندية ۵:۳۵۷ كتاب الكراهية، الباب التاسع عشر الخ)

۳) قال الملا علي قاري رحمه الله تعالى: (عن ابن عمر رضي الله تعالى عنهما أن النبي ﷺ رأى صبيا قد حلق بعض رأسه و ترك بعضه فنهاهم عن ذلك و قال: احلقوا كله أو اتركوا كله، فيه إشارة إلى أن الحلق في غير الحج والعمرة جائز وأن الرجل مخير بين الحلق وتركه لكن الأفضل أن لايحلق إلّا في أحد النسكين.
(مرقاة المفاتيح ۸:۲۹۴ باب الترجل)

خالص تورو خضابو نه علاوه د نور و رنګونو استعمال جائز دی

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې ايا د يو مسلمان لپاره سپينه ږيره يا د سر ويښتانو خضابول يا بل څه بانديې تورول که ډېر ضرورت وي روا دي که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي حاجي محمد حيدر راولپنډي ... ۱۹۶۹، ۱۰، ۲۰

الجواب: سوچه تکروزي لګول ناروا دي،[۱] پاتې نور جائز دي،[۲] وهوالموفق

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې نن سبا د ويښتانو تورولو لپاره مختلف ملکي او غير ملکي شيان استعماليږي خصوصاً ځوانه طبقه يې ډېر استعمالوي. لهذا دا ووايئ چې ويښتان تورول روا دي که نه او له دې سره لمونځ کيږي يا نه کيږي؟ بينوا توجروا

المستفتي نامعلوم ... ۱۹۸۸، ۱۰، ۲۱

---

۱) عن ابن عباس رضي الله تعالى عنه عن النبي ﷺ قال: يكون قوم في آخر الزمان يخضبون بهذا السواد كحواصل الحمام لا يجدون رائحة الجنة، (مشكوة)

وفي المرقاة: قال ميرک ذهب أكثر العلماء إلى كراهة الخضاب بالسواد... أخرج الطبراني وابن أبي عاصم عن أبي الدرداء رفعه من خضب بالسواد سوّد الله وجهه يوم القيمة، وسنده لين،

(مرقاة المفاتيح ۸:۳۰۴ باب الترجّل)

۲) وفي الموطّا: قال محمّد رحمه الله تعالى: لا نرى بالخضاب بالوسمة والحناء والصفرة بأساً وإن تركه أبيض فلا بأس بذلک كل ذلک حسن.

(الموطّا للإمام محمد ۳۹۲ باب الخضاب)

الجواب: تور خضاب یا بل څه رنګ باندې ویښتان تورول حرام دي. دې باره کې وعید راغلی. کما روی مسلم عن جابر ﷺ قال: اتی النبی ﷺ بأبی قحافة یوم فتح مکة ورأسه ولحیته کالثغامة بیاضاً فقال النبی ﷺ: غیّروا هذا بشیء واجتنبوا السواد (١) والامر للوجوب وترک الواجب یوجب الوعید، وروی ابو داد والنسائی عن ابن عباس قال عن النبی ﷺ قال: یکون قوم فی آخر الزمان یخضبون بهذا السواد کحواصل الحمام لا یجدون رائحة الجنة، کذا فی المشکوة باب الترجل (٢) امداد الفتاوی ۴:۲۰۸ (٣). **وهوالموفق**

د ښځې په خاطر یا غازي ته خپل ویښتان تورول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې کوم سرې سر یا ږیرې تورلو کې نکریزې یا کریم استعمالوي. نو هغه پسې لمونځ جائز دی که نه؟ که کوم مفتي لمونځ ورپسې وکړي نو دوباره خپل لمونځ راوګرځوي یا نه په دې اړه شرعي حکم څه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم .... ۶،۲،۲۰۰۱ء

الجواب: غازي ته ویښتان تورول اتفاقاً روا دي او ښځې ته د زینت د پاره د

---

١) (صحیح المسلم ۲:۱۹۹ کتاب اللباس والزینة، باب استحباب خضاب الشیب الخ)

٢) (مشکوة المصابیح ۳۸۲ باب الترجّل، الفصل الثانی)

٣) قال العلامة أشرف علي التهانوي رحمه الله تعالى: سوال: د سرو په سر او ږیره کې تور خضاب لګول د شرع شریف په رو سره جائز دي که مکروه دي یا حرام؟

الجواب: حرام دی، ځکه چې په دې باندې کلیاً او جزیاً وعید راغلی دی.

(امداد الفتاوی ۴:۲۱۸، بالوں کے حلق وقصر وخضاب وختنه وغیره کے احکام)

امام ابو یوسف رحمة الله علیه په نزد روا دي. کما في ردالمحتار(۱) وبدائع او باقي ناجائز دي. لحديث أبي داؤد: قال رسول الله ﷺ: يكون قوم يخضبون في آخر الزمان السواد كحواصل الحمام لايريحون رائحة الجنة(۲) وما رواه مسلم غيروا هذا بشيئ واجتنبوا السواد(۳) وأما في ابن ماجة(۴) وما في العيني عن عمر بن الخطاب محمول على الغزا والتزين للتزوج(۵) وهو الموفق

له سنتو کم ږیرور د لمانځه او روژې پابند سړي حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دي مسئلې باره کې چې له سنتو کمه ږیره سړی

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: قوله ويكره بالسواد أى لغير الحرب قال في الذخيرة أما الخضاب بالسواد للغزو ليكون أهيب في عين العدو فهو محمود بالاتفاق وإن ليزين نفسه للنساء فمكروه وعليه عامة المشائخ وبعضهم جوزه بلا كراهة، روى عن أبي يوسف أنه قال: كما يعجبنى أن تتزين لى يعجبها أن أتزين لها.
(ردالمحتار ۵:۲۹۹ كتاب الكراهية، فصل في البيع)

۲) (سنن أبي داؤد ۵۷۸ كتاب الترجّل، باب ماجاء في خضاب السواد)

۳)(صحيح المسلم ۲:۱۹۹ كتاب اللباس والزينة، باب استحباب خضاب الشيب الخ)

۴) حدثنا أبوهريرة. الصيرفي... قال رسول الله ﷺ: إن أحسن ما اختضبتم به لهذا السواد أرغب لنسائكم فيكم واهيب لكم في صدور عدوكم.
(سنن ابن ماجة ۲۶۷ باب الخضاب بالسواد)

۵) قال العلامة العيني رحمه الله تعالى: وعن عمر بن الخطاب رضي الله تعالى عنه أنه كان يأمر بالخضاب بالسواد ويقول هو تسكين للزوجة وأهيب للعدو.
(عمدة القاري ۲۲:۵۱ كتاب اللباس، باب الخضاب)

چې د لمانځه تهجد او روژې پابندوي. دې باره کې د شریعت مطهره څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: رشید احمد . مردان

الجواب: داسې شخص فاسق دی اګرچې د لمونځ او روژې پابندې وي؟ لان الإصرار على ترك السنة مفسق، كما في تنقيح الفتاوى ۱:۲۵۱، فحيث أدمن على فعل هذا المحرم يفسق (¹) وهو الموفق

ږیرې ته سور یا تور خضاب ورکول روا دي که ناروا؟

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ږیرې ته خضاب ورکول جائز دي که ناجائز؟ یا تورول یا نکریزي لګول؟ بینوا توجروا

المستفتي: سید ګل خټک. لنډي کوتل ۱۴۰۰/۵/۱۸

الجواب: ږیرې ته سرې نکریزې ورکول بالإتفاق جائز بلکې مستحب دي او تورې نکریزې لګول صرف په جهاد کې د دښمن د هیبت لپاره جائز دي. بې له دې خالص د زینت لپاره یا د منکوحې د رغبت لپاره د علماوو په نزد مکروه دي. لما في فتاوى الهندية ۵:۳۵۹، اتفق المشائخ على أن الخضاب في حق الرجال بالحمرة سنة، (وفيه) وأما الخضاب بالسواد فمن فعل ذلك من الغزاة ليكون أهيب في عين العدو فهو محمود منه، اتفق عليهم المشائخ رحمهم الله، ومن فعل ذلك ليزين نفسه للنساء وليحبب نفسه إليهن فذلك مكروه، وعليه عامة المشائخ (²). وهو الموفق

---

۱) فتاوى تقيح الحامدية ۱ : ۲۵۱، كتاب الشهادة)

۲) فتاوى هندية ۵ : ۳۵۹، كتاب الكراهية، الباب العشرون في الزينة)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى : يستحب.... (پاتې حاشيه په بل مخ)

د ږیرې مقدار کې صحیح احادیث

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې: ږیرې باره کې ک
کوم صحیح حدیث وي چې څومره غټول پکار دي. تو رانقل یې کړئ ډېره
منته؟ بینوا توجرو

المستفتي محمد سالم. پېنډوی ــــ ۲۲ جمادی الاول ۱۴۰۵ھ

الجواب: صحابه کرام لکه د ابن عمر ﷺ نه مروي دي. **کما في روایة البخاری** ()**وکتاب الآثار**()**وغیره**()چې هغه به له قبضې وتلې وېښتان کمول او دا دي

(د حاشیې باتي برخه) للرجل خضاب شعره ولحيته ولوفي غير حرب في الأصح.....
ويكره بالسواد (الدالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى(قوله ويكره بالسواد)أي لغير الحرب، قال في الذخيرة:أماالخضاب بالسواد للغزو ليكون أهيب في عين العدو فهو محمود بالاتفاق، وان ليزين نفسه للنساء فمكروه،وعليه عامة المشائخ.

(ردالمحتار۵:۲۹۹،كتاب الحظر والإباحة،فروع فصل في البيع)

۱) عن ابن عمر رضي الله تعالى عنهما عن النبي ﷺقال:خالفوا المشركين وفروا اللحى واحفواالشوارب،وكان ابن عمر إذا حج أو اعتمر قبض على لحيته فمافضل أخذه.

(صحيح البخاري ۲:۸۷۵،كتاب اللباس،باب تقليم الأظفار.

۲) وعن ابن عمررضي الله تعالى عنهما أنه كان يقبض على لحيته ثم يقص ماتحت القبضة، قال محمد وبه نأخذ وهو قول أبي حنيفة رحمه الله تعالى.

(كتاب الاثار ۱۵۰،باب حف الشعر من الوجه)

۳) أبوحنيفة عن الهيثم عن رجل أن أبا قحافة أتى النبي ﷺولحيته قد انتشرت،قال فقال:لو أخذتم وأشارإلى نواحي لحيته.

(مسند الإمام اعظم۲۰۵،كتاب اللباس والزينة)

حديث چې د صحابه وو فعل يې نقل کړی «يأخذ من طولها وعرضها» ( ) د اجمال بيان دی. والله أعلم

دحضور ﷺ د ږيرې او سرمبارک دوېښتانو اندازه اود مروّجه وېښتانو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د حضور ﷺ. د ږيرې مبارکې اندازه څومره وه؟ او حضور ﷺ. دسر وېښتان څومره پرېښي و او نن سبا چې کوم وېښتان پرېښودل کېږي مخکې غټ شا او شاته کم وي: نو ددې څه حکم دی؟ بينوا توجرو

المستفتي : مولوي يونس حلوائي پنډی... ۲۹ / ذی الحجه ۱۴۰۰ ھ

الجواب: د حضور ﷺ ، ږيره مبارکه له يو موټي نه کمه نه وه.( ) او د سر مبارک وېښتان (أنصاف الأذنين يا شحمتين) له نرمی نه کم نه و.( )او مروّج وېښتان دسنتو خلاف

---

۱) عن عمرو بن شعيب عن أبيه عن جده أن النبي ﷺ :كان يأخذ من لحيته من عرضها وطولها،(رواه الترمذي). (مشكوة المصابيح ۳۸۱،الفصل الثانی ،باب الترجل.

۲) قال العلامة ابن الهمام رحمه الله تعالى :القدر المسنون في اللحية (القبضة) قال في النهاية :وما وراء ذلک يجب قطعه ،هكذا عن رسول الله ﷺ :أنه كان يأخذ من اللحية من طولها وعرضها. (فتح القدير ۲: ۲۷۰،باب مايوجب القضاء والكفارة)

وفي المرقاة :وفي الإحياء قداختلفوا في ماطال من اللحية ،فقيل إن قبض الرجل على لحيته وأخذ ماتحت القبضة فلابأس به ،وقد فعله ابن عمر وجماعة من التابعين واستحسنه الشعبي وابن سيرين رحمهم الله تعالى : (مرقاة المفاتيح ۸: ۲۹۸،باب الترجل)

۳) عن أنس ابن مالک رضي الله تعالى عنه قال :كان شعر رسول الله ﷺ إلى نصف أذنيه ...وكان له شعر فوق الجمة ودون الوفرة...وكانت جمته تضرب شحمة أذنيه.... كان يبلغ شعره شحمته أذنيه.

(شمائل ترمذي مع خصائل نبوي ۲۵، ۲۶،باب ماجاء في شعر رسول الله ﷺ)

او نا روا دي ()۔ وهوالموفق

ږیره کمول او د هغې د مستحل حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ږيره خريل د شريعت له مخې حرام که مکروه دي؟ د ږيرې کمولو مستحل څه حکم لري؟
بينوا توجرو

المستفتي: عبدالحکيم شاه بنوي، متعلم حقانيه ...۱۴۰۰ھ /۱/ ۲۷

الجواب: (۱) ږيره تر يوې قبضې پر ښودل واجب دي (۲)او ږيره خريل حرام دي (۳)کومه ږيره چې د يوې قبضې څخه وره وي نو د ږيرې خريلو په حکم کې ده. لما في الشامية ۲: ۳۱۸، قال في العلائية: واما الاخذ منها وهي دون ذلك (القبضة) كما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال لم يبحه احد، الخ (۴)وفي العالمگيرية ۲: ۲۳۸، والقص

---

۱) وفي المرقاة (قال رسول الله ﷺ من تشبه بقوم) أى من شبه نفسه بالكفار مثلاً في اللباس وغيره أو بالفساق أوبأهل التصوف والصلحاء الأبرار (فهومنهم) أى في الإثم والخير. (مرقاة المفاتيح ۸: ۲۵۵، کتاب اللباس، مسئلة التشبه)

۲) عن ابن عمر رضي الله تعالى عنهما عن النبي ﷺ: أنه أمر باحفاء الشوارب وإعفاء اللحية.... قال رسول الله ﷺ: خالفوا المشركين أحفوا الشوارب وأوفوا اللحى.
(صحيح مسلم ۱، ۱۲۹، كتاب الطهارة، باب خصال الفطرة)

۳) قال العلامة عبدالحق الدهلوي رحمه الله تعالى: حلق كردن لحيه حرام است وروش افرنج وهنود است وگذاشتن آن بقدر قبضه واجب است:
أشعة اللمعات ۱: ۲۱۲، باب السواک)

۴) ردالمحتار ۲: ۱۲۳، کتاب الصوم، مطلب في الفرق بين قصد الجمال وقصد الزينة)

سنة فيها وهو أن يقبض الرجل لحيته فان زاد منها على قبضته قطعه، كذا ذكره محمد رحمة الله عليه الخ(۱)

(۲) د ږيرې خريلو ثبوت نه بعد د ږيرې خريل حلال ګڼل كفر دى. لكه څنګه چې هر حرام حلال ګڼل كفر دى.

ونظيره ما في شرح التنوير: والكفر........وقال قبل هذا: من هزل بلفظ كفر ارتد وان لم يعتقد للإستخفاف الخ(۲) والله أعلم

---

۱) فتاوي هندية ٥: ٣٥٨، كتاب الكراهية، الباب التاسع عشر في الختان والخصاء.

۲) الدرالمختار ٥: ٣١٠، باب المرتد.

الله الله

فتاوی فریدیه

نهم جلد

باب الأسماء

الله الله

بسم الله الرحمٰن الرحيم

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم

تدعون القيٰمة

بأسمائكم وأسماء آبائكم

فأحسنوا اسمائكم.

(رواه أحمد)

باب الأسماء

د أنبياء عليهم الصلوة والسلام نومونه ايښودل غوره دي

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې د أنبياء عليهم السلام نومونه خپلو ماشومانو باندې كېښودل جائز دي؟
بينوا توجروا

المستفتي: محمد جلال بنو پې ډبليو ډي

الجواب: جائز بلكې افضل دي [۱] وهوالموفق

«محمد» نوم ايښودل

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې به چا د "محمد" نوم ايښودل څنګه دي؟ او دا خو د نبي صلى الله عليه وسلم ذاتي نوم دى. بينوا توجروا

المستفتي: محمد امين ۱۹۸۵ء/۱۰/۲۶

الجواب: «محمد» نوم ايښودل روا بلكې افضل دي. كمافي ردالمحتار

---

۱) عن أبي وهب الجُشَمي رضي الله تعالى عنه قال، قال رسول الله ﷺ: تسموا بأسماء الأنبياء. رواه أبوداؤد.
(مشكوة المصابيح ۴۰۹، باب الأسامى)

وقال العلامة العيني رحمه الله تعالى: وقد تقرّر الإجماع على إباحة التسمية بأسماء الأنبياء عليهم الصلوة والسلام وتسمّى جماعة من الصحابة بأسماء الأنبياء.
(عمدة القاري ۱۵: ۳۹، كتاب الجهاد، باب قول الله تعالى: فإن لله خمسه وللرسول الخ)

۵ ۳۶۸. (۱).(۲)

چې حضرت علي او صديق اکبر رضي الله عنهما هم په خپلو زامنو د «محمد» نوم ايښي وو. (۳) دا ډول اعتراض بې ځايه دی. **وهوالموفق**

«عبد الجلال» نوم ايښودل

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زه په خپل زوی عبدالجلال نوم ږدم ايا دا نوم په شرعي او معنوي لحاظ سره صحيح دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: ډاکټر حبيب الرحمان مين بازار پېښي ... ۱۷ ستمبر ۱۳۹۹ هـ

---

۱) وعن جابر رضي الله تعالىٰ عنه أن النبي ﷺ قال سمّوا باسمي ولا تكتنوا بكنيتي. (مشكوة المصابيح ۲: ۴۰۷، باب الأسامي)

۲) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: قال المناوى وعبدالله أفضل مطلقًا حتّى من عبدالرحمن وأفضلها بعدهما محمّد ثم أحمد ثم إبراهيم ....وورد: من ولدله مولود فسمّاه محمّدا كان هو ومولوده في الجنة رواه ابن عساكر عن أمامة رفعه، قال السيوطي هذا أمثل حديث ورد في هذا الباب وإسناده حسن.

(ردالمحتار ۵:۲۹۶، كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

۳) قال العلامة العيني رحمه الله تعالىٰ: ومحمّد بن الحنفية هو محمّد بن عليِ بن أبي طالب يكنى أبا القاسم وشهرته بنسبة أمّه.

(عمدة القاري، ۱۶:۱۸۷، باب فضل أبي بكر بعد النبي ﷺ)

وقال الحافظ ابن كثير رحمه الله تعالىٰ "محمّد بن أبي بكر الصدّيق ولد في حياة النبي ﷺ في حجة الوداع تحت الشّجرة عند الحرم وأمّه أسماء بنت عميس.

(البداية والنهاية، ۷:۳۱۸، ذكر من توفي سنة ثمان وثلاثين)

الجواب: جلال د الله ﷻ وصف ده نوم نه دی.⁽¹⁾ لهذا د بعلبک په څیر روا دی، البته حسن او مناسب نه دی⁽²⁾، لعدم کونه اسماء من اسماء الله تعالی وغیر مضاف الی اسم من اسماء الله تعالی⁽³⁾ **وهوالموفق**

روح الله، نوم ایښودل

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د مدينې په جامعې کې اوسېږم. زما نوم روح الله دی. زه چې د مدينې منورې کوم دفتر ته ورځم. هماغه کارکونکی زما د نوم په اورېدو. اعتراض کوي. مثلاً اوس چې کور ته د واپسۍ لپاره د پاسپورټ مدير ته ورغلم نو هغه پوښتنه وکړه ما اسمک؟ ما وويل روح الله. هغه وويل أنت روح الله ما وويل

---

۱) قال العلامة محمّد طاهر رحمه الله تعالى: ذوالجلال أى العظمة أى صفات التنزيه نحو لا جوهر ولاعرض ولا شريک له ولا جهة له والإكرام صفات وجودية مثل العلم والقدرة. (مجمع بحار الأنوار ۱:۳۷۲، باب الجيم مع اللام)

۲) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: التسمية باسم لم يذكره الله تعالى في عبارة ولاذكره رسوله ﷺ ولا يستعمله المسلمون تكلموا فيه، والأولى أن لا يفعل. (ردالمحتار ۵:۲۹۶، كتاب الحظروالإباحة، فصل في البيع)

۳) وقال العلامة محمد ادريس كاندهلوي رحمه الله تعالى: (وعن ابن عمررضي الله تعالى عنهما قال قال رسول الله ﷺ: إن أحب أسمائكم إلى الله عبد الله وعبدالرحمن) وقال القرطبي: يلتحق بهذين الإسمين ما كان مثلهما كعبدالرحيم وعبدالملک وعبد الصمد. (التعليق الصبيح على مشكوة المصابيح ۵:۱۴۶، باب الأسامى)

وفي المرقاة: عن أبي زهيرالثقفي مرفوعاً إذا سمّيتم فعبد وا أى انسبوا عبوديتهم إلى أسماء الله تعالى. (مرقاة المفاتيح، ۹:۱۰۶، باب الأسامى)

نعم! يا شيخ. ده ورويل : كيف هذا الاسم، هذا لا يجوز. هذا اسم حرام. انت روح الله. بيا بي په غصه كې ورويل لما تروح الى بلدک غيره، لازم عليک. هذا اسم حرام دا ډول هر دفتر كار كوونكي ما ته همداسې وايي او د طالبانو په وړاندې مې هم سپكاوى كيږي. كارونو كې هم تاخير. نوم بدلول څه خاص كار نه دى. خو په بدلېدو كې بې ډير مشكلات دي. مثلاً شناختي كارډ يا پاسپورټ او نورو كاغذونو وغيره. نور تاسو ښه پوهېږئ، نو څنګه دا نوم كېښودل روا دي؟ جواب راته وليكئ د همدې نوم شرعي حيثيت وښيئ نو مشكور به مو يم او دعاوې به درته كوم. جواب كه د دار العلوم خپل پيډ كاغذ باندې عربي ژبه باندې وليكئ نو ښه به وي. بينوا توجروا

المستفتي حافظ روح الله پشاور كينټ ... ۲۴/ رمضان المبارک ۱۳۹۸ هـ

الجواب: لاحرج فى تسمية الولد بروح الله لحديث أبى داود عن ابى وهب الجشمى رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ: تسمّوا بأسماء الأنبياء (١) والاسم يعم اسم المحض واللقب والكنية فكما جازت التسمية بآدم وصفى الله وبنوح ونجى الله وبأبراهيم وخليل الله وبموسى وكليم الله وبمحمد وحبيب الله فكذلك تجوز بعيسى وروح الله لأن كل روح، روح الله أى مخلوقة لله تعالى (٢) ولم ير دالمنع من هذه التسمية بخلاف التكنية بأبى القاسم فى حياته ﷺ لحديث: ولا تكتنوا بكنيتى (متفق عليه) (٣). وهو الموفق

---

١) (سنن أبي داؤد ۲:۶۷۶، باب تغير الأسماء)

٢) قال العلامة محمّد طاهر رحمه الله تعالى: روح، ورد في معان ... وأطلق على القرآن والوحي والرحمة وجبرئيل ... (وروح منه) أى مخلوق منه فإضافتها إليه للتشريف كناقة الله. (مجمع بحار الأنوار ۲:۳۸۹، باب الراء مع الواو)

٣) (مشكوة المصابيح ۴۰۷، باب الأسامى)

«سحبان سرحد» نوم کېښودل

سوال: څه وايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د سحبان سرحد معنا څه ده؟ او دا نوم کېښودل څنګه دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: احمد الرحمن کوهاټ ... ۱۹۸۸ ء ۷،۱۰

الجواب: سحبان يو فصيح وبليغ سړي نه ويل کېږي.[۱] والله اعلم بالصواب

«پرويز» نوم کېښودل ممنوع نه دي

سوال: څه وايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې يو مسلمان پرويز نوم کېښودلی دی: نو د شريعت له مخې دا نوم څه قباحت لري که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي خاکسار ارشاد حسين فداوايي شمالي ناظم آباد کراچي ۱۹۹۰ ء/۵/ ۱۰

الجواب: د پرويز نوم کېښودل منع نه دي، نه دا نوم کېښودل منع دي[۲]، او نه يې معنا غلطه ده. پرويز مظفر، ماهي وغيره ته ويل کېږي.[۳] (شمس اللغات) خو له دې نوم نه نفرت کول د هغه دوو خبيثانو[۴] نه مذموم نه دي **وهوالموفق**

---

۱) سحبان : د وائل قبيلې يو مشهور فصيح وبليغ شخص و. (القاموس الوحيد ص ۷۴۸، عربی أردو لغت)

۲) وفي البزازية : التسمية باسم لم يذكره الله تعالى ورسوله في عبارة ولا يستعمله المسلمون الأولى أن لايفعل. (البزازية على هامش الهندية، ۶:۳۷۰، كتاب الكراهية، الفصل التاسع في المتفرقات)

۳) پرويز کا معنى فاتح، خوش نصيب، خوش، قيمتى، نهايت اعلى، مهذب، سخاوت، شان وشوکت، خسروِثانى، شاه ايران کا لقب جو ملکه شرين کا شوهر تها. (فيروز اللغات ۲۹۳)

۴) يو خبيث کسرى د ايران بادشاه پرويز بن هرمز بن نوشيروان دی...
(باتي، حاشيه په بل مخ)

په دوکان یا کور باندې د «یثرب» نوم کېښودل

سوال: څه وايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زما خپلوانو يو جنرل ستور جوړ کړی چې په هغه يې د يثرب جنرل ستور نوم ايښی دی ځينې خلک دا ښه نه ګڼي، ځکه چې نبي ﷺ دا نوم له هجرت نه وروسته بدل کړی و چې دا د جاهليت د وخت نوم دی او مدينه منوره يې پرې کېښود، مهرباني وکړئ له حقيقت نه مو خبر کړئ چې دا نوم څنګه دی؟ بينوا توجروا

المستفتي اسماعيل چارسده روډ مردان... ۱۴۰۱هـ ۱۹،۵

جواب مدينې منورې ته يثرب ويل جائز دي، قران مجيد کې (يا أهل يثرب) راغلي.(۱) البته حديثو کې له دې نه منع راغلې. محدثينو هم ويلي چې دا نهي تنزيهي ده، تحريمي نه ده.(۲) په هر حال د بل کوم ځای يا دوکان نوم يثرب کېښودل نه مطلوب دي او نه ممنوع. **وهوالموفق**

نبوي، رسولي، محمدي، رباني، او د شرعي القابو ليکلو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې کوم القاب لاندې ذکر دي يې له دې چې نسبت يې پلار يا نيکه ته وشي جائز دي يا نه؟ مثلاً نبوي، رسولي، محمدي، رباني، شرعي، لقبونه. بينوا توجروا

المستفتي نامعلوم... ۱۹۸۶ع/۹/۱۱

(د حاشيې پاتې برخه) چې د رسول الله ﷺ خط مبارک يې شلولی و اور دويم خبيث غلام احمد پرويز (متوفي /۱۹۸۵ء) چې په هندوستان کې د ګورداسپور اوسيدونکی وو، ابتداءً غير مقلد وو، بيا منکر حديث شو.

۱) (سورة الاحزاب :ايت : ۱۳)

۲) قال العلّامة محمّد طاهر رحمه الله تعالى: يثرب :اسم المدينة المشرفة قديمة فغيرها وسمّاها طيبة وطابة ... يثرب اسمها الجاهلي فسماه الله المدينة والنبي ﷺ طيبة ونهي عنه ... فلعل هذا الحديث قبل النهي أو لبيان أن النهي للتنزيه.
(مجمع بحار الأنوار ۵:۲۰۷ باب يث)

الجواب: د دغو القابو اطلاق د شریعت سره څه ټکر نه لري، لکه علوي، صدیقي، فاروقي، حنفي وغیره.(۱) **وهوالموفق**

د قریشي شخص له خپل نوم نه مخکې «شاه» لیکل

سوال: څه وایي علماء کرام په دې مسئله کې چې نن سبا فاطمي سادات له خپل نوم نه مخکې د «شاه» لفظ لیکي او قریشي حضرات یعنی اصلي قریشي له خپل نوم نه وړاندې د «شاه» لفظ لیکي مثلاً شاه فرید الحق شاه، احمد نوراني او شاه معین الدین او نور نور. زه قریشي د صدیقي کورنۍ یو تن یم تر اول خلیفه ابوبکر صدیق ﷺ پورې د نسب شجره محفوظه ده. ایا زه له خپل نوم نه وړاندې لفظ د «شاه» لیکلی شم؟ څنګه په دې کې څه شرعي یا اخلاقي اعتراض شته؟ بینوا توجروا

المستفتي ریاض احمد قریشي سیالکوټ. ۱۲ شوال ۱۳۹۵هـ

الجواب: واضحه دې وي چې حرام او منکر نسب بدل شي. کما یدل علیه حدیث مسلم :(**من ادعی إلی غیر أبیه وهویعلم انه غیر أبیه فالجنة علیه حرام**)(۲). له نوم سره سید یا بادشاه لیکل. نو که اول یا اخر کې د «شاه» په لیکلو تفرقه اوس هم معروفه وي؛ نو تاسې د خپل نوم په اول کې «شاه» لیکلی شی او که دا لفظ صرف سادانو پورې مخصوص وي؛ نو اخر کې صدیقي هم و لیکئ تر څو د حرمت منشاء ختمه شي.وهوالموفق

---

۱) قال العلامة ظفر أحمد عثماني رحمه الله تعالی: وقلّ من المشاهیر في الجاهلیة والإسلام من لیس له لقب، ولم تزل هذه الألقاب الحسنة في الأمم کلها من العرب والعجم، فمستحب الألقاب ومستحسنهما لایکره.(أحکام القران للتهانوی ۴:۲۸۱، من السنة التلقیب بالألقاب الحسنة)

۲) (صحیح المسلم، ۱:۵۷، باب بیان حال من رغب عن أبیه وهو یعلم)

وفي المرقاة: في النهایة: الدعوة بالکسر في النسب...(باتي حاشیه په بل مخ)

د غیر عالم له خپل نوم سره قاضي یا خطیب لیکل

سوال: څه وایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د یو کلي د مسجد امام محمد دین نومیږي او نه له کومې مدرسې نه فارغ دی. نه په قرآن او حدیث پوهیږي صرف امامتي کوي دا امام تکبراً له خپل نوم سره قاضي یا خطیب لیکي چې کورنۍ کې یې هم څوک عالم او فاضل نه دی تیر شوی، د داسې سړي باره کې څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتی قاضي محمد عشق بن قاضي نور محمد فاضل دیوبند
اټک شهر... ۱۹۸۹ ۱۳/۸

الجواب: خان، قاضي، خطیب کلي مشکک دي. دا د مختلفو خلکو با معنا بې معنا، جعلي، تحقیقي، تلبیسي، نو دا یو غریب او نا اشنا اقدام نه ده والله اعلم بالصواب

«مقام ابراهیم» نوم کېښودل

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د سید محمد ابراهیم مرحوم لمسي خپل کور باندې «مقام ابراهیم» نوم کېښودل غواړي، ددې مشکک نوم کېښودو باره کې ستاسو محترمو څه رایه ده؟ بینوا توجروا

المستفتی سید وارث حسین نشتر روډ کراچي نمر ۳... ۱۹۸۸ء/۹/۱۸

الجواب: واضحه دې وي چې له دې نوم منعه نه ده راغلې او نه څه توهم شته، لهذا دې نوم کېښودو کې څه حرج نشته.(۱) **وهوالموفق**

(د حاشیې پاتې برخه) وهو أن ینتسب الإنسان إلیٰ غیر أبیه وعشیرته وکانوا یفعلونه فنهواعنه والادعاء إلیٰ غیر الأب مع العلم به حرام. (مرقاة المفاتیح ۶: ۳۲۰، باب اللعان)

۱) وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: التسمیة باسم لم یذکره الله تعالیٰ في عبارة ولا ذکره رسوله ﷺ ولا یستعمله المسلمون تکلموا فیه، والأولی أن لا یفعل.
(رد المحتار ۵:۲۹۶، کتاب الحظر والإباحة، فصل في البیع)

عائفه نوم كېښودل

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې ما خپله لور باندې عائفه نوم ايښئ. دا له اسلامي نظره ښكه نوم دى؟ كه مناسب نوم نه وي. نو مناسب نوم هم راته وښايه: بينوا توجروا

المستفتي: فضل الهی مردان ... ۲۹ /صفر ۱۴۰۴ هـ

الجواب: په ځاى ددې د بلې كومې نيكې مسلمانې ښځې نوم كېږده. ان شاء الله مستقبل كې به د خير وبركت ذريعه جوړه شي. (۱) د حضور ﷺ دلوركانو يا د صحابياتو نوم كېږدئ نو ښه به وي. (۲) **وهوالموفق**

د بطخ شكل باندې امضاء كول

سوال: څه فرمايي دې مسئلې باره كې چې زه سركاري ملازم يم. زه خپله امضاء د بطخې په شكل جوړوم. نو ايا دا زنده سر ګنل كيږي ؟ دا دستخط ماته جائز دى يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: زين ګل مكان نمبر b-۱۱-c.۸ كراچي نمبر ۷... ۱۹۸۵ ء /۴/ ۶

---

۱) د عائفه معنى ده: العائف، شګون اخيستونكى (بد فالي نيوونكى) .(مصباح اللغات ص ۵۸۸، عيل)

عافَ الطير عِيافَة : نيک يا بد فال اخستلو لپاره مارغه ته آواز وركولو سره الوځول ... العائف : نه خوښول. (القاموس الوحيد ص ۱۱۴۷، عيل)

۲) عن أبي الدرداء رضي الله تعالىٰ عنه قال، قال رسول الله ﷺ : تدعون يوم القيمة بأسمائكم وأسماء آبائكم فأحسنوا أسمائكم، رواه أحمد وأبوداؤد.
(مشكوة المصابيح ص ۴۰۸، باب الأسامى)

وقال العلامة خليل أحمد السهارنفورى رحمه الله تعالىٰ: وكان ﷺ يحب الفال الحسن والاسم الحسن. (بذل المجهود، ۵:۲۶۷، كتاب الأدب، باب في تغيير الأسماء)

الجواب: ښکاره خو جائز ده. دا په لیدو د بطې په خیر معلومیږي حقیقت کې له هغې نه بدل ده او دا شکل د ژوند قابل هم نه ده [۱] **وهوالموفق**

اسماعیل عزرائیل. اسرافیل او جبرئیل نوم کېښودل

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د الله ﷻ فضل وکرم باندې زما ښځه بچي دي ما په هغوی د پرښتو نمونه ایښي دي، ددي لپاره چې ښکاره شي. هغه دا نومونه دي. محمد اسماعیل، عزرائیل، اسرافیل. جبرائیل د یوي ماشومې نوم مې دار الهدی ایښی دی. نو پوښتنې د پرښتو نومونه صحیح دي یا نه؟ بینوا توجروا

المستفتي محمد ابراهیم لوند خوړ مردان ... ۲۴ صفر ۱۳۸۹ھ

الجواب: چونکې ددغو نومونو معنا بې له شکه صحیح ده[۲]، لهذا تفاولاً دا نومونه کېښودل مشروع دي.[۳]

---

۱) وفي مجموعة قواعد الفقه : الصورة الشّكل وكل مايصور مشبها بخلق الله من ذوات الأرواح وغيرها وفي حديث أبي هريرة رضي الله تعالى عنه عند الطحاوى : الصورة الرأس فكل شيئ ليس له رأس فليس بصورة.
(مجموعة قواعد الفقه ۳۵۵، التعريفات الفقهية)

۲) فى تفسير القرطبى : وذكر ابن عباس أن جبر وميكا واسراف هى كلها بالأعجمية بمعنى عبد ومملوك ، إيل ، اسم الله تعالى... قال الماوردى : إن جبريل وميكائيل اسمان أحدهما عبد الله والآخر عبيد الله لأن ايل هو الله تعالى وجبر هو عبد ، وميكا هو عبيد فكأن جبريل عبد الله وميكائيل عبيد الله ... وزاد بعض المفسرين ، وإسرافيل عبد الرحمن. (الجامع لأحكام القرآن للقرطبى ۳۹:۲ سورة البقرة آيت :۹۸)

۳) عن ابن عباس رضي الله تعالى عنه قال كان رسول الله ﷺ يتفاول ولا يتطير وكان يحب الإسم الحسن ، رواه في شرح السنة. (مشكوة المصابيح ۳۹۲ باب الفال والطيرة)

ولم اجد التصریح فی کتب الفقه () لکن القیاس علی أسماء الأنبیاء علیهم السلام(۱) وورود البعض فی أسماء الرواة یدل علی الجواز فقط. وهو الموفق

آصف نوم کېښودل

سوال څه فرمايي علماء كرام دي مسئلې باره کې چې آصف علي شاه نوم کېښودل څنګه دي؟ بينوا توجروا.

المستفتي: ميا اكبر خان ۱۲/اكتوبر ۱۹۷۵ء

الجواب: آصف نوم غلط نه دی داد حضرت سلیمان علیه السلام دخاص وزیر نوم وو.(۳) **وهوالموفق**

---

۱) علامه نووي رحمه الله تعالى په صحيح مسلم ۲:۲۰۷، كتاب الاداب کې په حاشيه باندې او ملا علي قاري رحمه الله تعالى په مرقاة کې د امام مالک رحمه الله تعالى په حواله د ملايكو نوم ايښودلو ته مكروه ويلي، ددې تائيد يې هم ذكر كړى دى، په مرقاة کې دي : وكره مالك التسمّي بأسماء الملائكة كجبريل، قلت: ويؤيده مارواه البخاري في تاريخه عن عبد الله بن جرار: سمّوا بأسماء الأنبياء ولاتسمّوا بأسماء الملائكة. (مرقاة المفاتيح ۹:۱۰۶ باب الأسامی)

خو په الموسوعة الفقهيه کې دېته جائز ويلي : "التسمية باسماء الملائكة ذهب أكثر العلماء إلى أنّ التسمية بأسماء الملائكة كجبريل وميكائيل لاتكره، وذهب مالك إلى كراهة التسمية بذلك. (الموسوعة الفقهية ۱۱:۳۳۵)

۲) عن أبي وهب الجشمي رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ تسمّوا بأسماء الأنبياء. (سنن أبي داؤد ۲:۶۷۶ كتاب الأدب، باب تغيير الأسماء)

۳) قال المولوي فيروز الدين رحمه الله تعالى : آصف ...(پاتې حاشيه په بل مخ)

مهدي محمد نوم کې محمد سره (ﷺ) لیکل

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې یو تعلیم یا فته فهیم وذکي شخص خپل نوم سره مهدي محمد ﷺ لیکلي. ایا د شریعت په رڼا کې داسې نوم لیکل جائز دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبدالسلام ۱۹۷۷ء/۱۰/۲۰

الجواب: محترم المقام دامت برکاتکم د سلام وروسته دي واضحه وي. چې اګر که ددې شخص مراد صرف جزء ثاني سره صلوة وسلام لیکل دي. خو د موهوم کېدو له وجې داسې لیکل نه دي پکار[۱] (لأنه لا يطلق عليه عرفاً ذكر اسم النبي ﷺ، فافهم. وهوالموفق

(د حاشيې پاتې برخه)...(۱) د سليمان عليه السلام د وزير نوم (۲) مجازاً هر لائق وزير ته ویل کیږي، (۳) جمع کول، ضبطول. (فیروز اللغات ۲۳ آ، ص)

وفي تفسير القرطبي: (قَالَ الَّذِي عِندَهُ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتَابِ أَنَا آتِيكَ بِهِ...(الآية) أكثر المفسرين على أن الذى عنده علم من الكتاب آصف بن برخيا.
(تفسیر القرطبي ۱۸۴:۱۳ سورة النمل آیت: ۴۰)

۱) قال المفتي محمود حسن الکنکوهي: دچا نوم چې محمد وی یا ئې نوم سره محمد وی نه په دې باندې درود شریف وئیلې کیږی اونه ورسره لیکلې کیږی، نه ددې حکم دې، بلکه درود شریفد نبی کریم ﷺ دپاره دې، خو که چه په داسې ځای کې لفظ "محمد" باندې "ص" جوړوی، چې دا دحضور ﷺ نه دې، دهغوی مقصد په خپل نوم باندې درود لوستل نه وی بلکه د لفظ "محمد" نه ذهن منتقل کیږی د رسول اکرم ﷺ نوم مبارک طرف ته، ددې انتقال ذهنی په وجه سره "ص" جوړوی خودا څه شرعی حکم نه دې بلکه که ددې نه دا شبهه وی چه په غیرنبی باندې درود لوستلې کیږی نو ددې نه ځان ساتل پکار دی. (فتاوی محمودیه، ۱۹/ ۳۸۰، باب الأسماء)

انسان باندې د (رازق) اطلاق کول ممنوع نه دي

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې مخلوق باندې د رازق يا رزاق اطلاق کيږي که نه کيږي.او په چا باندې بې اطلاق کولو کې ايمان يا نکاح باندې اثر غور ځيږي که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي جناب عبد الله.... ۱۹۷۷ء.۱۰.۲۰

الجواب: انسان ته رازق ويل کله چې مجازي رازق مراد وي. ممنوع نه دي. غيرالله باندې بې په اطلاق کولو ايمان يا نکاح ته نقصان نه رسيږي[۱] **وهوالموفق**

حضرت الله نوم اينودل

سوال: څه وايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زما نوم حضرت الله دی زمونږ وطن کې چې څوک څنګه نوم غواړي ږدي بې زما په نوم لا تر او سه چا اعتراض نه دی کړی. چې معنی بې غلطه ده: خو چې له عربو سره مخ شم. د نوم پوښتنه وکړي. نو وايي چې خپل نوم دې بدل کړه. نو ايا خپل نوم بدل کړم که نه؟بينوا توجروا

المستفتي: حضرت الله. السعوديه العربيه.... ۱۹ /رمضان ۱۴۰۲هـ

الجواب: الحضرة هي الحضور والشهود ضد الغيبوبة في الاصل، ثم تطلق على محل الحضور (دربار) وعلى الذات(۲) فالغلط هوالثالث دون الثاني كما في

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالىٰ: وجاز التسمية بعليّ ورشيد من الأسماء المشتركة، ويراد في حقنا غير ما يراد في حق الله تعالىٰ. (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: (قوله جاز التسمية بعليّ الخ) الذى في التاتارخانية عن السراجية التسمية باسم يوجد في كتاب الله تعالىٰ كالعلي والكبير والرشيد والبديع جائزة.(ردالمحتار ۵:۲۹۶ كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

۲) في القاموس: حضرة السيده :معزز خاتون،حضور وحضرة :موجود گی،...

(پاتې حاشيه په بل مخ)

بيت الله وهوالموفق

دوکان باندې رحمان اينې سنز بوږ لګول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ذهن کې مې دا خبره اورې راورې چې زما نوم فضل الرحمن او د رختونو کار کوم؛ نو ايا رحمان اينډ سنز بوږ لګولی شم؟ بينوا توجروا

المستفتي مولانا فضل الرحمن بريکوټ سوات. ۲۵ ربيع الثاني ۱۴۰۲ هـ

الجواب: رحمان (۱) د الله په شان غير الله باندې اطلاق کول ناروا دي، (۲) نو څنګه چې الله اينډ سنز يوه منکره جمله ده؛ نو دا ډول د رحمن اينډ سنز هم منکر دی، نو که دا سړی د خپل پوره نوم ترويج وکړي نو صدقه جاريه به شي

(د حاشيې پاتې برخه)..... وجود،حاضري،حضرتکم :(تعظيمي لقب) آپ جناب. (قاموس الجديد ص ۱۸۴)

وفي مصباح اللغات :الحَضَر والحَضرة :موجودګی، اړخ،نزدې، د کور مخې ته صحن، دحضرت اطلاق په هر هغه لوئې سړی باندې کيږی چې هغه ته خلق حاضريږی لکه الحضرة العالية تأمربكذا، جناب عالی! د فلانی کار حکم راکړئ، او وئيلې شی چې: كلّمته بحضرة فلان، ما د فلانی په موجودګئ کې هغه سره خبرې اوکړې. مصباح اللغات ص ۱۶۰)

۱) يعنی الرحمن کا.(سيف الله حقانی)

۲) في شرح الفقه الأكبر : ومن قال لمخلوق :يا قدّوس أو القيوم أو الرحمن،أوقال اسمًا من أسماء الخالق كفر، انتهى،وهو يفيد أنه من قال لمخلوق يا عزيز ونحوه يكفر أيضا إلّا أن أراد بهما المعنى اللغوى لا الخصوص الإسميوالأحوط أن يقول يا عبد العزيز ويا عبد الرحمن.

(شرح الفقه الأكبر ۱۹۳ :قبيل فصل في المرض والموت والقيامة)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالٰى :والرحمن... (پاتې حاشيه په بل مخ)

لحديث من سن سنة حسنة... الحديث (۱) والله اعلم

محمد اكبر نوم كېښودل

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې زما نوم محمد اكبر دى، د ځينو خلكو په ذهن كې دا نوم غلط دى حال دا چې زما والد عالم دى ددې څه حكم دې؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد اكبر، ريكارډ كيپر، ډپټي كمشنر، مردان...
۸/ربيع الثاني ۱۴۰۵هـ

الجواب: سنا نوم صحيح دى، (۲) البته دواړه نومونه له تصغير نه ساتل ضروري دي، لكه چې «محمدى» «اكبرى» وغيره (۳)، والله اعلم

حضرت عثمان نوم كېښودل روا دى

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې زمانوم حضرت عثمان دى.

(د حاشيې پاتې برخه) لفظ عربى...وذهب الأعلم إلى أنه علم كالجلالة لاختصاصه به تعالى وعدم إطلاقه على غيره تعالى معرفاً ومنكراً...قال السبكي :والحق أن المنع شرعي لا لغوي وأن المخصوص به تعالى المعرف.
(ردالمحتار ۵: ۱ قوله، بسم الله الرحمن الرحيم)

۱) (مشكوة المصابيح : ۳۳، ۴كتاب العلم)

۲) عن جابر رضي الله تعالى عنه أن النبي ﷺ قال :سموا ولاتكتنوا بكنيتى.متفق عليه.... عن أبي وهب الجشمي رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ :تسموا بأسماء الأنبياء. (مشكوة المصابيح ۴۰۷، كتاب الآداب ،باب الأسماء)

۳) وفي السراجية :أحب الأسماء إلى الله تعالى عبدالله وعبدالرحمن ،لكن التسمية بغير هذه الأسماء في هذا الزمان أولى ،لأن العوام يصغرون هذه الأسماء عندالنداء.
(فتاوى سراجية ۳۱۹، كتاب الكراهة والاستحسان ،باب التسمية)

زيا تره دفيکټربو کار کنان زما په دې نوم اعتراض کوي چې دا د دريم خليفه نوم دی نو دا نوم سم دی که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي حضرت عثمان. اوايف گرول... ۱۴۰۰ هـ/۳/۱۷

الجواب: عثمان (۱) نوم په طريقه اولی جائز دی لکه د محمد ابراهيم وغيره نوم کېښودل چې جائز دي (۲)، وهو الموفق

---

۱) عثمان: محنتي، يجتهد في الأمر ويعمل نفسه فيه.
لسان اللسان ۲: ۱۳۷)

وفي لسان العرب: فلان يعثم ويعثن أي يجتهد في الأمر.
(لسان العرب: ۹: ۴۹)

۲) عن أبي وهب الجشمي رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: تسموا بأسماء الأنبياء، رواه أبوداؤد.
(مشكوة المصابيح: ۴۰۹، باب الأسامى)

وقال العلامة العيني رحمه الله تعالى: وقد تقرر الإجماع على إباحة التسمية بأسماء الأنبياء عليهم الصلوة والسلام وتسمى جماعة الصحابة بأسماء الأنبياء.
(عمدة القاري ۱۵: ۳۹، كتاب الجهاد، باب قول الله تعالى: فان لله خمسه وللرسول الخ)

الله الله

فتاوی فریدیه

نهم جلد

باب الختان

الله الله

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

الفطرة خمس الختان والاستحداد
وقصّ الشارب وتقليم الاظفار
ونتف الإبط

(رواه النسائي)

باب الختان

ختنه له ټولو وړاندې چا کړې ده

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې تر ټولو وړاندې د چا سنتي شوې ده؟ بينوا توجروا

المستفتي: روح الامين، پشاور يونيورستي.... ۳۰/ذي الحجة ۱۴۰۲ھ

الجواب: ابراهيم عليه السلام کړې ده (بخاري شريف)(۱) وهو الموفق

د پيدايشي سنت شوي ماشوم دويم ځلي سنتولو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې الله جل جلاله خپل عاجز بنده ته ماشوم ورکړې او د پنجشنبې او جمعې په منځنۍ شپه کې پيدا شوی. قدرتي بې سنتي شوې ايا دا سنتي بس ده که بيا يې سنتي وکړو؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: ميان اکبر خان.... ۳۰/محرم ۱۳۹۵ھ

الجواب: که د ماشومانو حشفه (د سامان سر) ښکاري چې ليدو کې مختون معلوميږي نو

---

۱) عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه أن رسول الله ﷺ قال اختتن ابراهيم بعد ثمانين سنة واختتن بالقدوم مخففة.

وفي حاشية الصحيح للإمام البخاري: (قوله بعد ثمانين سنة وقع في الموطأ عن أبي هريرة أن إبراهيم أول من اختتن.

(صحيح البخاري ۲:۹۳۱ كتاب الإستيذان، باب الختان بعد ماكبر)

دومره بس ده كما في الدرمختار قبيل الفرائض او امام سيوطي رحمه الله ليكلي دي چې اوولس انبياء علیهم السلام مختون پيدا شوي دي (۱) وهوالموفق

د رواج له وجې سنتې نه كول

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې زمونږ علاقه كې دا رواج دی چې خلک د ماشومانو سنتې نه کوي او وايي چې لاندينی څرمن چې كله پورته شي؛ نو سنتولو ته ضرورت نشته. اوس شرعي حكم څه دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: صوفي اسماعيل وزير ستاني متعلم حقانية ... ۱۴۰۱ء/۶/۲۰

الجواب: ختنه سنت مؤكده او د اسلام له شعائرو څخه ده. بې عذره پرېښودونكی يې مردود الشهادة او مباح المحاربه دی. يعني كله چې د اهل بصيرت په نزد ختنه ممكنه وي «يدل عليه مافي شرح التنوير على هامش رد المحتار ۵: ۴۵۶ والاصل ان الختان

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: صبي حشفتهٔ ظاهرة بحيث لورآه إنسان ظنه مختوناً ولا تقطع جلدة ذكره إلاّ بتشديد آلمة ترک على حاله... وقد جمع السيوطي من ولد مختوناً من الأنبياء عليهم الصلوة والسلام فقال: وفي الرسل مختون لعمرک خلقة، ثمان وتسع طيبون أكارم، وهم زكريا شيث إدريس يوسف، وحنظلة عيسى وموسى وآدم، ونوح شعيب سام لوط وصالح، سليمان يحيى هود، يٰس خاتم. (الدر المختار ۵:۵۲۹،۵۳۰ قبيل كتاب الفرائض)

في خلاصة الفتاوى: الصبى إذا كانت حشفته ظاهرة ولايمكن أن يمدّ جلدة ذكره إلاّ بتشديد وظهور حشفة بحالة لو راها إنسان يريها كأنه اختتن لايشدد عليه ويترک. (خلاصة الفتاوى ۴:۳۴۰ كتاب الكراهية، جنس آخر)

سنة كما جاء في الخبر وهو من شعائر الإسلام وخصائصه فلو اجتمع اهل بلدة على تركه حاربهم الإمام، فلا يترك الا لعذر»(١) وفيه أيضاً «أو من أقلف لو لعذر و الا لا» به نأخذ، هامش ردالمحتار ۴: ۳۷۷۰(٢) وفيه أيضاً: صبي حشفته ظاهرة بحيث لو راه إنسان ظنه مختوناً ولا تقطع جلدة ذكره إلا بتشديد آلمه ترك على حاله، هامش ردالمحتار ۵: ۶۵۶(٣) وهوالموفق

د غټانو سنتول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې يو غټ سړي سنتي نه وي کړې؛ نو د غټانو سنتول پکار دي يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: حبيب الرحمن كوهاټي ..... ۱۴۰۱ ه ۲۲/۴

الجواب: د غټانو سنتول مسنون[۴] او ابراهيمي سنت دي[۵]، البته په خپل لاس يا خپلې ښځې يا وينځې په لاس سنتول پکار دي لما في الهنديه ۵: ۳۹۲: وذکر الکرخي في الجامع:

---

۱) (رد المحتار ۵:۵۳۰، مسائل شتى بعد كتاب الخنثى)

۲) (الدر المختار ۴:۴۱۹ كتاب الشهادات، باب القبول وعدمه)

۳) (الدرالمختار ۵:۵۳۰، مسائل شتى بعد كتاب الخنثى)

۴) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: والأصل أن الختان سنة كما جاء في الخبر وهو من شعائر الإسلام وخصائصه.
(الدر المختار ۵:۵۳۰، مسائل شتى بعد كتاب الخنثى)

۵) قال العلامة ابن حجر عسقلاني رحمه الله تعالى: وقد ثبت لإبراهيم عليه السّلام أوّليات أخرى كثيرة منها، أول من ضاف الضيف وقصّ الشارب واختتن ورأى الشيب وغير ذلك.
(فتح الباري ۶:۳۹۰، باب قول الله تعالى: وَاتَّخَذَالله ابراهيم خليلا)

الصغیرویختنه الحمامي كذافي الفتاوى العتابيه(۱)فافهم. وهوالموفق

الہ تناسل نه ښکاریدو په صورت کښې دوباره سنتول

سوال: څه فرمايي علماء كرام دي مسئلې باره كې چې كله د ذكر سر ښكاره وي او يو وار سنت شوى وي، نو ايا سنت ادا كيږي كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: حبيب الدين كوهاټي متعلم حقانيه.... ۱۴۰۱ هـ/۲/۲۲

الجواب: كه د ذكر سر نه ښكاري او دوباره سنتي ممكنه وي: نو دوباره پكار ده. لمافي شرح التنوير على هامش ردالمحتار ۵:۶۵۶: ولوختن تقطع الجلدة كلها ينظرفان قطع اكثرمن النصف كان ختاناً وان قطع النصف فما دونه لا(۲). وهوالموفق

الہ تناسل باندې دوباره پرده راتلو صورت کښې سنتول

سوال: څه فرمايي علماء كرام دي مسئلې باره كې چې يو ماشوم ديارلس كلن دى له دې مخكې دوه خله سنت شوى. اوس بيا پرې پرده راغلې ده. د شريعت له مخې به دوباره سنت كيږي يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي مولوى علي حيدر، حيدري دواخانه گجر گړهى مردان.... ۱۹۰۷ء/۴/۵

---

۱) وفي الهندية : في ختان الكبير إذا أمكن أن يختتن نفسه فعل وإلّا لم يفعل إلّا أن يمكنه أن يتزوّج أو يشترى ختانة فتختنه، وذكر الكرخى في الجامع الصغير ويختنه الحمامي.

(فتاوى هندية ۵:۳۵۷، كتاب الكراهية، الباب التاسع عشر في الختان)

۲) (الدر المختار ۵:۵۳۰، مسائل شتّى بعد كتاب الخنثى)

وفي الهندية : غلام ختن فلم تقطع الجلدة كلّها فإن قطع أكثر من النصف يكون ختانًا وإن كان نصفًا أو دونه فلا، كذا في خزانة المفتين.

(فتاوى هندية ۵:۳۵۷، الباب التاسع عشر في الختان والخصاء)

الجواب: که د ذکر سر په پرده کې پټ وي؛ نو دوباره سنتول پکار دي، که نو بیا يې څه ضرورت نشته.

قال في الهندیه ۵: ۳۹۳: اختتن الصبي ثم طالت جلدته ان صار بحال تستر حشفته يقطع والا فلا كذا في المحيط (۱). انتهى وهوالموفق.

په ذکر باندې د پردې راتلو لامله غسل کې د اوبو ننویستلو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د سنت شوي انسان خاص اندام باندې پرده راشي؛ نو دې پردې ته داوبو ننوتو او غسل وغیره څه حکم دی؟ بينوا توجروا

المستفتي محمد محسن عباسي ... ۱۳۹۴ھ/۱/۲۸

الجواب: د غه قلفه (پردې) ته اوبه ورننوتل مندوب دي نه مفروض.

كما في شرح التنوير: و داخل قلفه بل يندب وهو الأصح قال الكمال وعلله بالحرج. (هامش رد المحتار ۱: ۹۲ (۲)). **وهوالموفق**

د سنتې په وخت دعوت او د خلکو راغونډول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د سنتې په وخت ډوډۍ ورکول

---

۱) (فتاوى هندية ۵:۳۵۷، الباب التاسع عشر في الختان والخصاء الخ)

۲) (الدر المختار ۱:۱۱۳، كتاب الطهارة، مطلب في أبحاث الغسل)

وفي الهندية: الأقلف إذا اغتسل من الجنابة ولم يدخل الماء داخل الجلدة جاز كذا في المحيط، وفي واقعات الناطقي وهو المختار كذا في التتارخانية، ويدخل الماء القلفة استحباباً كذا في فتح القدير.

(فتاوى هندية ۱:۱۴، الباب الثاني في الغسل، الفصل الأول في فرائضه)

او خلک راغوښتل صحیح دي که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتي: ظهور دیر ... ۲۷ رمضان المبارک ۱۴۰۵ ھ

الجواب: الأدب المفرد ; مولفه امام البخاري رَحِمَهُ اللهُ له یو حدیث نه دعوت جواز او نه منکریدل ثابت دي،(۱) او د ابوداود طیالسي له حدیث نه ختنه کې د دعوت نه ورکولو معمول ثابت دی.(۲) خو د دعوت ورکولو اهتمام چې کوم رواج دی خلاف سنت دی. (۳) **وهوالموفق**

د پیدایشي مختون ماشوم دوباره سنتولو حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې یو ماشوم پیدایشي مختون وي نو بیا یې سنتول څنګه دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: جمعه. نرباب هنګو ... ۵/ جمادي الاول ۱۴۰۵ ھ

---

۱) قال الإمام البخاري رحمه الله تعالى :عن عمر بن حمزة قال أخبرني سالم قال :ختنني ابن عمر أنا و نعيما،فذبح علينا كبشاً فلقد رأيتنا و إنا لنجذل به على الصبيان أن ذبح عنا كبشاً.

(أدب المفرد ۲۶۴باب الدعوة في الختان ،حديث ۱۲۴۶)

عن نافع قال : كان ابن عمر يطعِم على ختان الصبيان .

(مصنف ابن أبي شيبة ۵۶۱: ۳رقم حديث ۱۷۱۶۶)

۲) عن الحسن قال :دُعي عثمان بن أبي العاص إلى ختان فأبى أن يجيب فقيل له فقال :إنّا كنّا لا نأتي الختان على عهد رسول الله ﷺ ولا نُدعى له.

(مسند أحمد ۲۱۷: ۴حديث عثمان بن أبي العاص رضي الله تعالى عنه)

۳) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :كل مباح يؤدي إلى زعم الجهال سنية أمر أو وجوبه فهو مكروه.

(فتاوى تنقيح الحامدية ۳۶۷: ۲ مسائل و فوائد شتّى من الحظر والإباحة)

الجواب: نه به سنت کیږي، صبي حشفته ظاهرة بحيث لو رآه انسان ظنه مختوناً الخ ترک علی حاله. هو کله له سنتي ورو سته څه برخه يعني نيم يا له نيمايي کم ښکاري؛ نو د مختون په حکم کې به نه وي. درمختار ۶۵۶:۵ (۱)

وهوالموفق

---

(۱) الدرالمختار ۵:۵۲۹مسائل شتّی ،قبیل کتاب الفرائض)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالٰی :(قوله ويكفي قطع الأكثر) قال في التاتر خانية :غلام ختن فلم تقطع الجلدة كلها فإن قطع اكثر من النصف يكون ختانا وإلا فلا .

(ردالمحتار ۵: ۲۷۱،کتاب الحظر والإجابة ،قبيل فصل في البيع)

وفي الهندية :غلام ختن فلم تقطع الجلدة كلها فإن قطع اكثر من النصف يكون ختاناً وإن كان نصفًا أو دونه فلا، كذا في خزانة المفتيين.

(فتاوی هندية۵: ۳۵۷كتاب الكراهية ،الباب التاسع عشر في الختان)

الله الله

فتاوی فریدیه

نهم جلد

باب الضيافة والدعوة

باب الضيافة وإجابة الدعوة

مېلمستيا کې د مسلمان او کافر تر منځ څه فرق نشته

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې حضور ﷺ فرمايلي چې د مېلمه عزت کوئ، په دې کې د مسلمان يا کافر فرق شته که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي نامعلوم

الجواب: هيڅ فرق نشته (۱) **وهوالموفق**

طفيلي او نابللي کس ته بې بلنې خوراک حرام دی

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې يو څوک چا ته بلنه ورکړي، هغه خپل ځان سره بل ناببلی کس بوځي،

---

۱) عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه أن رسول الله ﷺ ضافه ضيف كافر فأمرله رسول الله ﷺ بشاة فحلبت فشرب ... الحديث.

(جامع الترمذي ۲:۴، ابواب الأطعمة، باب ماجاء أن المؤمن يأكل في معى واحد)

وعن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: من كان يؤمن بالله واليوم الآخر فليكرم ضيفه.

(مشكوة المصابيح ۳۶۸، باب الضيافة)

وفي الهندية: وفي التفاريق لا بأس بأن يضيف كافراً لقرابة أو لحاجة، كذا في التمرتاشي.

(فتاوى هندية ۵:۳۴۷، كتاب الكراهية، الباب الرابع عشر في أهل الذمة)

دغه نابللي ته خوراک حرام دی که مکروه او که جائز ؟ بینوا توجروا

المستفتي الف ګل مردان ..... ۱۴ رمضان

الجواب: طفيلي اونابللي لپاره دا خوراک حرام دی. (ابو داود طيالسي (۱)) يعني کله چې صريحاً يا عرفاً مأذون نه وي (۲) **وهوالموفق**

د منکرانو په وخت د دعوت منلو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې کور کې د واده په وخت ډول غړيږي، مولوي صاحب او نورو څو اسلام خوښو کسانو ګډون نامناسبه وګڼلو. اوس د ښادی وروسته مولوي صاحب او نور معزيزين چې مخکې ښادي کې د ډنګ ډونګ له وجې نه نه ورتلل. اوس بې بلنه ومنل. ځينې خلک اعتراض کوي چې له توبې وروسته هم هغه کور ته چې ډول او باجې غږيدلي وې بيا هم ورتلل نا جائز ګڼي. ايا معترض په حقه دی که مولوي صاحب او نور ملګري يې بينوا توجروا

المستفتي راجه محمد بشير، فلور ملز بيول براسته ګوجر خان راولپنډی ... ۲۵/۸/۱۹۶۵ء

الجواب: که په دعوت کې د ګډون په وخت منکرات نه وي نومولوي صاحب په حقه دی او که نه معترض په حقه دی. في الدرالمختار: وان علم أولاً باللعب لا يحضر أصلاً سواء کان ممن يقتدی به أولا (۳) **وهوالموفق**

---

۱) عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه من دخل على طعام ولم يدع له دخل فاسقاً وأكل حراماً. (أبوداؤد طيالسی ۴:۹۴،وماروى سعيد بن أبي سعيد عن أبي هريرة)

۲) وقال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالى: ثم الإذن كما يثبت بالصريح يثبت بالدلالة. (الهداية ۳:۳۶۲، كتاب المأذون)

۳) (الدر المختار ۵:۲۴۵، كتاب الحظر والإباحة)...(باتي حاشيه به بل مخ)

مسجد ته نژدې د سندرو او باجو والا ښادی د دعوت حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې يوه علاقه کې د ښادي په وخت موسيقي او ډمې وغيره راولي په لارو کې ډول او باجې غږوي، د شپې ورسره وي، نوځنګه جائز دي چې د جومات مخې ته هم موسيقي، ډول او سورنا وهي ددې حکم راولېږئ. ډيره مننه؟ بينوا توجروا

المستفتي مولوی عمر خطاب. اوګی مانسهره... ۶/ ذي قعده ۱۴۰۲ه

جواب: په کوم واده کې چې سرود، باجې وغيره وي نو د داسې واده بلنه منل ناروا ده

لحديث عمر بن حصين نهى رسول الله ﷺ عن اجابة طعام الفاسقين، رواه البيهقى فى شعب الايمان. (مشکوة المصابيح ۲: ۲۷۹() محشى مولانا نصير الدين الغورغشتوی رحمه الله تعالى)

دا رنګه په دې کېدون کې د فساقو او فجارو خلکو مدارات او حوصله افزائي کيږي او کله چې په مسجد کې

(د حاشيې پاتې برخه) وفي الخلاصة: رجل دعى إلى وليمة أوطعام فوجد ثمه لعباً أو غناءً لا بأس بأن يقعد ويأكل وهذا إذا لم يكن ذلک على المائدة بل في المنزل فإن كان ذلک على المائدة أو يشربون الخمر على المائدة لا يقعد.

(خلاصة الفتاوى ۴: ۳۵۷، كتاب الكراهية، الفصل الخامس في الأكل)

۱) (مشكوة المصابيح ۲۷۹، كتاب النكاح، باب الوليمة)

وفي الهندية: لا يجيب دعوة الفاسق المعلن ليعلم أنه غير راض بفسقه.

(فتاوى هندية ۵: ۳۴۳، كتاب الكراهية، الباب الثانى عشر في الهدايا الخ)

په لوړ غږ سره ذکر ناروا دی تر څو لمونځ کونکي ته تکليف ونه رسيږي.(۱) او جومات ته نژدې سندرې او سازونه په څنګه ممنوع نه وي؟ حال دا چې ديکښې خو هر ډول ضرر رسول موجود وي. دا د موجوده زمانې پښتون قوم د سابقه زمانې له موسيقی نه خراب دی. څکه چې هغوی ته پکار وو چې مخکې يې بايد د مسجد احترام ساتلی وی او ډول وغيره يې بند کړي وای. والله اعلم

د سرود په مجلس کې ګډون او د بلنې منلو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د يو کلي دوه ملايان دي، يو با عمله دی او بل سم عالم هم نه دی او بې عمله هم دی. په کوم ځای کې چې واده وي. هلته ډولونه. سازونه وغيره وي. نو هغه ضرور پکې ګډون کوي او وايي چې ډول نه بندوم. دا بل مولوي صاحب هغه منع کوي. مخالفت يې کوي او دا بې عمله مولوي مسجد کې راکښنوي منعه کوي يې او وعده ترې اخلي خو بيا هم وعده خلافي او منافقت کوي، بې له دې د جنازې په لمونځ او د نکاح په مسئلو هم سم نه پوهيږي. نکاح هم غلطه وايي. د داسې کس شريعت کې څه مقام دی؟ کوم خلک چې له جومات سره ډول او باجې د ضد له وجې غږوي د هغوی څه حکم دی؟ کوم واده کې چې ډول وهل کيږي هلته خوراک کول پکار دي يا نه او څومره ګناه لري؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد سعيد هزاروي، راولپنډي

الجواب: کوم مجلس کې چې سرود وغيره غږيږي نو په هغه کې ګډون حرام دی.(۲) قرآن مجيد

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: أجمع العلماء سلفًا وخلفًا على استحباب ذكر الجماعة في المساجد وغيرها إلاأن يشوّش جهرهم على نائم أومصل أو قارئ.
(ردالمحتار ۱:۴۸۸،باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها،مطلب في رفع الصوت بالذكر)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: استماع ...(پاتې حاشيه په بل مخ)

کې په اعرض عنهم باندې امر راغلی (۱) وکره الألوسی عن البعض بالشمول لجمیع مجالس السوء (۲) دا دول دعوتونه مثل هم حرام دي لحدیث البیهقی نهیٰ رسول الله ﷺ عن اجابة طعام الفاسقین، مشکوة ۲۷۹ (۳). وهوالموفق.

د ډمانو په واده کې د دعوت حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام ددې مسئلې په باره کښې چې د واده هغه دعوت چې په هغې کښې ډمان وغيره وي څنګه دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبدالله

الجواب: د داسې دعوت قبلول منع دي كما فى حديث عمران بن أنس رضى الله تعالى عنه قال: نهىٰ رسول الله ﷺ عن إجابة طعام الفاسقين......

(د حاشيې پاتې برخه) الملاهي معصية والجلوس عليها فسق.
(الدرالمختار ۵:۲۴۶، كتاب الحظر والإباحة)

۱) قال الله تبارک وتعالى: ﴿وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ﴾... الآية. (سورة الانعام آيت: ۶۸)

۲) قال العلامة آلوسي رحمه الله تعالى: واستدل بعضهم بالآية على تحريم مجالسة الفساق والمبتدعين من أى جنس كانوا.
(روح المعاني ۴:۲۵۵، سورة النساء آيت: ۱۴۰)

۳) (مشكوة المصابيح ۲۷۹، كتاب النكاح، باب الوليمة)

وفي الهندية: ولايجيب دعوة الفاسق المعلن ليعلم أنه غير راض بفسقه.
(فتاوى هندية ۵:۳۴۳، كتاب الكراهية، الباب الثانى عشر في الهدايا)

مشكوة ۲۷۹ (¹) وفى رد المحتار ۵: ۳۰۴ وفى البناية اجابة الدعوة سنة وليمة أوغيرها أما دعوة يقصد بها التطاول أوإنشاء الحمد وما اشبهه فلا ينبغى إجابتها لاسيما اهل العلم (²) انتهى قلت: دعوة أهل زماننا لايخلو عن الفخر والرياء فافهم. وهوالموفق

د واده نه مخکښې د دعوت خوراک حرام نه دی

سوال: څه فرمايي علماء کرام ددې مسئلې په باره کښې چې د واده نه مخکښې خپلوانو ته د وليمې دعوت ورکولی شي آيا دا به د وليمې په دعوت کښې شمارل کيږي؟ او ددې خوراک حلال دی يا حرام؟ بينواتوجروا

المستفتي عبد الحکيم، مردان ...... ۶ ذي الحجه ۱۴۰۲هـ

الجواب: واضحه دې وي چې کوم خوراک د ښځې (ناوې) کور ته د راوستلو نه مخکښې، خپلوانو وغيره باندې خوړل کيږي دا وليمه نه ده. رسول الله صلی الله عليه وسلم به د واده نه پس په خلکو خوراک کولو. (³) خو ددې دا مطلب نه دی چې د واده نه مخکښې دا ناجائز او د کفر کار دی. ځکه چې نه په قرآن او حديث کې ددې نه منع راغلې ده. نه په آثارو او فقه کې په دې باندې انکار شوی دی. بلکې د احاديثو په نورو روايانو کې دعوت قبلول. که د وليمې وي او که بغير د وليمې وي دا جائز بلکې ضروري ګرځول شوی دی.

كما في حديث متفق عليه: حق المسلم على المسلم

---

۱) (مشكوة المصابيح ۲۷۹، كتاب النكاح، باب الوليمة)

وفي خلاصة الفتاوى: يجوز للرجل أن يجيب دعوة الفاسق والأورع أن لايجيب. (خلاصة الفتاوى ۴: ۳۵۸، كتاب الكراهية، الفصل الخامس في الأكل)

۲) (ردالمحتار ۵: ۲۴۵، كتاب الحظر والإباحة)

۳) قال العلا علي قاري رحمه الله تعالى: قيل أنها تكون بعد الدخول وقيل عند العقد وقيل عندهما. (مرقاة المفاتيح ۶: ۳۶۶، باب الوليمة، الفصل الأول)

خمس رد السلام......واجابة الدعوة()
دغسې قرباني چې د وليمې پشان عبادت موقته دی. کله چې د خپل وخت (لمونځ) نه مخکې وشي؛ نو د عبادت معنی په دې کې ختمه شي دا نه چې ددې خوراک ناجائز کيږي. كما في حديث متفق عليه، ومن ذبح قبل أن نصلي فإنما شاة لحم عجله لأهله ليس من النسكة في شيئ() دغسې کله چې څوک سنت د سبا راختلو نه مخکې ذبح وکړي: نو دده څخه سنيت فوت کيږي دا نه چې لمونځ نفل نه شو () وهوالموفق

د سندرو باجو او اتڼ کونکو د بلنې حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې کوم واده پروگرام کې واده والا ګاني باجې يا اتڼ او ګډېدل وکړي نو د هغه کور د وليمې خوړل څه حکم لري؟ آيا ددې خوړل صحيح دي؟ بينوا توجروا

المستفتی ملک شير زمين : دير...... ۲۱/ شعبان ۱۴۰۳ هـ

---

۱) (مشكوة المصابيح ۱۳۳، كتاب الجنائز، باب عيادة المريض وثواب المرض)

۲) (مشكوة المصابيح ۱۲۶، باب صلاة العيدين)

۳) وفي المنهاج: والوليمة قيل تكون بعد البناء وقيل تكون عند العقد كما في المرقاة وغيره فما يطعم قبل العقد أوالبناء لا تكون وليمة وسنة وعبادة بل يكون طعاماً محضاً، ونظيره ما رواه البخاري أن النبي ﷺ جعل ذبيحة من ضحّى قبل الصلوة لحماً لابدعة وحراماً، وبالجملة أن بفوات الوقت في العبادات المؤقتة يفوت معنى العبادة دون الحل، كيف وقال رسول الله ﷺ إذا دعا أحدكم أخاه فليجبه عرساً كان أو غير عرس رواه أبوداؤد.
(منهاج السنن شرح جامع السنن ۴:۲۵۰، باب ماجاء في الوليمة)

الجواب: كه د هغو بلونكو له خوا د تكليف رسولو خطره نه وي يا له هغو نه د دين قبلولو د دعوت حيله نه وي نو اجابت مه كوئ.

لما رواه البيهقي عن عمران بن حصين قال نهى رسول الله ﷺ عن إجابة طعام الفاسقين (١) ولما رواه عن جابر قال قال رسول الله ﷺ: اوحى الله عز وجل الى جبريل عليه السلام ان اقلب مدينة كذا وكذا بأهلها فقال: يارب ان فيهم عبدك فلان لم يعصك طرفة عين. قال فقال اقلبها عليه عليهم فان وجهه لم يتمعّر في ساعة قط (٢) وهو الموفق

واده كې د سندرو باجو او د غير شرعي رسوماتو په ارتكاب په ښځه د طلاق شرط لګولو باوجود خوړه كې د ګډون مسئله

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې زموږ د كورونو مشرانو په دې خبرو تړون كړى چې اينده به كورونو كې په واده يا تقريب كې ښځې نه په ښكاره او نه په پټه سندرې او نور غير شرعي رواجونه كوي. كه چا پكې ګډون وكړ يا خپله ددې كار مرتكب شو

په هغه به ښځه طلاقه وي. څه موده به پرې عمل كېدلو. تر كال ښځو په پټه سندرې او نور غير شرعي رسمونه كړي و. بيا بل واده كې ټولو په ښكاره دا نخرې وكړې، د پورتني عهد او تړون د زمانې خلك ټول مړه دي د هغوى اولادونه او خپلوان د هغو رسوماتو مرتكب شول نو دا اوسني خلك د تعزير قابل دي كه نه دي؟ د هغوى د مشرانو د عهد او تړون په سبب شرعاً په هغوى

---

١) (مشكوة المصابيح ٢٧٩، كتاب النكاح، باب الوليمة)

وفي الهندية: ولا يجيب دعوة الفاسق المعلن ليعلم أنه غير راض بفسقه. (فتاوى الهندية: ٣٤٣ كتاب الكراهية، الباب الثاني عشر في الهدايا)

٢) مشكوة المصابيح ٤٣٨، باب الأمر بالمعروف)

خیلې ښځې طلاقیږي که نه؟ څینې غیر مرتکبینو د رسمیاتو د مرتکبینو خلکو په کورونو کې ډوډۍ هم خوړلې ده د دغوی څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتی عبدالله. پشاور

الجواب: (۱) په داسې ودونو کې ګډون حرام دی (۱)

(۲) او ګډون کونکو باندې ښځې نه طلاقیږي څکه چې تړون کونکي ختم شوي دي

(۳) او د دغه واده خوراک نه و پکار (۲) **وهوالموفق**

---

۱) قال الله تبارک وتعالیٰ: **وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ.**
(سورة الأنعام آیت: ۶۸)

وقال العلامة القرطبي رحمه الله تعالیٰ: فكل من جلس في مجلس معصية ولم ينكر عليهم يكون معهم في الوزر سواء، وينبغي أن ينكر عليهم إذا تكلموا بالمعصية وعملوا بها فإن لم يقدر على النكير عليهم فينبغي أن يقوم عنهم حتى لا يكون من أهل هذه الآية.
(تفسير القرطبي ۵:۳۹۷ آیت: ۱۴۰)

۲) عن عمران بن حصين رضي الله تعالیٰ عنه قال: نهى رسول الله ﷺ عن إجابة طعام الفاسقين. (مشكوة المصابيح ۲۷۹، كتاب النكاح، باب الوليمة)

وفي البزازية: وفي الروضة يجيب دعوة الفاسق والورع أن لا يجيبه.
(فتاوى بزازية على هامش الهندية ۶:۳۶۴، كتاب الكراهية، الفصل الخامس في الأكل)

وفي خلاصة الفتاوى: يجوز للرجل أن يجيب دعوة الفاسق والأورع أن لايجيب. (خلاصة الفتاوى ۴:۳۵۸، كتاب الكراهية، الفصل الخامس في الأكل)

د واده کولو نیته ټاکل،خپلوان او کلیوال راغونډول

او ناوې ډولۍ کې د کښېنولو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د واده کولو نیته ټاکل، او خپلوان راغونډول او کلیوالو ته بلنه ورکول روا ده که ناروا؟ **بینوا توجروا**

المستفتي: اهليان مصري بانډه... ۷۶، ۳، ۲۱

الجواب: دا کارونه په رواج کې داخل دي، شرعي بدعات نه دي، ځکه چې دا خلک دا کار په ديني عقيده نه کوي.(۱) فافهم **وهوالموفق**

غير مقتدیٰ ته د مصلحت پر بنا يا بې خبرۍ کې ګډېدل

او د سندرو والا واده کې ګډون کول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې کوم واده کې ګډېدل

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: بدعة وهى اعتقاد خلاف المعروف عن الرسول ﷺ لا بمعاندة بل بنوع شبهة. (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: تعريف الشمنى لها بأنها ما أحدث على خلاف الحق الملتقى عن رسول الله ﷺ من علم أو عمل أو حال بنوع شبهة واستحسان، وجعل دينا قويما وصراطًا مستقيما.

(ردالمحتار ۱:۴۱۴، باب الإمامة، مطلب البدعة خمسة أقسام)

وغیره وي نو ایا د هغه طعام (ولیمه) خوړل جائز دي؟ بینوا تو جروا

المستفتي: جناب مقدر شاه، مصری بانده..... ۱۹۷۶،۱،۱۱

الجواب: دداسې دعوت منل ممنوع دي. لحديث البيهقي نهى رسول الله ﷺ عن إجابة طعام الفاسقين.(۱) او که د څه مصلحت له وجې ومنل شي یا نا خبری کې ورشي؛ نو خوراک جائز دی، په دې شرط چې دا مدعو مقتدی نه وي او په دې خوړو کې سرود وغیره نه وي. لما في الدر المختار دعي الى وليمة وثمة لعب او غناء قعد واكل، لو المنكر في المنزل فلو على المائدة لا ينبغي أن يقعد بل يخرج معرضاً لقوله تعالى: فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ. فان قدر على المنع فعل والا يقدر صبران لم يكن ممن يقتدٰى به فان كان مقتدى ولم يقدر على المنع خرج ولم يقعد لأن فيه شين الدين وان علم أولاً باللعب لا يحضر اصلاً سواء كان ممن يقتدٰى به اولا (۲). وهو الموفق.

---

۱) (مشكوة المصابيح ۲۷۹، كتاب النكاح، باب الوليمه)

وفي الهندية: لا يجيب دعوة الفاسق المعلن ليعلم أنه غير راض بفسقه.

(فتاوى هندية ۵:۳۴۳، كتاب الكراهية، الباب الثاني عشر في الهدايا الخ)

۲) (الدر المختار ۵:۲۴۵، كتاب الحظر والإباحة)

وفي الخلاصة: رجل دعى إلى وليمة أوطعام فوجد ثمه لعبًا أو غناءً لابأس بأن يقعد و يأكل، وهذا إذا لم يكن ذلک على المائدة بل في المنزل، فإن كان ذلک على المائدة أو يشربون الخمر على المائدة لا يقعد وهذا إذا كان الرجل خامل الذكر فإن كان ممن يقتدى به لا يقعد ان لم يقدر على النهى في الوجهين... وهذا إذالم يعلم بذلک قبل الدخول في البيت.

(خلاصة الفتاوى ۴:۳۵۷، كتاب الكراهية، الفصل الخامس في الأكل)

له مشترکه ترکې نه د مړ ورور تصدق، ضیافت او دعوت کول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زید وفات شو. څه ماشومان يې غټ او څه واړه دي، مخکې له شريک مال نه صدقه او ختم دا غټ ورور کولای شي که نه؟

(۲) د کفن پيسې فوراً دوه ورکول جائز دي يا ناجائز؟ بينوا توجروا

المستفتي: حنیف صاحب.... ۱۴۰۰ هـ ۲٥/۷

الجواب: (۱) که دې مړي وصيت نه وي کړی نو دا لوی ورور مشترکه مال نه خيرات نشي کولای (۱) مسکينانو ته طعام ورکول جائز دي او د رسم و رواج، ضيافت او دعوت پابندي نا روا ده. د شامي څخه اخيستل شوی ۸۴۲:۱ (۲).

وهوالموفق

---

۱) وفي شرح المجلة: كلّ من الشركاء في شركة الملك أجنبي في حصة سائرهم فليس أحدهم وكيلاً عن الأخر ولايجوز له أن يتصرف في حصة شريكه بدون إذنه.
(شرح المجلة لسليم رستم باز رحمه الله تعالى ۱:۶۰۱، المادة: ۱۰۷٥)

۲) وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: ويكره إتخاذ الضيافة من الطعام من أهل الميت...وهى بدعة مستقبحة..... عن جرير بن عبد الله قال: كنّا نعد الاجتماع إلى أهل الميت وصنعهم الطعام من النياحة، وفي البزازية: ويكره إتخاذ الطعام في اليوم الأول والثالث وبعد الأسبوع .... وفيها من كتاب الإستحسان: وإن اتخذ طعاماً للفقراء كان حسناً.
(ردالمحتار ۲:٦٦۴، كتاب الجنائز، مطلب في كراهة الضيافة من أهل الميت)

الله الله

فتاوی فریدیه

نهم جلد

بابُ السَّلام

الله الله

بسم الله الرحمن الرحيم

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم

البادئ بالسلام بريءٌ من الكبر.

(رواه البيهقي)

باب السّلام

د سلام، جواب او د پرېښودونکي حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې کې چې سلام اچول مؤکد سنت دي يا واجب؟ دا هم ووايئ چې د سلام تارک به ملامتيږي که نه؟ د مسئلې حقيقت روښانه کړئ مننه؟ بينوا توجروا

المستفتي متعلم محمد سليم دار العلوم حقانيه اکوړه خټک

۴/ ذی القعده ۱۴۰۱ھ

الجواب: غير مستثنی صورتونو کې سلام اچول مسنون دي او جواب ورکول يې واجب دي[1] او تارک سنت مؤکده د عتاب ور جوړيږي [2]، البته ددې معرفت د عوام کالأنعام کارونه دي. **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة ابن عابدين: قال في شرح السنّة: واعلم أنهم قالوا إن السّلام سنّة واستماعه مستحب وجوابه أى ردّه فرض كفاية.

(ردالمحتار ۵:۲۹۳، كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

وفي الإختيار: والتسليم سنة ورده فريضة.

(الاختيار لتعليل المختار ۴:۲۰۴، كتاب الكراهية، فصل في الاحتكار)

۲) قال العلامة الحصكفي: وحكمها ما يؤجر على فعله ويلام على تركه. (درمختار)

وقال العلامة ابن عابدين: (قوله ويلام) أى يعاتب بالتاء لا يعاقب كما أفاده في البحر والنهر، لكن في التلويح ترک السنّة المؤكّدة قريبة من الحرام يستحق حرمان الشفاعة لقوله عليه الصلوة والسّلام: من ترک سنتي لم ينل شفاعتي.

(ردالمحتار ۱:۷۷، مطلب في السنة وتعريفها، كتاب الطهارة)

فاسق باندې سلام اچول او د هغه د سلام ځواب ورکولو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې څوک چې ښکاره فاسق وي. په هغه سلام د اچولو څه حکم دی؟ بينوا توجروا

المستفتي عبدالرحيم... ۲۵/۱۰/۷۹

الجواب: فساقو باندې ابتداء سلام بې له څه مصلحته مکروه دی. (۱) خو د هغوی د سلام ځواب ورکول ضروري دی (۲) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة ابن عابدين: يكره السّلام على الفاسق لو معلنًا وإلّا لا. (رد المحتار ۱:۴۵۶، مطلب المواضع التي يكره فيها السّلام)

وفي الهندية: واختلف في السّلام على الفساق، في الأصحّ أنّه لا يبدأ بالسّلام كذا في التمرتاشي. (فتاوى هندية ۵:۳۲۶، كتاب الكراهية، الباب السابع في السّلام)

۲) عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ حق المسلم على المسلم خمس: ردّ السّلام وعيادة المريض الخ... وعن البراء ابن عازب رضي الله تعالى عنه قال أمرنا النبي ﷺ بسبع ونهانا عن سبع، أمرنا بعيادة المريض واتباع الجنائز وتشميت العاطس وردّ السّلام الخ، متفق عليه.

(مشكوة المصابيح ۱۳۳، باب عيادت المريض)

وقال المفتي كفايت الله رحمه الله: *سوال:* د فاسق د سلام ځواب ورکول څه حکم لري؟ په شامي ۵۷۸ کې چې کوم بيت علامه جلال الدين سيوطي نقل کړی، ددې څخه معلوميږي چې ځواب ويل واجب نه دی، سوال دا دی چې واجب نه وي نو اولی دی او که غير اولی؟ که مکروه وي نو مکروه تحريمي دی که مکروه تنزيهي؟

جواب: د فاسق د سلام ځواب ورکول واجب نه دی، خو ځواب ورکول جائز دی، مکروه نه دی.

(كفايت المفتي ۹:۱۰۶، كتاب الحظر والاباحة)

(دفاسق دسلام ځواب دضروري کېدو صريح حواله ماته د تتبع باوجود ملاو نه شوه.)

له فتنې په امن کېدو صورت کې پردی ښځه باندې د سلام اچولو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې پردی ښځه باندې سلام اچول. چې کله د فتنې او فساد له احتمال نه خالي وي. روا دی که ناروا؟ددې وضاحت وکړئ؟ بينوا توجروا

المستفتی اسماعیل وزیرستاني متعلم حقانیه... ۲۷/ربیع الاول ۱۴۰۱ھ

الجواب: د فتنې څخه د امن په وخت ممنوع نه بلکې جائز دی. يدل عليه ما فی الهنديه ۵: ۳۶۱: اذا سلّمت المرأة الأجنبية على رجل، ان كانت عجوزا ردالرجل عليها السلام بلسانه بصوت تسمع، وان كانت شابة ردّ عليها في نفسه، والرجل إذا سلم على إمراة أجنبية فالجواب فيه على العكس (۱) وهوالموفق.

بيرغ ته د سلام کولو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زموږ وطن کې سهار وختي د مکتبونو د شروع کېدو په وخت چې کله بيرغ پورته کيږي: نو د مکتب هلکان دغه بيرغ ته سلام کوي او ترانې ختمېدو پورې خو هلکان سلامي ولاړ وي. مطلب دا چې د مسلمانانو ماشومان پاکستاني بيرغ طرف نه سلامي درول جائز دي يا نه؟بينوا توجروا

المستفتی محمود شاه امام مسجد کوهاټ روډ بنو.. ۷۶/۱/۲۷

---

۱) (فتاوی هندية ۵:۳۲۶، كتاب الكراهية، الباب السابع في السّلام)

وفي الاختيار: ويجب على المرأة ردّ سلام الرجل، ولا ترفع صوتها لأنه عورة، وإن سلّمت عليه، فإن كانت عجوزاً ردّ عليها وإن كانت شابة ردّ في نفسه.

(الاختيار لتعليل المختار ۴:۲۰۵، كتاب الكراهية، فصل في الاحتكار)

الجواب: بيرغ نه سلام كول د كفارو شعار دى. خير القرون كې مجاهدينو بيرغ درولى: خو هيچا ورته سلام نه دى كړى د كوم باچا مجسمې يا بت او بيرغ ته سلام كول غير اسلامي كارونه دي [۱] والله أعلم بالصواب

«السلام عليكم» ويلو باندې څومره ثواب ملاوېږي؟

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې د السلام عليكم ويونكي ته او جوابوونكي ته څومره ثواب ملاوېږي؟ بينوا توجروا

المستفتي حاجي قطب الدين مندى بهاوالدين گجرات ۷ جولائي ۱۹۸۱ء

الجواب: لږ تر لږه د لسو نېكيو ثواب وركول كيږي (قرآن) [۲] **وهوالموفق**

زيد د غائب كس لپاره د عالم لاس ښكلوي او سلام وايي

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې زيد ديو مولانا صاحب ملاقات اراده كړې وه. نو عمر ورته وويل چې زما سلام يرې وايه او زما لپاره يې لاسونه هم ښكل كړه اوس زيد باندې دا دواړه خبرې لازمې دي يا صرف سلام رسول لازم دي. او په دغه لاس

---

۱) وعن عمروبن شعيب عن أبيه عن جده أن رسول الله ﷺ قال ليس منا أى من أهل طريقتنا ومراعي متابعتنا (من تشبه بغيرنا) أى من غير أهل ملتنا (لاتشبهوا باليهود ولا بالنصارى فإن تسليم اليهود الإشارة بالأصابع وتسليم النصارى الإشارة بالأكف)، والمعنى لا تشبهوا بهم جميعا في جميع أفعالهم خصوصاً في هاتين الخصلتين لعلهم كانوا يكتفون في السلام ورده أو فيهما بالإشارة من غير نطق بلفظ السلام الذي هو سنة آدم وذريته من الأنبياء والأولياء. (مرقاة المفاتيح ۹:۵۷، باب السلام)

۲) قال الله تبارک وتعالى: مَن جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا. (سورة الأنعام آيت: ۱۶۰)

ښکلولو کې څه اجر شته که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي نامعلوم ۲۹ ۱۳۹۳ هـ

الجواب: ښکلول څه ضروري کار نه دى،(۱) او نه وکالت ثابتيږي. **وهوالموفق**

دښمن سره سلام کلام نه کول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زموږ کورنو کې د دوه ډلو د دښمنۍ تقريباً پنځه نيم کاله کيږي. کله په يو بل فيرونه کوي او کله خپلو کې د روغې جوړې معاهدې هم کوي. د معاهدې په دوران کې يو بل سره ملاقاتونه کوي، خبرې اترې کوي سلام او کلام کوي. ځينې خلک وايي چې طرفين دې په يو بل سلام نه کوي او يو بل سره دې نه کيني. دا ډول سلام کلام نه کول څه حکم لري؟ بينوا توجروا

المستفتي کريم شاه حسن خيل پشاور

---

۱) في المرقاة: لا يكره التقبيل لزهد وعلم وكبر سن، قال النووي: تقبيل يد الغير إن كان لعلمه وصيانته وزهده وديانته ونحو ذاك من الأمور الدينية لم يكره بل يستحب، وإن كان لغناه أو جاهه في دنياه كره وقيل حرام... وأما المأذون فيه فعند التوديع والقدوم من السفر وطول العهد بالصاحب وشدة الحب في الله مع أمن النفس.
(مرقاة المفاتيح ۹:۷٦ كتاب الآداب، باب المصافحة والمعانقة)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (وأما على وجه البرّ فجائز عند الكل) قال الإمام العيني بعد كلام فعلم إباحة تقبيل اليد والرجل والرأس والكشح كما علم من الأحاديث المتقدمة إباحتها على الجبهة.
(ردالمحتار ٥:۲٦۹ كتاب الحظر والإباحة، باب الاستبراء)

الجواب: د عوامو دښمني دنيوي کارونو باندې وي چې له درې ورځو زياته اوږدول د حديث له مخې حرام کار دی.[۱] لهذا سلام کلام کول د ثواب کار دی، له دې سره دښمني کمېږي،[۲] په دې شرط چې مخالف قوم بې بده نه ګڼي. که بده يې ګڼي نو د فتنې د شر زياتېدو له وېرې سلام وکلام نه دی کول پکار.[۳] **وهوالموفق**

---

۱) عن أبي يوسف الأنصاري رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: لا يحل للرجل أن يهجر أخاه فوق ثلاث ليال، يلتقيان فيعرض هذا، ويعرض هذا وخيرهما الذي يبدأ بالسلام. متفق عليه. (مشكوة المصابيح)

وفي المرقاة: قال أكمل الدين من أئمّتنا: في الحديث دلالة على حرمة هجران الأخ المسلم فوق ثلاثة أيام.

(مرقاة المفاتيح ۹:۲۶۲ باب ماينهى عنه من التهاجر والتقاطع الخ)

۲) قال العلامة شاه ولي الله رحمه الله تعالى: قال رسول الله ﷺ: لا تدخلون الجنة حتى تؤمنوا ولا تؤمنوا حتى تحابّوا، أولا أدلكم على شيئ إذا فعلتموه تحاببتم أفشوا السلام بينكم.

أقول: بين النبي ﷺ فائدة السلام وسبب مشروعيته فانّ التحابب في الناس خصلة يرضاها الله تعالى وإفشاء السلام آلة صالحة لإنشاء المحبة.

(حجة الله البالغة ۳۴۷، آداب الصحبة)

۳) في درر الحكام: درء المفاسد أولى من جلب المنافع أى إذا تعارضت مفسدة ومصلحة يقدم دفع المفسدة على جلب المصلحة، فإذا أراد شخص مباشرة عمل ينتج منفعة له ولكنه من الجهة الأخرى يستلزم ضرراً مساويا لتلك المنفعة أو أكبر منها يلحق بالآخرين فيجب أن يقلع عن إجراء ذلك العمل درءاً للمفسدة المقدم دفعها على جلب المنفعة، لأن الشرع اعتنى بالمنهيات أكثر من اعتنائه بالمأمور بها.

(دررالحكام ۱:۲۷، المادة: ۳۰)

په یهودو او عیسایانو باندې سلام اچول او د هغوی د سلام ځواب

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې په یهودو او عیسایانو باندې سلام اچول یا ځواب ورکول څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتی محمد رفیق عفي عنه... ۲۵/ رجب المرجب ۱۳۸۵ هـ

الجواب: د شرعي اړتیا پرته په هغوی د سلام ییلول منعه دي او د هغوی سلام جواب ته وعلیکم ویل مسنون دي (۱) **وهوالموفق**

پردی ښځې ته د سلام اچولو حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې ایا پردی ښځې ته سلام اچول جائز دي که نا جائز؟ بینوا توجروا

المستفتی صوفي محمد اسماعیل وزیرستان.
متعلم ومؤذن ثاني حقانیه... محرم ۱۴۰۱ هـ

الجواب: اوسني دور کې به په پردی ښځه باندې سلام نه اچول کیږي سدألباب الفتنة (۲) والا

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمة الله تعالى: ويسلم المسلم على أهل الذمة لوله حاجة إليه والإ كره، هوالصحيح.....وفي بعض نسخ المتن ولايسلم وهوالأحسن ولوسلم يهودي أو نصراني أومجوسي على مسلم فلابأس بالرد ولكن لايزيد على قوله وعليك، كمافي الخانية. (الدر المختار ۵: ۲۹۲ كتاب الكراهية ،فصل في البيع)

۲) قال الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالى: سدالذرائع أصول الشريعة الإسلامية،.... سدّ الذرائع لايقتصر على مواضع الإشتباه والإحتياط ،وإنما يشمل كل ما من شأنه التوصل به إلى الحرام.....وضابط منع الذريعة: أن تكون من شأنها الإفضاء إلى المفسدة لامحالة (قطعاً) أو كثيرا،وأن تكون....(باتي حاشیه په بل مخ)

فلا حرج فی نفسہ کما صرح بالجواز فی ردالمحتار ۵:۳۲۴.(۱)وهو الموفق

(د حاشیې پاتې برخه) مفسدة الفعل أرجح مما قد يترتب على الوسيلة من المصلحة.
(الفقه الإسلامي وأدلته ٥٢٥٨:٥، بشأن سدّ الذرائع)

١) وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وإذا سلّمت المرأة الأجنبية على الرجل إن كانت عجوزاً رد الرجل عليها السلام بلسانه بصوت تسمع، وإن كانت شابة رد عليها في نفسه، وكذا الرجل إذا سلّم على امرأة اجنبية فالجواب فيه على العكس.
(ردالمحتار ٥: ٢٦١، كتاب الحظر والإباحة، فصل في النظر والمس)
(ومثله في الفتاوى الهندية ٥: ٣٢٦، كتاب السلام، الباب السابع في السلام)

الله الله

فتاوی فریدیه

نهم جلد

باب التداوی والمعالجة

الله الله

بسم الله الرحمن الرحيم

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم

لم ينزل الله داءً إلّا وأنزل معه الدواء إلا الهرم فعليكم بألبان البقر فإنها ترمّ من الشجر.

(مسند الإمام الأعظم)

باب التداوي والمعالجة

د کافر ډاکټر نه علاج کول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې عمليات کول غواړم. کوم هسپتال کې چې د اپريشن اراده لرم هغه پندی، کې دی او عيسايان ورځي. ما ته هغه هسپتال کې اپريشن او علاج کول صحيح دي که نه؟ بينوا توجروا!

المستفتي عابد، ميډيکل ستور ۱۰ مين مارکيټ مردان.. ۱۹۸۶ء/۷/۲۳

الجواب: کافر ډاکټر نه علاج کول او د هغه له علاج لاندې پاتې کېدل شرعي ممنوعيت نه لري. (۱) البته حرامه دوايي استعمالول بې ضرورته ممنوع شرعي دي (۲) **وهوالموفق**

کمزوري ډاکټر نه د علاج او معالجې حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زه يو تکړه کمپوډر يم. په ۱۹۷۰ء کې ما د ميډيکل فيکلټي لاهور امتحان په کاميابی سره ورکړی دی چې هغوی را ته سند راکړی دی. له دې

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وأفاده في النهر) ... وفيه إشارة إلى أن المريض يجوز له أن يستطب بالكافر فيما عدا إبطال العبادة.

(رد المحتار ۲:۱۲۷ كتاب الصوم، فصل في العوارض المبيحة لعدم الصوم)

۲) وفي المحيط البرهاني: الاستشفاء بالمحرم إنّما لا يجوز إذا لم يعلم أنّ فيه شفاء، أمّا إذا علم أنّ فيه شفاء وليس له دواء آخر غيره فيجوز الإستشفاء به.

(المحيط البرهاني ۶:۱۱۶ كتاب الاستحسان، الفصل التاسع عشر في التداوي والمعالجات)

نه بعد ما دوه دري کاله ډاکټرانو سره تجربې هم کړې. اوس خپل کلي سرای نورنګ کې ما خپل میډیکل سټور خلاص کړی دی. تقریباً لس کاله کیږي مریضان ګورم ډیر مریضان هم راځي د هر مریض د صحت خاص خیال ګورم او د کومو مرضونو تشخیص چې نشم کولای لکه د زړه مریضي، د تبې مریضي، فشار او شوګر مریضي؛ نو داسي مریضان ایم بي بي ایس ډاکټرانو یا میډیکل سپیشلسټ ته لیږم، تبلیغي جماعت سره هم کله نا کله ځم. په دې سوچ کې یم چې هسې نه چې دنیوي ګټه وکړم او اخرت تباه کړم. لهذا تاسې صاحبان جواب راکړئ چې ما ته شرعي لحاظ باندې د معاینه کېدو اجازه شته که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: هارون میډیکل هال سرای نورنګ بنو ...... ۲ جما دی الاول ۱۴۰۴ ھ

الجواب: چونکه ستاسې معاینې په دیانتداری باندې مبني دي. ان شاء الله ستاسو مؤاخذه به نه کیږي (۱) والله اعلم

طبیب ته کله تجربه کار ویل کیږي؟

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې طبیب ته د طبابت لپاره شریعت کې د طب له پوهنتون یا د کوم حاذق حکیم نه تجربه حاصلول لپاره له کتابو تجربه کول تر کوم حده پورې صحیح وي. دا تجربه یې صحیح ده که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: طاهر میډیکوز سر ډهیری چارسده ...۲۹ شعبان ۱۴۰۲ ھ

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: سئل في رجل به داء في ظهره اتفق مع طبيب على مداوته وجعل له أجرة ولم يضرب له مدة وداواه ويريد الطبيب أجرة مثله وما أنفقه في ثمن الأدوية فهل له ذلك؟ (الجواب) نعم! والمسئلة في الخيرية من الإجارة. (تنقيح الحامدية ۲:۱۵۱، كتاب الإجارة)

(ومثله في الخيرية على هامش تنقيح الحامدية ۲:۱۸۲ كتاب الإجارة)

الجواب: د دغو ټولو ذرائعو استعمالولو وروسته تجربه کار لقب ورکول درست او ښه دي وهوالموفق

د علاج په توګه د افینو استعمال

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د علاج په توګه د افینو استعمال جائز دی که ناجائز؟ بینوا توجروا

المستفتي معین الدین قصور ۱۹۷۰ھ ۴ ۲۶

الجواب: کله چې د سکر نشې اله مقدار نه کم وي نو علاجاً استعمال يې روا دی او د سکر په اندازه يې استعمالول بې شرعي ضرورته ناروا دی. شامي (۱)

وهوالموفق

د رضاعت په موده کې د حمل ختمولو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د زید د بچي عمر ځلور میاشتې او ښځه يې دوباره د دوه میاشتو امید واره ده. اوس زید پریشانه دی چې که په دغه عمر کې ماشوم باندې شیدې بندي شي نو ډېر به وخوريږي. ایا د مذکوره مجبورۍ په صورت کې زید اسقاط حمل کولای شي که نه؟ او دا

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وقال محمّد الخ) أقول الظاهر أن هذا خاص بالأشربة المائعة دون الجامد كالبنج والأفيون فلا يحرم قليلها بل كثيرها المسكر وبه صرح ابن حجر في التحفة وغيره، وهو مفهوم من كلام أئمتنا لأنهم عدّوها من الأدوية المباحة وإن حرّم السكر منها بالاتفاق ... ومن غاب عقله بالبنج والأفيون يقع طلاقه إذا استعمله للهو وادخال الآفات قصداً لكونه معصية وإن كان للتداوي فلا لعدمها كذا في فتح القدير وهو صريح في حرمة البنج والأفيون لا للدواء وفي البزازية: والتعليل ينادي بحرمته لا للدواء. (رد المحتار ۳۲۵،۳۲۴:۵، كتاب الأشربة)

کار حرام دی یا مکروه؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي محمد دين موضع خاص تحصيل خوشاب ضلع سرگودها ...... ۱۹۶۹ء /۱/ ۲۷

الجواب: که یقین یا ظن غالب موجود وي مثلاً د حاملې شیدې ماشوم خرابوي او مرضعې وغیره انتظام نشي کیدای د نېستې له وجې، نو اسقاط حمل جائز دی او که دا ویره وه چې د دومره ماشومانو ضرورتونه به خوک پوره کوي؟ نو په دې وېره بې اسقاط حمل کول ناروا دی وفي ردالمحتار ۲: ۵۲۲: قال في النهر بقي هل يباح الاسقاط بعد الحمل؟ نعم! يباح مالم يتخلق منه شيئ ولن يكون ذلك الا بعد مائة وعشرين يوماً، وهذا يقتضي أنهم أرادوا بالتخليق نفخ الروح، وفي كراهة الخانية، ولا أقول بالحل إذا المحرم لو كسر بيض الصيد ضمنه لأنه اصل الصيد، فلمّا كان يؤاخذ بالجزاء فلا اقل من أن يلحقها إثم هنا اذا أسقطت بغير عذر إنتهى. وقال ابن وهبان: ومن الاعذار ان ينقطع لبنها بعد ظهور الحمل، وليس لأبي الصبي ما يستأجر به الظئر الخ(). **وهوالموفق**

د ژوندي یا مړه انسان د اندامونو پیوند کاري

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره کې چې د چاسترګه ضائع شي او ډاکټر په دغه ځای د بل چا سترګه یا د کوم ژوندي انسان اندام بل انسان ته یاد کوم ځناور

---

۱) (ردالمحتار ۲: ۴۱۲، کتاب النکاح، مطلب في حکم إسقاط الحمل)
وفي الهندية: امرأة مرضعة ظهربها حبل وانقطع لبنها وتخاف على ولدها الهلاک وليس لأبي هذاالولد سعة حتّى يستأجر الظئر يباح لها أن تعالج في استنزال الدم مادام نطفة أو مضغة أو علقة لم يخلق له عضو وخلقه لا يستبين إلّا بعد مائة وعشرين يوماً. (فتاوى هندية ۵: ۳۵۶، کتاب الکراهية، الباب الثامن عشر في التداوي الخ)

اندام انسان ته ولګوي يا د کوم انسان وينه د ستنې په ذريعه بل ته وخېژول شي. ايا دا جائز دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي ګل شير جمرود خيبر ايجنسي..... ۱۹۷۵/۱۰/۱۶

الجواب: د بل ژوندي يا مړه انسان اندامونه پيوند کول ناروا دي. فقهاء کرامو دا ابتذال ممنوع ګرځولی،(۱) په دې به د مسکينانو او غريبانو د اندامونو خرڅولو بازار ګرم شي البته وينه عضو نه ده د ضرورت په وخت کې مبتذل کېدای شي (۲) وهو الموفق

بل انسان ته انسان د (سترګې کسې) لګولو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې زموږ ملګری چې حافظ او قاري دی. ډېر کم نظره دی. تکړه ډاکټر مشوره ورکړې چې ستا علاج کېدای شي هغه داسې چې د سترګې کسی (انسان العين) بدل شي. اوس پوښتنه دا ده چې څنګه د انسان له جزء نه فايده اخيستل روا دي که نه؟ او د شخې د وينې څه حکم دی. په نکاح باندې خو به اثر نه لوېږي؟ بينوا توجروا

المستفتي طور آياز مانسهره..... ۲۶/جمادي الثاني ۱۴۰۳ھ

---

۱) قال العلامة محمّد بن أحمد السرخسي رحمه الله تعالیٰ: والآدمي محترم بعد موته علی ما کان عليه في حياته فکذا يحرم التداوي بشيء من الآدمي الحيّ إکرامًا له فکذلک لا يجوز التداوي بعظم الميت، قال ﷺ: کسر عظم الميت ککسر عظم الحيّ. (شرح کتاب السير الکبير ۲: ۱۲۸، باب دواء الجراحة)

۲) وفي شرح المجلة: الضرورات تبيح المحظورات ... يعني أن الممنوع شرعًا يباح عند الضرورة ... کأکل الميتة والدم ولحم الخنزير وشرب الخمر عند المجاعة أو الغصة أو العطش أو عند الإکراه التّام بقتل أو قطع عضو فهذه الأشياء تباح عند الاضطرار لقوله تعالیٰ (إلّا ما اضطررتم إليه). (شرح المجلة ۵۵:۱، المادة: ۲۱)

الجواب: ښځې ته د خاوند وینه ورکول یا بالعکس موجب حرمت نه دي خصوصاً چې کله هغه موده کې ورکړل شي چې شیدې هم موجب حرمت نه وي.[۱] او دا انسان د سرې عضوه ده لهذا بل انسان ته یې لګول به ناجائز وي، په دې کې د انسان توهین دی[۲] مناسب دی چې د څناور انسان، اندام، ولګول شي. والله أعلم

د ټسټ ټیوب بې بې (مصنوعي ماشوم) شرعي حیثیت

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې اوس څو ملکونو کې ټیسټ ټیوب بې بې پیدا شوی. دا پیدایش د مردانه سپرم (sperm) مصنوعي طریقې سره رحم ته داخلوي چې په نتیجه کې یې ماشوم پیدا کیږي. ددې څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: وکیل احمد راجپوت چیئر مین ټاون کمیټي پډعیدن نواب شاه...... ۱۰/شعبان ۱۴۰۲ ھ

---

۱) قال العلّامة المفتي محمّد شفیع رحمه الله تعالی: د خاوند وینه د ښځې په بدن کې یا د ښځې وینه د خاوند په بدن کې داخلولو سره په نکاح باندې هیڅ اثر نه غورځوي، نکاح به خپل حال باقي وي، څکه چې شریعت محرمیت د نسب، مصاهرت، رضاعت سره مخصوص کړی دی، ددې نه تجاوز کول صحیح نه دی او رضاعت سره د محرمیت ثبوت هم د رضاعت مودې سره خاص دی، د رضاعت موده یعني یو نیم کال عمر نه پس پیو څکلو سره هم د رضاعت حرمت نه ثابتیږي.
کما هو مصرّح ومفصل في عامّة کتب الفقه. والله سبحانه وتعالی أعلم.
(انسانی اعضاء کی پیوند کاری ص ۲۸، شوهر، بیوی کے خون کا باهم تبادله)

۲) قال العلّامة محمّد بن أحمد السرخسي رحمه الله تعالی: والآدمي محترم بعد موته علی ما کان علیه في حیاته فکذا یحرم التداوي بشيء من الآدمي الحيّ إکراماً له.
(شرح کتاب السیر الکبیر ۱: ۱۲۸، باب دواء الجراحة)

الجواب: په دې مصنوعي طريقه کار باندې د انسان توالد او تناسل حرام دی.(۱) **إلا اذا كان المعالج زوجًا وكان المني منيه،** ځکه چې دې معالجه کې له بې پردګۍ پرته د زنا دروازه هم خلاصيږي. ښځې په بد اخلاقۍ کې مبتلا کيږي او دا معالجه په سبب جوړه وي.(۲) **وهوالموفق**

داولاد پيداکيدو کې سياسرو ته ستن لګول د اعتراض وړ دي

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې، نن سبا ښځو ته ستن لګول کيږي چې په ذريعه يې ماشوم پيدا کيږي. ددې څه حکم دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: وزير احمد وزيرستاني ۱۹۸۶، ۷ ۱۷

الجواب: که په دې ستن کې څه مفسده هم نه وي نو زنا ته د لار جوړېدو له

---

۱) قال المفتي نظام الدين الأعظمي رحمه الله تعالى: *سوال:* ٹسٹ ٹیوب بے بی " صورت يې دا دی: د کومو ښځو ماشومان چې نه پيدا کيږي ښځينه ډاکټران يې د خاوند مني د پيچکاری په ذريعه د ښځې رحم ته داخلوي، بيا د همدې وجې ښځه حامله شي، ايا په دې طريقه ټيسټ ټيوب بې بې روا دی؟

الجواب: دا طريقه د طبيعت سليمه سره په ټکر کې ده، د شريعت او شارع عليه السلام د مزاج سره هم خلاف ده، د الحياء شعبة من الإيمان هم خلاف ده، ددې وجې دا طريقه خپلول بې همتي، د شرعي حدودو څخه تجاوز او بې شرمي ده، دبته په شريعت کې اضطرار نه ويل کيږي، ددې وجې شريعت ددې اجازه نه ور کوي.

(نظام الفتاوی ۳۳۷:۱کتاب الحظر والاباحة، مرد کا مادہ منويه لے کر بيوی کے رحم میں بذريعه انجکشن پهنچانا)

۲) قال العلامة الدكتور وهبة الزحيلي: سدّ الذرائع أصل من أصول الشريعة الإسلامية... سدّ الذرائع لا يقتصر على مواضع الإشتباه والإحتياط وإنما يشمل كل مامن شأنه التوصل به إلى الحرام ... وضابط منع الذريعة أن تكون من شأنها الإفضاء إلى المفسدة لا محالة (قطعًا) أو كثيرا أو أن تكون مفسدة الفعل أرجح مما قد يترتب على الوسيلة من المصلحة. (الفقه الإسلامي وأدلته ۵۲۵۸:۷،بشان سدّ الذرائع)

وجې د اعتراض وړ ده ښځه زنا کوي او ډاکټر ته فيس ورکوي بهانه جوړوي (۱) والله اعلم بالصواب

له سټني د پيدا شوي ماشوم د ثبوت نسب مسئله

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ځينې خلک اولاد پيدا کېدو لپاره خپلو مېرمنو ته انجکشن (پيچکاري) لګوي. ايا داسې کول روا دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولانا عبدالهادي ګندف ضلع صوابي ...۱۹۸۸ ۱۹۱

الجواب: دا معالجه تفصيل غواړي. البته حمل د فراش والا ته ثابت النسب ګرځي (۲) **وهوالموفق**

د بچي لپاره ښاروي ته سټن لګول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې نن سبا غواګانو ته سټن لګول کيږي

---

۱) قال الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالى: سدّ الذرائع أصل من أصول الشريعة الإسلامية وحقيقته منع المباحات التى يتوصل بها إلى مفاسد أو محظورات (۲) سدّ الذرائع لا يقتصر على مواضع الاشتباه والاحتياط وإنما يشمل كل مامن شأنه التوصل به إلى الحرام ... وضابط منع الذريعة أن تكون من شأنها الإفضاء إلى المفسدة لا محالة قطعاً أو كثيرا أو أن تكون مفسدة الفعل أرجح مما قد يترتب على الوسيلة من المصلحة. (الفقه الإسلامى وأدلته ۷: ۵۲۵۸، قرار رقم ۹۵: ۹: ۹۶ بشأن "سدّ الذرائع")

۲) وقال العلامة الكاسانى رحمه الله تعالى: لكون الدخول أمراً باطناً فيقام النكاح مقامه في إثبات النسب ولهذا قال النبي ﷺ: الولد للفراش وللعاهر الحجر، وكذا لو تزوّج المشرقى بمغربية فجاء ت بولد يثبت النسب وإن لم يوجد الدخول حقيقة لوجود سببه وهو النكاح. (بدائع الصنائع ۲: ۶۴۶، كتاب النكاح، بيان حكم النكاح)

حمل ځای نیسي ایا دا ستن خرڅول. لګول او د څاروي شیدې حلالې دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: وزیر احمد وزیرستاني ۱۹۸۶ء ۷ ۱۷

الجواب: دا ستن یوه معالجه ده او د نصوصو سره ټکر نه لري.⁽¹⁾ لهذا په دې طریقه د تر لاسه شوي بچي حلت کې څه شبه نشته⁽²⁾ او نه شیدې وغیره کې څه شبه شته.⁽³⁾ او ددې ستنې خرڅول او اخیستل جائز دي لأن المني انقلب ذاته الی الدواء المخصوصة، ولأنه لا عورة للحیوان، لأنّ الولد یتبع الأم، فافهم. وهو الموفق

د خانداني منصوبه بندۍ له ملازمت نه خوړلو او څښلو حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې دخانداني منصوبه بندۍ افسران چې کومه تنخوا اخلي حرامه ده یا مکروه ده او که حلاله؟ دا هم چې طالبانو مسکینانو ته د هغو خلکو چای وغیره خوړل څنګه دي دا ډول د بینک د ملازمانو چای وغیره طعام خوړل مسکینانو ته څه حکم لري؟ **بینوا توجروا**

المستفتي: بهادر زمان مدرسه معهد القرآن مانسهره ۱۴۰۱ھ ۵/ ۲۴

الجواب: په دغه موده کې چې کوم ملازمان د شرع خلاف اقداماتو نه مامون

---

۱) وفي مجمع الأنهر: واعلم أنّ الأصل في الأشیاء كلّها سوى الفروج الإباحة ...إنّما تثبت الحرمة بعارض نص مطلق أو خبر مروی، فما لم یوجد شيء من الدلائل المحرمة فهي على الإباحة. (مجمع الأنهر ۲: ۵۶۸، كتاب الأشربة)

۲) قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالىٰ: الاعتبار للأم في الأضحیة والحل ...والحاصل أن المفهوم مما مرّ أن الولد تبع لأمه مطلقًا.
(رد المحتار ۳: ۱۳، كتاب العتق، قبیل مطلب أهل الحرب كلّهم أرقاء)

۳) وقال العلّامة ابن عابدین رحمه الله تعالىٰ: وفي الخانیة وغیرها، لبن المأكول حلال.
(رد المحتار ۵: ۳۲۴، كتاب الأشربة)

وي یا مامون کېدل غواړي د هغوی تنخوا حرامه نه ده،(۱) واضحه دې وي چې د مسکینانو طالبانو لپاره د ملازمانو یا د بینک له ملازمانو تر لاسه شوي خوراک او څښاک روا ده،(۲) وهو الموفق

بیر بهوټي او تېل ساهنه استعمال او د خرڅولو او اخیستلو حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې بهر بهوټي (د سور رنګ چینجي د پشه کال موسم کې له ځمکې راوځي د هغه تیل اکثر دواګانو کې استعمالیږي، وژل او استعمالول یې روا دي که ناروا؟

(۲) ایا د ساهنه تیل (د مرک غوندي لږ غټ ځناور ده. له وازدو څخه یې تیل جوړیږي، استعمال یې روا دی؟ دا هم چې د دغو شیانو خرڅول او اخیستل څه حکم لري؟ بینوا اتو جروا

المستفتي معین الدین قصور ... ۱۹۷۰،۴،۲۶

الجواب: د دغو خوړل حرام دي خو په زخم یې استعمالول روا دي. څکه چې فقهاء کرامو

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: كل أنواع الكسب في الإباحة سواء أنها بعد إن لم تكن بطريق محظور لا يذم بعضها وإن كان بعضها أفضل من بعض.
(ردالمحتار ۵:۳۲۸، كتاب الصيد)

۲) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (ويردونها على أربابها إن عرفوهم، وإلّا تصدّقوا بها، لأنّ سبيل الكسب الخبيث التصدّق إذا تعذر الردّ على صاحبه ...سئل أبوجعفر عمن اكتسب ماله من أمر السلطان والغرامات المحرمة، وغير ذلك هل يحل لمن عرف ذلك أن يأكل من طعامه؟ قال: أحبّ إليّ في دينه أن لايأكل ويسعه حكمًا إن لم يكن غصبًا أو رشوة.
(رد المحتار ۵: ۲۷۳كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

د حشرات الأرض صرف خوړل ممنوع کړي (هندية ۵: ۳۲۱)[۱] او له تحقيق سره سم د داسې دوايي بيعه جائز ده. يدلّ عليه ما في الهندية (۵: ۲۹۱)[۲] ځکه چې په دې کې نفع موجود ده (ويدلّ عليه ما في شروح الهداية ايضاً في باب مايكره من البيوع)[۳] وما في الشامي (۴: ۲۱۵)[۴] وهوالموفق.

د ښځې په زخم باندې د خاوند غوښه لګول يا وينه ورکول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې شرع متين دې باره کې چې (۱) د يوسرې ښځه مريضه وه، د ډاکټر په مشوره يې ښځې ته دوه بوتله وينه ورکړه آيا دا کار حرام دی که نه؟

---

۱) وفي الهندية: وكذلك ماليس له دم سائل مثل الحية والوزغ ...وجميع حشرات الأرض ... ولا خلاف في حرمة هذه الأشياء.

(فتاوى هندية ۵:۲۸۹، كتاب الذبائح، الباب الثاني في بيان ما يؤكل من الحيوان)

۲) وفي الهندية :(أكل الترياق يكره إذا كان فيه شيء من الحيات وإن باع ذلك جاز.

(فتاوى هندية ۵:۲۵۵ كتاب الكراهية، الباب الثامن عشر في التداوي والمعالجات)

۳) قال العلامة ابن الهمام رحمه الله تعالى: (قوله ولا بيع جلود الميتة قبل أن تدبغ لأنه غير منتفع بها) ... بخلاف الثوب النجس والدهن النجس فإن النّجاسة فيه عارضة فلا يتغير به حكم الثوب بما فيه ... فانّ بطلان البيع دائر مع حرمة الانتفاع وهي عدم المالية.

(فتح القدير ۶۲-۶۳:۶، باب البيع الفاسد)

۴) وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ويجوز بيع دهن نجس أى متنجس وينتفع به للاستصباح في غير مسجد. (در مختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وينتفع به للاستصباح) لأنّ الانتفاع به علّة جواز البيع. (شامي ۴:۲۳۹، مطلب في التداوي بالمحرّم)

خلک د حرامو نعرې وهي

۲، د یوې ښځې بدن باندې دبر زخم وې. نو مېره یې د ښځې د خپل ورانه غوښه برې کړې. په زخم یې ورته لګولې. هغه زخم روغ جوړ شوی: نو ددې څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفي مولانا اشراف الدین ... ۱۹۷۹، ۶ ، ۴

الجواب: د انسان له برخو ګټه اخیستل اګر که بې ضرورته حرام دي،[۱] خو د نکاح حرمت صرف د ښځې په شیدو سره راځي چې شیدې ښنونکي له دوه نیمو کالو نه نه وي اوښتي،[۲] نو دې دوارو صورتونو کې حرامبدل منقول دي. لعدم التغذي او نه معقول دي. بلکې په دې اصل ایات (**وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَاءَ ذَٰلِكُمْ**) په بنا باندې مردود دی. وصرّح بعدم الحرمة. مولانا مفتي محمد شفیع رحمه الله،[۳] وهو الموفق

---

۱) وفي المحيط البرهاني: الاستشفاء بالمحرّم إنّما لا يجوز إذالم يعلم أنّ فيه شفاء، أمّا إذا علم أنّ فيه شفاء وليس له دواء اخر غيره فيجوز الاستشفاء به.(المحيط البرهاني ۶:۱۱۶كتاب الاستحسان، الفصل التاسع عشر في التداوي والمعالجات)

۲) وفي الهندية: قليل الرضاع وكثيره إذا حصل في مدة الرضاع تعلق به التحريم وإذامضت مدة الرضاع لم يتعلق بالرضاع تحريم. (فتاوى هندية ۱:۳۴۲كتاب الرضاع)

۳) قال العلامة مفتي محمّد شفيع رحمه الله تعالى: د خاوند وينه د ښځې په بدن کې یا د ښځې وينه د خاوند په بدن کې داخلولو سره په نکاح باندې هيڅ اثر نه غورځوي، نکاح په خپل حال باقي وي، ځکه چې اسلامي شريعت محرميت د نسب، مصاهرت، رضاعت سره مخصوص کړی دی، ددې نه تجاوز کول صحيح نه دی او رضاعت سره د محرميت ثبوت هم د رضاعت مودې سره خاص دی، د رضاعت موده يعني يو نيم کال عمر نه پس شيدو ښنلو سره هم د رضاعت حرمت نه ثابتيږي، كما هو مصرح ومفصل في عامّة كتب الفقه. والله سبحانه وتعالى أعلم. (انسانی اعضاء کی پیوند کاری ص ۲۸شوہر، بیوی کے خون کا باہم تبادلہ)

د خـــرې د شيدو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ماشومانو ته د يو خاص مرض د علاج لپاره د خرې پي ورکول کيږي. ايا دا روادي؟ بينوا توجروا

المستفتي مولانا عبد الهادي مقام گندف صوابی ... ۱۹۸۸/۱/۱۹

الجواب: که له تجربې نه د شيدو تاثير ثابت وي، نو د اعتراض قابل نه دي او که نه نو مکروه دي (۱) **وهوالموفق**

د پوسټ مارټم (مرګ نه پس معاينې) شرعي حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د مقتول پوسټ مارټم شرعاً څه حکم لري؟ بينوا اتوجروا

المستفتي مولوي اسرائيل تاروجبه نوشهره ... ۲۳ شعبان ۱۴۰۲هـ

الجواب: پوسټ مارټم حرام دی. د انګريزانو سنت سيئه دی. په دې کې مړي ته بې پردګي او له ايذاء، نه بل هيڅ مصلحت نشته. صرف د توهم له وجې نه دا اقدام ناروا اقدام دی. (۲) **وهوالموفق**

---

۱) وفي الهندية :وتكره ألبان الأتان للمريض وغيره وكذلك لحومها وكذلك التداوي بكل حرام ... يجوز للعليل شرب الدم والبول وأكل الميتة للتداوي إذا أخبره طبيب مسلم أنّ شفاءه فيه ولم يجد من المباح ما يقوم مقامه وإن قال الطبيب يتعجل شفائك فيه وجهان. (فتاوى هندية ٥:٣٥٥، كتاب الكراهية، الباب الثامن عشر في التداوي والمعالجات) (ومثله في الدر المختار ٥ : ٢٣٩، كتاب الحظر والإباحة)

۲) قال العلامة محمّد بن أحمد السرخسي رحمه الله تعالى : والآدمي محترم بعد موته على ما كان عليه في حياته ... قال النبي ﷺ كسر عظم الميت ككسر عظم الحي. (شرح السير الكبير ١ : ١٢٨، باب دواء الجراهة)...(پاتې حاشيه په بل مخ)

پوست مارتيم باندې پابندي حکومتي ذمه واري ده

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د صوبائي اسمبلي حکومت په زورغوښتنه کوي چې پوست مارتيم کې انساني سپکاوی کيږي او شرعاً دا نا روا هم ده. لهذا په دې پابندي لګول پکاري دي. د قانون د ضرورتونو پوره کولو لپاره دې د قانون ماهران متبادل لاره پيدا کړي. ددې قرار داد څه حکم دی؟ بينوا توجروا

المستفي: سيد سردار عالم باچا صاحب ممبر صوبائي اسمبلي

صوبه سرحد ۱۹۸۵ء/۱۱/۱۸

الجواب: دا قرارداد واجب العمل دی، هره اسمبلي باندې ضروري ده چې دا منظور کړي او د مغربيت دغه لعنت ختم کړي .[۱] **وهوالموفق**

د پرائيوټ کمپاونډري حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې نن سبا د پرائيويټ

(د حاشيې باتې برخه) وفي المرقاة، (عن عائشة رضي الله تعالى عنها أن رسول الله ﷺ قال: كسر عظم الميت ككسره حيا)، يعني في الإثم كما في رواية، قال الطيبي إشارة إلى أنه لايهان ميتا كما لايهان حيا، قال ابن الملک وإلى أن الميت يتألم ... وقد أخرج ابن أبي شيبة عن ابن مسعود رضي الله تعالى عنه قال: أذى المؤمن في موته كأذاه في حياته.

(مرقاة المفاتيح ۴:۷۹، كتاب الجنائز، باب دفن الميت)

۱) قال الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالى: حدد الفقهاء واجبات الإمام أو وظائفه بعشرة أمور أساسية ...أولا: حفظ الدين أى المحافظة على أحكامه وحماية حدوده وعقاب مخالفيه، قال الماوردي حفظ الدين على أصوله المستقرة وما أجمع عليه سلف الأمة. (الفقه الإسلامي وأدلته ۸: ۶۱۸۵، المبحث الخامس، وظائف الإمام)

کمپاوندري څه حکم دی؟ بينوا اتو جروا

المستفي طاهر ميډيکوز سره ډهيری چارسده...... ۲۹/ شعبان ۱۴۰۲ هـ

الجواب: اهل فن چې دا کومه درجه کې شميري نو هغه شرعاً منظوره ده.[۱]

وهوالموفق

مسلمان ته د کافر د زړه حصه لګول او جنت ته د تللو مسئله

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې که د يو مسلمان زړه خراب شي او بيا اپريشن وکړي او د هغه مسلمان زړه کې د کافر د زړه يوه ټوټه ولګول شي او د ژوندون هيله هم پيدا شي د قيامت په ورځ به جنت ته ځي که نه؟ حال دا چې هغه کافر د کفر په حالت کې مردار شوی؟ بينوا توجروا

المستفي مولانا عطاء الله واحدي افغاني شريک دوره حديث

۲۱/ شعبان ۱۴۰۲هـ

الجواب: دغه پيوندکاري کې د جواز اوعدم جواز قطع نظر د قواعدو له مخې د پوښتل شوي مسئلې حکم دا دی چې مسلمان ته به هلته د زړه بله برخه ورکول کيږي. لکه څنګه چې نورو ناقص الأبدان مسلمانانو ته به پوره بدن ورکول کيږي.[۲] **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالیٰ: سئل في رجل به داء في ظهره اتفق مع طبيب على مداواته وجعل له أجرة ولم يضرب له مدة وداواه ويريد الطبيب أجرة مثله وما أنفقه في ثمن الأدوية فهل له ذلک؟
(الجواب) نعم! والمسئلة في الخيرية من الإجارة.
(تنقيح الحامدية ۲: ۱۵۱، کتاب الإجارة)
(ومثله في الخيرية على هامش تنقيح الحامدية ۲: ۱۸۲، کتاب الإجارة)

۲) وفي المرقاة: لاخلاف أن أهل الجنة كلّهم كاملون في الخلق والخلق جميعا ... أن رسول الله ﷺ قال: ينادى مناد أى في الجنة أن لكم أن تصحوا أى تكونوا صحيحى البدن دائماً فلا تسقموا أى فلاتمرضوا. (مرقاة المفاتيح ۱۰: ۳۲۴، باب صفة الجنّة وأهلها)

په شرابو علاج کول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې بنده له پنځلس کالو راهيسې ناروغ دی اوس مې دوه ويشت کاله عمر دی. ډاکټر علاج بالمحرم يعنې د شرابو استعمالولو وايي. ايا زما لپاره دا روا دي؟ **بينوا توجروا**

المستفتي عماد الدين کټې خېل ..... ۲۴ / ذی الحجه ۱۹۷۴ء

الجواب: که تجربه کار مسلمان ډاکټر رايه ورکړه چې دا مريض بې له حرامې دوايي نه په بله طريقه نه جوړيږي. يا دغه مريض نوره دوايي هم لري. خو هغه د پروخت نيسي نو دې صورت کې علاج بالمحرم کې مواخذه نشته.[۱] **وهوالموفق**

چا ته د سترګې وصيت کول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې يو سړی د مرينې په وخت کې دا وصيت وکړي چې زما ساه ووځي نو سترګه مې وباسئ بل محتاج ته يې ولګوئ ترڅو چا ته فايده ورسيږي. ايا دا روا ده که ناروا؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: مسيح الله مئ۱۹۸۳ء

الجواب: داسې وصيت کول او دا پوره کول حرام او ناروا دي. يدلّ عليه ما

---

۱) وفي الهندية: يجوز للعليل شرب الدم والبول وأكل الميتة للتداوي إذا أخبره طبيب مسلم أن شفاءه فيه ولم يجد من المباح ما يقوم مقامه، وإن قال الطبيب يتعجل شفاءک فيه وجهان، هل يجوز شرب القليل من الخمر للتداوي إذا لم يجد شيئا يقوم مقامه فيه وجهان.

(فتاوى هندية ۵:۲۵۵، كتاب الكراهية، الباب الثامن عشر في التداوي الخ)

فی فتاوی قاضی خان: مضطر لم یجد میتة وخاف الهلاك فقال له رجل اقطع یدی وکلها لا یسعه ان یفعل ذلك ولا یصح امره به کما لا یسع للمضطر ان یقطع قطعة من لحم نفسه فیأکل (١) انتهی، وجه الدلالة انه لما لم یجز الأکل والحال ان دفع الجوع به متیقن لکان التداوی به أولی بعدم الجواز لکون الشفاء به مظنوناً. **وهوالموفق**

د ضرورت په وخت د څلورو میاشتو مخکې اسقاط حمل روا دی

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ایا اسقاط حمل حرام دی یا په کوم وخت کله روا دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: جلال الدین غازی ضلع ایبټ آباد .... ١٩ جولائی ١٩٧٩ء

الجواب: څلور میاشتې پوره کېدو نه مخکې اسقاط حمل عندالعذر روا دی. کمافي رد المحتار ۶ ۴۲۹ قبیل کتاب إحیاء الموات (٢). **وهوالموفق**

---

١) (فتاوى خانية على هامش الهندية ٢:٤٠٤ كتاب الحظر والإباحة)

وفي الهندية: الانتفاع بأجزاء الآدمي لم يجز قيل للنجاسة وقيل للكرامة وهو الصحيح كذا في جواهر الأخلاطي.

(فتاوى هندية ٥:٣٥٤، كتاب الكراهية، الباب الثامن عشر في التداوي الخ)

٢) وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: قالوا يباح لها أن تعالج في استنزال الدم ما دام الحمل مضغة أو علقة ولم يخلق له عضو وقدروا تلك المدة بمائة وعشرين يوماً وجاز لأنه ليس بآدمي وفيه صيانة الآدمي (خانية).

(رد المحتار ٥:٣٠٥، كتاب الحظر والإباحة، قبيل كتاب إحياء الموات)

وفي البحر: امرأة عالجت في إسقاط ولدها لا تأثم مالم يستبن شيء من خلقه.

(البحر الرائق ٨:٢٠٥، كتاب الكراهية، فصل في البيع وخصي البهائم)

له زنا څخه د حاملې ښځې حمل غورځول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې يوه ښځه له زنا څخه حامله شي ډاکټر ته دوايي لپاره لاړه شي ترڅو اسقاط حمل وکړي دا جائز دی که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي حافظ عبد الوارث دی آئی خان ... ۱۴۰۱هـ ۵/ ۱۷

الجواب: له څلورو مياشتو د کم حمل اسقاط جائز دی. خصوصاً کله چې د فتنې خطره وي.

کما فی ردالمحتار ۵: ۳۷۹ قالوايباح لها ان تعالج فی استنزال الدم مادام الحمل مضغة اوعلقة ولم يخلق له عضووقدرواتلك المدة بمائةوعشرين يومًا وجاز لأنه ليس بآدمی وفيه صيانة الآدمی. (خانية)(۱) وهوالموفق.

د دوباره حمل مضر کېدو په صورت کې د اسقاط حمل حکم

سوال: څه وايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د اپريشن په ذريعه د يوې ښځې له خېټې ماشوم وباسي ډاکټران هم ورته وايي چې که دوباره حمل وشو د مرينې لامل به جوړيږي. په دې صورت کې که خاوند د دوايانو په ذريعه اسقاط حمل وکړي نو شريعت کې يې حکم څه دی؟ بينوا توجروا

المستفتي مولوي رسول سيد مدرس أتمانزي چارسده... ۶/ شعبان ۱۳۹۵هـ

---

۱) (رد المحتار ۵:۳۰۵ کتاب الحظر والإباحة، قبيل کتاب إحياء الموات)

وفي الهندية: يباح لها أن تعالج في استنزال الدم ما دام نطفة أومضغة أوعلقة لم يخلق له عضو وخلقه لا يستبين إلّا بعد مائة وعشرين يومًا أربعون نطفة وأربعون علقة وأربعون مضغة كذا في خزانة المفتين. (فتاوی هندية ۵:۳۵۶، کتاب الكراهية، الباب الثامن عشر في التداوي والمعالجات وفيه العزل وإسقاط الولد)

الجواب: په داسې جزئي مقاماتو کې څه تدبير کول چې حمل پاتې نه شي روا دی. لأنه كالعزل في الامتناع عن الحمل ( ) ولأنه لما جاز الإسقاط عند الضرورة ( ) فالإمتناع يكون أولى بالجواز. وهو الموفق (۲)

دانساني اندامونو پيوند کاري اوپکې دتجربې کولو اړوند بېلا بېلې پوښتنې

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې مکتبونو کې انساني ډانچې د هائجين فرياولوجي مضمون کې دي. له ياد شوي مضمون څخه طلبه د طبي کارونو لپاره استفاده کوي. له دې پرته خيبر ميډيکل کالج. پشاور يونيورستي کې تازه انساني مړي د طبي څېړنې لپاره يو خاص تالاب کې هر وخت پراته وي. لهذا له تاسو نه مؤدبانه غوښتنه ده. چې دې مسئلې باره کې د اسلام چې يو لوی مذهب دی څه حکم ورکوي؟ (۱) ايا دا د انساني مړي بې حرمتي نه ده؟

(۲) ايا دا انسان (مړی) په خپله په دې ګناه (په دې شرط چې ګناه وي) مرتکب کيږي. موجوده خلک

---

۱) قال العلامة ظفر أحمد العثماني رحمه الله تعالى: عن جابر رضي الله تعالى عنه قال كنا نعزل على عهد رسول الله ﷺ والقرآن ينزل. متفق عليه.

أقول: دلت الأحاديث على أن العزل جائز ... أخذ في النهر من هذا وممّا قدمه الشارح عن الخانية والكمال أنه يجوز للمرأة سدّ فم رحمها كما تفعله النساء ... نعم! النظر إلى فساد الزمان يفيد الجواز من الجانبين. (إعلاء السنن ۱۷:۳۹۸-۴۰۹، كتاب الحظر والإباحة، باب جواز العزل، حكم احتيال المرأة لقطع الحمل)

۲) وفي الهندية: العلاج لإسقاط الولد إذا استبان خلقه كالشعر والظفر ونحوهما لا يجوز وإن كان غير مستبين الخلق يجوز.

(فتاوى هندية ۵:۳۵۶، كتاب الكراهية، الباب الثامن عشر في التداوي والمعالجات)

دا په استعمال کې راوړی شي؟

(۳) ایا د اسلام له نظره دا روا دي؟

(۴) که دا نیک کار وي چې د بنیادمو په مفاد کې راشي نو جزاء به د چا په حق کې وي؟

(۵) ایا کوم انسان له مړ کېدو مخکې خپلې سترگې یاد بدن کوم اندام وروسته له وفاته چا ته ورکولی شي؟ بینوا توجروا

المستفتي بختیار گل ملنگ بکر مردان ... ۱۹۶۹ء/۱۰/۹

الجواب: (۱) «څه چې خاننه نه خوښوې. بل ته یې هم مه خوښه» دا خپله کړنلاره گرځول د مسلم شان دی او دا رویه په حدیثونو کې هم تائید شوې.
قال رسول الله ﷺ كل المسلم على المسلم حرام دمه وماله وعرضه (رواه مسلم)(۱) وقال عليه الصلوة والسلام وأن تحب للناس ما تحب لنفسك (رواه أحمد)(۲) وقال رسول الله ﷺ كسر عظم الميت ككسره حياً، (رواه مالك)(۳) وقال الطيبى اشارة إلى انه لا يهان الميت، وقال عبدالله بن مسعود رضي الله عنه أذى المؤمن فى موته كأذاه فى حياته (رواه ابن أبي شيبه)(۴) دا رنگه خلفاً او سلفاً اسلام کې دا معمول راروان دی. چې مړي دي له غسل نه بعد کفن و دفن کړل شي لهذا تالاب کې یې ساتل خلاف تعامل او خلاف اجماع ده (۵)

---

۱) (صحیح المسلم ۲:۳۱۷ باب تحريم ظلم المسلم وخذله وإحتقاره ودمه وعرضه)

۲) (مشكوة المصابيح ۴۴۰ كتاب الرقاق)

۳) (موطا الإمام مالك ۲۲۰ كتاب الجنائز، باب ما جاء في الإختفاء وهو النبش)

۴) (مرقاة المفاتيح ۴:۷۹ باب دفن الميت)

۵) قال العلامة وهبة الزحيلي رحمه الله تعالى: تكفين الميت فرض كفاية....

(د حاشيې پاتې برخه په بل مخ....

(۲) که په ژوندیني دغه سړي خپل ځان بې عوضه یا په عوض دې محکمې ته حواله کړی وي او اجازه يې ورکړي وي؛ نو دواړه مجرمان دي که نه استعمالونکی يې مجرم دی. لأن البیع والهبة یجریان فی المال والحر والمیتة لیستا بمالین.(۱)

(۳) دا کار هیڅکله نیکي نشي جوړیدای (لما مرّ) دا یې ضرورت نه هم دي. ځکه چې له ربړ او پلاسټک وغیره نه مصنوعي اندامونه مقصود کیدای شي چې بیل بیل اندامونه وساتل شي. دانسان له شکل نه ځان ساتل پکار دي. په دې کې غریبو انسانانو ته لويې خطرې دي.

(۴) د بنیادمو د سیکاوی په صورت کې دا مفاد له اسلام نه معتدبه نه دی او په معالجوي مهارتونو کې يې له دې نه هم متحقق دي او مرګ نه خلاصدل او خلاصول د اجازت په صورت کې هم غیرمتحقق دی.(۲)

(۵) دا په امانت کې خیانت دی ځکه چې انسان ددې د خرڅولو او هبه کولو مجاز نه دي.(۳) وهوالموفق

دتیرمخ پاتې حاشیه) علی جماعة المسلمین ... أجمع الفقهاء علی أن دفن المیت فرض علی الکفایة لأنّ في ترکه علی وجه الأرض هتکاً لحرمته ویتأذّی النّاس من رائحته. (الفقه الإسلامي وأدلته ۲:۱۴۹۸،۱۵۴۷، تکفین المیت، دفن المیت)

۱) قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: وشرط المعقود علیه ستة کونه موجوداً مالاً متقوماً ... فلم ینعقد بیع المعدوم ... ولا بیع الحر ... والمیتة. (رد المحتار ۴:۶، کتاب البیوع، مطلب شرائط البیع)

۲) وفی الخانیة: قاضی خان: مضطر لم یجد میتة وخاف الهلاک فقال له رجل اقطع یدی وکلها لا یسعه أن یفعل ذلک ولا یصح أمره به کما لایسع للمضطر أن یقطع قطعة من لحم نفسه فیأکل (فتاوی خانیة علی هامش الهندیة ۲:۴۰۴ کتاب الحظر والإباحة)

۳) قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: والآدمي مکرم شرعاً وإن کان کافراً فإیراد العقد علیه وابتذاله به وإلحاقه بالجمادات إذلال له، اه أی وهو غیر جائز، وبعضه في حکمه، وصرح في فتح القدیر ببطلانه. (رد المحتار ۴:۱۱۷، کتاب البیوع، باب البیع الفاسد، مطلب الآدمي مکرم شرعاً ولو کافراً)

د ضرورت وخت کې په حرام شي باندې علاج

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې په حرام شي شراب و غيره سره د مريض علاج کول ناروا دي که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي فخرالدين غورغوشتوي

الجواب: علاج بالمحرم عند الضرورة روا دی. بې ضرورته روا نه دی (۱) **وهوالموفق**

په جند بيد ستر باندې د علاج کولو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې جند بيد ستر (لدهر کې خصيې) چې بوه دوايي ده. د علاج په توګه استعمالول څنګه دي بينوا توجروا

المستفتي: معين الدين قصور... ۱۹۷۰،۴،۲۶

الجواب: چونکې دا نجس او مکروه دي. لهذا بې شرعي ضرورته ددې له استعمال نه اجتناب پکار دی (۲) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :(قوله وجوزه في النهاية) ونصه في التهذيب يجوز للعليل شرب البول والدم والميتة للتداوي إذا أخبره طبيب مسلم أن شفاءه فيه ولم يجد من المباح ما يقوم مقامه، وإن قال الطبيب يتعجل شفائک به، فيه وجهان.

(رد المحتار ۵:۲۷۵ كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

۲) وفي المحيط البرهاني : الإستشفاء بالمحرم إنّما لايجوز إذالم يعلم أنّ فيه شفاء، أما إذا علم أنّ فيه شفاء وليس له دواء اخر غيره فيجوز الإستشفاء به.(المحيط البرهاني ۶:۱۱۶، كتاب الاستحسان، الفصل التاسع عشر في التداوي والمعالجات)

پردې ښځې ته د ویني ورکولو وروسته د نکاح حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د سړي او ښځې نکاح نه وي شوې. که دوی خپلو کې يو بل ته د ضرورت په اندازه وينه ورکړي نو د دواړه نکاح خپلو کې کېږي که نه؟

(۲) يو ازاد سړي له چا واده شوې ښځې ته وينه ورکول څنګه دي؟ او اوس د واده شوې حصه کې د هغه څه حصه کېږي يا نه؟ بينوا توجروا

المستفتي قاضي عبداللطيف سوات ۱۹۸۶ء ۶ ۲۲

الجواب: کوم مريض ته وينه ورکول علاج بالمحرم ده کوم چې د ضرورت په وخت روا ده.(۱) له ضرورت نه مراد دا ده چې بې له ويني ورکولو کې د زندګی اميد نه وي او يا د مرض اوږديدو غالب ګمان وي او په وينه حرمت راتلل د هيڅ مذهب هم نه دي دا حرمت صرف د شيدو پيدا کيږي. چې د څښونکي عمر له دوه نيم کالو نه وي.(۲) شيدې ورکول او وينه ورکولو کې د غذائيت ښکاره فرق دی (۳) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وجوّزه في النهاية بمحرم) ونصه في التهذيب، يجوز للعليل شرب البول والدم والميتة للتداوي اذا أخبره طبيب مسلم أنّ شفاء ه فيه ولم يجد من المباح ما يقوم مقامه.(ردالمحتار ۵: ۲۷۵کتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ويثبت التحريم في المدة فقط ولو بعد الفطام. (الدر المختار،۴۳۸۲،باب الرضاع)

۳) عن عائشةرضي الله تعالى عنها أن النبي ﷺ دخل عليها وعندها رجل فكأنّه تغير وجهه كانه كره ذلك، فقالت إنّه أخي فقال انظرن من إخوانكنّ فإنّما الرضاعة من المجاعة. (صحيح البخاري ۲:۸۶۴، باب من قال لارضاع بعد حولين)

ښځې ته وينه ورکولو باندې رضاعت نه ثابتيږي

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ښځه بيمار خاوند ته وينه ورکولای شي که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي مولوي حکيم عبدالقيوم پېښاور.... ۱۲/ذي الحجه ۱۳۹۷ھ

الجواب: د ضرورت وخت کې په وينه علاج کول روا دي،(۱) او ښځه خاوند ته وينه ورکولای شي، رضاعت تر خاص وخت پورې محدود دی.(۲) **وهوالموفق**

د ضرورت وخت کې وينه ورکول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې له يو انسان نه بل زخمي ته وينه ويستل او ورکول شرعاً روا که نا روا دي؟ بينوا توجروا

المستفتي مسيح الله.... ۱۸/مي ۱۹۸۳ء

---

۱) وفي الهندية: يجوز للعليل شرب الدم والبول وأكل الميتة للتداوي إذا أخبره طبيب مسلم أن شفاءه فيه ولم يجد من المباح ما يقوم مقامه.
(فتاوى هندية ۵:۲۵۵، كتاب الكراهية، الباب الثامن عشر في التداوي الخ)

۲) قال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالى: قليل الرضاع وكثيره سواء إذا حصل في مدة الرضاع يتعلق به التحريم ... ثم مدة الرضاع ثلثون شهراً عند أبي حنيفة رحمه الله تعالى، وقالا سنتان ... وإذا مضت مدة الرضاع لم يتعلق بالرضاع تحريم، لقوله عليه الصلوة والسّلام: "لارضاع بعد الفصال".
(الهداية ۲: ۳۵۰، كتاب الرضاع)

الجواب: د ضرورت په وخت وینه ورکول جائز دي.(۱) لانه لایقال له العضو والجزء عرفاً فیکون کاللبن والمنی وللعاب ونظیره جواز کتابة القران بالدم عند الضرورة کما فی الحاوی القدسی.(۲) وهوالموفق

د خنزیر له وازدې جوړ شوي کپسول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې کپسولو کې یو شی «جلاتین»(۳) وي چې د خنزیر وازده پکې ګډه وي. ایا دا د کپسولو په شکل کې روا کېږي؟ بینوا توجروا

المستفتی نظام الدین متعلم حقانیه... ۱۹۸۶ء/۲/۱۰

الجواب: که د کوم بیمار علاج بې له دې کپسولو نه کېدای نشو یا بطبيَ

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: يجوز للعليل شرب البول والدم والميتة للتداوي إذا أخبره طبيب مسلم أنّ شفاءه فيه ولم يجد من المباح ما يقوم مقامه.

(ردالمحتار ۵: ۲۷۵، كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

۲) في الحاوي القدسي: وان سال الدم من أنف انسان، ولم ينقطع حتى خشي على موته، وقد علم بالتجربة أنه لو كتب فاتحة الكتاب والاخلاص بذلك الدم على جبهته، نقطع، لا يرخص له. وقيل يرخص كما رخص في شرب الخمر للعطشان، أكل الميتة في المخمصة، وهو الفتوى.

(الحاوی القدسی ۳۲۰، كتب الاستحسان في الحظر والاباحة، باب في أنواع متفرقة)

(ومثله في الفتاوی الهندية ۵:۳۵۶، كتاب الكراهية، الباب الثامن عشر في التداوي الخ)

۳) جلاټين یوه داسې غوړه ماده ده چې د حیواناتو د هډوکو او وازدو څخه ویستل کیږي. (فیروز اللغات ص ۴۶۷)

الناثير وي. نو د دغه کپسول استعمال جائز ده که نه؟ (و أصله العلاج بالمحرم)(١) وهوالموفق

دم مسفوح باندې علاج کول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د خرګوش، سوي وينه چې د حلالي وخت کې وبهيږي، دم مسفوح، رانجو کې ګډول سترګو کې لګول جائز دي که نا جائز؟ د بهيدلې وينې استعمال کوم حال کې روا دى؟ مثلاً کوم ډاکټر يو مريض ته وايي چې فلانى دم مسفوح کې دوا ګډوي او د صحت هيله کيداى شي او که نه لا علاجه دى؟ بينوا توجروا

المستفتي: اعجاز علي جامعة رشيديه ميانولي...... ۱۹۷۶ء۹/۹

الجواب: دا صورت د علاج بالمحرم ده په دې کې د علاج بالمحرم شرائطو کې رعايت ضروري ده. چې کله له دې محرم نه علاوه نوره دوايي نه پيدا کيږي خو زر اثر نه کوي. فليرجع الى ردالمحتار.(٢)وهوالموفق.

---

١) قال العلامة ابن عابدين: (قوله وجوزه في النهاية) ونصه في التهذيب: يجوز للعليل شرب البول والدم والميتة للتداوي إذا أخبره طبيب مسلم أن شفاء ه فيه ولم يجد من المباح ما يقوم مقامه وإن قال الطبيب يتعجل شفاء ک به، فيه وجهان.
(رد المحتار ٥:٢٧٥، كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

٢) وفي شرح المجلة: الضرورات تبيح المحظورات يعنى أن الممنوع شرعاً يباح عند الضرورة ... كأكل الميتة والدم ... فهذه الأشياء تباح عند الاضطرار لقوله تعالى: إلّا مااضطررتم إليه. (شرح المجلة ١:٥٥، المادة:٢١)
وفي الهندية: يجوز للعليل شرب الدم والبول وأكل الميتة للتداوي إذا أخبره طبيب مسلم أنّ شفاء ه فيه ولم يجد من المباح ما يقوم مقامه وإن قال الطبيب يتعجل شفائک فيه وجهان. (فتاوى هندية ٥:٣٥٥، كتاب الكراهية، الباب الثامن عشر في التداوي الخ)

غاښ ډکول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې غاښ ډکول روا که ناروا دي؟ بينوا توجروا

المستفتي ذوالفقار علي صوابي... ۱۹۸۹،۹،۱۹

الجواب: غاښ ډکول غير ممنوع علاج ده (۱) او دا د جنابت غسل لپاره ضرر نه رسوي (۲) **وهوالموفق**

غاښ ډکول د جنابت غسل لپاره ممنوع نه دي

سوال: څه فرمايي علماء کرام د ې مسئلي باره کې چې غاښ په مساله ډکول روا دي که نا روا؟ او دا د جنابت غسل لپاره ممنوع دي بينوا توجروا

المستفتي ساقي محمد کامل پور نوشهره... ۲۴ ذي القعده ۱۹۸۴،

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى : ولا يشدّ سنه المتحرك بذهب بل بفضة وجوزهما محمّد رحمه الله ". (در مختار).

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : (قوله وجوّزهما محمّد) أى جوز الذهب والفضة: أى جوز الشد بهما وأما أبو يوسف رحمه الله، فقيل معه وقيل مع الإمام ... وعلى هذا الاختلاف إذا جدع أنفه أو أذنه أو سقط سنه، فأراد أن يتخذ سناً آخر، فعند الإمام يتخذ ذلك من الفضة فقط وعند محمّد من الذهب أيضا.

(ردالمحتار ۵:۲۵۵، كتاب الحظر والإباحة، فصل في اللبس)

۲) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى : ولو كان سنه ...(پاتي حاشيه په بل مخ)

الجواب: له سوري غاښ نه مساله لرې کولو کې حرج ده نو اوبه رسول ورته ضروري نه دي، غسل يې کيږي (۱) **وهوالموفق**

رانده ته سترګه بدل نا روا دي

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې له مرګ وروسته که زه خپلې سترګې يو راندہ ته وبښم ايا دا روا دي؟ که رواوي نو ثواب پکښې شته او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي توکل خان پلازه چنار ... ۱۴۰۱هـ ۶/۳۰

الجواب: د انساني اندامونو پيوند کول د ضرورت په وجه هم روا نه دي. ځکه چې په دې کې د انسان هغه عزت نه پاتې کيږي. چې الله تعالى ورکړى دى. لهذا سترګې هم په دې حکم کې شاملې دي (۲) **وهوالموفق**

(د حاشيې پاتې برخه) مجوفاً أو بين اسنانه طعام أو درن رطب يجزيه ...... وما على ظفر الصباغ يمنع، وقيل لايمنع للضرورة، قال في المضمرات، وعليه الفتوى. (البحر الرائق، ۱: ۴۷، كتاب الطهارة)

وفي الهندية: والطين في الظفر لا يمنع والصرام والصباغ ما في ظفرهما يمنع تمام الاغتسال وقيل كل ذلک يجزيهم للحرج والضرورة ومواضع الضرورة مستثناة عن قواعد الشرع.

(فتاوى هندية ۱: ۱۳ الباب الثاني في الغسل)

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: لا يمنع ما على ظفر صباغ ولا طعام بين أسنانه أو في سنه المجوف به يفتى، وقيل إن صلبا منع، وهو الأصح.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (وهو الأصح) صرح به في شرح المنية، وقال لامتناع نفوذ الماء مع عدم الضرورة والحرج. (الدرالمختار ۱: ۱۱۴، أبحاث الغسل)

۲) وفي الهندية: الانتفاع بأجزاء الآدمي لم يجز قيل ...(پاتې حاشيه په بل مخ)

حمل نه پاتې کېدو لپاره رحم لرې کول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د کومو ښځو اپرېشن باندې اولاد کېږي، يعنې حمل يې بې عملياته نشي کېداى. د هغې له دريم کمکي نه وروسته د رحم لرې کول روا دي که نا روا؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد مختيار خان ټيکسلا.... ۴۹ / جمادى الاول ۱۴۰۳ هـ

الجواب: کله چې د هلاکت خطره نه وي نو اپرېشن ممنوع ده. (۱) **وهوالموفق**

(د حاشيې پاتې برخه) للنجاسة وقيل للكرامة وهو الصحيح كذا في جواهر الأخلاطي. (فتاوى هندية ۵:۳۵۴ كتاب الكراهية، الباب الثامن عشر في التداوي الخ)

ويدل عليه ما في فتاوى قاضي خان: مضطر لم يجد ميتة وخاف الهلاک فقال له رجل اقطع يدي وكلها لا يسعه أن يفعل ذلک ولا يصح أمره به كما لا يسع للمضطر أن يقطع قطعة من لحم نفسه فيأكل. (فتاوى خانية على هامش الهندية ۳:۴۰۴، كتاب الحظر والإباحة)

۱) قال عبد الله رضي الله تعالى كنا نغزوا مع رسول الله ﷺ وليس لنا شيئٌ فقلنا: ألا نستخصي؟ فنهانا عن ذلک الخ.
(صحيح البخاري ۲:۷۵۹ باب مايكره من التتبل والخصاء)

وقال الحافظ العسقلاني رحمه الله تعالى: والحجة فيه أنهم اتفقوا على منع الجب والخصاء، فيلحق بذلک مافي معناه من التداوي بالقطع أصلا.
(فتح الباري ۹:۱۱۱، كتاب النكاح، باب قول النبي ﷺ من استطاع الباءة فليتزوج)

وفي الأشباه والنظائر: الضرورات تبيح المحظورات.
(الأشباه والنظائر ص ۸۵، الضرر يزال)

وفي الهندية: لابأس بقطع العضو إن وقعت فيه الأكلة، لئلا تسرى.
(فتاوى هندية ۵:۳۶۰، كتاب الكراهية، الباب الحادي والعشرون فيما يسع من جراحات بني آدم)

نسل بندي يا بنځې عملياتول

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره کې چې نسل بندي يا د بنځې عمليات روا دی که ناروا؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد مختيار خان ټيكسلا ..... ۲۹ / جمادی الاول ۱۴۰۳ھ

الجواب: بې له شرعي ضرورته نا روا دی. (۱) پرته له خاونده نورو ته اندامونه ښکارول بې له سخت ضرورته ناروا دي (۲). **وهوالموفق**

---

۱) قال عبد الله رضي الله تعالى كنا نغزوا مع رسول الله ﷺ وليس لنا شئى فقلنا، ألا نستخصي؟ فنهانا عن ذلك الخ.
(صحيح البخاري ۲:۷۵۹،باب مايكره من التبتل والخصاء)
وقال الحافظ أحمد بن على بن حجر العسقلاني رحمه الله تعالى: والحجة فيه أنهم اتفقوا على منع الجب والخصاء، فيلحق بذلك مافي معناه من التداوي بالقطع أصلا.
(فتح الباري ۹:۱۱۱، كتاب النكاح، باب قول النبي ﷺ من استطاع الباء ة فليتزوج)
وفي الهندية: خصاء بني آدم حرام بالاتفاق.
(فتاوى هندية ۵:۳۵۷كتاب الكراهية، الباب التاسع عشر في الختان والخصاء الخ)
۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: (وينظر الرجل من الرجل سوى ما بين سرته إلىٰ ما تحت ركبته ومن عرسه وأمته الحلال له وطؤها (إلىٰ فرجها بشهوة وغيرها)، (در مختار)
وقال العلامة الشامي رحمه الله تعالى: (قوله من عرسه وأمته) فينظر الرجل منهما و بالعكس إلىٰ جميع البدن من الفرق إلى القدم ولو عن شهوة، لأن النظر دون الوط ء الحلال. (ردالمحتار ۲۵۹-۵:۲۵۸كتاب الحظر والإباحة، فصل في النظر والمس)

عملیات نه بغیر حمل په مستقله توګه باندې بندول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې يو سړی عيالدار دی، ښځه يې مريضه ده. ترڅه موده راهيسې هغه حمل غورځوي، اته بچي يې زېږولي، نو څنګه دا اسقاط حمل روا دی که ناروا؟ که په مستقله توګه حمل بند کړي نو بيا څه حکم لري؟ بينوا توجروا

المستفي: احمد جان استاد مقام صريخ ضلع صوابی

الجواب: د سخت ضرورت په وجه، چې کله د سخت مريض کېدو يا مړه کېدو خطره وي، د حمل د مخنيوي تدبير کولای شي [۱] او حمل د څلورو مياشتو نه وړاندې ليرې کولای شي [۲]، هو! اپرېشن په هر صورت منع دی. [۳] **والله أعلم بالصواب.**

د ډاکټر جوړه دوايي نه د مړ کېدو په صورت کې د ضمان حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ځينې وختونه ډاکټر مريض ته

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : إن خاف من الولد السوء في الحرة يسعه العزل بغير رضاها لفساد الزمان، فليعتبر مثله من الأعذار مسقطا لإذنها.
(رد المحتار ۲:۴۱۲ كتاب النكاح، مطلب في حكم العزل)

۲) وفي الهندية : العلاج لإسقاط الولد إذا استبان خلقه كالشعر والظفر ونحوهما لايجوز، وإن كان غير مستبين الخلق يجوز ... وخلقه لايستبين إلّا بعد مائة وعشرين يومًا. (فتاوى هندية ۵:۳۵۶ كتاب الكراهية، الباب الثامن عشر في التداوي الخ)

۳) قال الحافظ ابن حجر العسقلاني رحمه الله تعالى : والحجة فيه أنهم اتفقوا على منع الجب والخصاء فيلحق بذلك ما في معناه من التداوي بالقطع أصلا.
(فتح الباري ۹:۱۱۱، كتاب النكاح، باب قول النبي ﷺ من استطاع الباءة فليتزوج)

دوا جوړه کړي او له هغې مريض مړ شي نو څه حکم لري ؟ بينوا توجروا

المستفتي طاهر ميډيکوز سرډهيري چارسده...... ۲۹ شعبان ۱۴۰۲

الجواب: چې کله دا دوايي د حاذق حکيم له خوا تياره شوې وي؛ نو د مخالف کېدو په صورت کې دې تيارونکي باندې څه تاوان نشته. **يدل عليه مافی** لسان الحكام۲۹۳ فليراجع.(١) **وهوالموفق**

د کمزورتيا او بې تربيتی له وجې نسل بندي کول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې نسل بندي د ضرورت په وخت جائز ده که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: نا معلوم...... ۱۹/۴/۱۹۸۹

الجواب: د خاوند او ښځې په مشوره دا اقدام روا دی کله چې د تنګ دستی د خطرې له وجې وي.(۲) نوټ:...... عمليات کول ممنوع دي. **وهوالموفق**

---

۱) وفي لسان الحكام: في فتاوى ظهير الدين رحمه الله تعالىٰ: ليس على الفصّاد والبزّاغ والحجّام ضمان السراية إذالم يقطعوا زيادة على القدر المعهود المأذون فيه فإن شرط على هؤلاء العمل السليم دون الساري لا يصح الشرط لأنه ليس في وسعهم ذلك. (لسان الحكام في معرفة الأحكام ص ۲۹۲،الفصل التاسع في أنواع الضمانات الواجبة، ضمان الفصّاد)

وفي الشامية: ولا ضمان على حجّام وبزّاغ أى بيطار وفصّاد لم يجاوز الموضع المعتاد أی وكان بالإذن. (شامي ۵:۴۷، كتاب الإجارة، قبيل مبحث الأجير الخاص)

۲) وفي إعلاء السنن: فبالنظر إلى فساد الزمان يجوز للمرأة سدّ فم رحمها أو تعاطيها ما يقطع الحبل من أصله ... فلا يفتى بجواز العزل...(باقي حاشيه په بل مخ)

د خانداني منصوبه بندۍ اړوند پوښتنې

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د دنيا ابادي ډېره په تېزۍ سره مخ په زياتېدو ده. د اقتصادياتو او عمارتونو ماهران د دې مسئلې سره مخ دي. که په دغه مسئله باندې صرف اقتصادي يا عمراني نظر سره بحث وشي نو تحديد النسل نا ممکن ښکاري. تر څو مسلمانه معاشره کې د کوم تحريک آغاز نه وړاندې ددې شرعي حيثيت ټاکل ضروري دي. زه له يوې تحقيقي ادارې سره يم. د اسلام او خانداني منصوبه بندۍ موضوع باندې کار کوم. زما په وړاندې څه سياسي مصلحت نشته. له هر قسم زوروني بې پروا يم. خاص د ديني جذبې لاندې ما داکار په غاړه اخيستی. ددې لويې ذمې د پېتې پوره کولو لپاره ما ته هر وخت د علماوو د لارښوونې ضرورت دی. هيله ده چې له خپل قيمتي وخت نه څو شېبې زما لپاره وباسئ او لارښوونه راته وکړئ. او لاندې کارونو باندې رڼا واچوئ:

(الف) «خانداني منصوبه بندي» له مذهبي نقطه نظره جائز ده که نه؟

(ب) د رسول الله ﷺ د حديثونو په رڼايي کې د عزل شرعي حيثيت څنګه دی؟

(ج) فقهاء کرامو کومو صورتونو کې واده شوو ته د عزل کولو اجازه ورکړې ده؟

(د حاشيې پاتې برخه)...... ونحوه إلّا أن يكون لحاجة ظاهرة.

(إعلاء السنن ۱۷:۴۱۰، كتاب الحظر والإباحة، حكم احتيال المرأة لقطع الحمل)

وفي المنهاج: العزل هو مباح خلاف الأولى ... اعلم أن المعالجة لضبط الولادة بأكل الحبوب واستعمال آلات الانسداد ليست بممنوعة إذا كانت بمشاورة الزوجين عند الحاجة كالمرض والضعف والمعاشرة الخبيثة وغيرها دون الإملاق.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ۵:۲۸۳، باب ماجاء في العزل)

(د) ایا د تحریک په صورتونو کې ضبط تولید مختلفو طریقو کې د شرعي طریقو له نظر سره خپرول جائز دي که نه؟

(هـ) که ناروا وي؟ نو پکې د کومو خرابیو د پیدا کېدو احتمال شته؟ دا هم چې ددې خرابیو د تدارک لپاره ستاسو تجویزونه څه دي؟

(ز) له عزل پرته د ضبط تولید لپاره په نورو طریقو باندې عمل کول روا دی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي ثناء الله جمیل ریسرچ آفیسرج لاهور ... ۹ صفر ۱۹۸۹

الجواب: ستاسو سوالونه رواسېدل. د خانداني منصوبه بندی باره کې چې زموږ رایه د شرعي نصوصو او د امت د فقهاوو په رایو باندې مبني ده. دا ښکته د نړۍ ابادی په توندی سره مخ په زیاتېدو وبرونکي نتائجو پر بنا تحدید النسل کول چې جبري او حاکمانه توګه باندې وي د تحریک په طور وي. د مسلمان له لوري شان سره نه ښايي. دیو موحد او مسلمان قوم لپاره هیڅ کله ښه نه ده چې د افلاس او تنګدستی د خطرې په بنا د عربو د مشرکانو په شان په واد (خفي) کې مبتلا شي. دا رنګ د الله ﷻ د پیغمبر ﷺ او د خلفاء راشدینو، عاقبت اندیشي، همدردي او شفقت علی الخلق کې هیڅ شبه نشته. هغوی د عربو ریګستاني او بې اوبو او وښو ملک کې د تحدید النسل حکم یا مشوره نه ده ورکړې. هلته د قحط خطره بلکې ددې متحقق کېدل هغوی محسوس کړې ده ویلي یې دي: (**تزوجوا الولود فإني مكاثر بكم الأمم**)(۱) نو د مسلماني معاشرې لپاره به دا کله ښکلا وګرځي چې د الله ﷻ پیغمبر ﷺ او دخلفاء راشدینو تابعداري پرېږدي. هره معامله کې د لوېدیځ تقلید کوي او تقلید هم په دې اندازه چې که نن هم د لوېدیځ له خوا نه د تکثیر النسل اشاره وشي، نو فوراً به یې په سموالي او حق والي. اقرار وکړي. الغرض ددې مسئلې حل اقتصادي او عمراني له نقطه نظره تحدید النسل نه دی کوم باندې چې اعتماد د خدای د رازقیت په شان

---

۱) (مشکوة المصابیح ۲۶۷، کتاب النکاح)

د توحيد خلاف دی بلکې ددې علاج دا دی چې د الله تعالی په حکمه او کائیناتو کې د روزی ومعاش کوم بې انتها او بې حسابه او اندازې خزانې ځکې کړي دي. د الله ﷻ له راکړې عقل او سوچ نه کار واخلو. د رزق زیاتېدو او زیات نه زیات پیداوار تیارولو کې له ذرائعو کار واخیستل شي. شارې ځمکې په فصل راوړلو. د زمینداري په ذریعې پرمختګ کې لار ښونه وکړو د ځمکې غیر ضروري پیداوار (د تمباکو په ډول) تحدید یا له منځه یوسو. چې په دغه د انسان د بنیادي ضرورتونو هیڅ دارومدار نشته. له دغه تمهیدي بحث نه بعد په ترتیب جوابونه مختصراً وړاندې کیږي

(الف) په حاکمانه او جبري توګه باندې هراړ خیز او اجتماعي تحریک چلول ناروا دي او بې جبره او زور انفرادي طور باندې ضرورتمن لپاره جائز ده.(۱)

(ب) جائز ده البته خلاف اولی ده.(۲) خو دا جواز هم هغه وخت ده کله چې دا کار په مفاسدو باندې

---

۱) وقال العلامة ظفر أحمد عثماني رحمه الله تعالىٰ: وقد نشأت في الأور با جماعة من النسآء تسعى في تقليل النسل وقطعها وتعلم أخواتها أنواعًا من الحيل لقطع الحبل وانتشرت دعوتها إلى أقصى البلاد من الهند والعرب والمصر والشام ولو تمّت حيلة هؤلاء الخبيثات لأفضت إلى قطع النسل وفساد العالم وقد حثّ النبي ﷺ على تعاطي أسباب الولد فقال تناكحوا تناسلوا تكثروا ...فلا يفتى بجواز العزل ونحوه لا أن يكون لحاجة ظاهرة.

(إعلاء السنن ۱۷:۴۱۰، باب جواز العزل، حكم احتيال المرأة لقطع الحمل)

۲) وفي المرقاة: (وعنه قال كنا نعزل والقران ينزل وزاد مسلم فبلغ ذلك النبي ﷺ فلم ينهنا) قال ابن الهمام: العزل جائز عند عامّة العلماء وكرهه قوم من الصّحابة وغيرهم والصحيح الجواز ...قال النووي هو مكروه عندنا لأنه طريق إلىٰ قطع النسل ولهذا ورد " العزل الوأد الخفي" ... قيل ذلك لا يدل على حرمة العزل بل على كراهته.(مرقاة المفاتيح ۶:۲۲۶، كتاب النكاح، باب المباشرة)

مشتمل نه وي، ځکه چې کوم مباحات د مفاسدو په ذريعه باندې جوړ شي هغه د قران او حديثو په رڼا کې نا روا ده. دارنګه ددې محرکات او بواعث هم د شريعت له مخې مذموم نه دي.

(ج) عزل او اسقاط حمل ضرورت مند او د معذورو اشخاصو لپاره جائز ده.(۱) او د لوېديځوالو د تقليد له وجې يا اقتصادي نقطه نظر سره ناروا ده چې په ولاړه متيازې کوي او کوم خلک چې دي ته د تحريک شکل ورکوي د هغوی په نزد دا د بوې معاشي مسئلې حل دی، چې د ذهن د غلامي ثبوت دی

(د) د ضروت مند او معذورو لپاره انفرادي توګه باندې بې له جبر او اکراه نه روا ده، چې کله مفاسدو باندې مشتمل نه وي ليکن مفاسدو باندې يې اشتمال يقيني دی، نوځکه يې د تحريک په شکل چلول په هر حال ناروا دی.(۲)

(ر) د الله ﷻ د رازقيت او تقدير له صفت نه غفلت او کثرت زنا په لعنت ددې اهم مفاسد دي(۳) چې کله تدارک په زباني توګه باندې ممکن دی نو په عملي توګه نا ممکن دي

(س) د خاوند د عذر او ضرور تمند لپاره نورې طريقې هم انفرادي طور باندې

---

۱) وفي البحر : امرأة عالجت في إسقاط ولدها لا تأثم مالم يستبن شيئ من خلقه. (البحر الرائق ۸:۲۰۵، كتاب الكراهية، فصل في البيع، قوله وخصي البهائم)

۲) قال العلامة ظفر أحمد عثماني رحمه الله تعالى : وقد نشأت في الأور با جماعة من النساء تسعى في تقليل النسل وقطعها وتعلم أخواتها أنواعًا من الحيل لقطع الحبل وانتشرت دعوتها إلى أقصى البلاد من الهند والعرب والمصر والشام ولو تمت حيلة هؤلاء الخبيثات لأفضت إلى قطع النسل وفساد العالم وقد حثّ النبي ﷺ على تعاطي أسباب الولد فقالوا تناكحوا تناسلوا تكثروا ...فلا يفتى بجواز العزل ونحوه لا أن يكون لحاجة ظاهرة.

(اعلاء السنن ۱۷:۴۱۰، باب جواز العزل، حكم احتيال المرأة لقطع الحمل)

۳) وقال الله تعالى : ولا تقتلوا أولادكم خشية املاق نحن نرزقهم وإياكم. (سورة الاسراء، آيت : ۳۱، پاره: ۱۵)

جائز دي (۱)، البته کومي طريقې چې مفاسدو باندې مشتملې وي چې د نسل بندی په صورت يا مستقل طور باندې د خاوند يا ښځې د توليد قوت له منځه وړل، چې د تغير في خلق الله له جملې هم دي، ددې ارتکاب ناروا دی، لهذا موږ د تحريک د جواز فتوا نشو ورکولای، چې کوم خلک د کتاب، سنتو او د فقهاء کرامو اقوال او آراء تېرولي وي او د خپل مطلب اخيستلو لپاره ددې تحريک ولاړولو جواز اخلي، د هغې تحقيقات شايد اصلاً تأويل او تحريف وي **وهوالموفق**

الجواب صحيح المجيب

سميع الحق (حضرت مولانا مفتي) محمد فريد عفي عنه

د ضرورت په وخت د وينې خرڅولو او اخيستلو مسئله

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې انساني وينه کوم ناروغ ته ورکول روا او کوم ته نا روا دي او ددې خريد و فروخت روا دی که ناروا؟ بينوا توجروا

المستفتي: تقويم الحق آدينه صوابی... ۱۹۸۸ء ۲۲/۳

الجواب: د شرعي ضرورت په وخت ناروغ ته وينه ورکول روا دي (۲) او چې کله وينه مفته نه

---

۱) وفي المنهاج: العزل هو مباح خلاف الأولى ... اعلم أن المعالجة لضبط الولادة بأكل الحبوب واستعمال آلات الانسداد ليست بممنوعة إذا كانت بمشاورة الزوجين عند الحاجة كالمرض والضعف والمعاشرة الخبيثة وغيرها دون الإملاق.
(منهاج السنن شرح جامع السنن ۵:۲۸۳، باب ما جاء في العزل)

۲) وفي الهندية: يجوز للعليل شرب الدم والبول وأكل الميتة للتداوي إذا أخبره طبيب مسلم أن شفاءه فيه ولم يجد من المباح ما يقوم مقامه وإن قال الطبيب يتعجل شفائک فيه وجهان. (فتاوی هندية ۵:۳۵۵ کتاب الكراهية، الباب الثامن عشر في التداوي الخ)

ملاويږي نو اخيستل يې جائز دي. مثل شراء شعر الخنزير(۱) او کله چې: مخمصې وخت کې مردار مباح کيږي نو دا ډول د تداوي د ضرورت لپاره حرام، حرام نه پاتې کيږي (۲) وهوالموفق

د متبادل کامياب علاج نه کيدو په صورت کې په وينه علاج کول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د يو مسلمان فوجي ورور خطرې حالت کې پروت دی. ډير کمزوری دی. سيول سرجن يا بل ماهر ډاکټر دا مشوره ورکوي چې تاته که وينه وخيژول شي نو روغ به شي او که نه مکمل خطره کې يې. نو هغه ته وينه ورکول حرام دي که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولانا خليل الرحمن.... ۱۴/۵/۱۹۷۳

الجواب: که له ويني پرته بل کامياب علاج نه وي نو وينه ورکول روا دي (۳)، خو اخيستلو او خرڅولو نه حتى الإمكان ځان ساتل ضروري دي (۴) وهوالموفق

---

۱) وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالىٰ: (وشعر الخنزير) لنجاسة عينه فيبطل بيعه وان جاز الانتفاع به لضرورة الخرز، حتى لو لم يوجد بلا ثمن جاز الشراء للضرورة وكره البيع. (الدر المختار ۴:۱۲۷،باب البيع الفاسد، مطلب في التداوي بلبن البنت)

۲) وفي شرح المجلة: الضرورات تبيح المحظورات يعنى أن الممنوع شرعًا يباح عند الضرورة ... كأكل الميتة والدم ... فهذه الأشياء تباح عند الاضطرار لقوله تعالىٰ: إلّا ما اضطررتم إليه. (شرح المجلة ۱:۵۵، المادة: ۲۱)

۳) وفي الهندية: يجوز للعليل شرب الدم والبول وأكل الميتة للتداوي إذا أخبره طبيب مسلم أنّ شفاءه فيه ولم يجد من المباح ما يقوم مقامه وإن قال الطبيب يتعجل شفائك فيه وجهان. (فتاوى هندية ۵:۳۵۵،كتاب الكراهية، الباب الثامن عشر في التداوي الخ)

۴) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ :بطل ...(پاتې حاشيه په بل مخ)

له بې سنده ډاکټر څخه د علاج حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې يو سړی علاج معالجه کې ماهر وي، خو د حکومت له خوا هغه ته د علاج معالجې اجازه نه وي. نو څنګه دا کس په پيسه د خلکو علاج کولای شي؟ بينوا توجروا

المستفتي يونس خان هنګو.... ۱۹۸۵، ۹/ ۲۷

الجواب: که اهليت ولري وي، نو يوازې قانوني جرم دی. شرعي جرم نه دی.[۱]
والله اعلم

د جماع په وخت پوکنې کارول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې پوکنې[۲] کارول

(د حاشيې پاتې برخه) بيع ما ليس بمال أى ليس بمال في سائر الأديان كالدم.
(رد المحتار ۴:۱۱۲، مطلب البيع الموقوف من قسم الصحيح)

وقال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: لم يجز بيع الميتة والدم لانعدام المالية التي هي ركن البيع. (البحر الراثق ۶:۷۰ باب البيع الفاسد)

۱) وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: سئل في رجل به داء في ظهره اتفق مع طبيب على مداوته وجعل له أجرة ولم يضرب له مدة وداواه ويريد الطبيب أجرة مثله وما أنفقه في ثمن الأدوية فهل له ذلک؟ (الجواب) نعم! والمسئلة في الخيرية من الإجارة.
(تنقيح الحامدية ۲:۱۵۱، کتاب الإجارة)
(ومثله في الخيرية على هامش تنقيح الحامدية ۲:۱۵۱، کتاب الإجارة)

۲) فرنج ليدر :–د پلاستکو يوه خلته وي چې د کوروالي پرمهال په مخکينی شرمګاه باندې اغوستل کيږي، ددې لپاره چې د ښځې رحم ته نطفه داخله نه شي. (فيروز اللغات: ۹۳۰)

دبنځې سره دکوروالي پرمهال، دشريعت له مخې روا يا ناروا ده؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد مختار خان ټيکسلا ...... ۲۹ جمادی الاول ۱۴۰۳ هـ

الجواب: دا عمل د عزل په توګه روا دی. البته غوره نه دی. لأن فيه امتناعاً من الولد لا قتله(۱). **وهوالموفق**

لاس، غوږ، سترګه يا وينه وغيره نورو انسانانو ته ورکول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې يو انسان ته د بل انسان اندام لکه لاس، غوږ، سترګه، يا وينه ورکول روا ده که ناروا؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبد المستعان مهمند متعلم حقانيه ۱۹۷۳ء/۷/۱۱

الجواب: د انساني اندامونو استعمال مطلقاً حرام دی.

كما في الهندية: الإنتفاع بأجزاء الآدمي لم يجز،قيل للنجاسة وقيل للكرامة وهو الصحيح (۲)، وفيها أيضاً: مضطر لم يجد ميتةً وخاف الهلاك فقال له رجل اقطع يدي وكُلْهَا أوقال اقطع مني قطعة وكُلْهَا لا يسعه أن يفعل ذلك ولا يصح أمره به (۳۷۴:۵) مصرى(۳) قلت

---

۱) وفي المرقاة: (وعنه قال كنا نعزل والقرآن ينزل وزاد مسلم فبلغ ذلك النبي ﷺ فلم ينهنا) قال ابن الهمام: العزل جائز عند عامة العلماء وكرهه قوم من الصحابة وغيرهم والصحيح الجواز ...قال النووي هو مكروه عندنا لأنه طريق إلى قطع النسل ولهذا ورد "العزل الوأد الخفي" ... قيل ذلك لا يدل على حرمة العزل بل على كراهته.

(مرقاة المفاتيح ۲۲۶:۶ كتاب النكاح، باب المباشرة)

۲) (فتاوى هندية ۳۵۴:۵، الباب الثامن عشر في التداوي والمعالجات)

۳)(فتاوى هندية ۳۳۸:۵، كتاب الكراهية، الباب الحادي عشر في الكراهية في الأكل)

ولأنه ذريعة لإبتذال الإنسان وهي إهانة له. خو وینه عضوه نه ګڼل کیږي.
او ډاکټر وینه له خلکو څخه په بیه توګه اخلي، چې د هلاکت خطره نه جوړیږي.
لهذا دو ینې علاج او ددې ورکول د ضرورت په وخت کې جائز دي (۱) پس
وهوالموفق

له خنزیر او شادو (بیزو) څخه د جوړو شوو ستنو د استعمال حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې، چې د خنزیر او شادو (۲) څخه ستنې جوړې شوي وي، استعمال یې روا دی که ناروا؟ بینوا توجروا

المستفتي عبدالمهیمن کوهاټي...... ۳ محرم ۱۳۹۶ هـ

الجواب: بې له شرعي ضرورته ددې انجکشن استعمال ناروا دی. کما هو حکم العلاج بالمحرم (۳). وهوالموفق

ژوندي یا مړه انسان ته کردې لګول

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د یو مریض ګوردې

---

۱) وفي شرح المجلة: الضرورات تبيح المحظورات يعنى أن الممنوع شرعًا يباح عند الضرورة... كأكل الميتة والدم ولحم الخنزير وشرب الخمر عند المجاعة أوالغصة أوالعطش أو عند الإكراه التّام بقتل أو قطع عضو، فهذه الأشياء تباح عند الإضطرار لقوله تعالى: اِلّا مَا اضطُرِرتُم اِلَيه. (شرح المجلة ۱:۵۵، المادة: ۲۱)

۲) لنګوریوه بیزو ده چې خوله یې خلاصه او لکۍ یې اوږده وي. (فیروز اللغات: ۱۱۶۶)

۳) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وجوزه في النهاية بمحرّم) ونصه في التهذيب: يجوز للعليل شرب البول والدم وأكل الميتة للتداوي إذا أخبره طبيب مسلم أنّ شفاء ه فيه ولم يجد من المباح ما يقوم مقامه وإن قال الطبيب يتعجل شفائك، فيه وجهان.

(ردالمحتار ۵:۲۷۵ كتاب الحظر والاباحة، فصل في البيع)

خوړېږي، د حاضر وخت ډاکټران د هغه له علاج نه لا علاجه دي بې له دې چې ګوردې بدلي کړي، نو ايا د کوم انسان ګردې بل مريض ته لګيداى شي که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي رحيم بخش، کوئټه

الجواب: د شامي (١) او هنديه (٢) د ذکر شويو جزئياتو په شان د انداموونو پيوندول نا روا دي، که هغه د ژوندي انسان لپاره وي او که د مړ وي. البته وينه او شيدې وغيره چې په عرف کې اعضاء ګڼل کيږي. دضرورت په وخت کې کارېدى شي (٣) **وهوالموفق**

---

١) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: (قوله وشعر الإنسان) ولا يجوز الانتفاع به لحديث: لعن الله الواصلة والمستوصلة... والآدمي مكرم شرعاً وإن كان كافراً فإيراد العقد عليه وابتذاله به وإلحاقه بالجمادات إذلال له.

(رد المحتار ٤:١١٧، كتاب البيوع، مطلب الآدمي مكرم شرعاً ولو كافراً)

٢) وفي الهندية: الانتفاع بأجزاء الآدمي لم يجز قيل للنجاسة وقيل للكرامة وهو الصحيح. (فتاوى هندية ٥:٣٥٤، الباب الثامن عشر في التداوي والمعالجات)

وفيها أيضا: مضطر لم يجد ميتة وخاف الهلاک فقال له رجل اقطع يدى وكلها أو قال اقطع منى قطعة وكلها لا يسعه أن يفعل ذلک ولا يصح أمره به. (فتاوى هندية ٥:٣٣٨، كتاب الكراهية، الباب الحادى عشر في الكراهة في الأكل)

٣) وفي شرح المجلة: الضرورات تبيح المحظورات... يعنى أن الممنوع شرعاً يباح عند الضرورة... كأكل الميتة والدم ولحم الخنزير وشرب الخمر عند المجاعة أو الغصة أو العطش أو عند الإكراه التّام بقتل أوقطع عضو فهذه الأشياء تباح عند الاضطرار لقوله تعالى: إِلَّا مَا اضطُرِرتُم إِلَيهِ.

(شرح المجلة ١:٥٥، المادة: ٢١)

له سيماب او حرامو شيانو جوړه شوې دوايي استعمالول

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې ځينې دوايانې او معجون باسبيه كې براده قصيب د غوا يا جنديد ستر، كرم عروسك خصيتن، نخاع او حيواني غدود يكې شامل وي او علاج الأ عضاء بالأعضاء داصولو په لحاظ اجزاء يكې اچول كيږي، معجون يا دحبوب اكسير د فوائدو حامل كيږي، شرعاً ددې دوايانو استعمال څنگه دی. او هم د طبي او كيمياوي اعمال سيماب كې نيم قائم مقام يا د سيماب قائم النار ضرورت كې راځي او ځينې كيمياوي كتابونو او طب كې د سيماب حيواني مطلب كيږي چې د «سپي د غوښې» لكه كلاستړا كرسيماب نيم قائم ترې تر لاسه كيږي، يا د ماهي ولا سيماب نيم قائم لحم الكلب والا ورته وايي، نو شرع كې ددې څه حكم دی؟ بينوا توجروا

المستفتي:عبد الله پشاور ...... رمضان المبارك ۱۳۸۸ هـ

الجواب: پرته له ضرورته سيماب مكروه او حرام دی،(۱) او چونكه سيماب جوړېدونه انقلاب ذات متحقق كيږي لهذا ددې استعمال روا دی.(۲) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالىٰ: لأن المحرم شرعًا لايجوز الانتفاع به للتداوي كالخمر.

(الدرالمختار ۲۳۹:۴ كتاب البيوع، باب المتفرقات، مطلب في التداوي بالمحرم)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالىٰ: لاملح كان حماراً أو خنزيرا ولا قذر وقع في بئر فصار حمأة لانقلاب العين. (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: (قوله لانقلاب العين) علة للكل وهذا قول محمّد، وذكر معه في الذخيرة والمحيط أباحنيفة حلية، قال في الفتح: وكثير من المشائخ اختاروه، وهو المختار لأن الشرع رتب وصف (باتي حاشيه په بل مخ)

وينه وېستل او د وركولو حكم

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې د جنګ يا جهاد يا امن په زمانه كې صحت مند خلک خپله وينه باسي زخميانو يا كمزورو خلكو ته يې د نبه كېدو لپاره د ستنې په ذريعه وركول شرعي لحاظ باندې ددې څه حكم دى، حلال دي كه حرام؟ځينې خلک يې ايثار او قرباني او د خلكو خدمت ګڼي او ځينې علماء يې د خدمت په حكم يادوي؟ بينوا توجروا

المستفتي مولوى مختار خان...... جماى الاولى ۱۳۹۵ھ

الجواب: چونكې وينه وېستل چې كله معمولي وي مهلک نه وي. نه تكليف وركونكي، د فصد په شان روا ده و او د شرعي ضرورت په وخت هم علاج بالمحرم روا دى، لهذا عند الضرورة كوم ناروغ او زخمي ته وينه وركول جائز دي.(۱) **وهوالموفق**

(د حاشيې پاتې برخه) النجاسة على تلك الحقيقة وتنتفي الحقيقة بانتفاء بعض أجزاء مفهومها فيكف بالكل؟... ونظيره في الشرع النطفة نجسة وتصير علقة وهى نجسة وتصير مضغة فتطهر، والعصير طاهر فيصير خمراً فينجس ويصير خلّا فيطهر، فعرفنا أن استحالة تستتبع زوال الوصف المرتب عليها، (تنبيه) يجوز أكل ذلک الملح والصلوة على ذلک الرماد.

(ردالمحتار ۱:۲۳۹ باب الأنجاس، مطلب في العفو عن طين الشارع)

۱) في المحيط البرهاني: الاستشفاء بالمحرم إنما لايجوز إذا لم يعلم أن فيه شفاء أما إذا علم أن فيه شفاء وليس له داوء آخر غيره فيجوز الاستشفاء به. (المحيط البرهاني ۶:۱۱۶ كتاب الاستحسان، الفصل التاسع عشر في التداوي والمعالجات)

وفي الهندية: يجوز للعليل شرب الدم والبول وأكل الميتة للتداوي إذا أخبره طبيب مسلم أن شفاءه فيه ولم يجد من المباح مايقوم مقامه، وإن قال الطبيب يتعجل شفائک فيه وجهان. (فتاوى هندية ۵:۳۵۵ كتاب الكراهية، الباب الثامن عشر في التداوي والمعالجات)

پردیو، محارمو او د زوجینو یو بل ته د وینې ورکولو مسئله

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې زياتره خلك هسپتالونو کې مریضانو ته وینه ورکوي ایا دا روا دي او یوه پردی ښځه کوم زخمي سړي ته يا بالعكس د وينې وركول روا دي كه ناروا؟ بينوا توجروا

المستفتي خليل الرحمن متعلم حقانيه ...... ۲۷ / جمادی الثانی ۱۳۹۴ھ

الجواب: د شرعي ضرورت په بنا ،چې كله بې له وينې خېژولو د مريض بچ كېدو هيله نه وي يا د مرض اوږدېدو سخته اندېښنه وي، علاج بالدم جائز دی.

لجواز العلاج بالمحرم كما في رد المحتار ۵: ۳۴۲(١) واضحه دي وي چې په وینه ورکولو کې هیڅ تکلیف نه کیږي، نه د هلاکت خطره وي. په دې باندې د اندام او قطعه اطلاق هم خفي دی، لهذا د هنديه له دې جزئيې نه:

مضطر لم يجد ميتة وخاف الهلاك فقال له رجل اقطع يدي وكلها أو قال اقطع مني قطعة وكلها لا يسعه أن يفعل ذلك ولا يصح أمره به كما لا يسع للمضطر أن يقطع قطعة من نفسه فيأكل كما في قاضي خان ۵: ۳۷۴ (هندية)(٢) عدم جواز نه برېښي، په دې كې د پرديو، محارمو زوجينو حكم يو، برابر دی. لأن الجزئية لهما. فتأمل. **وهوالموفق**

---

١) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وفي التهذيب يجوز للعليل شرب البول والدم والميتة للتداوي إذا أخبره طبيب مسلم أن شفاءه فيه ولم يجد من المباح مايقوم مقامه وإن قال الطبيب يتعجل شفاءك به فيه وجهان.
(ردالمحتار ۵: ۲۷۵ كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

٢) (فتاوى هندية ۵: ۳۳۸ كتاب الكراهية، الباب الحادي عشر في الكراهة في الأكل)

د وينې بينک او مسلم يا غير مسلم ته وينه ورکول، د زوجينو يو بل ته وينه ورکول او د حرمت رضاعت مسئله

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ايا هغه مريض ته وينه ورکېداى شي چې ضرورت يې وي؟ ايا له کافر نه وينه اخيستل او ورکول جائز دي؟ ايا بلډ بينک ته وينه ورکول جائز دي؟ که خاوند او ښځه خپلو کې يو بل ته وينه ورکړي شرعي حيثيت يې څنګه دى. دارنګه که يو سړى يوې زنانه ته وينه ورکړي: نو ايا له هغې سره نکاح روا ده؟ بينوا توجروا

المستفتي ګل ضمير

الجواب: چې کله د وينې نه ورکېدو صورت کې د مريض هلاکت متقين يا مظنون وي، نو وينه ورکول ګناه نه ده (۱) داسې ضرورت کې بلډ بينک ته وينه ورکول هم ګناه نه ده. د خاوند وينه ښځې ته ورکول يا برعکس نکاح ته ضرر نه رسوي، حرمت رضاعت صرف له پيو نه په خاصه موده کې ثابتيږي. دا هم ده چې کومې ښځې ته وينه ورکړي هغې سره نکاح جائز ده. (۲) **وهوالموفق**

---

۱) في المحيط البرهاني: الاستشفاء بالمحرم إنما لا يجوز إذا لم يعلم أن فيه شفاء، أما إذا علم أن فيه شفاء وليس له دواء آخر غيره فيجوز الاستشفاء به.
(المحيط البرهاني ۶:۱۱۶ كتاب الاستحسان، الفصل التاسع عشر في التداوي والمعالجات)

وفي الهندية: يجوز للعليل شرب الدم والبول وأكل الميتة للتداوي إذا أخبره طبيب مسلم أن شفاءه فيه ولم يجد من المباح مايقوم مقامه.
(فتاوى هندية ۵:۲۵۵ كتاب الكراهية، الباب الثامن عشر في التداوي الخ)

۲) قال العلامة المفتي محمد شفيع رحمه الله تعالى: د خاوند وينه د ښځې په بدن کې يا د ښځې وينه د خاوند په ... (باقي حاشيه په بل مخ)

د شیدو زیاتولو او بنه نسل پیدا کېدو لپاره څارویو ته ستن ورکول

سوال: څه فرمايي علماء كرام دي مسئلې باره كې چې د ښه نسل پيدا كېدو لپاره له كوم ښه سنډا نه تخم حاصل شي او بيا له ضرورت سره سم د غوا يا مېښې په رحم كې د ستنې په ذريعه ورسول شي. په دغه وخت كې چې كله ماده نر سره د ملاوېدو خواهش كوي له هغې نه هغه ماده بې هم زياتې ورکوي او ښه نسل هم ورکوي، نو ايا دا صورت د شريعت له مخې روا دى كه ناروا؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد ايوب، دواخانه مجيديه حضرو ... ۵جون ۱۹۷۵ء

الجواب: دا عمل بذات خود شرعي منكر نه دى، زيات نه زيات دې كې د مادې د جماع خواهش نه پوره كېږي او دا كوم مطلوب شرعي كار نه دى. وهذا جاز اخصاء البهائم كما صرحوا به في باب الكراهية () ونظيره ما في الدر المختار على هامش رد المحتار ۲: ۱۴۶ أدخلت منيه في فرجها هل تعتد في البحر بحثا؟ نعم! لاحتياطها لتعرف براءة الرحم، وفي النهر

(د حاشيې باتې برخه) بدن كې داخلولو سره په نكاح باندې هيڅ اثر نه غورځوي، نكاح به خپل حال باقي وي، ځكه چې اسلامي شريعت محرميت د نسب، مصاهرت، رضاعت سره مخصوص كړى دى، ددې نه تجاوز كول صحيح نه دي او رضاعت سره د محرميت ثبوت هم د رضاعت مودې سره خاص دى، د رضاعت موده يعني يو نيم كال عمر نه پس پيو څښلو سره هم د رضاعت حرمت نه ثابتېږي، كما هو مصرّح ومفصّل في عامة كتب الفقه والله سبحانه وتعالىٰ أعلم.

(انسانی اعضاء کی پیوند کاری ۲۸ شوہر، بیوی کے خون کا باہم تبادلہ)

۱) في الهندية: خصاء بني آدم حرام بالاتفاق وأما خصاء الفرس فقد ذكر شمس الائمة الحلواني في شرحه أنه لابأس به عند أصحابنا... وأما في غيره من البهائم فلا بأس به إذا كان فيه منفعة.

(فتاوى هندية ۵: ۳۵۷ كتاب الكراهية، الباب التاسع عشر في الختان الخ)

بحثاً أن ظهر حملها نعم، والا لا، فی ردالمحتار قوله: اد خلت منیه. إلخ أی منی خلوة ولادخول، أما لو أدخلت منی غیره فقد قدمناه فی الموطوء بشبهة (۱) انتهی، قال فی الموطوءة بشبهة (۲:۸۳۶) (۲) قلت: فبناء الحکم أی العدة یدل علی کونه کالوطی من صاحب المنی، ووطی التیس لیس بحرام فکذا إدخال منیه. وهوالموفق

د بیمارۍ او کمزورتیا له وجې جماع کمول

سوال: څه فرمایي علماء کرام دي مسئلې باره کې چې یو، سړی د خپلې مېرمنې د صحت دومره لحاظ کوي چې له هغې سره جماع کمه کوي او کم یې راوړي نو دا روا دي که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی عبدالله صابر ۱۵،۵،۱۹۷۴ء

الجواب: که بیمار او د غیر معمولي کمزورتیا باور یا غالب ګمان وي؛ نو صحیح الیٰ عتقاد کس لپاره داسې کار کې رخصت او اجازت دی. لأنه عذر کفساد الزمان المجوّز لإسقاط الحمل (۳). وهوالموفق

---

۱) (ردالمحتار مع الدرالمختار ۲:۶۶۸ فروع باب العدة، قبیل فصل في الحداد)

۲) (ردالمحتار ۲:۶۶۰ باب العدة، مطلب في النکاح الفاسد والباطل)

۳) قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالیٰ: ویعزل عن الحرة بإذنها لکن في الخانیة أنه یباح في زماننا لفساده، قال الکمال: فلیعتبر عذراً مسقطًا لإذنها، وقالوا یباح إسقاط الولد قبل أربعة أشهر.

(الدرالمختار ۲:۴۱۲ کتاب النکاح، باب نکاح الرقیق، مطلب في حکم العزل)

غاښونه په سپينو زرو يا کلايي ډکول او ورسره د لمونځ حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې غاښ له سپينو زرو يا کلايي ډک شي. ايا دا روا دي؟ ايا لمونځ ورسره کيږي که نه؟ بينوا توجروا

المستفتی عبدالحی بام خيل ضلع مردان.....۱۲/ربيع الاول ۱۳۹۶ هـ

الجواب: چونکه دا علاج ممنوع نه دی. لهذا دا سړی گناهگار نه دی[۱] او د سوري غاښ په لوڅولو کې حرج دی يعنې د هر غسل لپاره داخلي کول او ډکول مشکل او سخت کار دی لهذا د قواعدو په بنا دا عفو دی. اوبه رسول هم ضروري نه دي. كما يشير اليه قول شارح التنوير حيث قال: لا امتناع نفوذ الماء مع عدم الضرورة والحرج، ردالمحتار ۱:۱۴۳ (۲) وهوالموفق

د مالي کمزورتيا له وجې عارضي طور باندې جنسي طاقت ختمول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ديو سړي مالي حالت ډېر

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ولا يشدّ سنّه المتحرک بذهب بل بفضة وجوزهما محمّد. (درمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله المتحرک) قيد به لما قال الكرخي إذا سقطت ثنية رجل فإن أباحنيفة يكره أن يعيدها ويشدّها بفضة أو ذهب... قال أبويوسف سألت أباحنيفة عن ذلک في مجلس آخر فلم ير بإعادتها بأ سًا.

(ردالمحتار مع الدرالمختار ۵:۲۵۵ كتاب الحظر والإباحة، فصل في اللبس)

۲) (ردالمحتار ۱:۱۱۴ كتاب الطهارة، مطلب في أبحاث الغسل)

وفي الهندية: والطين في الظفر لا يمنع والصرام والصباغ ما في ظفرهما يمنع تمام الاغتسال وقيل كل ذلک يجزيهم للحرج والضرورة ومواضع الضرورة مستثناة عن قواعد الشرع.

(فتاوی هندية ۱:۱۳ الباب الثانی في الغسل)

کمزوري وي، په سختۍ سره د کور خرچې پوره کوي، که دا سړی عارض طور باندې خپل جنسي طاقت څه طریقې سره ختم کړي تر څو د کومې ګناه مرتکب نه شي. ایا دا جائز دي که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: عبدالودود ضلع مردان..... ۵/ربیع الثني ۱۴۱۴ هـ

الجواب: دا عارضي معالجه ممنوع نه ده، دا خصي کېدل نه دي، خصوصاً چې په صحیح غرض مبني وي (۱) **وهوالموفق**

د فیل غابن په دوایي کې استعمالول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د فیل غابن په دوایي کې استعمالول روا دي که ناروا؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد حنیف، وزیر ستان..... ۲۱/ذی القعده ۱۴۰۰هـ

الجواب: د فیل غابن د تداوي په توګه جائز دی؟

لما في الهندیه ۵:۳۹۰، فقد جوز التداوي بعظم ماسوی الخنزير والآدمي من الحیوانات مطلقاً من غیرفصل بین ما إذا

---

۱) قال عبد الله رضي الله تعالى عنه: كنا نغزو مع رسول الله ﷺ وليس لنا شيءٌ فقلنا ألانستخصي؟ فنهانا عن ذلک.

(الصحيح للإمام البخاري ۲:۷۵۹، باب يكره من التبتل)

وقال الحافظ احمد بن حجر العسقلاني رحمه الله تعالى: قوله ﷺ ومن لم يستطع فعليه بالصوم... وفي الحديث أيضا إرشاد العاجز عن مؤن النكاح إلى الصوم... واستدل به الخطابي على جواز المعالجة لقطع شهوة النكاح بالأدوية، وحكاه البغوي في شرح السنة وينبغي أن يحمل على دواء يسكن الشهوة دون ما يقطعها إصالة لأنه قد يقدر بعد فيندم لفوات ذلک في حقه.

(فتح الباري ۹:۱۱۱، كتاب النكاح، باب قول النبي ﷺ من استطاع الباءة فليتزوّج)

كان الحيوان ذكياً اوميتاً الخ.() وهوالموفق

برګي (برص) ختمولو لپاره الكحل استعمالول څنګه دي؟

سوال: څه فرمايي علماء كرام د دې مسئلي باره كې چې يوه دوايي ده چې د سيرپ په شكل كې راځي او د برص لا علاجه مرض لپاره هوميوپيتهک ډاكټرانو تياره كړې ده، مګر دې كې الكحل هم شته څكه دوايي كې بې اثر معلوميږي، ددې استعمال شرعاً څنګه دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد امين، محله خټک لاهور صوابی.... ۵/ ذی القعده ۱۴۰۰ ه

الجواب: ومنه الصدق الصواب: انګريزي دواياني له الكحل نه خالي نه دي ليكن الكحل چې انګوري ياكجوري نه وي، نو له مسكر مقدار نه كم استعمال يې جائز دی. ()او انګوري او كجوري بې ضرورته جائز نه دي يعني كه له دې دوايي پرته نوره دوايي نه وي يا بله دوايي وي؛ خو زر اثر نه كوي؛ نو

---

۱) فتاوى هندية: ۳۵۴:۵، كتاب الكراهية، الباب الثامن عشر في التداوي والمعالجات)

۲) قال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالى: وماسوى ذلک من الأشربة فلابأس به.... وهونص على أن مايتخذ من الحنطة والشعير والعسل والذرة حلال عند أبي حنيفة رحمه الله تعالى، ولايجد شاربه وإن سكر منه....وعن محمد رحمه الله تعالى أنه حرام ويحد شاربه إذا سكر منه.

(الهداية ۴: ۲۹۶، كتاب الأشربة)

وفي الهندية: وأماالأشربة المتخذة من الشعير أو الذرة أو التفاح أو العسل إذا اشتدّ وهو مطبوخ أوغير فإنه يجوز شربه مادون السكر عند أبي حنيفة وأبي يوسف رحمهما الله تعالى.

(فتاوى هندية ۵: ۴۱۴، كتاب الأشربة، الباب الثاني في المتفرقات)

بیا ددې استعمال رخصت او اجازت دی.()**وهوالموفق**

د نامعلومه الکحل والا دوایی استعمالول

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره کې چې ما سره یوه دوایي ده چې پنځه فیصده الکحل پکې دی: نو ددې استعمال څه حکم لري؟ او بې له دې ماته خوب هم نه راځي بینوا توجروا

المستفتی: نامعلوم.....۲۷/ ذی الحجه ۱۳۹۹ھ

الجواب: کله چې د الکحل په باره معلومه نه وي چې دا له خورما جوړ دي یا له انګورو که له منې نه.()نو ددې وجې بې استعمال روا دی. خصوصا کله چې د اختلاط له وجې کالعدم او

---

۱) وفي الهندية:وتكره ألبان الأتان للمريض وغيره،وكذلک لحومهما،وكذلک التداوي بكل حرام...يجوز للعليل شرب الدم والبول وأكل الميتة للتداوي إذا أخبره طبيب مسلم أن شفاء فيه ولم يجد من المباح مايقوم مقامه،وإن قال الطبيب يتعجل شفائک،فيه وجهان.

(فتاوى هندية٥:٢٥٥،كتاب الكراهية،الباب الثامن عشر في التداوي والمعالجات)

٢) وفي دررالحكام :اليقين لايزول بالشک....هذه المادة مأخوذ من قاعدة:ماثبت بيقين لا يرتفع بالشک وماثبت بيقين لايرتفع إلا بيقين.

(دررالحكام١:٢٠،المادة٤)

وقال العلامة نظام الدين رحمه الله تعالى : نن سبا چې په انګریزي دوایانو کې وم اسپرټ شامل دي دا شراب نه دي، دا داسې سپرټ دي چې د کچالو، غوړیو او داسې نورو خوراکي شیانو څخه جوړ وي، د هغې استعمالول روا دي، ځکه چې دا د ځلورو حرامو مشروباتو څخه نه دي.

(نظام الفتاوى : ١:٣٥٣،كتاب الحظر والإباحة)

منقلب شي. ()وهوالموفق

د مانع حمل دوايانو استعمالولو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې يوه ښځه ۷ بچيان لري اوس د نورو بچيانو له پيدا کېدو ويرېږي، د اينده حامله کېدو خيال نه پريشانه ده. دليل يې دا دی چې يو خو يې صحت باندې بد اثر پرېوځي او بل د دومره کمکيانو پالنه لويه مسئله ده، له درې کالو راهيسې هغې او خاوند يې مانع حمل تدابير اختيار کړي دي. ايا ددې لپاره اينده هم د حمل ضد تدبيرونه اختيارول روا دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: ګوهر الرحمان، غور غشتی، اټک..... ١٩٨٠ع/٣/١٣

الجواب: بې له اپريشنه ()نور تد بيرونه کارول جائز دي چې کله د (١) فقر او فاقې باعث نه وي. (٢)

---

١) وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: لايكون نجساً رمادُ قذر ولاملح كان حماراً أو خنزيراً ولاقذر وقع في بئر فصار حمأة لانقلاب العين، به يفتى.

(الدرالمختار ١: ٢٣٩، باب الأنجاس، مطلب في العفو عن طين الشارع)

٢) قال عبدالله رضي الله تعالى عنه: كنا نغزوا مع رسول الله ﷺ وليس منا شيئ فقلنا: ألا نستخصي؟ فنهانا عن ذلك.

(صحيح البخاري ٢: ٧٥٩، باب مايكره من التبتل والخصاء)

وقال الحافظ العسقلاني رحمه الله تعالى: والحجة فيه أنهم اتفقوا على منع الجب والخصاء، فيلحق بذلك مافي معناه من التداوي بالقطع أصلًا.

(فتح الباري ٩: ١١١، كتاب النكاح، باب قول النبي ﷺ: من استطاع الباءة فليتزوج)

٣) قال الله تبارك وتعالى: وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ ۖ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ ۚ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْئًا كَبِيرًا. (سوره بني اسرائيل آيت: ٣١، پاره ١٥)

(ب) د صحت کمزورتیا متیقن یا مظنون وي

(ج) د ښځې او خاوند په مشوره وي. ()**وهوالموفق**

د وینې ورکولو په وجه د حرمت نکاح مسئله

سوال: څه فرمايي علماء کرام ددې مسئلې په باره کې چې یوه عجیبه او ناآشنا مسئله مخې ته راغلې ده چې که زوی خپل پلار ته د ضرورت په وخت د وینې عطیه ورکړې نو د پلار لپاره ددې هلک د مور سره خلوت جائز دی یا ناجائز؟ **بینواتوجروا**

المستفتي فضل واحد، تیمر گره دیر ... ۲/ ذی الجحه ۱۴۰۰ ھ

الجواب: د وینې په وجه حرمت نکاح ثابتېدل د هیچا مذهب نه دی، (۱) البته د پیو په وجه باقاعده حرمت رضاع کېدل. د قرآن (۲) ....

---

۱) قال العلامة ظفر أحمد العثماني رحمه الله تعالىٰ :ومما قدمه الشارح عن الخانية والكمال أنه يجوز للمرأة سدّ فم رحمها كما تفعله النساء.....قلت :لكن في البزازية :أن له منع أمراته عن العزل ،آن (فلا يجوز له سدّ فم رحمها بغير إذنه) نعم النظر إلى فساد الزمان يفيد الجواز من الجانبين.
(اعلاء السنن ۱۷: ۴۰۹، كتاب الحظر والإجابة ،حكم احتيال المرأة لقطع الحمل)

۲) قال المفتي محمّد شفيع رحمه الله تعالىٰ : د خاوند وینه د ښځې په بدن کې یا د ښځې وینه د خاوند په بدن کې داخلولو سره په نکاح باندې هیڅ اثر نه غورځوي، نکاح په خپل حال باقي وي، ځکه چې شریعت محرمیت د نسب، مصاهرت، رضاعت سره مخصوص کړې دی، ددې نه تجاوز کول صحیح نه دي،
(انسانی اعضاء کی پیوند کاری ۲۸ شوهر، بیوی کے خون کا باهم تبادله)

۳) قال الله تبارک وتعالىٰ :حرمت علیکم امهاتکم وبناتکم.....وامهاتکم التی ارضعنکم واخواتکم من الرضاعة. (سورة النساء ،پاره ۴، آیت ۲۳)

حديث[۱] او د فقهاوو په عبارت کې تصریحي حکم دی چې ثابتیږي.[۲]

وهوالموفق

---

۱) عن عائشة رضي الله تعالى عنها أن النبي ﷺ دخل عليها وعندها رجل فكأنه تغير وجهه، كأنه كره ذلك، فقالت: إنه أخي، فقال: انظرن من إخوانكن فإنما الرضاعة من المجاعة. صحيح البخاري ۲: ۸۲۴، باب من قال لا رضاع بعد حولين)

۲) وفي الهندية: قليل الرضاع وكثيره إذا حصل في مدة الرضاع تعلق به التحريم..... وإذا مضت مدة الرضاع لم يتعلق بالرضاع تحريم.
(فتاوى عالمكيرية ۱: ۳۴۲، كتاب الرضاع)

باب الرياضة البدنية

ورزش جائز دی

سوال: څه وايي علماء كرام دې مسئلي باره کې چې د ورزش په باره کې څه حکم دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: ذاكر الله. كوهاټ... ۱۵، محرم ۱۴۰۰ھ

الجواب: ورزش جائز دی (۱) **وهوالموفق**

د موجوده ورزشونو حکم

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلي باره کې چې د قران مجيد په ۱۸ سپاره کې مستي د لغو په معنا اخيستل شوې، کومه لوبه چې موږ مکتبونو کې کو، ايا دا

---

۱) قال الله تبارك وتعالى: أَرْسِلْهُ مَعَنَا غَدًا يَرْتَعْ وَيَلْعَبْ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ... قَالُوا يَا أَبَانَا إِنَّا ذَهَبْنَا نَسْتَبِقُ.... (الآية. (سورة يوسف)

وقال العلامة القرطبي رحمه الله تعالى: قال القشيري أبونصر "نستبق" أى في المرمي أوعلى الفرس أوعلى الأقدام، والغرض من المسابقة على الأقدام تدريب النفس على العدو لأنه آلة في قتال العدو.... المسابقة شرعة في الشريعة، وخصلة بديعة وعون في الحرب.

(التفسير القرطبي ۹:۱۲۵، سورة يوسف، آيت: ۱۲، ۱۸)

وقال المفتي كفايت الله رحمه الله تعالى: جسمانی ورزش چې هغې کې د شريعت خلاف څه خبره نه وي؛ نو جائز دی.

(كفايت المفتي ۹:۲۶۹، كتاب الحظر والإباحة، يو ويشتم باب: متفرقات)

لغو ده؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد سعید ګل، اکبرپوره... ۱۵/رمضان ۱۴۰۵هـ

الجواب: دا موجوده ورزش لغو په دې کې د ملک د پرمختګ هیڅ امید نشته. په خلاف د هل چلاني او کودابي کول. ځکه چې په دې کې بدن د صحت نه علاوه ملکي ترقي کیږي. که د مسلمان بچیان او نوي ځوانان د داسې مشقونو سره خپل زړونه وتړي: نو ډیره به ښه وي **وهوالموفق**

د فټ بال، والي بال او نورو لوبو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې فټ بال. والي بال او لوبو وغیره باره کې شرعي حکم څه دی؟ بینوا توجروا

المستفتي: ذاکرالله. پشاور

الجواب: کله چې تشبیه د نصاراوو سره نه وي: نو دا لوبه نه مطلوب ده نه ممنوع. (۱)او د تشبیه په صورت کې ممنوع ده. (۲)**وهوالموفق**

---

۱) قال المفتي كفايت الله رحمه الله تعالى: جسماني ورزش چې هغې کې د شریعت خلاف څه خبره نه وي نو جائز دی. د ورزش ډيرې طريقې دي چې په هغې کې بعضې طريقې داسې دي چې هغه د یوخاص قوم د کفارو سره مخصوص دي، مثلا کرکټ، فټ بال، هاکي وغيره چې په هغې کې د یورپین د مشابهت په وجه کراهت شته، البته که په دې شیانو کې د مشغولیدو په وجه لمونځ یا بل شرعي امر کې نقصان نه راځي؛ نو صرف د تشبیه په وجه به کراهت وی، د حرمت حکم پرې لګول صحيح نه دي. (كفايت المفتي ۹: ۲۶۹، كتاب الحظر والإباحة، يو ويشتم باب: متفرقات)

۲) في المرقاة: (قال رسول الله ﷺ من تشبه بقوم) أى من شبّه نفسه بالكفار مثلًا في اللباس وغيره أو بالفساق أو بالفجار أو بأهل التصوف والصلحاء الأبرار (فهومنهم) أى في الإثم والخير. (مرقاة المفاتيح ۸: ۲۵۵، كتاب اللباس، مسئلة التشبة)

د پهلوانۍ او کراټو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې په دارالعلوم حقانيه کې د پهلوانۍ، کراټو او د لاس جنګ کوم مرکز خلاص شوی په دې کې برخه اخيستل څه حکم لري؟ که يو کس د دښمن ماتولو په غرض يا صحت جوړولو په غرض په دې کې برخه واخلي؛ نو ددې متعلق شريعت څه حکم کوي؟ بينوا توجروا

المستفتي: جناب عزيزالرحمن متعلم حقانيه اکوړه ۱۴۰۳هـ/۱۹/۳

الجواب: د ځان چستوالي او د الله ﷻ د دښمنانو ماتولو په بنا مشروع بلکې مطلوب دی. ()کله چې په اصل مقصد کې خلل نه راځي. قال الله تعالى يرتع ويلعب.()وهوالموفق

---

۱) في مجمع الأنهر :تجوز المسابقة بالسهام والخيل والحمير والأقدام....لأنه يحتاج إليه في الجهاد للكرّ والفرّ وكل ما هو من أسباب الجهاد، فتعليمه مندوب إليه سعياً في إقامة هذه الفريضة.

(مجمع الأنهر ۴:۲۱۶، كتاب الحظر والإباحة، فصل في المتفرقات)

۲) (سورة يوسف، آيت :۱۲)

الله الله

فتاوى فريديه

نهم جلد

باب الأشربة

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قال الله تبارك وتعالى

يَسْأَلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ

قُلْ فِيْهِمَا إِثْمٌ كَبِيْرٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ

وَإِثْمُهُمَا أَكْبَرُ مِنْ نَّفْعِهِمَا

(سورة البقرة)

باب الأشربة

د وربشو شرابو څښلو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې دلته په عراق کې يو اوسېدونکی وايي چې د «بير» يعني وربشو شراب حلال دي. وجه داده چې دې کې نشه نشته. که څوک ئه بوتلونه وڅښي؛ نو نشه راولي. تاسو مهرباني وکړئ تفصيل يې وليکئ؟ بينوا توجروا

المستفتي: حکيم خان ۱۷۱ انګلينډ يو کې. ۲۴ شوال ۱۳۸۸هـ

الجواب: چونکې د بير يعني د وربشو شراب مسکر دي لهذا دا حرام دي.

قال رسول الله ﷺ: **كل مسكر خمر وكل مسكر حرام** رواه مسلم (۱) وقال عليه الصلوة والسلام: ما أسكر كثيره فقليله حرام (رواه أحمد (۲) وابن ماجة) (۳) وفي الدار المختار: وحرّمها محمد أي الأشربة المتخذة من العسل والتين ونحوهما، قاله المصنف مطلقاً قليلها وكثيرها وبه يفتى، ذكره الزيلعي وغيره واختاره شارح الوهبانية (۴) وهو الموفق

---

۱) (صحيح المسلم ۲:۱۶۷، كتاب الأشربة، باب بيان أن كل مسكر خمر)

۲) (مسند الامام أحمد ۲:۹۱ مسند عبدالله بن عمربن الخطاب رضي الله تعالى عنهما)

۳) (سنن ابن ماجة ۲۵۱، أبواب الأشربة، باب ما أسكر كثيره فقليله حرام)

۴) (الدرالمختار ۵:۳۲۳، كتاب الأشربة)

وقال العلامة الزيلعي رحمه الله تعالى: وقال محمّد ومالک والشافعي رحمهم الله تعالى: كل ماأسكر كثيره فقليله حرام من أى نوع كان لقوله ﷺ: كل مسكر خمر وكل مسكر حرام... والفتوى في زماننا على قول ......(پاتې حاشيه په بل مخ)

په شرابو علاج کول

سوال: څه وايي علماء كرام دې مسئلې باره کې چې زمونږ په کلي کې له ډېره وخته د ساه بندي بيمار دی، ځينو ډاکټرانو مشوره ورکړې چې علاج يې شراب دي، عرض دا دی چې دې صورت کې د شرابو استعمال جائز دی که ناجائز؟ بينوا توجروا

المستفتي: قاري اشرف، تيمر ګره دير ..... ربيع الثاني ۱۴۰۲هـ

الجواب: شراب څښل عادت جوړول هر وخت ممنوع دي. ځکه چې على سبيل المداومة حرام دي (۱)؛ البته د تداوي په توګه شراب يو دوه څاڅکي څښل هغه وخت رخصت دی کله چې حاذق ديندار او مخلص مسلمان حکيم مريض ته دا مشوره ورکړي، نو په دې صورت کې هم که له شرابو پرهيز وشي غوره دی. لما في الهندية ۵:۳۵۵ : هل يجوز شرب القليل من الخمر للتداوي اذا لم يجد شيئا يقوم مقامه فيه وجهان (۲) والله اعلم

(دحاشيې باتې برخه)محمّدرحمه الله تعالى .(تبيين الحقائق ۶:۴۶/۴۷، كتاب الأشربة)

۱) قال الله تبارک وتعالى : يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡخَمۡرُ وَٱلۡمَيۡسِرُ وَٱلۡأَنصَابُ وَٱلۡأَزۡلَٰمُ رِجۡسٞ مِّنۡ عَمَلِ ٱلشَّيۡطَٰنِ فَٱجۡتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُونَ. (سورة المائدة آيت : ۹۰)

وعن ابن عمر رضي الله تعالى عنه قال : خطب عمر على منبر رسول الله ﷺ فقال : انه قد نزل تحريم الخمر الخ.

(مشكوة المصابيح ۳۱۷،باب بيان الخمر ووعيد شاربها)

۲) (فتاوى هندية ۵:۳۵۵، كتاب الكراهية،الباب الثامن عشر في التداوي والمعالجات)

وقال العلامة ابن عابدين : (قوله وجوزه في النهاية بمحرم) ونصه في التهذيب ، يجوز للعليل شرب البول والدم والميتة للتداوي ...(باتي حاشيه په بل مخ)

له وربشو او کني نه د حاصل شويو شرابو حکم

سوال: څه وايي علماء کرام دي مسئلي باره کې چې: إنما الخمر والميسر... الخ، له خمر نه ځيني خلک صرف د خورما او انګورو شراب مراد اخلي او د حضور ﷺ له دې حديث نه استدلال کوي چې په هغه کې نبي ﷺ له (هاتين الشجرتين) نه هغه دوه ونو (خورما او انګورو) طرف ته اشاره ده چې ددې دوه ونو شراب پر تاسو حرام دي. دويم ډول شرابو نه بې دومره اندازه څښل حرام ګڼلي چې څومره اندازه باندې نشه راځي که نه نو حلال دي. خصوصاً د وربشو او الکحل شراب نو مهرباني وکړئ نور ډولونه (چې پکې د اوربشو او الکحلو شراب شامل وي) د حل او حرمت باره کې وضاحت وکړئ. د جرمني د هوميوپيتهک دوايانو کې تقريباً ۹۰ فيصده الکحل شامليږي. ددې استعمال د شريعت له مخې څنګه دی؟ بينوا توجروا

المستفتی نامعلوم.

الجواب: چې الکحل، انګور او خرما حاصل وي يا له وربشو وغيره نه حاصل وي: نو د مفتی به قول په بنا دا هم حرام دي، **لأنه من أقسام الخمر كما في شرح التنوير على هامش ردالمحتار: والحكل حرام عند محمد وبه يفتى(۱) قلت ويؤيده ظاهر ما رواه مسلم: كل مسكر**

(د حاشيې پاتې برخه) إذا أخبره طبيب مسلم أن شفاء ه فيه ولم يجد من المباح مايقوم مقامه. (ردالمحتار ۵:۲۷۵ كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

۱) (الدرالمختار ۵:۳۲۴، كتاب الأشربة)

وقال العلامة الزيلعي :وقال محمد ومالك والشافعي رحمهم الله كل ما أسكر كثيره فقليله حرام من أى نوع كان لقوله ﷺ: كل مسكر خمر وكل مسكر حرام.... والفتوى في زماننا على قول محمدّ رحمه الله تعالى. (تبيين الحقائق ۶ : ۴۶، ۴۷، كتاب الأشربة)

خمر وكل مسكر حرام(۱) البته تداوي بالمحرم عند الضرورة جائز ده(۲) وهوالموفق

د تمباکو پاکوالی، استعمال او ددې له وجې د اودس ماتېدو مسئله

سوال: څه وايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د تمباکو کرل جائز دي او که نه؟ که چېرته حرام وي، نو په دې کې زکوة ولې ورکول کيږي. که چېرته جائز وي، نو نسوار څه حيثيت لري او چلم نوشي ولې حرامه ده. د نسوارو د خرڅولو ګټه څنګه ده؟ په نسوارو اودس ماتيږي او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي عبدالوارث صوابی ۱۸/ رمضان ۱۳۹۵ هـ

الجواب: ښکاره خبره ده چې تمباکو د نورو نباتاتو په شان پاک دي او استعمال يې مباح او جائز دی، اودس پرې نه ماتيږي.(۳) البته د بې هوشۍ (اغماء) راتلو په وخت کې يا د وينې روانيدو

---

۱) (صحيح المسلم ۲:۱۶۷، كتاب الأشربة، باب بيان أن كل مسكر خمر)

۲) وفي المحيط البرهاني: الاستشفاء بالمحرم انما لا يجوز إذا لم يعلم أن فيه شفاء، أما إذا علم أن فيه شفاء وليس له دواء آخر غيره فيجوز الاستشفاء به.
(المحيط البرهاني ۶:۱۱۶ كتاب الاستحسان، الفصل التاسع عشر في التداوي والمعالجات)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: (قوله وجوزه في النهاية بمحرم) ونصه في التهذيب، يجوز للعليل شرب البول والدم والميتة للتداوي إذا أخبره طبيب مسلم أن شفاءه فيه ولم يجد من المباح مايقوم مقامه.
(ردالمحتار ۵:۲۷۵، كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

۳) قال العلامة المفتي كفايت الله رحمه الله تعالىٰ: تمباكو او نسوارو سره اودس نه ماتيږي. (كفايت المفتي ۲:۲۷۲، باب الطهارة، فصل چهارم)

نه وروسته او دس کول فرض دي. (۱) يدل عليه ما في رد المحتار ۵:۳۰۵ .فإنه لم يثبت اسكاره ولا تفتيره ولا اضراره بل ثبت له منافع فهو داخل تحت قاعدة، الأصل في الاشياء الاباحة الخ. (۲) وهو الصواب

د تمباکو نوشي اباحت باندې دويم وار وضاحت

سوال: څه وايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ستاسو د اولنی فتوی نه دا معلومیږي چې تمباکو څښل روا دي. زيات تفصيل غوارم؟ بينوا توجروا

المستفتی: عبد الله جان .بنګرام .مانسهره

الجواب: زموږ د فتوا مطابق تمباکو څښل مباح دي. **وهو المختار عند أكابرنا** وفي رد المحتار ۵:۴۰۶ فإنه لم يثبت إسكاره ولا إضراره بل ثبت له منافع فهو داخل تحت قاعدة، الأصل في الأشياء الإباحة (۳) البته ددې استعمال د لهو ولعب په طريقه مکروه دی. (۴) خو په کرلو کې يې کراهيت نه لازميږي. **وهو الموفق**

---

۱) في الهندية : الفصل الخامس في نواقض الوضوء ... منها مايخرج من غير السبيلين ويسيل إلى مايظهر من الدم والقيح ... الإغماء ينقض الوضوء قليله و كثيره.
(فتاوى هندية ۱۲، ۱۰:۱ كتاب الطهارة، الفصل الخامس)

۲) ردالمحتار ۵:۳۲۶، كتاب الأشربة

۳) (ردالمحتار ۵:۳۲۶، كتاب الأشربة)

۴) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : (قوله بلا لهو و طرب)... وهذا التقييد غير مختص بهذه الأشربة بل إذا شرب الماء وغيره من المباحات بلهو وطرب على هيئة الفسقة حرم.
(ردالمحتار ۵:۳۲۲، كتاب الأشربة)...(باتي حاشيه په بل مخ)

الکحل شراب دي که نه؟

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې هوميوپيتهک دواياني عموماً د سيال په شکل کې وي، په الکحل کې تيارېږي په اصلي دوا د الکحل په نسبت ۱:۱۰ او ۱:۳ وي دا سيال دوا د بلک شوګر (تور زيږي) په وړو وړو ګوليو څو څاڅکو کې اچول کيږي چې يو دوه ورځو کې جذب او وچيږي، غرض دا چې ددې استعمال په ډېر لږ مقدار کې وي. غوښتنه داده چې ايا داسې کار د الکحلو د هغه شرابو په تعريف کې راځي چې لږ او ډېر يې حرام دي يا الکحلو په دوايي کې ګډ استعمال شرعاً جائز او حلال دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: غلام احمد. تربيلا ډيم ... ۲۲ اپريل ۱۹۷۵ء

الجواب: که دا الکحل د انګورو يا له خورماوو نه تر لاسه شوي وي، نو بې له شرعي ضرورته يې استعمال حرام دی. اګر که په لږ مقدار کې هم وي او که له ګنې وغيره نه جوړ شوي وي حلال دي چې د مسکر مقدار نه کم وي. لکه په سوال کې چې ذکر شوي (ماخوذ از هدايه) (۱)

(د حاشيې پاتې برخه) وقال العلامة رشيد أحمد الګنګوهي رحمه الله تعالی: چلم څښل، تمباکو خوړل مکروه تنزيهي دي، که بوی وکړي، کنه نو هيڅ خبره نه ده، د حقه څښونکي او تمباکو پلرونکي مال حلال دی او د دوی په کورونو کې د مبلمستيا خوراک هم صحيح دی. (فتاوی رشيديه ۴۶۲، جواز اور حرمت کے مسائل)

۱) وفي الهداية: الأشربة المحرمة أربعة: الخمر... قوله عليه السلام: الخمر من هاتين الشجرتين وأشار إلى الكرمة والنخلة... السابع حرمة الانتفاع بها لأن الانتفاع بالنجس حرام... والثامن أن يحد شاربها وإن لم يسكر منها وماسوی ذلک من الأشربة فلا بأس به ... وهو نص على أن ما يتخذ من الحنطة والشعير والعسل والذرة حلال عند أبي حنيفة رحمه الله تعالى ولا يحدّ شاربه وإن ...(پاتې حاشيه په بل مخ)

وغيرها. ()وهوالموفق

په عطرو او دوایانو کې د کهٔ شویو الکحل استعمالولو حکم

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې انګريزي عامو خوشبوګانو كې الكحل وكارول شي نو استعمال يې څنګه دى او د دا ډول دوايانو استعمالولو حكم څه دى او په كومو

(د حاشيې پاتې برخه) سكر منه... وعن محمّد أنه حرام ويحدّ شاربه إذا سكر منه.
(هداية ۴۹۶،۴۹۲:۴، كتاب الأشربة)

۱) وفي الهندية: وأما ما هو حرام بالإجماع فهو الخمر والسكر من كل شراب وأما الخمر فلها احكام ستة: أحدها أنه يحرم شربِ قليلها وكثيرها ويحرم الانتفاع بها للتداوي وغيره... والفتوى في زماننا بقول محمّد رحمه الله تعالى حتى يحدّ من سكر من الأشربة المتخذه من الحبوب والعسل واللبن والتين...لأن الفساق يجتمعون على هذه الأشربة في زماننا ويقصدون السكر واللّهو بشربها.
(فتاوى هنديه ۴۱۲،۴۱۰:۵، كتاب الأشربة، الباب الأول)

وقال العلامة نظام الدين رحمه الله تعالى: نن سبا چې په انګريزي دوايانو كې وم اسپرټ شامل دي دا شراب نه دي، دا داسې سپرټ دي چې د كچالو، غوړيو او داسې نورو خوراكي شيانو څخه جوړ وي، د هغې استعمالول روا دي، څكه چې دا د څلورو حرامو مشروباتو څخه نه دي.
(نظام الفتاوى ۳۵۳:۱، كتاب الحظر والإحاحة)

وقال حكيم الأمت رحمه الله تعالى: اسپرټ كه د عنب (انګور) او زبيب (وچكو) يا لندو خورما يا تمر (وچې خورما) څخه جوړ شوي وي؛ نو په ديكښې ګنجايش شته، للاختلاف، كنه نو ګنجايش نشته، للاتفاق،... ددې ځاى څخه د هوميوپيتهک دوايانو حكم هم معلوم شو چې بې ضرورته يې استعمال پكار نه دى، څكه چې د هغې اصل اسپرټ دي او د نورو دوايانو خالي نوم دى.
(بهشتي زيور ۱۰۲، حصه نهم طبي جوهر)

جامو کې چې دا ډول خوشبويي لګيدلې وي د هغو سره لمونځ څه حکم لري؟
بينوا توجروا

المستفتي: کفايت بخاري، اټک ۲۴/۵/۵۹ء

الجواب: دا چې الکحل انګوري يا خورمايي نه وي نو ناپاک نه دي البته ددې خوراک او څښاک د امام محمد رحمه الله په نزد په هر حال منع دی او د شيخين په نزد د مسکر له اندازې نه لږ خوړل او څښل منع نه دي. هدايه. [۱] شامي، [۲] هنديه [۳] **وهوالموفق**

---

[۱]) قال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالى: وماسوى ذلک من الأشربة فلا بأس به... وهو نصّ على أن ما يتخذ من الحنطة والشعير والعسل والذرّة حلال عند أبي حنيفة ولا يحدّ شاربه وإن سكر منه... وعن محمّد أنه حرام ويحدّ شاربه إذا سكر منه... وأبويوسف رحمه الله تعالى رجع إلى قول أبي حنيفة رحمه الله تعالى فلم يحرم كل مسكر. (الهداية ۳:۲۹۶، كتاب الأشربة)

[۲]) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وحرمها محمّد أى الأشربة المتخذة من العسل والتين ونحوهما مطلقًا قليلها و كثيرها وبه يفتى. (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله ونحوهما) كالتمر والزبيب والعنب، فالمراد الأشربة الأربعة التي هي حلال عند الشيخين إذا غلت واشتدت وإلا فلا تحرم كغيرها اتفاقا. (ردالمحتار ۵:۳۲۳، كتاب الأشربة)

[۳]) في الهندية: وأما الأشربة المتخذة من الشعير أو الذرة أوالتفاخ أوالعسل إذا اشتد وهو مطبوخ أو غير مطبوخ فإنه يجوز شربه مادون السكر عند أبي حنيفة وأبي يوسف رحمهما الله تعالى وعند محمّد رحمه الله تعالى حرام شربه، قال الفقيه وبه نأخذ كذا في الخلاصة، فإن سكر من هذه الأشربة فالسكر والقدح المسكر حرام بالإجماع واختلفوا في وجوب الحد.
(فتاوى هندية ۵:۴۱۴، كتاب الأشربة، الباب الثاني في المتفرقات)

د غیر مسلمو د سپري کانو د استعمال حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې يورپ يا داسې د نورو ملکونو سينټ يعني د سپرې والا عطر چې الکحل هم پکې شامل وي. ډېر پيدا کيږي استعمال يې څنګه دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: سيد امير خان ۳/رجب ۱۴۰۲هـ

الجواب: د سلام وروسته دي واضحه وي چې الکحل د انګورو يا خورماوو نه جوړ وي هغه حرام او ناپاک دي او چې کوم له ګني وغيره نه جوړ شوي وي هغه پاک دي او د حرمت تفصيل دا دی چې نا معلوم وي نو احتياط په ځان ساتنه او پرهيز کې دی او د سينټ مسئلې حکم له دې قاعده نه معلوم کړئ.

(مأخوذ از بهشتي زيور)[1] **وهوالموفق**

د اسپرټ او جديد تيار شوي سياهی د استعمال حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې اسپرټ او موجوده تياره شوي سياهي

---

۱) قال حكيم الأمت رحمه الله تعالى: اسپرټ که د عنب (انګورو) او زبيب (وچکو) او رطب (لمدو خورما) او تمر (وچو خورما) نه حاصل شوي نه وي نو په دې کې ګنجائش شته سره د اختلاف نه، کنه ګنجايش پکې نشته للاتفاق.

(بهشتي زيور، طبي جوهر ۷۷۶، حصه نهم)

وقال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالى: الأشربة المحرمة أربعة الخمر... قوله عليه السلام الخمر من هاتين الشجرتين وأشار إلى الكرمة والنخلة... السابع حرمة الانتفاع بها لأن الانتفاع بالنجس حرام... والثامن أن يحدّ شاربها وإن لم يسكر منها... وماسوى ذلك من الأشربة فلا بأس به ...وهو نص على أن ما يتخذ من الحنطة والشعير والعسل والذرة حلال عند أبي حنيفة رحمه الله تعالى.

(الهداية ۴۹۶، ۴۹۲: ۴، كتاب الأشربة)

پاکه ده یا ناپاکه ؟بینوا توجروا

المستفتي: مولوي قمرگل، ترناب چارسده...... ۲۹/ جماد الثاني ۱۴۰۳هـ

الجواب: چې کله اسپرټ، انګوري یا خورمايي نه وي نو ضرر نه رسوي نه حرام دی او نه ناپاک دی (مأخوذ از قواعد فقه)(۱) والله اعلم

چلم، چرس، نسوار، افین او د سګرټو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې چلم، چرس، او سګرټ څکول، د نسوارو او افینو اړوند د شریعت له مخې څه حکم لري، حرام دي که مباح او که مکروه؟ بینوا توجروا

المستفتي: عبد المستعان..... ۷۴/۳/۱۰ء

الجواب: تمباکو ښنل في نفسه مباح دي. قال العلامة الشامي: فإنه لم يثبت إسكاره ولا تفتيره ولا اضراره بل ثبت له منافع فهو داخل تحت قاعدة، الأصل فی الأشياء الإباحة (ردالمحتار ۵:۴۰۶)(۲) البته چې د لهو په طريقه او بغيره صحيح غرض څخه وي

---

۱) وفي الفتاوى الخانية: وأما المتخذ مما سوى التمر والعنب نحو الثمار والسكر والفانيذ والحبوب والعسل كالشعير والحنطة والذرة وما أشبه ذلک مالم يشتدّ يحل شربه بلا خلاف، فإذا غلى واشتدّ وقذف بالزبد فإن كان طبخ أدنى طبخة يحل في قول أبي حنيفة وأبي يوسف رحمهما الله تعالى.

(فتاوى خانية على هامش الهندية ۳:۲۳۰، كتاب الأشربة)

وقال حكيم الأمت رحمه الله تعالى: اسپرټ که د عنب (انګورو) او زبيب (وچکو) او رطب (لمدو خورما) او تمر (وچو خورما) نه حاصل شوي نه وي نو په دي کي ګنجائش شته سره د اختلاف نه، که ګنجایش پکې نشته للاتفاق. (بهشتی زیور، طبی جوهر ۷۷۶، حصه نهم)

۲) (ردالمحتار ۵:۳۲۶ كتاب الأشربة)

نو مکروه دي. كما صرح به[۱] ۵:۴۰۱) او د تسوارو هم دا حکم دی او په چرسو کې د نشې راتلو صفت دی. لهذا افیون هم حرام دي. كمافي الدرالمختار على هامش ردالمحتار[۲] ۴:۴۰۴، ۴۰۵.) وهوالموفق

عطرو کې د ګډو شويو الکحلو استعمالول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې موجوده زمانه کې له عطرو سره څه نا څه شراب ګډوي، استعمالول يې څنګه دي. لګول يې صحيح دي که نه؟ بينوا توجروا

المستفتی: حکیم الله بنوي، متعلم حقانیه اکوړه ختک ۵محرم ۱۴۰۳ھ

الجواب: که دا شراب (اسپرټ يا الکحل) انګوري يا خورمايي وي نو دا عطر پليت دي، واجب الإجتناب دي او که له ګني وغيره نه تر لاسه شوي وي: نو د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد به پاک او جائز

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله بلا لهو وطرب) ... وهذا التقييد غير مختص بهذه الأشربة بل إذا شرب الماء وغيره من المباحات بلهو وطرب على هيئة الفسقة حرم. (ردالمحتار ۵:۳۲۲، كتاب الأشربة)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ويحرم أكل البنج والحشيشة هي ورق القنب والأفيون لأنه مفسد للعقل ويصدّ عن ذكر الله وعن الصلاة.

(الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۵:۳۲۵، كتاب الأشربة)

وفي الدرالمنتقي: ويحرم أكل البنج والحشيشة والأفيون لكن دون حرمة الخمر، فإن أكل شيئا من ذلك لاحدّ عليه بل يعزّر بما دون الحدّ.

(الدرالمنتقي على هامش مجمع الأنهر ۴:۲۵۱، كتاب الأشربة)

الاستعمال وي (مأخوذ از کتاب الأشربة شامی (۱) وهدایه. (۲)) والله اعلم

بدن ته د مضرو اشربه وو استعمالول حرام دي اګر که نشه پکې نه وي

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې فيجي آئر لينډ يو جزيره ده په هغه جزيره کې يو بوټي راخيژي چې ښځونه يې راويستل کيږي. له وچېدو وروسته اوبو سره ګډيږي څو نفره شاوخوا کښيني بيا يې څښي. درې درې غړپه لس لس دقيقې وروسته تول شپه يې څښي. څو لاندې خصوصيتونه لري

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: والمحرم منها أربعة أنواع، الأول: الخمر ... وحرم قليلها وكثيرها بالإجماع، والثاني الطلاء، والثالث السكر، والرابع نقيع الزبيب، والكل أى الثلاثة المذكورة حرام إذا غلى واشتد وحرّمها محمّد أى الأشربة المتخذة من العسل والتين ونحوهما مطلقا قليلها وكثيرها وبه يفتى. (درمختار مختصراً)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله ونحوهما) كالتمر والزبيب والعنب، فالمراد الأشربة الأربعة التي هي حلال عند الشيخين إذا غلت واشتدت وإلا فلا تحرم كغيرها اتفاقاً. (ردالمحتار ۵:۳۱۸تا۳۲۳، كتاب الأشربة)

۲) قال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالى: الأشربة المحرمة أربعة الخمر والعصير وهو الطلاء ونقيع التمر وهو السكر ونقيع الزبيب... الرابع أنها (الخمر) نجسة نجاسة غليظة كالبول ... والسابع حرمة الانتفاع بها لأن الانتفاع بالنجس حرام ولأنه واجب الاجتناب وفي الانتفاع به اقتراب... فكل ذلك حرام عندنا إذا غلا واشتد وقذف بالزبد وإذا اشتد على الاختلاف... وما سوى ذلك من الأشربة فلا بأس به... وهو نص على أن مايتخذ من الحنطة والشعير والعسل والذرة حلال عند أبي حنيفة رحمه الله تعالى. (الهداية ۳:۴۹۲تا۴۹۶، كتاب الأشربة)

(۱) د ابو رنګ د خاورې د رنګ په څېر کړي، د پر استعمالونکي یې چوپوالی خوښوي

(۲) د پر استعمالونکي ځوان د بوډاګانو غوندې ښکاري.

(۳) له د پر استعماله بدن باندې سپیني سپیني کرښې راخیژي.

(۴) لاسونه سخت، بدن وچوي چې لاس نیولو کې خندونه او دانې محسوسیږي.

(۵) د پر استعمالونکي یې اکثر لمونځ نه کوي، عموماً شخې یې پرېشانه وي، ډېره سستیا محسوسوي. زیات مزل نشي کولی.

(۶) د پرو ملکونو کې دا د پر نشه لرونکی شی ګڼي او پابندي پرې لګیدلې وي، د دغه شي نوم یګانه (Yagana) دی. په دې باره کې شرعي حکم څه دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: محمد طیب قاسمي کنیډا

الجواب: چونکې دا شربت (یګانه) بدن ته زیان رسوي. لهذا ددې استعمال حرام دی لکه چې په زهر قاتل کې چې نشه نشته مګر استعمال یې حرام دی. **صرح بحرمته فی ردالمحتار ۴:۴۰۳، فی کتاب الأشربة ()** او د برش د حرمت په وجوهاتو کې د بدن فساد مذکور دی **کمافی تلک**

---

۱) قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: ولا یلزم من حرمته نجاسته کالسم القاتل فإنه حرام مع أنه طاهر.

(ردالمحتار ۵:۳۲۴، کتاب الأشربة)

وفي الهندیة: أکل الطین مکروه هکذا ذکر في فتاوی أبي اللیث رحمه الله تعالیٰ وذکر شمس الائمة الحلواني في شرح صومه إذا کان یخاف علی نفسه أنه لوأکله أورثه ذلک علة أو آفة لایباح له التناول وکذلک في کل شئ سوی الطین.

(فتاوی هندیة ۵:۳۴۰، کتاب الکراهیة، الباب الحادي عشر في الکراهة في الأکل)

الصفحة أن أدمانه (البرش) يفسد البدن والعقل ويسقط الشهوتين ويفسد اللون وينقض القوی وینهك،(1) او علامه شامي رحمه الله هم په ردالمحتار کې دې نه د اضرار له وجې د حرمت په طرف اشاره کړې ده.

وهكذا يقال فی غیر من الاشياء الجامدة المضرة فی العقل او غيره يحرم تناول القدر المضر منها دون القليل (2) وقال فی ۴۰۶: فانه لم يثبت اسكاره ولا تفتيره ولا إضراره (3) وهو الموفق.

بې له صحيح غرضه سګرټ څښل مکروه دي

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې چلم يا سګرټ څښل څنګه دي؟ که يو امام سګرټ وڅښي: نو هغه پسې لمونځ کول څنګه دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: عابد محمود ضلع اټک ... ۱۷/نومبر ۱۹۸۴ء

الجواب: تمبا کو څکول بذات خو دمباح دي، کما فی ردالمحتار ۵: ۴۰۶: فإنه لم يثبت إسكاره ولا تفتيره ولا إضراره بل ثبت له منافع فهو داخل تحت قاعدة: الأصل فی الاشياء الإباحة الخ (4) ليکن د لهو او صحيح غرض نه بغير په ددې استعمال مکروه وي کما فی ردالمحتار ۵: ۴۰۱ قال فی الدر: وهذا التقييد غير مختص بهذه الأشربة بل إذا

---

۱) (ردالمحتار ۳۲۶، کتاب الأشربة)

۲) (ردالمحتار ۵: ۳۲۵، کتاب الأشربة)

۳) (ردالمحتار ۵: ۳۲۶، کتاب الأشربة)

۴) (ردالمحتار ۵: ۳۲۶، کتاب الأشربة)

شرب الماء وغيره من المباحات بلهو وطرب على هيئة الفسقة حرم.(١) وهو الموفق.

د نسواري د اودس ماتيدو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې سړی د لمانځه لپاره اودس وکړي او تمباکو خوله کې واچوي. ايا په دې باندې اودس ماتيږي که نه؟ دا ډول د سگرټ اروند هم وضاحت وکړئ چې اودس ماتونکې دی که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوی احمد الرحمن. ضلع هنگو ۱۹۸۶ء ۴.۱۰

الجواب: چونکې تمباکو خښل نه مسکر دي نه مفتر.(٢) لهذا د اودس په ماتيدو کې يې هيڅ وجه

---

١) (ردالمحتار ۵:۳۲۲، کتاب الأشربة)

وقال الشيخ محمّد كامل رحمه الله تعالىٰ: سئلت عن الدّخان الذي شاع في زماننا وعمت به البلوى ماحكم الله تعالىٰ فيه؟

فالجواب: أن المجتهدين لم يتكلموا عليه لأنه إنّما حدث بعدهم والمتأخرون اختلفوا فيه فمنهم من يقول بتحريمه، ومنهم من يقول بإباحته، ومنهم من توسط وقال بكراهته وأحسن ما رأيت فيه قول شيخ مشائخنا خاتمة المحققين العلامة الأمير المالكي: واختلف في الدخان، والورع تركه آه فلا ينبغي صرف المال فيه ولا تضييع الوقت ولا سيما لمن هو منسوب للعلم الشريف، والله تعالىٰ أعلم.

(فتاوى كاملية ۲۶۹،۲۶۸، كتاب الحظر والإباحة)

٢) وفي ردالمحتار: ففيهم حكم النبات وهو إباحة على المختار والتوقف وفيه إشارة إلىٰ عدم تسليم إسكاره وتفتيره وإضراره.

(ردالمحتار ۵:۳۲۸ كتاب الأشربة، قبيل كتاب الصيد)

تشنه (١) وهوالموفق

د امام اعظم رحمه الله په نزد له شرابو پرته په نورو شرابو کې کله حد جاري کيږي

سوال: څه فرمايي علماء کرام دي مسئلې باره کې چې فتاوى عالمگيري ۲:۱۶۰ کې دي:

(۱) والسكران مما سوى الخمر من الأشربة المتخذة من التمر والعنب والزبيب يحد.

(۲). النيء من ماء العنب إذا غلا واشتد ولم يقذف بالزبد فشربه إنسان وسكر لا يحد في قول أبي حنيفة رحمه الله تعالى وحكمه العصير عنده، (۲) مهرباني وکړئ د دويم مطلب واضح کړئ؟ بينوا توجروا

المستفتي: محمد صادق

الجواب: له شرابو پرته نورو شرابو کې قذف بالزبد دامام الأئمه په نزد ضروري دی، كما في درالمختار ۵:۴۰۰ كتاب الأشربة (۳) فليراجع، نو بغير قذف

---

۱) قال العلامة المفتي كفايت الله رحمه الله تعالى: په تمباكو او نسوارو دواړو باندې اودس نه ماتيږي. (كفايت المفتي ۲:۲۷۲، باب الطهارة، فصل چهارم)

۲) (فتاوى هندية ۲:۱۶۰ كتاب الحدود، الباب السادس في حد الشرب)

۳) قال العلامة الحصكفي: والكل أي الثلاثة المذكورة حرام إذا غلى واشتد وإلا لم يحرم اتفاقا، وإن قذف حرم اتفاقا ظاهر كلامه فبقية المتون انه اختار ههنا قولهما. (الدر المختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله إذا غلى واشتد) أي ذهبت حلاوته وصار مسكراً وإن لم يقذف بالزبد خلافا للإمام... (قوله وظاهر كلامه) حيث لم يقل وقذف بالزبد (قوله قولهما) أي بعدم اشتراط القذف.

(ردالمحتار ۵:۳۲۱، كتاب الأشربة)

بالذيد كې چې كوم په عبارت نمبر ۲ كې ليكلي دي باوجود د سكر نه حد نه لازميږي، وهو مذهب الإمام في العصير **وهوالموفق**

په شرابو لړلو جامو سره د لمانځه حکم

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې شراب د چا په جامو ولګيږي ايا بې وينځلو لمونځ پكې كيږي ؟ بينوا توجروا

المستفتي ظهور، دير. ۲۷/ رمضان المبارك ۱۴۰۵ھ

الجواب: انګوري او خورمايي شراب ناپاك دي، په لګيدو سره يې جامې پليتيږي، چې بې وينځلو نه پاكيږي. كه د عفو له اندازې واوړي لمونځ پكې نه كيږي. هدايه (۱) شامي (۲) بحر (۳) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالى: الأشربة المحرمة أربعة: الخمر والعصير ونقيع التمر ونقيع الزبيب... والرابع أنها (الخمر) نجسة نجاسة غليظة كالبول... إن حرمة هذه الأشربة (الثلاثة) دون حرمة الخمر حتى لا يكفر مستحلها ويكفر مستحل الخمر لأن حرمتها اجتهادية وحرمة الخمر قطعية... ونجاستها خفيفة في رواية وغليظة في رواية ونجاسة الخمر غليظة رواية واحدة.
(الهداية ۴۹۵،۴۹۴:۳، كتاب الأشربة)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ولم يبين حكم نجاسة السكر والنقيع ومفاد كلامه أنها خفيفة وهو مختار السرخسي. (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله ومفاد كلامه) حيث صرّح بأن نجاسة الباذق كالخمر وسكت عن هذين، ويبعد أن يقال تركه هنا اعتماداً على ما مرّ فتأمل. (ردالمحتار ۳۲۱:۵، كتاب الأشربة)

۳) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى :والمحرم منه ...(پاتې حاشيه په بل مخ)

د انګورو او خورما الکحل د استعمال حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې الکحل (اسپرټ) په جوکلون (عطور) او افترشيو وغيره کې موجود وي د هغې څه حکم دی؟ کله چې الکحل اصل شراب نه دی بلکې دا خو له کيميکل نه جوړ شوي ديا و دا نه څښل کيږي بلکې که وڅښل شي؛ نو د خطرناکو زهروکار به ورکوي. په امريکا او يورپ کې اوسېدونکي هر مسلمان يې تقريبا استعمالوي. مهرباني وکړئ وضاحت وکړئ؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبد الرحمن. ساکن بهودي سټاکن (امريکه)... ۱۹۸۷ء/۱۱/۱۶

الجواب: انګوري او خورمايي الکحل بې ضرورته استعمالول ناروا دي؛ (۱) الکحل هم يو ډول

(د حاشيې پاتې برخه) أربعة الخمر ... أنها نجسة العين نجاسة غليظة كالبول والغائط ... والطلاء ... ونجاسته قيل مغلظة وقيل مخففة وهو ظاهر الرواية والسكر ... ونقيع الزبيب ... ونجاستها خفيفة. (البحر الرائق ۸:۲۱۸، كتاب الأشربة)

وفي الهداية: قدر الدرهم وما دونه من النجس المغلظ كالدم والبول والخمر ... جازت الصلوة معه وإن زاد لم تجز ... وإن كانت مخففة ... جازت الصلوة معه حتى يبلغ ربع الثوب. (الهداية ۷۵،۷۴:۱، باب الأنجاس)

۱) قال العلامة الكاساني رحمه الله تعالى: أما الخمر فيتعلق بها أحكام: منها: أنه يحرم شرب قليلها وكثير ها إلا عند الضرورة ... وأما السكر والفضيخ ونقيع الزبيب فيحرم شرب قليلها وكثيرها لماروى عن النبي ﷺ أنه قال: الخمر من هاتين الشجرتين، وأشار عليه الصلوة والسلام إلى النخلة والكرمة.

(بدائع الصنائع ۴:۲۷۷ تا ۲۸۰، كتاب الأشربة، أحكام الخمر)

وقال العلامة نظام الدين رحمه الله تعالى: كه په تحقيق سره دا ...

......(باقي حاشيه په بل مخ)

شراب دي(۱) وهوالموفق

تمباکو او د افیونو کرل، خرڅول او اخیستل او د مزدورۍ حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې افین او تمباکو کرل روا دي که ناروا او قیمت یې حلال دی که حرام؟ بینوا توجروا

المستفتي عبدالغني...... ۱۹۷۰/۵/۳ء

الجواب: د تمباکو کرل، اخیستل او خرڅول جائز دي. (۲) او د افیونو کرل (۳)

(د حاشیې پاتې برخه) خبره معلومه شي چې په دې دواګانو کې کوم اسپرټ او شراب کارول کیږي د منقه (انګورو) څخه جوړ وي، نو باید چې استعمال نه شي، هغه خلور شرابونه د انګورو، وڅکو، لنده خورما او وچې خورما، څخه جوړ شوي وي، باید استعمال نه شي، څکه چې ددې بو څاڅکی هم په اتفاق سره حرام او مردار دی.
(نظام الفتاوی ۱:۳۵۳، کتاب الحظر والاباحة)

۱) وفي حاشیه بهشتی زیور: د اسپرټو تحقیق دا دی چې اسپرټ ګویا د شرابو اصل دی، د تېزوالي له وجې نه څښل کیږي......د اسپرټو څخه د کیمیایي علم په ذریعه نشه یې توکي وباسي هغې ته الکحل وایي.
(حاشیه بهشتی زیور ۱۰۲، حصه نهم، طبي جوهر)

۲) قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالى: (قوله والتتن الخ)... فإنه لم یثبت إسکاره ولا تفتیره ولا إضراره بل ثبت له منافع فهو داخل قاعدة، "الأصل في الأشیاء الاباحة".
(ردالمحتار ۵:۳۲۶، کتاب الأشربة)

۳) قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالى: (قوله لا عصرها لقیام المعصیة بعینه) فیه منافاة ظاهرة لقوله سابقاً لأن المعصیة لا تقوم بعینه... ولعل المراد هنا عصر العنب على قصد الخمریة فإن عین هذا الفعل معصیة بهذا القصد.
(ردالمحتار ۵:۲۷۷، فصل في البیع، کتاب الحظر والإباحة)

اخيستل او خرڅول(۱) او مزدوري يې ناروا ده.(۲) چې ددوايي لپاره نه وي.

والله اعلم

سګرټ او چلم څښل

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې تاسو سګرټ او حقه (چلم) ته د مباح حکم ورکړی دی او ځيني خلک وايي چې د دود له وجې ممنوع دی؟ بينوا توجروا

المستفتي سيد خونا جان. قيم سيد آباد (لاند)..... ۱۴۰۵/۵/۲۵هـ

الجواب: علامه شامي رحمه الله په ردالمحتار کتاب الأشربة کې د تمباکو خرڅول مباح ګڼلي دي، **حيث قال لم يثبت إسكاره ولا تفتيره ولا إضراره بل ثبت له منافع فهو داخل تحت قاعدة: الأصل في الأشياء الإباحة** ۶:۴۵۹ ( )**مطبع الحلبي**، البته کله ناکله مباح شيان د خارجي پېښو له وجې حراميږي. **وهنا كذلك لأن فيه إضاعة المال.**( )

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله صح بيع غير الخمر) ثم إن البيع وإن صح لكنه يكره كما في الغاية.

(ردالمحتار ۵:۳۲۳، كتاب الأشربة)

۲) وفي شرح المجلة: من شرائط الانعقاد أيضاقياساً على البيع، كون المستأجر مقدور الاستيفاء حقيقة أو شرعاً فلا تنعقد... الإجارة على المعاصي لأنها غير مقدورة الاستيفاء شرعاً. (شرح المجلة للأتاسي رحمه الله تعالى ۲:۵۲۸، المادة:۴۴۵)

۳) (ردالمحتار ۵:۳۲۶ كتاب الأشربة)

۴) عن المغيرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: إن الله حرم عليكم عقوق الأمهات ووأدالبنات ومنع وهات وكره لكم قيل وقال وكثرة السؤال وإضاعة المال، متفق عليه. (مشكوة المصابيح ۴۱۹، باب البر والصلة)

وإسرافا (¹) لأن العوام يشربونها على وجه التلهى دون التقوى كما فى ردالمحتار ۶:۴۵۳ كتاب الأشربة: إذا شرب الماء وغيره من المباحات بلهو وطرب على هيئة الفسقة حرم(²) فافهم حتى يتبين لك شرب الشيئ من شرب الدخان
نوټ: (كل دخان حرام) حديث نه دى.(³) **وهوالموفق**

افيون خوړل مكروه تحريمي دي

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې د افيونو خوړل حرام دي كه حلال؟ بينوا توجروا

المستفتي: ظهور دير..... ۹۷ء۵/۴/

الجواب: افيون خوړل مكروه تحريمي دي (شامي (⁴)، هنديه)(⁵) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة ابن عابدين : أن الإسراف حرام كالإسراف في الطعام والشراب، قال الله تعالى: إِذَآ أَنفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا. (ردالمحتار ۲ ۰:۱۵، كتاب الحجر)

۲) (الدرالمختار ۵:۳۲۲، كتاب الأشربة)

۳) قال العلامة اللكهنوى: سوال "كل دخان حرام" حديث دى كه نه دى؟
جواب: په معتبرو كتابونو په حواله دا حديث نه دى.
(مجموعة الفتاوى ۱:۱۳۷، كتاب العلم والعلماء)

۴) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: من غاب عقله بالبنج والأفيون يقطع طلاقه إذا استعمله للهو وإدخال الآفات قصداً لكونه معصية... وهو صريح في حرمة البنج والأفيون. (ردالمحتار ۵:۳۲۵، كتاب الأشربة)

۵) في الجوهرة النيرة: (ولا يجوز أكل البنج والحشيشة والأفيون وذلك كله حرام... فإن أكل شيئا من ذلك لاحد عليه وإن سكر منه... بل يعزر بما دون الحد.
(الجوهرة النيرة ۲:۱۷۶، كتاب الأشربة)

د نسوارو سره لمونځ کول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې په جيب کې نسوار سره لمونځ کول صحيح دي که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي محمد حسين. مينګوره.... ۱۴۰۲ھ

الجواب: تمبا کو پاک. چونه پاکه. او به پاکې. نسوار پاک دي **. وهوالموفق**

افيون پاک دي

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زه په فصلونو کې کار کوم نو جامو باندې د افيونو داغ لګېدلی وي چې بدبويي ترې ځي له دې سره لمونځ درست دی که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي ظهور. دير..... ۲۷/ رمضان المبارك ۱۴۰۵ھ

الجواب: افيون پاک دي (شامي)[۱] **وهوالموفق**

د چرسو افيونو وغيره نشه کېدونکې عادي کس ته د استعمال حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې يو سړی د افيونو، بنګو او چرسو عادي وي؛ خو د دغو شيانو استعمال په هغه هيڅ تاثير نه کوي. د شرعي دلايلو څخه يې ثابته کړئ چې دا سې

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وقال محمّد الخ) الظاهر أن هذا خاص بالأشربة المائعة دون الجامد كالبنج والأفيون فلا يحرم قليلها بل كثيرها المسكر... ولم نر أحداً قال بنجاستها... أما الجامدات فلا يحرم منها إلا الكثير المسكر، ولا يلزم من حرمته نجاسته كالسم القاتل فإنه حرام مع أنه طاهر.
(ردالمحتار ۵:۳۲۳، ۳۲۴، كتاب الأشربة)

شخص باندي مذكوره شيان حرام دي كه مكروه؟ د حرمت په صورت کې حد او تعذير هم واضح كړئ او د حلت په صورت کې مدلل وجوهات نقل كړئ عندنا مشكور وعند الناس وعند الله ماجور شئ؟ بينوا توجروا

المستفتي مولوي سعيد. مظفرآباد...... ١٧/ ربيع الثاني ١٣٩٠هـ

الجواب: چونکې د هغو جوامدو حرمت د اسكار له وجې دی. لهذا د اسكار د معدوم کېدو له وجې حرمت منتفي شو؟ في ردالمحتار ٥:٤٠٥، بقي هنا شيئ لم أر من نبه عليه عندنا وهو أنه إذا اعتاد أكل شيئ من الجامدات التي لايحرم قليلها ويسكر كثيرها حتى صار يأكل منها القدر المسكر ولا يسكره سواء أسكره في ابتداء الأمر أولا فهل يحرم عليه استعماله نظراً إلى أنه يسكر غيره أو إلى أنه قد أسكره قبل إعتياده أم لا يحرم نظراً إلى أنه طاهر مباح، والعلة في تحريمه الإسكار ولم يوجد بعد الإعتياد وان كان فعله الذي أسكره قبله حراماً، فليتأمل، نعم؛ صرح الشافعية بأن العبرة لما يغيب العقل بالنظر لغالب الناس بلا عادة ( ) انتهى باختصار يسير. خو چونکې د معتاد کېدو لپاره بدني نقصان هم لري او مضر دی او د مضرو شيانو استعمال به له كراهت تحريمي نه خالي نه وي. يدل عليه تعليل حل التتن فإنه لم يثبت إسكاره ولا تفتيره ولا إضراره (رد المحتار ٥:٤٠٦) ([1])

نوټ: په د غو شيانو کې حد نشته. او تعزير حاكم[3]

---

١) (ردالمحتار ٥:٣٢٥، كتاب الأشربة)

٢) (ردالمحتار ٥:٣٢٦، كتاب الأشربة)

٣) في الجوهرة النيرة: ولا يجوز أكل البنج والحشيشة والأفيون وذلك كله حرام... فإن أكل شيئا من ذلك لا حد عليه وإن سكر منه... بل يعزر بما دون الحد.
(الجوهرة النيرة ٢:١٧٦، كتاب الأشربة)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ويحرم... (باتي حاشيه په بل مخ)

ته سپارل شوي (۱) وهوالموفق

د حقه وغيره استعمال د صحيح غرض پرته مکروه دی

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زيد چلم سګرټ حرام ګڼي او فاروق وايي چې حرام نه دي. دا په نيشه کې نه شميرل کيږي؟ مسئله د حوالې سره بيان کړئ. د اخرت ثواب وګټئ؟ بينوا توجروا

المستفتی نوروليخان. باجوړ سکاوټس...... ۲۹/۱/ ۲۰۰۱ء

الجواب: چونکې تمباکو مسکر (نشه کونکې) نه دي. لهذا د چلم وغيره استعمال حرام نه دی؛ خو چونکې زياتره خلک دا بغير د صحيح غرض استعمالوي. لهذا په داسې خلکو کراهت خامخا راځي. قال العلامة الشامي في ردالمحتار ٥:٤٠٦ فإنه لم يثبت إسكاره ولا تفتيره ولا إضراره بل ثبت له منافع (٢) وفيه ٤:٤٠١ إذاشرب الماء وغيره من المباحات للهو وطرب على هيئة

(د حاشيې پاتې برخه) أكل البنج والحشيشة والأفيون فإن أكل شيئا من ذلك لاحد عليه وإن سكر منه بل يعزر بما دون الحد.

(الدرالمختار مختصراً ٥:٣٢٥، كتاب الأشربة)

١) وفي الهندية: فصل في التعزير، وهو تأديب دون الحد في جناية ليست موجبة للحد كذا في النهاية وينقسم إلى ما هو حق الله وحق العبد والأول يجب على الإمام لا يحل له تركه... قالوا لكل مسلم إقامة التعزير حال مباشرة المعصية وأما بعد المباشرة فليس ذلك لغير الحاكم.

(فتاوى هندية ٢:١٦٧، كتاب الحدود، فصل في التعزير)

٢) (ردالمحتار ٥:٣٢٦، كتاب الأشربة)

الفسقة حرم فقط. (١) وهو الموفق.

سیون اپ او کوکا کولا څښلو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې په سيون اپ او د کوکا کولا په بوتلونو کې الکحل يعني شراب ګډېږي دا دواړه مشروب ګرمۍ کې تازه دم رول ادا کوي، د حلت او حرمت حکم يې څه دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: معين الدين ناصر شور سوات

الجواب: سيون اپ او کوکا کولا کې چې کوم الکحل ګډ شوي په دې کې انګوري يا خورمايي کېدل نه متيقن او نه مظنون دي بلکې موهوم او محتمل دي يعني انګور، خورما، بيره، ګنې، وربشې وغيره څخه د اخيستو احتمال شته، نو له دې مشروباتو اجتناب واجب نه دی. البته احتياط پکار ده. **وهذا بناء على أن الشك يورث الإحتياط دون الحرمة لأن اليقين لا يزول بالشك كما في شرح المجلة ۲۰ المادة: ۴ (۲) وهو الموفق**

---

١) (ردالمحتار ٣٢٢:٥، كتاب الأشربة)

قال العلامة رشيد أحمد رحمه الله تعالى: چلم څښل او تمباکو خوړل مکروه تنزيهي دي، که بوی ولري، او که بوی ونه لري بيا هيڅ پروا نشته، د چلم او د خرخولو پيسې پاکې دي، په مبلمستيا کې يې هم ډوډۍ خوړل حلال دي.

(فتاوى رشيديه ۴۶۲، جواز اور حرمت کے مسائل)

٢) (شرح المجلة ١٨:١، المادة: ۴)

وفي درر الحكام: اليقين لا يزول بالشک... هذه المادة مأخوذ من قاعدة: ما ثبت بيقين لا يرتفع بالشک وما ثبت بيقين لا يرتفع إلا بيقين.

(درر الحكام ٢٠:١، المادة: ۴)

د دوا په توګه افیون خوړل

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې یو ډاکټر مریض ته ووايي ستاسو د ناروغۍ علاج د افیونو په خوړلو کیږي. ایا افیون حلال دي که حرام؟ بینوا تو جروا

المستفتی: سبز علي. خویشکي پایان ۱۹۷۲ع ۱۰.۹

الجواب: افین خوړل ددوا په توګه جائز دي چې کله د نشې مقدار ته نه وي رسېدلي او لږ وي.

فی ردالمحتار ۳۴:۵ والحاصل أن استعمال الكثير المسكر منه حرام مطلقاً وأما القليل فإن كان للهو حرم وإن سكر منه يقع طلاقه... الخ.(۱) وهو الموفق

الكحل کې ګډه دوا او عطرو استعمال د جواز او عدم جواز قاعده کلیه

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې په کومه دوا او عطرو کې الكحل شامل وي، ایا د شریعت له مخې یې استعمال روا دی؟ منشاء د سوال دا ده چې ایا الكحل د شرابو یو قسم دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: مولوي عبدالله. لتمبر ضلع کرک..... ۷۶ع ۲۶.۱۱

الجواب: که الكحل او اسپرټ د انګورو او خورما نه جوړ وي؛ نو دا نا پاک او حرام دي او که د ګنې او جوار وغیره نه جوړ وي نو پاک او حلال دي. کله چې د مسکر له مقدار نه راکم وي او که څوک یې ونه پېژني چې له څه نه جوړ شوي دي نو احتیاط په اجتناب کې دی. وهذا الحكم مستنبط من أشربة الهداية(۲)

---

۱) (ردالمحتار ۵:۳۲۵، كتاب الأشربة)

۲) قال العلامة المرغيناني : الأشربة المحرمة الخمر...والعصير إذا طبخ حتى يذهب اقل من ثلثيه ونقيع التمر وهو السكر ونقيع الزبيب إذا اشتد...(پاتې حاشيه په بل مخ)

وردالمحتار ۵:۲۹۶ () وهوالموفق

د سګرټ او نسوارو استعمال حلال ګڼلو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې يو عالم دا حکم صادر کړی چې څوک نسوار يا چلم څکول مطلقاً حرام نه ګڼي نو ناح بي فسخه کيږي؟ نو ايا سګرټ څښل. تمباکو او نسوار وغيره شريعت کې مطلقاً حرام دي؟ بينوا توجروا

المستفتي حاجي شريف پټواري ضلع بنو ۱۹۹۰، ۹/۳

الجواب: علامه شامي وغيره په کتاب الأشربة کې د تمباکو څښل مباح ګڼلي. نو په دې بناء

(د حاشيې پاتې برخه) وغلا... إن حرمة هذه الأشربة دون حرمة الخمر... ونجاستها خفيفة في رواية وغليظة في أخرى ونجاسة الخمر غليظة رواية واحدة... وماسوى ذلک من الأشربة فلا بأس به...وهو نص على أن ما يتخذ من الحنطة والشعيروالعسل والذرة حلال عند أبي حنيفة رحمه الله تعالىٰ ...وعن محمد رحمه الله تعالى أنه حرام ويحد شاربه إذا سكر منه.
(الهداية ۴:۴۹۲، كتاب الأشربة)

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالىٰ :والمحرم منها أربعة أنواع ، الأول : الخمر وحرم قليلها و كثيرها بالإجماع ، والثانى الطلاء ، والثالث السكر ،والرابع نقيع الزبيب ، والكل أى الثلاثة المذكورةحرام إذا غلى واشتدّ ، وحرّمها محمد أى الأشربة المتخذة من العسل والتين ونحوهمامطلقًا قليلها وكثيرهاوبه يفتى. (درمختارمختصراً)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ:(قوله ونحوها)كالتمروالزبيب والعنب،فالمراد الأشربة الأربعة التى هي حلال عند الشيخين إذا غلت واشتدت وإلا فلاتحرم كغيرها اتفاقًا.
(ردالمحتار ۵:۳۱۸ تا ۳۲۳، كتاب الأشربة)

حلال دي،(۱) او ددې مستحل كافر نه دى. خو د فقهاوو د اختلاف او اسراف له وجې نه اجتناب اهم دى (۲) وهوالموفق

شراب خانو، قمارخانو او سرودخانو سره د تعاون حكم

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې شراب خانو سره عدم تعاون باره كې د شريعت څه حكم دى؟ بينوا توجروا

المستفتی الله مست خان مصري بانډه اكوړه خټک ۲/شعبان

الجواب: شراب خانو، قمارخانو او سرود خانو سره عدم تعاون ضروري دى(۳)

---

۱) وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى "(قوله والتتن)أقول قد اضطربت آراء العلماء فيه فبعضهم قال بكراهته وبعضهم قال بحرمته وبعضهم بإباحته وأفردوه بالتأليف ،وفي شرح الوهبانية للشرنبلالي : ويمنع من بيع الدخان وشربه : وشاربه في الصوم لاشک يفطر : ... قلت ... فإنه لم يثبت إسكاره ولا تفتيره ولا إضراره بل ثبت له منافع فهو داخل تحت قاعدة : الأصل في الأشياء الإباحة.

(ردالمحتار ۵:۳۲۶،كتاب الأشربة ،قبيل كتاب الصيد)

۲) وفي حاشية شرح الوقاية: التنباک فيه خلاف كثير، ذهب البعض إلى الكراهة التحريمية والبعض إلى الكراهة التنزيهية والبعض إلى الإباحة مع كراهة الطبعية وعندي القول الآخر والقول بالتنزيه رجيح.

(حاشيه شرح الوقاية۶۷: ۴،كتاب الأشربة)

۳) قال الله تبارک وتعالى :وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ.

(سورة المائدة آيت ۲)

وفي المرقاة: (وعن جابر رضي الله تعالى عنه... (باقي حاشيه په بل مخ)

لکه علماء چې وخت په وخت دا مشورې ورکوي **وهوالموفق**

د دیندار ماهر ډاکټر په خبره شرابو باندې علاج کول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې شراب د مریض لپاره د حاذق حکیم په وینا روا کیږي که نه؟ بینوا توجروا

المستفتی: شیخ محمد میر، سوات.... ۲۳/ ذی قعده ۱۳۹۴ھ

الجواب: که دیندار ماهر ډاکټر مشوره ورکړي چې بې له شرابو په بل څه علاج نه کیږي، یا کیږي خو ډېر وخت نیسي نو په دې صورت کې علاج بالمحرم مباح شو (شامي)[1] فقط

خوله او پوزه کې نسوار اچول او د چلم څښلو حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې حقه (چلم) او نسوار خوله او پوزه کې د اچولو څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتی: فقیر استاد، ضلع بنو...... ۱۵ ذي القعده ۹۵ھ

(د حاشیې پاتې برخه) قال: لعن رسول الله ﷺ آکل الرباوموکله وکاتبه وشاهديه)، وقال العلامة النووي رحمه الله تعالىٰ :فيه تصريح بتحريم كتابة المترابيين والشهادة عليهما و تحريم الإعانة على الباطل. (مرقاة المفاتيح ٦:٥٩،باب الربا)

(١) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ :وفي التهذيب : يجوز للعليل شرب البول والدم والميتة للتداوي إذا أخبره طبيب مسلم أن شفاء ه فيه ولم يجد من المباح ما يقوم مقامه ،وإن قال الطبيب يتعجل شفاؤک به ، فيه وجهان ، وهل يجوز شرب القليل من الخمر للتداوي فيه وجهان.

(رد المحتار ٥:٢٧٥،كتاب الحظر والإباحة ، فصل في البيع)

الجواب: چونکې تمباکو نه مسکر دی نه مفتر، لهذا استعمال یې مباح دی، که د نسوارو په شکل کې وي یا د چلم په شکل کې وي. کما في رد المحتار ۴۰۶:۵ فإنه لم يثبت إسكاره ولا تفتيره ولا إضراره بل ثبت له منافع فهو داخل تحت قاعدة: الأصل في الأشياء الإباحة. (۱) وهوالموفق

د نشيي كس د عبادت قبلېدو مسئله

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره کې چې د نشيي سړي عبادت قبول دی که نه؟ بينوا توجروا.

المستفتي: ټيکدار بهادر خان نوښهره.... ۲۷/ذي الحجه ۱۳۹۹ ه

الجواب: د نشې په حالت کې لمونځ ناجائز او ناقابل قبول دی (۲) او چونکې د تمامو عباداتو د صحت لپاره صحت او هوش ضروري نه دی. لهذا د نشيي ټول عبادات نامقبول گرځول غيرمقبول دي (۳) وهوالموفق

---

۱) (ردالمحتار ۳۲۶:۵، كتاب الأشربة)

۲) وفي التفسير القرطبي: (يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَقْرَبُوا۟ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنتُمْ سُكَٰرَىٰ) خصّ الله سبحانه وتعالى بهذا الخطاب المؤمنين لأنهم كانوا يقيمون الصلوة وقد أخذوا من الخمر وأتلفت عليهم أذهانهم فخصوا بهذا الخطاب.... فكان منادى رسول الله ﷺ إذا أقيمت الصلوة ينادي ألا لايقربن الصلوة سكران.... (حَتَّىٰ تَعْلَمُوا۟ مَا تَقُولُونَ) فإذا كان بحيث لايعلم مايقول تجنب المسجد مخافة التلويث ولاتصح صلاته.
(التفسير القرطبي ۱۹۲:۵، سورة النساء، آيت ۴۳)

۳) وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: السكر:.... (پاتې حاشيه په بل مخ)

(د حاشيي باني برخه) .... سُرُورٌ يُزِيلُ الْعَقْلَ فَلَا يَعْرِفُ بِهِ السَّمَاءَ مِنَ الْأَرْضِ. وَقَالَ: بَلْ يَغْلِبُ عَلَى الْعَقْلِ فَيَهْذِي فِي كَلَامِهِ. وَرَجَّحُوا قَوْلَهُمَا فِي الطَّهَارَةِ وَالْأَيْمَانِ وَالْحُدُودِ..... وَبَيَّنَ فِي التَّحْرِيرِ حُكْمَهُ أَنَّهُ إِنْ كَانَ سُكْرُهُ بِطَرِيقٍ مُحَرَّمٍ لَا يُبْطِلُ تَكْلِيفَهُ فَتَلْزَمُهُ الْأَحْكَامُ وَتَصِحُّ عِبَارَتُهُ مِنَ الطَّلَاقِ وَالْعَتَاقِ، وَالْبَيْعِ وَالْإِقْرَارِ، وَتَزْوِيجِ الصِّغَارِ مِنْ كُفْءٍ، وَالْإِقْرَاضِ وَالِاسْتِقْرَاضِ لِأَنَّ الْعَقْلَ قَائِمٌ. وَإِنَّمَا عَرَضَ فَوَاتُ فَهْمِ الْخِطَابِ بِمَعْصِيَتِهِ. فَبَقِيَ فِي حَقِّ الْإِثْمِ وَوُجُوبِ الْقَضَاءِ. وَيَصِحُّ إِسْلَامُهُ كَالْمُكْرَهِ لَا لِإِرَادَتِهِ لِعَدَمِ الْقَصْدِ.

فتاوی فریدیه

نهم جلد

باب الرشوة

باب الرشوة

رشوت ورکول کومو حالاتو کې روا او کومو کې ناروا دي

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې رشوت ورکول کومو حالاتو کې ناروا دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبدالرحمن... ۷۴ع، ۲۷/۳

الجواب: باطل ناحق کول او حق باطلولو لپاره رشوت حرام دی او د خپل حق ثابتولو او ظلم ساتنې لپاره يې اخيستل حرام دي (۱). **وهوالموفق**

---

۱) في الخانية :والثاني إذا دفع الرشوة القاضي له وهذه الرشوة حرام من الجانبين سواء كان القضاء بحق أو بغير حق، ومنها إذا دفع الرشوة لخوف على نفسه أوماله وهذه الرشوة حرام على الآخذ غيرحرام على الدافع....ومنها إذا دفع الرشوة ليسوى أمره عندالسلطان حل له الدفع ولايحل للآخذأن يأخذ.

(الفتاوى الخانية على هامش الهندية ۲: ۳۶۲، ۳۶۳، كتاب الدعوى والبينات)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :منها ماهو حرام على الآخذ والمعطي وهوالرشوة على تقليد القضاء والإمارة،الثاني إرتشاء القاضي ليحكم وهوكذلك ولوالقضاء بحق لأنه واجب عليه،الثالث أخذ المال ليسوي أمره عند السلطان دفعاً للضرر أو جلباً للنفع وهوحرام على الآخذ فقط .

(ردالمحتار ۴: ۳۳۸، كتاب القضاء ،مطلب في الكلام على الرشوة والهدية)

د نوکرۍ لپاره د رشوت ورکولو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زموږ يو دوست نوکري لټوي، خو نوکري بې سفارشه او بې رشوته نه ملاويږي. په دې صورت کې رشوت ورکول روا دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: فيض الباري. تېمرګره، دير ۲۳ / رجب المرجب ۱۴۰۹ھ

الجواب: چې په پاکستان کې قابل او غير قابل دواړو ته بې رشوته نوکري نه ملاويږي نو رشوت ورکونکی د مجبورۍ له وجې شرعي مجرم نه دی. (۱) خو چې دغه ملازم د اړوند کار اهليت ولري؛ نو تنخوا به يې نه حراميږي (۲)

وهوالموفق

خوشې کېدو لپاره له هندو پيسې اخيستل حرام دي

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې يو مشرک څه جرم وکړي او يو مسلمان يې ونيسي او مشرک هندو مسلمان فوجي ته په ۲۲۰ روپۍ ورکولو ځان خلاصول غواړي

---

۱) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى :ومنها إذا دفع الرشوة ليسوي أمره عند السلطان حل له الدفع ولايحل للآخذ أن يأخذ. (البحر الرائق ۶: ۲۶۲، كتاب القضاء)

وفي مجمع بحارالانوار :ومن يعطي توصلاً إلى أخذحق أو دفع ظلم فغير داخل فيه (رشو). مجمع بحار الانوار ۲: ۳۳۳، باب الراء مع الشين)

۲) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى :وأما ركنها فهو الإيجاب والقبول والإرتباط بينهما وأما شرط جوازها فثلاثة أشياء: أجر معلوم وعين معلوم وبدل معلوم....وأما حكمها فوقوع الملک في البدلين ساعة فساعة.

(البحر الرائق ۸: ۳۰۸، كتاب الاجارة)

چې ما اوس پرېږده بیا به زه غلطي نه کوم؛ نو ایا مسلمان فوجي ته د مشرک ۲۲۰، روپۍ حلالې دي که حرامې؟ بینوا توجروا

المستفتي ملاداد خان سکر سنده.....۷۰ع۱۵۱

الجواب: دا روپۍ د مسلمان لپاره حرامې دي، واپس کول يې ضروري دي.(۱) فقط **وهوالموفق**

زلزله ځپونکي د مرستې لپاره په رشوت باندې زيات تاوان ليکې

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زموږ علاقه د اوسنۍ زلزلې ښکار شوې او ډېر تاوانونه شوي او بهر ممالکو نه چې څه رقم هغو علاقو ته ورکوي، (چې تاسو به هم راډيو او اخبارو کې اورېدلي وي) دې لپاره کې د حکومت پروګرام هغو خلکو ته دا و چې د خراب شوي کور په بدل کې به يې پنځه سوه روپۍ ورکولې، د حيواناتو وغيره نورو په بدل کې يې هم څه خاص اندازه تاوان ټاکلی و، مړو ته يې هم يوه اندازه تاوان ورکولو، خلکو د حکومت هغه فيصله ونه منل، د مظاهرو وروسته حکومت معاوضه کې اضافه وکړه، خلک رضا شوه، بيا پلټه پيل شوه خو په عمومي توګه خلکو رشوتونه ورکړه او د کورونو شمېر يې زيات وښودلو او پلټونکو هم د رشوت په وجه زيات وليکل، مثلاً د يو کور په ځای يې دوه وليکل نو اوس دا معاوضه چې ملاوېږي حرامه ده که حلاله؟

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :الرشوة بالكسر مايعطيه الشخص الحاكم وغيره ليحكم له أو يحمله على ما يريد.... الثالث أخذ المال ليسوي أمره عند السلطان دفعًا للضرر أو جلبًا للنفع وهوحرام على الآخذ فقط.... وفي القنية: الرشوة يجب ردها ولاتملك وفيها :دفع للقاضي أو لغيره سحتا لإصلاح المهم فأصلح ثم ندم يرد ما دفع إليه.(رد المحتار ۴:۲۳۸، كتاب القضاء ،مطلب في الكلام على الرشوة والهدية)

خلک دا امدادي فنډ چې له بهرنيو ملکونو راغلی خپل حق ګڼي، که هغه هرې طريقې سره تر لاسه کوي له دې دروغو سره چې کوم فنډ د راډيو او اخبارونو په ذريعه ښودل کيږي هغه موږ ته لسمه برخه هم نه دی رسيدلی، حکومت راسره ظلم کوي؛ نو موږ تر خپله وسه د اخيستو کوشش کوو، ليکن بل طرف ګورو چې دروغ هم دي او رشوت هم. نو جناب نه پوهيږو او عام خلک په دې مرض کې مبتلا دي. لهذا دا مسئله راته حل کړئ چې د منبر په سر يې هم ښکاره کړو له خپلې ذمه وارۍ نه بې غمه شو؟ بينوا توجروا

المستفتي مدير المدرسه العربيه الإسلامية. پټن. سوات

الجواب: که د رشوت ورکونکو ټول تاوانونه له دغه منظور شوي رقم نه زيات وي يا ورسره برابر وي؛ نو په دغه رشوت کې څه حرج نشته. **كما في ردالمحتار:** **الثالث أخذ المال ليسوى أمره عند السلطان دفعاً للضرر أو جلباً للنفع وهو حرام على الآخذ فقط** ۴:۳۰۳،(۱) **وهكذا (التورية) لدفع الضرر كما صرحوا به في باب اليمين**(۲). که نقصان له دغه مال نه کم وي نو د عدم استحقاق په وجه دا زيات مال اخيستل روا نه دي (۳) البته

---

۱) رد المحتار ۴:۳۳۸، كتاب القضاء، مطلب في الكلام على الرشوة والهدية)

۲) قال العلامة الحكفي رحمه الله تعالى: وإن أكره على الكفر بالله تعالى أوسب النبي ﷺ بقطع أو قتل رخص له أن يظهر ما أمر به على لسانه ويورّى. (الدر المختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله ويورّى) التورية أن يظهر خلاف ما أضمر في قلبه، إتقاني.

(ردالمحتار ۵:۹۳، كتاب الاكراه)

۳) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: وفي المصباح .... (باتي حاشيه په بل مخ)

که امداد ورکونکي دا مصرف صرف د لګولو لپاره ورکوي نو مخصوص رویه ممنوع نه ده.(۱)

غیر قانوني مال راوړو باندې رشوت ورکول او اخیستل

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د پاکستان تجاران پاکستانی مال کابل ته او د کابل مال پاکستان ته په غیر قانوني لارو راوړي. په وړلو راوړلو کې پولیس او بابوګان پیسې اخلي. په دې باندې وزیران او باچا هم خبر وي چې د دې علاقې والا دا ډول کاروبارونه کوي. زموږ علاقه کې د نوکرۍ په نوم هیڅ نشته. ایا زموږ له طرفه هغوی ته پیسې ورکول روا دي که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: رحمت جنرل سټور. لنډي کوتل........ ۲۶/۶/۷۰ء

الجواب: تاجرانو ته یې ورکول روا دي؛ خو پولیسو ته یې اخیستل ناروا دي(۲) بس، **وهوالموفق**

(د حاشیې پاتې برخه) الرشوة بکسر الراء مایعطیه الشخص الحاکم وغیره لیحکم له أویحمله علی ما یرید.... وفي السیر الکبیر الرشوة لاتملک.

(البحرالرائق ۶: ۲۶۲، کتاب القضاء)

۱) في الخانیة :ومنها إذا دفع الرشوة لیسوي أمره عند السلطان حل له الدفع ولایحل للآخذ أن یأخذ.

الفتاوی الخانیة علی هامش الهندیة ۲: ۳۶۳، کتاب الدعوی والبینات)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ :أن کل مقصود محمود، یمکن التوصل إلیه بالصدق والکذب جمیعًا فالکذب فیه حرام ،وإن أمکن التوصل إلیه بالکذب وحده فمباح إن أبیح تحصیل ذلک المقصود.

(ردالمحتار ۶: ۳۰۳، کتاب الحظر والإباحة ،فصل في البیع ،فروع)

۲) في مجمع بحارالأنوار :ومن یعطی توصلًا إلی أخذ.... (پاتې حاشیه په بل مخ)

په رشوت باندې حاصله شوې نوکرۍ او د تنخا حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زيد د ملازمت پيدا کېدو لپاره هره خوا منډې وهي. په دغه ترپ تروپ کې رشوت هم ورکوي. بې له دې ملازمت پيدا کول عنقا دی. په دې صورت کې ځينې علماء وايي چې په دې صورت کې د رشوت ورکول روا دي. ځکه چې په دې رقم خپل حق حاصليږي او بعضې وايي چې د معيشت دايره ډېره پراخه ده. نو ډېر تشويش کې يو. بې له دې زيد ته بې خپل دوست بې له مشورې روزګار کتلی دی او هغه هم رشوت ورکوي. اوس دې نوکرۍ باندې پاتې کېدل روا دي که نه؟ او دا تنخوا اصلاً حلاله ده که حرامه؟ في الحال زيد ته بې له دې بل هيڅ طريقه عمل نشته؟ بينوا توجروا

المستفتي: ابن امين. کوهاټ

الجواب: په داسې مجبورۍ کې رشوت ورکول ناروا دي.(۱) په رشوت باندې شته نوکرۍ کولو باندې تنخا اخيستلو کې هيڅ حرمت او کراهت نشته.(۲)

في ردالمحتار: الثالث: أخذ

(د حاشيې پاتې برخه) حق أودفع ظلم فغير داخل فيه (رشو)

(مجمع بحار الأنوار ۲: ۳۳۳، باب الراء مع الشين)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: الثالث: أخذ المال ليسوي أمره عند السلطان دفعاً للضرر أو جلباً للنفع وهو حرام على الآخذ، فقط.

(رد المحتار ۴: ۳۳۸، كتاب القضاء، مطلب في الكلام على الرشوة والهدية)

۱) في الخانية: ومنها إذا دفع الرشوة ليسوي أمره عند السلطان حل له الدفع ولايحل لآخذ أن يأخذ.

(فتاوى خانية على هامش الهندية ۲: ۳۶۳، كتاب الدعوى والبينات)

۲) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: وأما ركنها .... (پاتې حاشيه په بل مخ)

المال ليسوى أمره عند السلطان دفعاً للضرر أو جلباً للنفع وهو حرام على الآخذ فقط.(۱) وهوالموفق

سرکاري مدرسو کې د رشوت په ذريعه نوکري حاصلول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ځيني سرکاري مدارسو کې بې له رشوته د دينياتو معلم نه مقررېږي، لهذا د حاجت او افلاس په صورت کې رشوت ورکوي؛ نو سرکاري مدارسو کې نوکر کېدل روا او که ناروا دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي عبدالرحمن، سکنه بهادرخيل. کرک ۲۴/۲/۷۳ع

الجواب: په مسئوله صورت کې رشوت ورکونکی نه ګنهګارېږي، يدل عليه ما في رد المحتار ۴:۳۰۳: الثالث أخذ المال ليسوّى أمره عند السطان دفعاً للضرأوجلباً للنفع وهوحرام على الآخذ فقط. (۲) وهوالموفق

د رشوت په پيسو د اخيستل شويو شيانو د استعمال حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زما والد صاحب کچريو (دار القضاء) کې ملازم دی او رشوت اخلي، هماغه روپۍ کورونو کې خرج کېږي زه هم ملازم يم. زما هم زر

(د حاشيې پاتې برخه) فهو الإيجاب والقبول والإرتباط بينهما، وأماشرط جوازها فثلاثة أشياء: أجر معلوم وعين معلوم وبدل معلوم....وأما حكمها فوقوع الملك في البدلين ساعة فساعة. (البحر الرائق ۸:۳، كتاب الإجارة)

۱) (رد المحتار ۴:۳۳۸، كتاب القضاء، مطلب في الكلام على الرشوة والهدية)

وفي مجمع بحار الأنوار: ومن يعطى توصلًا إلى أخذ حق أو دفع ظلم فغير داخل فيه. (مجمع بحار الأنوار ۲:۳۳۳، باب الراء مع الشين)

روپی تنخا ده. هغه زه د کور په خرچه کې ورکوم. والد صاحب زما روپی ا
خپلې روپی یو ځای خرج کوي. ما د الله تعالى په فضل تبليغ کې ځلو
میاشتې هم لګولي دي چې زما زندګي یې بدله کړې ده او ما سره ددې خبرې
احساس شته چې زمونږ کور کې حرام مال هم خرج کيږي . مهرباني وکړئ دې
باره کې وضاحت وکړئ؟ بينوا تو جروا -

المستفتی: نبي خالد نديم بمعرفت قاري محمد يعقوب صاحب ۱۹۸۲ء/۱۴/۱۰

الجواب: تاسې او ټول کور والا نوټ او کاغذ خورئ يا که په هغه اخيستل
شوی خوراک وغيره؟ په هر حال تاسې چې کوم مال استعمالوی، د عرف په بنا
ثمن او قيمت ته اشاره نه کيږي چې په دې مال (رشوت والا) باندې خوړل او
څښل وغيره ساته راګرځي.نو د داسې خوراک استعمال روا دی. كما في رد
المحتار ۵:۲۳۵(۱) المطبع الحلبی، البته رشوت کې چې سابه، خواږه کباب
وغيره راوړي نو هغه مه خورئ(۲) وهوالموفق

د رشوت په ذريعه د راغلو شيانو استعمال

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې غير ملکي اشياء
رخت لوښو وغيره استعمال

---

۱) قال العلامة الحصكفي :وإن أشار إليها ونقد غيرها أوأشار إلى غيرها ونقدها أواطلق ولم يشر ونقدها لايتصدق في الصور الثلاث عندالكرخي قيل وبه يفتى ،(درمختار)
وفي درالمختار :ولواشترى بالدراهم المغضوبة طعاما حل التناول ولو اشترى بها دنانير لم يجزله أن يتصرف فيهافوجب عليه ردها.
(رد المحتار ۵:۱۳۳،كتاب الغصب)

۲) قال العلامة الشامي رحمه الله تعالى :وفي القنية الرشوة يجب ردها ولاتملك.
(رد المحتار ۴:۳۳۸،مطلب في الكلام على الرشوة والهداية، كتاب القضاء)

روا دی که ناروا، کله چې په هغې کې عام شيان کسټم کې په رشوت اخستو باندې راځي چې زموږ د ملک قانون منافي دي؟ بينوا توجروا

المستفتي: سهيل قاسم آباد، پندی

الجواب: کسټم صرف يو قانوني جرم دی، ددې خلاف ورزې صرف د قانون خلاف ورزي ده، د شريعت خلاف ورزي نه ده. (۱) **وهوالموفق**

په رشوت باندې وني له ټاکلي اندازې نه ډېرې وهل او دغه رشوت قرض، صدقه او مضاربت وغيره کې استعمالول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره چې يو کس د ځنګلاتو ملازم دی، د ځنګلاتو ټيکه حکومت ټيکدار ته ورکوي، ټيکدار د ملازم په اجازه له خپل معلوم حساب نه وني زياتې کاټوي او دغه ټيکه دار ملازم ته له خپل ځان نه څه روپۍ ورکوي نو په دې اړه د شريعت څه حکم دی؟

(۲) دا روپۍ هغه يو ملازم ته د تجارت او مضاربت لپاره ورکوي نو په دغه رقم باندې هغوی ته تجارت کول څنګه دي؟

(۳) دغه روپۍ کوم ملګري ته د قرض حسنه په توګه ورکول څنګه دي؟

---

۱) قال الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالى: حدد الماوردي واجبات المسلمين نحو الحاكم بأمرين وهما(۱)الطاعة في غير معصية (۲) النصرة مالم يتغير حاله، فقال إذا قام الإمام بما ذكرنا من حقوق الأمة فقد أدى حق الله تعالى فيما لهم وعليهم ووجب له عليهم حقان، الطاعة والنصرة مالم يتغير حاله....وبذل الطاعة مشروط بقيام الحاكم بواجباته التي ذكرت سابقاً ومضمونها التزام أوامر الشريعة.

(الفقه الإسلامي وأدلته ۸: ۶۱۹۰،حقوق الإمام الحاكم)

(۴) دا مال د مفتي صدقي په توګه ورکول څه حکم لري ؟

(۵) له داسي مال نه زکات ورکول کيږي که نه؟ په دې حج او عمره کيږي يا بل چا ته د حج او عمرې لپاره ورکول څنګه دي؟

(۶) د داسې سړي په کاروبار کې د ملازم په حيث کار کول او تنخا اخستل څنګه دي؟

(۷) له دې نه د مقروض قرضه ادا کول څه حکم لري؟

(۸) که دا روپۍ ښې نه وي؛ نو له دې مال نه د ځان خلاصولو په خاطر غريبانو باندې تقسيم شي يا مساجدو او مدارسو ته ورکړل شي يا بل څه صورت وشي؟ بينوا توجروا

المستفتی: بدر منير سواتي، متعلم حقانيه...... ۳ ذي قعده ۱۳۹۴ھ

الجواب: (۱) د عدم استحاق له وجې دا په رشوت کې راځي.

لأن الرشوة ما يعطيه الشخص الحاکم وغيره ليحکم له أو يحمله على ما يريد. (رد المحتار ۴:۳۰۲). (۱) (۲) تر (۸) ددې کس لپاره ضروري ده چې بعينه دغه روپۍ واپس کړي (۲) يا معافي

---

۱) رد المحتار ۴: ۳۳۷، کتاب القضاء، مطلب في الکلام على الرشوة)

وعن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: لعنة الله على الراشي والمرتشي، رواه أبوداؤد وأحمد والترمذي.

وقال العلامة العثماني رحمه الله تعالى: والحاصل أن حد الرشوة ما يؤخذ عما وجب على الشخص سواء کان واجبًا على العين أو على الکفاية، وسواء کان واجبًا حقًا للشرع کما في القاضي وأمثاله.

(إعلاء السنن ۱۵: ۶۱، کتاب القضاء، تحقيق معنى الرشوة لغةً وشرعًا)

۲) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: وفيها دفع للقاضي أو لغيره سحتًا لإصلاح المهم فأصلح ثم ندم يردّ ما دفع إليه فظاهره أن التوبة من .... (باتي حاشيه په بل مخ)

وغواړي.(۱) کنه نو له وايسي نه مخکې مضاربت، قرضونه او خيراتونه وغيره حرام دي له دې نه هيڅ قسم ګټه نه حاصليږي (۲) **وهوالموفق**

(د حاشيې پاتې برخه) الرشوة بردّ المال إلى صاحبه.
(البحر الرائق ۶: ۶۲، كتاب القضاء)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وفي القنية: الرشوة يجب ردّها ولا تملك. (رد المحتار ۴: ۳۳۸، كتاب القضاء، مطلب في الكلام على الرشوة والهدية)

۱) في المرقاة: (وعن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: من كانت له مظلمة لأخيه من عرضه أو شيئ) أي أمر آخر كأخذ ماله (فليتحلله منه) أي من المظلوم (اليوم قبل أن لايكون دينار ولادرهم إن كان له عمل صالح) أي بأن يكون مؤمنًا ظالمًا غير معفو من مظلومه (أخذ بقدر مظلمته وإن لم تكن له حسنات أخذ من سيئات صاحبه فحمل عليه. (مرقاة المفاتيح ۹: ۳۲۰، ۳۲۱، باب الظلم)

۲) قال المحدث القاري رحمه الله تعالى: عن ابن عمر رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: لاتقبل صلاة بغير طهور ولاصدقة من غلول) والمراد هنا من تصدق بما خان بأن تصدق من مال حرام فلايثاب على التصدق به بل يعاقب إن علم أنه حرام وثوابه لمالكه ومحل هذا إذا كان يعرف مالكه أو وارثه وإلا فهو مأمور بالتصدق به.
(مرقاة المفاتيح ۱: ۳۳۴، ۳۳۵، باب ما يوجب الوضوء، الفصل الأول)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: لو مات الرجل وكسبه من بيع الباذق أو الظلم أو أخذ الرشوة يتورع الورثة، ولايأخذون منه شيئا وهو أولى بهم، ويردونها على أربابها إن عرفوهم، ولا تصدقوا بها ولأن سبيل الكسب الخبيث التصدق إذا تعذر الرد على صاحبه. (رد المحتار ۵: ۲۷۳، كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

د زائد انټر پرائز سکیم شرعي حیثیت

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زائد انټر پرائز سکیم شرعي لحاظ سره جائز دی که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولانا فضل الرحمن، دره پیزو، ضلع بنو.

الجواب: دا معامله حرامه ده، لس روپۍ باندې درې کوپن ملاوېدو لپاره د یو شخص په نوم شل روپۍ لېږلو شرط او ضروري ده، دا شرط فاسد دی.(۱) دا هم چې شل روپۍ په ښکاره انعام او حقیقت کې رشوت دی (۲) **وهوالموفق**

---

۱) في المرقدة: أن النبي ﷺ نهى عن بيع وشرط.....ثم المراد شرط لايقتضيه العقد كما هو ظاهر.

(مرقاة المفاتيح ۶:۸۲،باب المنهي عنها من البيوع)

۲) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :الرشوة بالكسر مايعطيه الشخص الحاكم وغيره ليحكم له أو يحمله على ما يريد ......وفي القنية : الرشوة يجب ردها ولاتملك.

(ردالمحتار ۴:۳۳۷، كتاب القضاء ،مطلب في الكلام على الرشوة والهداية)

وقال الله تبارک وتعالى :وَلَاتَأْكُلُوا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوابِهَآ إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ، أي لاتدخلوا بأموالكم إلى الحكام ،أي لاتصانعوهم بها ولاترشوهم ليقتطعوا لكم حقا لغيركم وأنتم تعلمون أنه لايحل لكم ،عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ :لعن الله الراشي والمرتشي في لحكم .....إنما تلحق اللعنة الراشي إذا قصد بها أذية مسلم أو ينال بها مالايستحق.

(الكبائر للذهبي رحمه الله تعالى ۱۴۹ ،الكبيرة الثانية والثلاثون)

د مجاهدینو نمایندګانو ته د هدیې په نوم رشوت ورکول

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د افغانستان د مجاهدینو نمایندګانو ته صدقه، تحفه او هدیه وغیره په نوم باندې شیان، د قسم د الفاظو له تاکیدونو سره ورکوي چې دا رشوت نه دی. که صحیح ورته وویل شي یا رشوت ورنکړي: نو خپلو ځایونو ته یې رسول مشکل ښکاري. ددې پیسو اخیستل او ورکول څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: اتحاد اسلامي مجاهدین افغانستان ... ۱۶ ربیع الثاني ۱۴۰۳ع

الجواب: دا مجاهدین په هغه هدیه یا رشوت کې د مؤاخذې قابل نه دي. لأنهم أعطوه لإحياء حقهم، البته مؤاخدین د مؤاخذې قابل دي (شامي ۴:۳۰۲)[1]
والله أعلم

د کار نه کولو له وجې د بجلۍ والا افسرانو ته رشوت ورکول

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زه واټر پمپ یا کور لپاره د بجلۍ راوستلو عریضه کوم، د بجلۍ محکمې دفتري افسران او نوره عمله بې پیسو زمونږ کار نه کوي، ایا هغوی ته د پیسو ورکول روا که ناروا دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: خیال بادشاه، پښاور ۱۴۰۰ھ/۴/۲۴

الجواب: واضحه دې وي چې خپلو حقوقو لپاره د مجبورۍ له وجې چاته روپۍ ورکول جائز دي، په دې شرط چې د بل حق تلفي ونه شي. اخیستونکي ته اخیستل ناروا او حرام دي لما في رد

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: الثالث أخذ المال ليسوي أمره عند السلطان دفعاً للضرر أو جلباً للنفع وهو حرام على الآخذ فقط.
(رد المحتار ۴:۳۳۸، كتاب القضاء، مطلب في الكلام على الرشوة والهداية)

المحتار على الدر المختار ۲: ۳۱۶، الثالث أخذ المال ليسوّى أمره عند السلطان دفعا للضرر أو جلبا للنفع وهو حرام على الآخذ فقط. (۱) وهوالموفق.

د ضرر دفع کولو لپاره رشوت ورکول ناروا دی

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د دفع مضرت لپاره رشوت ورکول څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: نا معلوم... ۲۸ جمادی الأول ۱۴۰۵ھ

الجواب: د دفع مضرت لپاره رشوت ورکول جائز دي. أحکام القران لأبی بکر الجصاص الرازی. (۲) والله اعلم

---

۱) رد المحتار ۴: ۳۳۸، کتاب القضاء مطلب في الكلام على الرشوة والهدية)

وفي الخانية: الثاني: إذا دفع الرشوة إلى القاضي ليقضي له وهذه الرشوة حرام من الجانبين سواء كان القضاء بحق أو بغير حق... ومنها: إذا دفع الرشوة ليسوّي أمره عند السلطان حل له الدفع ولايحل للآخذ أن يأخذ.

(الفتاوى الخانية على هامش الهندية ۲: ۳۶۲، کتاب الدعوى والبينات)

۲) قال العلامة أبوبكر الجصاص رحمه الله تعالى: ووجه آخر من الرشوة وهوالذي يرشو السلطان لدفع ظلمه عنه فهذه الرشوة محرمة على آخذها محظورة على معطيها، يرشو السلطان لدفع ظلمه عنه، فهذه الرشوة محرمة على آخذها غير محظورة على معطيها، عن جابر بن زيد والشعبي قالا: لا بأس بأن يصانع الرجل عن نفسه وماله إذا خاف الظلم.

(احكام القرآن ۲: ۴۳۳، باب الرشوة)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: الثالث: أخذ المال ليسوّي أمره عند السلطان دفعًا للضرر أو جلبًا للنفع وهو حرام على الآخذ فقط.

(رد المحتار ۴: ۳۳۸، کتاب القضاء، مطلب في الكلام على الرشوة والهدية)

د خپل حق اخیستلو او د بل حق تلفی لپاره د رشوت حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې يو شی د يو کس خپل حق وي او د هغه د لاس نه راوړلو لپاره مجبوراً رشوت ورکړي: نو ګناهګاريږي که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي ماسترز پياؤ خان. کرک ... ۱۴۰۰ه ۱۴/۳

الجواب: د خپل حق اخيستلو لپاره رشوت ورکونکی نه ګنهګاريږي. البته د چا د حق تلفی لپاره رشوت ورکونکی هم ګنهګار دی.(۱) **وهوالموفق**

د حق تلفی او مظلوميت ګمان کېدو په صورت کې د رشوت ورکولو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د نرس ټرينګ لپاره د حکومت شرط دا دی چې د ضلع د ميډيکل افسر (سول سرجن) نه بې بايد د يو کال د هسپتال ټرينګ سند اخيستی وي. اوس دا کس چې د نرس امتحان ورکونکی وي، د ضلع ميډيکل افسر ۵۰۰ روپۍ رشوت نه بغير سند نه ورکوي او که چې ضلعي ميډيکل افسر سرټيفيکيټ ورنکړي نو هغه د نرس امتحان نه محروميږي او بيا وروسته درې زره روپۍ د رشوت په توګه په دفتر کې ورکوي، که هغه کاميابيږي هم نو ناکام به وي. اوس هغو ځايونو کې چونکې له مجبوری نه رشوت ورکول ضروري وي.

---

(۱) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى :وفي المصباح : الرشوة بكسر الراء مايعطيه الشخص للحاكم وغيره ليحكم له أويحمله على مايريد.....وفي الخانية :الرشوة على وجوه أربعة ،منها ما هوحرام على الجانبين وذلک في موضعين أحدهما :إذا تقلد القضاء بالرشوة حرم على القاضي والآخذ .....الثاني : إذا دفع الرشوة ليقضي له، حرم من الجانبين......ومنها إذا دفع الرشوة ليسوّي آمره عندالسلطان حل له الدفع ولايحل للآخذ أن يأخذ. (البحر الرائق ۶: ۲۶۲، كتاب القضاء)

لهذا ستاسو نه ددې مسئلې وضاحت غواړو چې له دې وجې رشوت ورکول څنګه دي؟ بینوا توجروا

المستفتي: ډاکټر عبدالرحمن. جمیل دواخانه. ټانک ضلع ډیره

الجواب: چې د رشوت ورکولو په صورت کې حق تلفي او مظلومیت مظنون وي نو رشوت ورکول حرام نه دي، اخیستل يې حرام دي (ردالمحتار ۴:۳۰۳)[1] وهوالموفق

د شاګردانو څخه خدمت اخیستل او ممتحینینو ته د رشوت دعوت ورکول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې بنده د ګورنمنټ هائي سکول جګناته (ضلع صوابی) کې د عربي معلم دی. بنده ته لاندې مسائل مخې ته شوي

(۱) موږ ټول استاذان چای او د غرمې ډوډی په مکتب کې خورو. د چای پخلي لپاره خس و خاشاک د مکتب په ماشومانو راغواړو. هیڅ هم نه ورکوو. ډوډی لپاره استاذان اجتماعي سودا اخلي او هلکانو ته يې د پخولو لپاره ورکوي. د غرمې له رخصتۍ يو ساعت وړاندې هغه شاګرد پرېږدي تر څو خپلو استاذانو ته ډوډی راوړي، دا هلک د خپلې خوارۍ بدل نه اخلي. بلکې هغه ته نه ورکول کیږي يو ساعت درس يې هم ضایع شي

(۲) په امتحانو کې د استاذانو ډیوټي پیل شي، ځینې هلکان په هغو ورځو کې باقاعده معاوضه ورکوي: خو بل طرف د ماشومانو درس هم خالي پاتې شي چې کوم استاذان د امتحان اخیستو لپاره راځي نو ددې سکول طلباء د همدې استاذ لپاره د روټۍ انتظام هم کوي چې مقصد د نقل ازادي

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :الثالث :أخذالمال ليسوّي أمره عند السلطان دفعاً للضرر أوجلباً للنفع وهوحرام على الآخذفقط .
(رد المحتار ۴:۳۳۸، كتاب القضاء ،مطلب في الكلام على الرشوة والهدية)

وي، د امتحان په دوارن کې هغه طالبان لرګي. شیدې او ماسته وغیره هم راوړي. ددې مسئلې وضاحت وکړئ؛ بینوا توجروا

المستفتی: فیروز شاه فاضل حقانیه... ۱۹۹۰ع/۵/۵

الجواب: دا کارونه نه روا دي او نه ترې ځان ساتل اسان دیږ البته چې بره افسران معترض نه وي نو د اعتراض قابل نه دي: (۱) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ :اذا دفع لابنه مالًا فتصرف فيه الابن يكون للأب إلّا دلّت دلالة التمليک.
(رد المحتار ۵: ۲۷۳، کتاب الهبة)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالىٰ: يجب على المؤمن أن يعلم ولده الجود والإحسان كمايجب عليه أن يعلّمه التوحيد والإيمان.
(الدر المختار ۵: ۵۶۷، کتاب الهبة)

باب أموال اليتامى

د يتيمانو ماشومانو په مال کې تصرف کول

سوال: څه فرمايي علما ءکرام د دې مسئلې باره کې چې د يتيمانو په مال کې تصرف کول جائز دی که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولانا رحيم الله باچا صاحب. اضاخيل ...۸ محرم ۱۴۰۳ھ

الجواب: جائز دي چې کله په دغه تصرف کې حفاظت مظنون وي [۱] وهو الموفق

د يتيمو ماشومانو سره شريکي جايداد نه امام ته دوډۍ ورکول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې يو سړی مړ شو. د هغه ډېر يتيمان پاتې شوي. په خپلو منځو کې يې څمکه نه ده تقسيم شوې. شريکي حساب دی. ايا دا ښځه خپل

---

۱) وفي الدرالمختار: يقرض القاضى مال الوقف والغائب واللقطة واليتيم ولا يقرض الأب. (الدرالمختار)

وفي رد المحتار: (قوله لايقرض الأب) أى في أصح الروايتين، فتح، قال في البحر: وفي خزانة الفتاوى الصحيح أن الأب كالقاضي.

(ردالمحتار۴:۳۷۸، ۳۷۹، كتاب القضاء، مطلب للقاضي إقراض مال اليتيم ونحوه)

وقال العلامة القرطبي رحمه الله تعالى: (وَيسئَلُونَكَ عَنِ اليتمى قُل اِصلَاحٌ لَهم خَير) لما أذن الله عزوجل في مخالطة الأيتام مع قصد الإصلاح بالنظر إليهم وفيهم كان ذلک دليلا على جواز التصرف في مال اليتيم، تصرف الوصي في البيع والقسمة وغير ذلک على الاطلاق لهذه الاية.

(الجامع لأحكام القرآن ۳:۶۱ سورة البقرة آيت نمبر ۲۲۰)

امام ته په خپله خوښه خواړه وغیره ورکولای شي؟ په داسي حال کي چي د امام سره هم د یوي نیمي میاشتي خرچه موجوده وي او که د دغه پیش امام لپاره یتیم ماشوم ډوډی نه وروړي؛ نو د هغه انتظام نور خلک کولای شي؟

یو بل کس د چي ټول زامن یې بالغ دي، صرف دوه نابالغه دي او دا کس وفات شوی. بالغ ماشومان یې خپل امام ته په خوښه ډوډی راوړي، د هغوی جایداد هم په خپلو کي تقسیم شوی نه دی، امام ته دا خوراک خوړل څنګه دي؟ بینوا تو جروا

المستفتي: مولوي محي الدین...... ۲۸ شوال ۱۳۹۴ھ

الجواب: واضحه دي چي د یتیم له مال نه تبرع کول صحیح نه دي. (۱) نه ولي د تبرع کولو مجاز دی او نه یتیم. لهذا مذکوره دواړو صورتونو کي د پیش امام لپاره دا ډوډی خوړل روا نه دي. قال الله تعالی: إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَىٰ ظُلْمًا» (۲) أي بغیر حق شرعي، الخ وفي الدرالمختار: وكل من شركاء الملك أجنبي في الإمتناع عن تصرف مضر في مال صاحبه، هامش ردالمحتار ۳:۴۶۰ (۳) وهوالموفق

د یتیم په مال تجارت کولو کي د تاوان او ضمان مسئله

سوال: څه فرمایي علماء کرام دي مسئلي باره کي چي وارث د یتیم په مال کي تجارت کوي او مقصد یې د یتیم مال زیاتول وي مګر د فایدي په ځای نقصان وشي. نو دا نقصان د چا په ذمه

---

۱) في الهندیه: في كتاب القاضي: ليس للقاضي ولاية التبرع بمال اليتيم.
(فتاوی هندیة ۵:۳۷۹، كتاب الكراهية، الباب الثلاثون في المتفرقات)

۲) (سورة النساء: آیت نمبر ۱۰)

۳) (الدر المختار ۳:۳۶۵، كتاب الشركة)

دی؟ بینوا تو جروا

المستفتی کلیم الله شاه مسکین پور شریف.... ۷۳ع ۱۵/۳

الجواب: په دې باندې ضمان نشته (آداب الأوصياء على هامش جامع الفصولين ۲:۲۳۲)()وهوالموفق

د یتیم له مال نه د هغه کور پوخ جوړلو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې يو سړی وفات شي. د هغه نه يو زوی اودرې لونې يتيماني پاتې شوې. د هغوی کور کچه دی. نو پخول يې د هغه له مال نه څنګه دي؟ بينوا توجروا

المستفتی مولانا رحیم الله باچا. اضاخیل.... ۱/ جمادی الأول ۱۴۰۳ھ

الجواب: که په دغه پوختګی کې د هغو يتيمانانو مفاد وي. سالانه د مرمت خرچه او له ورانېدو نه لرګيو د بربادېدو خطرې نه د خوندي کېدو هيله وي. نو سرپرست ددغه پخولو مجاز دی (۲)

---

۱) في آداب الاوصياء: تصرف في مال اليتيم وربح ثم قال كنت أخذته مضاربة ولي في الربح حصة لم يصدق إلابيبنة، ومثله في العتابية، قال في مجموع النوازل: وإن نوى المال لم يضمن.

(آداب الأوصياء على هامش جامع الفصولين ۲:۲۳۲، فصل في المضاربة، الطبعة الأولى بالمطبعة الأزهرية)

۲) قال العلامة ثناء الله پانی پتی رحمه الله تعالى: (وَيسئَلُونَکَ عَنِ اليتمى قُل اِصلَاحٌ لَهم خَير) يعنى إصلاح أموال اليتمى وأمورهم خير فإن رأيتم الإصلاح في المجانبة فذاک (وإن تخالطوهم) ورأيتم إصلاحهم في المخالطة (فإخوانكم)...

....(پاتې حاشيه په بل مخ)

(د حاشيې پاتې برخه) أى إنهم إخوانكم في الدين والنسب والاخوان يعين بعضهم بعضا ويصيب بعضهم من مال بعض على وجه الإصلاح، (وَاللهُ يعلَمُ المُفسِدَ) يعنى الذى يقصد بالمخالطة الخيانة وإفساد مال اليتيم وأكله بغير حق من المصلح الذى يقصد به الإصلاح.

(التفسير المظهرى ۲۷۵:۱، سورة البقرة: ايت نمبر ۲۲۰)

وفي تفسير القرطبي: (وَيسئلُونَكَ عَنِ اليتمى قُل اِصلَاحٌ لَّهم خَير)

الثانيه: لما أذن الله عزوجل في مخالطة الأيتام مع قصد الإصلاح بالنظر إليهم وفيهم كان ذلک دليلاً على جوازالتصرف في مال اليتيم، تصرف الوصي في البيع والقسمه وغير ذلک على الإطلاق لهذه الاية.

(التفسير القرطبي ٦١:٣، سورة البقرة: ايت نمبر ۲۲۰)

الله الله

فتاوی فریدیه

نهم جلد

باب التصویر

باب التصوير

مشتهاة تصوير او عكس ته كتل ناجائز دي

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره کې چې ټي وي ته کتل د قرآن او حديثو په رڼا کې څنگه دي؟ کله چې په دې کې د نارينه وو او ښځو تصويرونه هم راځي. ټي وي کې بعضې مولوي صاحبان د اسلام په موضوع تقريرونه کوي. د هغوی عکس ته کتل د ښځو لپاره څنگه دي؟ بينوا توجروا

المستفتي زين الدين. روسک روډ پشاور ۵/ فروري ۱۹۸۶ء

الجواب: د کوم سړي يا زنانه عکس ته کتل بذات خود ممنوع نه دي. البته له هغوی نه خوند اخيستل چې کله متيقن يا مظنون وي نو بنا بر حديث كأنما ينظر إليها (رواه ابوداود)(۱) ممنوع دي. (۲) دا هم چې ليدري دنيا کې له منکراتو نه بچ کېدل مشکل کار دي **وهوالموفق**

---

۱) عن ابن مسعود رضي الله تعالىٰ عنه قال: قال رسول الله ﷺ: لا تباشر المرأة المرأة فتنعتها لزوجها كأنما ينظر إليها.

(سنن أبي داؤد ۲:۲۹۲، كتاب النكاح، باب مايؤمر به من غض البصر)

۲) قال المفتي محمّد شفيع رحمه الله تعالىٰ: وهذا كله مصرح في مذهب المالكية ومؤيد بقواعد مذهبنا، ونصه عن المالكية ماذكره العلامة الدردير في شرحه على مختصر الخليل حيث قال يحرم تصوير حيوان عاقل أوغيره إذا كان كامل الأعضاء إذا كان يدوم وكذا إن لم يدم على الراجح كتصويره من نحو قشر بطيخ ويحرم النظر إليه إذالنظر إلى المحرم لحرام. (جواهر الفقه ۷:۲۶۴، كتاب الحظر والإباحة، تصوير کے دیکھنے کا حکم)

وقال العلامة ابن عابدين: (قوله النظر الى ملاءة ...(پاتې حاشيه په بل مخ)

تصوير او تمثيل کې فرق

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې تصوير او تمثيل کې فرق شته يا نشته؟ بينوا توجروا

المستفتي عبدالماجد. ټيکسلا.....۷۶ع/۳/۱۷

الجواب: قسطلاني په شرح بخاري کې دا فرق غلط ګڼلى. **فليرجع إلى كتاب** البيوع.()**وهوالموفق**

د ضرورت په وخت فوټو ويستل روا دى

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې بار ه کې چې شناخت کارډ ته عکس اخيستل څنګه دي؟ بينوا توجروا

المستفتي حاجي شيخ احمد. کله ګنک.....۷۶ع/۹/۱۷

(د حاشيې پاتې برخه) الأجنبية بشهوة حرام)... لو كان على المرأة ثياب لابأس بأن يتامل جسدها مالم تكن ملتزقة بها تصف ما تحتها لأنه يكون ناظراً إلى ثيابها وقامتها، فهو كنظره إلى خيمة هي فيها ولو كانت تصف يكون ناظراً إلى أعضائها... فإن نظره بشهوة إلى ملاءتها أوثيابها وتأمله في طول قوامها ونحوه قد يدعوه إلى الكلام معها ثم إلى غيره، ويحتمل أن تكون العلة كون ذلك استمتاعا بما لايحل بلاضرورة. (ردالمحتار ۵:۲۶۳،كتاب الحظر والإباحة ،فصل في النظر والمس)

۱) قال العلامة القسطلاني رحمه الله تعالى: (تماثيل) جمع تمثال بكسر الفوقية وبعد الميم الساكنة مثلثة وهو الصورة والمراد بها صور الحيوان وفي مسلم قال لى مسروق هذه تماثيل كسرى فقلت لاهذه تماثيل مريم...... (پاتې حاشيه په بل مخ)

الجواب: د ضرورت په وخت کې عکس اخيستل روا دي.(۱) وهوالموفق

د شناختي لپاره تصوير وېستل جائز دي

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې (۱) چې د شناخت کارډ لپاره تصوير اخيستل روا دی که ناروا؟

(۲) تصوير د ځان سره ساتل او ورسره لمونځ کول جواز لري که نه؟

(۳) دا حکم د پاکستان په خلکو باندې چلېږي. که په واکمنو؟

(د حاشيې پاتې برخه)......

(ارشاد الساري ۴۸۱،باب عذاب المصورين يوم القيامة ،كتاب اللباس)

وقال العلامة العيني رحمه الله تعالى: قوله تماثيل جمع تمثال بكسر التاء... وقيل لا فرق بين الصورة والتمثال والصحيح أن بينهما فرق وهو أن الصورة تكون في الحيوان والتمثال يكون فيه وفي غيره وقيل التمثال ماله جرم وشخص والصورة ماكان رقماً أو تزويقا في ثوب أوحائط.

(عمدة القاري ۲۲:۷۰، كتاب اللباس، باب عذاب المصورين يوم القيامة)

۱) في شرح المجلة :الضروريات تبيح المحظورات. (شرح المجلة ۱:۵۵ المادة: ۲۱)

وقال المفتي كفايت الله رحمه الله تعالى: التصوير لايجوز مطلقًا بالقلم وغيره ولكن عند شدة الضرورة جائز لأن الضرورات تبيح المحظورات قاعدة الشريعة مسلمة عند الفقهاء العظام. (كفايت المفتي ۹:۲۴۴ كتاب الحظر والإباحة)

وفي شرح السير الكبير: وإن تحققت الحاجة له إلى استعمال السلاح الذى فيه تمثال فلا بأس باستعماله لأن مواضع الضرورة مستثناة من الحرمة كما في تناول الميتة. (شرح السير الكبير ۴:۱۴۶۳، باب مايكره في دارالحرب ومالايكره)

(۴) څه فایده لري او که نقصان؟

(۵) که جواز لري نو په کومو وجوهاتو سره؟ بینوا توجروا

المستفتي: مولوي سرور دین، چارسده.... ۱۲ اپریل ۱۹۷۵ع

الجواب: (۱) د ضرورت په وخت تصویر ویستل روا دي خصوصاً چې د نیم بدن وي (۱)

(۲) چې پټ وي نو لمونځ نه مکروه کیږي لکه د نوټ (روپیو) سره لمونځ (۲)

(۳) تر اوسه د پاکستان عوامو ته دا کار اختیاري دی. (۳)

(۴) د سفر په وخت کې فایده لري

(۵) قالوا أمر السلطان إكراه. (۴) وقال الله تعالى: إلاَّ مَا اضْطُرِرْتُمْ! (۵)

فافهم. وهوالموفق

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ولا يكره لو كانت ...مقطوعة الرأس أو الوجه أو ممحوة عضو لا تعيش بدونه.

(الدرالمختار ۱:۴۷۹،۴۸۰، مطلب مكروهات الصلاة)

۲) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: رجل في يده تصاوير وهو يؤم الناس لاتكره إمامته لأنها مستورة بالثياب... لايكره أن يصلي ومعه صرة أوكيس فيه دنانير أودراهم فيها صور صغار لاستتارها.

(البحر الرائق ۲:۲۷، باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها)

۳) (اليوم صار غير اختياري. سيف الله حقاني)

۴) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: أمرالسلطان إكراه وإن لم يتوعده.

(ردالمحتار ۵:۹۱، كتاب الإكراه)

۵) (سورة الأنعام آيت: ۱۲۰)

جیب کې تصویر سره لمونځ کول

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د ذي روح (ژوندي شي) تصوير د ځان سره ساتل حرام دي، که يو سړی ورسره لمونځ کوي او تصوير په جيب کې ساتي: نو که ناروا وي، د ضرورت په وخت بيا څه حکم لري. لکه نن سبا چې د حج يا شناخت کارډ لپاره جوړيږي؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبدالحميد، باجوړ کيمپ ...... ۹ رمضان ۱۳۹۰ھ

الجواب: د حيوان تصوير چې په جيب وغيره کې پټ وي نو لمونځ ورسره کول مکروه نه دي. كما في ردالمحتار: قال في البحر ومفاده كراهة المستبين لا المستتر بكيس أوصرة أوثوب آخر وأقره المصنف أوكانت صغيرة. (۱) وهوالموفق

ډلييز عکسونه اخيستل

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ډلييز عکسونه چې نن سبا دا يو کار جوړ شوی چې په ګروپ فوټو کېد په ډېر اهتمام سره ځانونه شاملوي. ايا داسې کول يا کېدل او بيا قريم د يادګار په توګه ساتل په محمدي ﷺ شريعت کې جواز لري؟ بينوا توجروا

المستفتي: ډاکټر سيد بادشاه، حويليان هزاره ..... ۵،۳،۷۳

الجواب: د جاندار (ژوندي) تصوير ويستل حرام دي. (۲) دې کې هر ډول مرسته کول حرام

---

۱) (الدرالمختار ۴۷۹:۱، باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها، مكروهات الصلوة)

۲) عن عبد الله بن مسعود رضي الله تعالى عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول: أشد الناس عذابًا عند الله المصورون، متفق عليه. (مشكوة المصابيح ۳۸۵، باب التصاوير)

وقال العلامة العيني رحمه الله تعالى: أن تصوير ... (باتي حاشيه په بل مخ)

او ناروا ده.(۱) وهوالموفق.

د قاتل د قصاص پېښه په تصويرونو خپرول

سوال: ما يقول العلماء الكرام في المسئلة الآتية: هل يجوز إشاعة واقعة قصاص شاه فيصل وقاتله بالتصاوير كقول البعض بالجواز أم لا؟ بينوا توجروا

المستفتي: مولوي حميد الرحمن. بنو ..۷۵ع/۸/۶۷

الجواب: هذه الإشاعة لا مطلوبة ولا ممنوعة وإن كان التصوير الأصلي أ الفرضي من الأمور المحرمة.(۲) وهوالموفق

(د حاشيې پاتې برخه) ذي روح حرام وأن مصوره توعد بعذاب شديد.
(عمدة القاري ۱۲:۳۹ باب بيع التصاوير)

۱) قال الله تبارک وتعالیٰ: وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الإِثْمِ وَالعُدْوَانِ. (سورة المائدة آيت:۲)

وقال العلامة القاري رحمه الله تعالیٰ: (وكاتبه وشاهديه) قال النووي فيه تصريح بتحريم كتابة المترأبيين والشهادة عليهما وبتحريم الإعانة على الباطل.
(مرقاة المفاتيح ۶:۵۹ ،باب الربا)

۲) وعن ابن عباس رضي الله تعالی عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول: كل مصور في النار يجعل له بكل صورة صورها نفساً فيعذبه في جهنم، وعن ابن عباس رضي الله تعالی عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول: ...من صور صورة عُذِب وكُلِف أن ينفخ فيها وليس بنافخ. (مشكوة المصابيح ۳۸۵ ،باب التصاوير)

وقال العلامة العيني رحمه الله تعالیٰ: أن تصوير ذي روح حرام وأن مصور، توعد بعذاب شديد.
(عمدة القاري ۱۲:۳۹ ،باب بيع التصاوير)

تې وې باندې د خبرونو اورونكې ښځې ليدل ممنوع دي.

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې د شريعت له مخې تې وې باندې خبرونه اورېدل روا دي كه ناروا؟ بينوا توجروا

المستفتي نا معلوم...... ۲۷ ذي الحجه ۱۳۹۶هـ

الجواب: كه خبرونه اورونكې ښځه وي نو كتل ورته ممنوع دي،(۱) د ابو داؤد د حديث له وجې (۲) **وهوالموفق**

د تمام بدن عكس اخيستلو حكم

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره كې چې ايا اسلام كې عكس جوړول جائز دي؟ بينوا توجروا

المستفتي نا معلوم ۱۹۷۵ع/۱۰/۳۱

الجواب: اسلام كې د تمام بدن عكس جوړول ممنوع دي، بخاري شريف (۳) **وهوالموفق**

---

۱) عن بريدة رضي الله تعالىٰ عنه قال قال رسول الله ﷺ لعليّ يا عليّ! لا تتبع النظرة النظرة فإن لك الأولى وليست لك الآخرة.

(مشكوة المصابيح ۲۶۹، باب النظر إلى المخطوبة)

۲) عن ابن مسعود رضي الله تعالىٰ عنه قال قال رسول الله ﷺ: لا تباشر المرأة المرأة لتنعتها لزوجها كأنما ينظر إليها.

(سنن أبي داؤد ۲:۲۹۲، كتاب النكاح، باب مايؤمر به من غضّ البصر)

۳) عن عبد الله رضي الله تعالىٰ عنه قال: سمعت ...(پاتې حاشيه په بل مخ)

له سيني پورته نيمايي عکس د يادګار لپاره د کېښودلو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د کوم مرشد، استاذ والد او زوی وغيره تصوير له سينې پورته وي، چې شرک هم مقصدنه وي د يادګار لپاره يې ساتل روا دي که نا روا؟ بينوا توجروا

المستفتي: سعيد الله ازاد. کوهستاني....۸۵ع/۴/۶

الجواب: علماء دا نه خوښوي (۱) البته د شرح تنوير له عبارت نه جواز معلوميږي ۱:۶۰۷/ (۲) والله اعلم

بې ضرورته د ژوندي تصوير وېستل په صندق يا بټوه کې يې د ساتلو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د بنده سره د علامه شبير احمد عثماني

(د حاشيې پاتې برخه) النبي ﷺ يقول: إنّ أشدّ الناس عذاباً يوم القيمة المصوّرون ... إن رسول الله ﷺ قال إن الذين يصنعون هذه الصور يعذّبون يوم القيمة، يقال لهم أحيوا ما خلقتم. (صحيح البخاري)

وفي حاشيته: قال النووي قال أصحابنا وغيرهم من العلماء: تصوير صورة الحيوان حرام شديد التحريم وهو من الكبائر لأنه متوعد عليه بالوعيد الشديد.
(صحيح البخاري ۲:۸۸۰، كتاب اللباس، باب التصاوير)

۱) قال المفتي كفايت الله رحمه الله تعالى: د پورته نيم بدن چې په هغې کې مخ او سر وي، تصوير جائز نه دی.

(كفايت المفتي، كتاب الحظر والإباحة ۹:۲۳۹، بيسواں باب، فوټو)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ولا يكره لو كانت... مقطوعة الرأس أوالوجه أو ممحوة عضو لا تعيش بدونه.
(الدرالمختار ۱:۴۷۹،۴۸۰، مطلب مكروهات الصلاة)

مرحوم، امير شريعت عطاء الله شاه بخاري مرحوم او د مفکر اسلام مفتي محمود عکسونه دي چې صرف او صرف د ياداشت په توګه مې ساتلي. براه کرم په دې اړه وضاحت وکړئ؟ بينوا توجروا

المستفتي عطاء الله زاهد، ناظم جمعية طلبه اسلام،

بونير سوات ۱۹۸۵ء/۱۲/۲۴

الجواب: بې له شرعي ضرورته مکمل تصوير (د ژوندیو شیانو) اخیستل یا خپل ځان سره ایښودل ممنوع دي، (۱) البته که صندق یا بټوه وغیره کې پټ وي نو ممنوع نه دي، (۲) او اخیستل بې په هر حال ممنوع دي، **إلا عند الضرورة**(۳) او نیمايي عکس علماوو نه ده خوښ کړی، خو د شرح تنوير په

---

۱) عن عائشة رضي الله تعالى عنها أنها اشترت نمرقة فيها تصاوير... فقال رسول الله ﷺ إن أصحاب هذه الصور يعذّبون ويقال لهم أحيوا ما خلقتم، ثم قال إن البيت الذى فيه الصور لا تدخله الملائكة.

قال العلامة النووي رحمه الله تعالى: وهذه الأحاديث صريحة في تحريم تصوير الحيوان وأنه غليظ التحريم.

(صحيح المسلم ۲:۲۰۱، كتاب اللباس والزينة، باب تحريم تصوير صورة الحيوان)

۲) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله لا المستتر بكيس أو صرة) بأن صلى ومعه صرة أو كيس فيه دنانير أودراهم فيها صور صغار فلا تكره لاستتارها، بحر، ومقتضاه أنها لوكانت مكشوفة تكره الصلاة مع أن الصغيرة لاتكره الصلوة معها كما يأتي، لكن يكره كراهة تنزيه جعل الصورة في البيت نهر... ولوكانت تمنع دخول الملائكة كره إبقاءها في البيت. (ردالمحتار ۱:۴۷۹، مطلب مكروهات الصلوة)

۳) قال المفتي كفايت الله رحمه الله تعالى: التصوير لا يجوز مطلقًا بالقلم وغيره ولكن عند شدة الضرورة جائز لأن الضرورات تبيح المحظورات قاعدة الشريعة مسلمة عند الفقهاء العظام. (كفايت المفتي ۹:۲۴۳، كتاب الحظر والإباحة)

عبارت کې اجازت معلومیږي (۱) وهوالموفق

د حیوان تصویر والا کور کې لمونځ کول مکروه تحریمي دي.

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زموږ حجره کې تې وي ایښې، هلته موږ د عزر په وخت کې لمونځ کوو او هیڅ تصویر هم پکې نشته ایا په دې کې لمونځ درست دی؟ او کومه کمره کې چې تصویرونه ځوړند وي هلته د لمانځه څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتي حاجي مسلم خان، تنګی چارسده......۱۴۰۴ھ/۱۱/۷

الجواب: تې وي یوه اله ده. بذات خودنه حسن ده او نه قبیح ده. البته د خارجي عوارضو له وجې حسن یا قبیح ګرځي. (۲) او کوم ځای چې د حیوان تصویرونه وي نو هلته لمونځ کول مکروه تحریمي دي إلا أن تكون خلف المصلى (۳)

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ولايكره لو كانت... مقطوعة الرأس أوالوجه أوممحوة عضو لا تعيش بدونه.
(الدرالمختار ۱:۴۷۹، مطلب مكروهات الصلوة)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ومن ذلك ضرب النوبة للتفاخر فلو للتنبيه فلا بأس به. (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وهذا يفيد أن آلة اللهو ليست محرمة لعينها بل لقصد اللهو منها، اما من سامعها أو من المشتغل بها وبه تشعر الإضافة، ألا ترى أن ضرب تلك الآلة بعينها حل تارة وحرم أخرى باختلاف النية بسماعها والأمور بمقاصدها.
(ردالمحتار ۵:۲۴۷، كتاب الحظر والإباحة، قبيل فصل في اللبس)

۳) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: وكره أن يكون فوق رأسه أوبين يديه أو بحدائه صورة... ولم يذكر ما إذا كانت خلفه للاختلاف، ففي رواية لا يكره.
(البحر الرائق ۲:۲۷، باب ما يفسد الصلوة ومايكره فيها)

نوټ: تصوير او عکس ته کتل او د عکس اواز اورېدل بذات خود مباح دي، البته د خارجي عوارضو له امله حرام شوي. **وهوالموفق**

د بې جان شيانو تصوير وېستل او داسې ځايونو کې د لمانځه حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د بې جانه شيانو عکسونه وېستل څنګه دي؟ که په کمره کې وي؛ نو هلته لمونځ کېږي که نه کېږي؟ بينوا توجروا

نا معلوم.........۷۸ع/۱۰/۳۱

الجواب: نه دا ډول تصوير جوړول مکروه دي او نه دا ډول کمره کې لمونځ کول مکروه دي. (بخاري شريف)[۱] (هنديه)[۲] **وهوالموفق**

په ابتدائيه ښوونځيو (سکولونو) کې د تصويرونو کتابونو لوستلو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زمونږ دولتي ابتدائي مکتبونو د نصاب کتابونه له تصويرونو ډک وي، ددې نه د ماشومانو ذهنونو د متاثرکېدو ډېره زيانه خطره ده

---

۱) عن سعيد بن أبي الحسن قال كنت عند ابن عباس إذ أتاه رجل فقال يا ابن عباس إنى إنسان، إنما معيشتي من صنعة يدي وإنى أصنع هذه التصاوير، فقال ابن عباس لا أحدّثک إلا ما سمعت رسول الله ﷺ يقول سمعته، يقول: من صوّر صورة فإن الله معذّبه حتى ينفخ فيها الروح وليس بنافخ فيها أبداً فربا الرجل ربوة شديدة واصفرّ وجهه، فقال ويحک إن أبيت إلا أن تصنع فعليک بهذا الشجر وكل شيى ليس فيه روح. (صحيح البخاري ۱:۲۹۶، كتاب البيوع، باب بيع التصاوير التي ليس فيها روح)

۲) في الهندية: ولا يكره تمثال غير ذي الروح كذا في النهاية.

(فتاوى هندية ۱:۱۰۷، الباب السابع فيما يفسد الصلوة ومايكره فيها، الفصل الثاني)

له دغو کتابونو پرته ددې معیار نور کتابونه نشته. لهذا ګزارش دا دی چې دغه کتابونه لوستل څنګه دي؟ بینوا توجروا

المستفتي نا معلوم.......

الجواب: د دغو کتابونو د اخیستلو وروسته د تصویرونو پاڼې لرې کول ضروري دي (۱) او د کومې پاڼې چې په څه برخه باندې تصویر او څه باندې مضمون وي نو په هغه کاغذ وغیره لګول اسانه تدبیر سره دي محفوظ وساتي **وهوالموفق**

سرکاري د دفترونو کې د قائد اعظم تصویر ځوړندېدو سره د لمانځه حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې سرکاري دفترونو کې د قائد اعظم تصویرونه ځړېدلي، ایا هلته هم د الله د رحمت فرښتې نه راځي. او هلته لمونځ کیږي

---

۱) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: وفي الخلاصة ولو رأى صورة في بيت غيره يجوز له محوها وتغييرها.

(البحر الرائق ۲:۲۹، باب مايفسد الصلوة ومايكره فيها)

وعن أبي سعيد الخدري رضي الله تعالى عنه عن رسول الله ﷺ قال: من رأى منكم منكراً فليغيره بيده فإن لم يستطع فبلسانه...الحديث.

(مشكوة المصابيح ۴۳۶، باب الأمر بالمعروف)

وفي المرقاة: (عن عائشة رضي الله تعالى عنها أن النبي ﷺ لم يكن يترك في بيته شيئا فيه تصاليب) أى تصاوير (إلا نقضه) أى أزال ذلك الشيئ أو قطعه والنقض في الأصل إبطال أجزاء البناء.

(مرقاة المفاتيح ۸:۳۲۷، باب التصاوير)

که نه کیږي؟ بینوا توجروا

المستفتی: نا معلوم.... ۷۸ع/۱۰/۳۱

الجواب: که دا فوټو د ټول بدن وي یا د هغه اعضاوو وي چې انسان پرې ژوندی پاتې کېدی شي، بیا هلته لمونځ کول مکروه دي، (۱) البته د نه کولو څخه مکروه لمونځ زر ځله غوره دی (۲) **وهوالموفق**

تصویرونو والا کمرې ته د رحمت پرښتې نه راځي

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ما د لویولویو علماوو نه اورېدلي چې که د چا په کمره یا کور کې د چا تصویر لګېدلی وي که هغه ژوندی وي یا وفات شوی وي، ولي الله هم وي نو هغه کور ته د رحمت پرښتې نه راځي ایا دا صحیح ده؟ بینوا توجروا

المستفتی: نا معلوم... ۷۸ع/۱۰/۳۱

الجواب: دا د حدیث مضمون دی (۳) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ويكره لبس ثوب فيه تماثيل ذي روح... ولا يكره لوكانت... مقطوعة الرأس أوالوجه أو ممحوة عضو لا تعيش بدونه أو لغير ذي روح لايكره.

(الدرالمختار ۱:۴۷۹/۴۸۰، كتاب الصلوة، مطلب مكروهات الصلوة)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وكره تحريما... صلوة... مع شروق إلا العوام فلا يمنعون من فعلها لأنهم يتركونها والآداء الجائز عند البعض أولى من الترك.

(الدرالمختار ۱:۲۷۲، كتاب الصلوة، مطلب يشترط العلم بدخول الوقت)

۳) عن أبي طلحة رضي الله تعالى عنه قال قال النبي ﷺ: لا تدخل الملائكة بيتا فيه كلب ولا تصاوير، متفق عليه.

(مشكوة المصابيح ۳۸۵، باب التصاوير)

د اخبارونو لپاره روزانه د علماء کرامو عکسونه اخیستلو حکم

سوال څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې اخبارونو کې روزانه د علماء کرامو عکسونه راځي ایا دا جائز دي؟ بینوا توجروا

المتسفتي: نا معلوم......۷۸ع/۱۰/۳۱

الجواب: د علماوو عکسونه اخیستل ممنوع دي (۱) **وهوالموفق**

د کوم قائد یا ولي عکسونه دفتر کې ځوړندول نا روا دي

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې په شریعت مطهره کې د عکسونو اخیستل څنګه دي؟ دفتر یا کور کې یې ځوړندول څنګه دي؟ ددې سره لمونځ روا دی که ناروا؟ لمونځ ورسره کیږي که نه کیږي؟ شناختي کارډ وغیره لپاره اخیستل خو به ناروا نه وي؟ دا رنګه د مشر یا ولي عکس ایښودل جائز دي که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي مولوي ګل شیر، پشاور ۱۲/صفر المظفر ۱۴۰۵ه

الجواب: د ژوندي شیانو (حیواناتو وغیره) عکسونو اخیستل عکاسي حرامه ده، **لورود اللعن علیه** (۲) که دا عکس د کوم مشر وي یا د عامو خلکو وي، که د عبرت لپاره وي یا نورو مقصدونو

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وظاهر كلام النووي في شرح مسلم الإجماع على تحريم تصوير الحيوان، وقال: وسواء صنعه لما يمتهن أولغيره، فصنعته حرام بكل حال، لأن فيه مضاهاة لخلق الله.

(ردالمحتار ۱:۴۷۹، مطلب مكروهات الصلوة)

۲) عن عبد الله رضي الله تعالى عنه قال سمعت النبي ﷺ يقول: إن أشد الناس عذاباً يوم القيمة المصوّرون... إن رسول الله ﷺ قال: إن الذين يصنعون هذه الصور يعذبون يوم القيمة يقال لهم أحيوا ما خلقتم. (صحيح البخاري)...(پاتې حاشيه په بل مخ)

لپاره وي البته د ضرورت په وخت کې به ضرورتمند مجرم نه وي، (۱) او چونکې پاسپورټ او شناختي کارډ ته ضرورت دی، (۲) غالباً نیمایي قطعه عکس وي، لهذا ددې اجازت شته. او نوټ غالباً پټ هم وي لهذا په دې کې حرج نشته. (۳)

وهوالموفق

ټي وي باندې د قران تلاوت، وعظ اودخبرونو ویونکود ښکلونوکتلو حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې یو قاري ټي وي

(د حاشیې پاتې برخه) وفي حاشیته: قال النووي: قال أصحابنا وغیرهم من العلماء تصویر صورة الحیوان حرام شدید التحریم وهو من الکبائر لأنه متوعد علیه بالوعید الشدید.

(صحیح البخاري ۲:۸۸۰، کتاب اللباس، باب التصاویر)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: وظاهر کلام النووي في شرح مسلم الإجماع علی تحریم تصویر الحیوان... فصنعته حرام بکل حال لأن فیه مضاهاة لخلق الله. (ردالمحتار ۱:۴۷۹، مطلب مکروهات الصلوة)

۱) في شرح المجلة: الضرورات تبیح المحظورات.

(شرح المجلة ۱:۵۵، المادة: ۲۱)

۲) قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: أمرالسطان إکراه وإن لم یتوعده.

(ردالمحتار ۵:۹۱، کتاب الإکراه)

۳) قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالیٰ: ولا یکره لوکانت تحت قدمیه أو في یده، عبارة الشمني بدنه لأنها مستورة بثیابه ومفاده کراهة المستبین لا المستتر بکیس أو صرة أو ثوب آخر أو مقطوعة الرأس أو الوجه أوممحوة عضو لا تعیش بدونه.

(ردالمحتار ۱:۴۷۹، مطلب مکروهات الصلوة)

باندې تلاوت کوي یا یو واعظ وعظ کوي یا خبرونه اوروي: نو د هغو شکلونه لیدل څه حکم لري؟ بینوا توجروا

المستفتي: قاضي فیض القادر، دته خیل، میران شاه.....۸۸ع/۷/۶

الجواب: تصویرونو او بوتانو ته کتل بذات خود ممنوع نه دي. والله اعلم

کتابونو او اخبارونو کې پټ تصویرونه د پرښتو داخلېدو لپاره مانع نه دي

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې تصویرونه او عکسونه ساتل حرام دي، حدیث شریف کې دي چې د چا په کور کې تصویر وي هغه ته د رحمت پرښتې نه ورځي، په دې ضمن کې هغه درسي کتابونه چې د مجبورۍ له وجې کور کې ایښي وي یا اخبارونه او رسالې چې ښکاره نه بلکې صندوق یا الماری کې بندې وي د هغو لپاره هم همدا حکم دی که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: محمد رفیق، تحصیل وضلع راولپنډي.....۷۶ع/۷/۲۵

الجواب: چې تصویرونه صندوق وغیره کې پټ وي، ددې وجې د پرښتو دخول نه بندېږي (۱) **وهوالموفق**

د حکومت اړدر شناختي کارډ لپاره عکسونه اخستل اکراه کې داخل دي

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د حکومت د اړدر

---

۱) قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (لا المستتر بکیس أوصرّة) بأن صلّی ومعه صرّة أوکیس فیه دنانیرأو دراهم فیها صورصغار فلاتکره لاستتارها، بحر، ومقتضاه أنها لوکانت مکشوفة تکره الصلاة مع أن الصغیرة لاتکره الصلاة معهاکما یأتي، لکن یکره کراهة تنزیه جعل الصورة في البیت، نهر...فعدم دخول الملائکة إنما هو حیث کانت الصورة معظمة.

(ردالمحتار ۱: ۴۷۹، باب ما یفسد الصلاة وما یکره فیها، مطلب مکروهات الصلاة)

مطابق شناختي کارډ لپاره عکسونه اخيستل روا دي که ناروا؟ بينوا توجروا

المستفتي: عبدالحليم چلاس، کوهستان..... ۱۴۰۰ھ/۴/۲۲

الجواب: د حکومت اډر په اکراه کې داخل دی، (۱) په دې بنا د تمام بدن تصوير مرخص دی، (۲) او د نيمايي تنې تصوير جوړول د شرح التنوير د عبارت په بنا په هر حال مرخص دی (۳) **وهوالموفق**

د سرود آلات او د بزرګانو او ليډرانو تصوير ماتونکي باندې د ضمان حکم

سوال: څه فرمايي کرام دې مسئلې باره کې چې د بزرګانو او ليډرانو تصويرونه ماتول او سوځول او هم د سرود آلات ماتول د ضمان موجب دي که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: شيرباد شاه ۲۹ ربيع الاول ۱۴۰۵ھ

الجواب: د مفتی به قول پر بنا تصوير ضائع کونکی او د سرود آلات ماتونکي با ندې ضمان نشته، **کما في شرح التنوير على هامش رد المحتار ۵: ۱۸۵،** **وقالالايضمن**

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: أمر السلطان إكراه وإن لم يتوعده.
(رد المحتار ۵: ۹۱، كتاب الإكراه)

۲) في شرح المجلة: الضرورات تبيح المحظورات.
(شرح المجلة لسليم رستم باز رحمه الله تعالى ۲۹، المادة: ۲۱)

۳) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ولا يكره لو كانت..... مقطوعة الرأس أو الوجه أو ممحوة عضو لا تعيش بدونه.
(الدر المختار ۴۷۹، ۴۸۰، مطلب مكروهات الصلاة)

فلا يصح بيعها وعليه الفتوى،(١) وهو الموفق.

---

١) (الدر المختار ٥: ١٤٨، كتاب الغضب، فصل في مسائل متفرقه)

وفي الهندية: إذا كسر بربط إنسان أو طنبوره أو دفه أو ما أشبه ذلك من الآلات الملاهي فعلى قولهما لاضمان وعلى قول أبي حنيفة رحمه الله تعالى يجب الضمان.... قال القاضي صدر الإسلام: الفتوى على قولهما لكثرة الفساد فيما بين الناس.

(فتاوى هندية ٥: ١٣١، كتاب الغصب، الباب الرابع في كيفية الضمان)

اللہ اللہ

فتاوی فریدیہ

نهم جلد

باب الغناء ورسومات النکاح

الله الله

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

الغناء ينبت النفاق فی القلب كما ينبت الماء الزرع.

(رواه البيهقی)

باب الغناء ورسومات النكاح

د فقهي او احاديثو له مخې مزامير حرام دي

سوال: څه فرمايي علماء كرام ددې مسئلې په باره كې چې ډول، راډيو، ټيپ او وغيره په شريعت كې تر كومه حده بند دي؟ **بينواتوجروا**

المستفتي جناب ساجد خان ماستر، مانسهره... ۲۵ / جولائي ۱۹۷۹ ع

الجواب: د حديثو(۱) او فقهي روايتونو له مخې(۲) دا مزامير حرام دي **فقط**

---

۱) عن أبي عامر أو أبي مالك الأشعري رضي الله تعالى عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول :ليكونن من أمتي أقوام يستعجلون الخز والحرير والخمر والمعازف.
مشكوة المصابيح ۴۵۶،باب البكاء والخوف)

وعن عمران بن حصين رضي الله تعالى أن رسول الله ﷺ قال :في هذه الأمة خسف ومسخ وقذف،فقال رجل من المسلمين ومتى ذلك؟قال إذا ظهرت القيان والمعازف وشربت الخمور.
(جامع الترمذي ۲: ۴۴،باب ماجاء في أشراط الساعة،أبواب الفتن عن رسول الله ﷺ)

۲) قال العلامة ابن نجيم :وفي المعراج :الملاهي نوعان محرم وهو الآلات المطربة من غير الغناء كالمزمارسواء كان من عود أوقصب كالشبابة أوغيره كالعود والطنبور لما روي أبو أمامة أنه عليه الصلوة والسلام قال : ان الله بعثني رحمة للعلمين وأمرني بمحق المعازف والمزامير.
(البحر الرائق ۷: ۸۸، كتاب الشهادة،باب من تقبل شهادته ومن لاتقبل)

وقال العلامة الحصكفي :أن الملاهي كلهاحرام ويدخل عليهم بلا إذنهم لإنكار المنكر،قال ابن مسعود :صوت اللهووالغناء ينبت النفاق.... (پاتې حاشيه په بل مخ)

د واده او خوشحالي په وخت د دریا او مزامیر غږولو حکم

سوال: څه فرمايي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې د ډول غږول، د سندرو غږول او د موسيقي نور آلات، كوم چې زياتره عياش خلک د ودونو او نورو خوشحاليو په موقع باندې استعمالوي او هغه روا ګڼي او د هغو د جواز لپاره وايي چې د چشتي كورنۍ صوفيان او د دين بزرګانو دا د سماع په وخت كې غږولي دي او كوم كس چې په همداسې موقع باندې ډول ونه غږوي بلكې له دې منعه وكړي نو په داسې كس باندې لعن طعن كيږي، په دې باره كې مدلل جواب وليكئ؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: حوالدار، وزيرستان ۱۹۷۶ع/۶/۵.

الجواب: واضحه دې وي چې د واده په وخت اګر كه د دف غږول روا دي، ليكن دا جواز هغه وخت دی كله چې د شرائطو رعايت وكړی شي. **كما في ردالمحتار ۵ ۳۰۷ قبيل فصل في اللبس** (۱) د موسيقي استعمال په هر حال ناروا دی، **قال الله تعالى: ومن الناس من يشتري لهو الحديث** (۲) **قال الحسن: الغناء والمزامير والمعازف على القرن، فليراجع الى**

(د حاشيې پاتې برخه) في القلب كماينبت الماء النبات، قلت: وفي البزازية استماع صوت الملاهي كضرب قصب ونحوه حرام.

(الدر المختار ۵: ۲۴۵، ۲۴۶ كتاب الحظر والإباحة)

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: عن الحسن لابأس بالدف في العرس ليشتهر، وفي السراجية: هذا إذا لم يكن له جلاجل ولم يضرب على هيئة التطرب.

(ردالمحتار ۵: ۲۴۷، كتاب الحظر والإباحة، قبيل فصل في اللبس)

۲) (سورة لقمان، آيت: ۶)

کمالين (۱) وغيره، وفى صحيح البخاري: ليكونن من أمتي اقوام يستحلون الخز والحرير والمعازف، مشكوة ۴۷۰ (۲) وفى الدرالمختار: وفى البزازية: استماع صوت الملاهى كضرب قصب ونحوه حرام لقوله عَلَيْهِ السَّلَامُ: استماع الملاهى معصية والجلوس عليها فسق والتلذذ بها كفر (بالنعمة)، هامش ردالمحتار ۵: ۳۰۶ (۳)

او د مشائخو څخه د ثبوت په وخت نقل کول به په علاج بالمحرم يا په غلبه حال باندې حمل کول ضروري دي (۴) وهوالموفق

په کور کې د موسيقى آلات ساتل او د ځينو صوفيانو په عمل سره د هغو د اوريدلو په جواز باندې استدلال کول

سوال: څه فرمايي علماء كرام دي مسئلې باره كې چې زما زوى يوه آله اخيستې په هغې كې چې يو بټن ووهي نو د ستار آواز ترې راځي، چې بله بټن ووهي نو د بانسرې آواز ترې راځي. ما هلک ته وويل چې په بوه كور كې قرآن پاک او ټنګ ټکور دواړه نشي چليدلى، يوه صاحب وويل چې صوفيانو په ځينو

---

۱) حاشيه جلالين ۲: ۳۹۲، سورة لقمان)

۲) مشكوة المصابيح ۴۵۶، باب البكاء والخوف)

۳) الدرالمختار ۵: ۲۴۶، كتاب الحظر والإباحة)

۴) في الفتاوى التاتارخانية: ومن أباحه من المشائخ الصوفية: فلمن تخلّى عن اللهو وتحلّى بالتقوى واحتاج إلى ذلك احتياج المريض إلى الدواء، وله شرائط، أحدهم: أن لا يكون فيهم أمرد، والثاني: أن لايكون جمعيتهم إلامن جنسهم، ليس فيهم فاسق ولاأهل الدنيا ولا امرأة، والثالثة: أن تكون نية القوّال الإخلاص لا أخذالأجر والطعام، والرابعة: أن لايجتمعوا لأجل طعام أوفتوح، والخامسة: أن لايقوموا إلامغلوبين، والسادسة: أن لايظهرون وجداً إلاصادقين.

(فتاوى تاتارخانية ۱۸: ۱۸۸، كتاب الكراهية، الفصل الثامن عشر في الغناء واللهو)

مواقعو کې موسیقي ته روا ویلي. ستاسو راهنمائي زما لپاره کافي کیږي، په داسې حالاتو کې کله چې زړه مې پریشانه وي، په ذهن باندې بوج وي، د موسیقي آواز آوریدل شرعًا روا دي او که نه؟ **بینوا توجروا.**

المستفتي: محمد شاه پشاور یونیورستي .. ۲۷ / جمادی الثاني ۱۴۰۴ هـ

الجواب: ته همدا آله د کوم غیر مسلم په وکالت سره خرڅه کړه [۱]، او قیمت یې په خپلو ضروریاتو کې مصرف کړه او یا دا اله غیر مسلم ته د هغو په غیر مقدسو ورځو کې بخشش کړه، [۲] باقي فقهاء کرامو په ،خلاصة الفتاوی او نورو کې لیکلي چې په کور کې د موسیقي د آلاتو ساتل ناروا دي. اګر که استعمالولی یې هم نشي [۳] او کومو صوفیانو چې سرود ته روا ویلي نو دا د ضرورت په وخت کې د شراب څښلو په شان دي کوم ته چې علاج بالمحرم ویل کیږي [۴] **والله اعلم**

---

۱) قال العلامة ابن نجیم رحمه الله تعالیٰ: (قوله ولو أمر ذمیا بشراء خمر أو بیعها صح) أی التوکیل وبیع الوکیل وشراؤه عند أبي حنیفة ،وقالا لایجوز علی المسلم وعلی هذا الخلاف الخنزیر ،وعلی هذا توکیل المحرم غیره ببیع صیده.

(البحر الرائق ۶: ۸۴،باب البیع الفاسد)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالیٰ: والإعطاء بإسم النیروز والمهرجان لایجوز، أی الهدایا باسم هذین الیومین حرام ،وإن قصد تعظیمه کمایعظمه المشر کون یکفر.

(الدر المختار ۶: ۵۳۲،مسائل شتّی ،قبیل کتاب الفرائض)

۳) وفي الخلاصة :ولوأمسک في بیته شیئًا من المعازف والملاهي کره ویأثم وإن کان لا یستعملها لأن إمساک هذه الأشیاء یکون للهوعادةً.

(خلاصة الفتاوی ۴: ۲۳۸، کتاب الکراهیة ،الفصل الثاني في العبادات)

۴) في الخیریة :وإن کان سماع غناء فهوحرام لأن.... (پاتې حاشیه په بل مخ)

د نيکو خلکو په مزارونو باندې د عرس او قوالۍ محفلونه جوړولو حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې ځينې خلک چې د چشتيه سلسلې پيروان دي، د نيکو خلکو په مزارونو باندې د کلني عرس اهتمام کوي، په دې موقع خلک ډول او باجې غږوي او ګډيږي، هلته خلک قوالي (سندرې) وايي، د هغو د ليدلو لپاره ښځې هم راځي. دا خلک چرس په ښکاره څښي او هغې ته د ملنګانو نشه وايي او هغه روا ګڼي، همدارنګه دا خلک د لمانځه او روژې په باره کې خاص اهتمام نه کوي، د دوی متعلق څه حکم دی؟ بينوا توجروا.

المستفتي: حاجی مسلم خان، تنګي، چارسده..... ۱۴۰۴ هه

الجواب: دا عرس، قوالي (سندرې) او سرود ټول حرام دي (۱) په هغو کې شرکت

(د حاشيې باتې برخه) التغني واستماع الغناء حرام أجمع العلماء وبالغوا فيه،ومن أباحه من المشائخ الصوفية فلمن تخلّى عن الهوى وتحلّى بالتقوى واحتاج إلى ذلك احتياج المريض إلى الدواء،وله شرائط،أحدها:أن لايكون فيهم أمرد،والثاني:أن لايكون جميعهم إلامن جنسهم، ليس فيهم فاسق ولا اهل الدنيا ولاامرأة،والثالث:أن تكون نيه القوّال الإخلاص لا أخذالأجر والطعام،والرابع:أن لايجتمعوا لأجل طعام أوفتوح،والخامس:أن لايقومون إلامغلوبين، والسادس:أن لايظهرون وجداً إلا صادقين..... والحاصل أنه لارخصة في باب السماع في زماننالأن جنيداً رحمه الله تعالى تاب عن السماع في زمانه.

(فتاوى خيرية على هامش تنقيح الحامدية ۲:۲۷۸،كتاب الكراهية والاستحسان)

۱) وفي التاتارخانية:وفي اليتيمة:سئل الحلواني عمن سمّوا أنفسهم بالصوفية، فاختصوا بنوع لبسة،واشتغلوا باللهو والرقص وادعوا لأنفسهم..(پاتې حاشيه په بل مخ)

او هغو ته کتل ټول شرعي ممنوعات دي (۱) وهوالموفق

د اشعارو ويلو او نعت خوانۍ حکم

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې د سندرو او باجو ترنم په انداز باندې چې کومه شاعري او نعت خواني ده. په دې باره کې موخبر کړئ؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: نامعلوم متعلم حقانيه ... ۸ جمادى الثانى ۱۴۰۴ هـ

الجواب: که چېرته مضمون درست وي او نعت خوان مشتهي نه وي او لمونځ کوونکو ته تکليف نه وي: نو روا دي که نه ناجائز دي (۲) وهوالموفق

(د حاشيې پاتې برخه) منزلة؟ فقال: افتروا على الله كذباً....ويكره اللعب والغناء وعمل الشعوذة والنظر إلى ذلك....وإن كان سماع غناء فهوحرام، لأن التغني واستماع التغني حرام أجمع عليه العلماء وبالغوافيه.

(الفتاوى التاتارخانية١٨: ١٨٧، ١٨٨، كتاب الاستحسان والكراهية، الفصل الثامن عشر في الغناء واللهو)

١) قال الله تبارك وتعالى: وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ. (سورة الإنعام، آيت: ٦٨)

وقال العلامة القرطبي رحمه الله تعالى: فكل من جلس معصية ولم ينكر عليهم يكون معهم في الوزر سواء، وينبغي أن ينكرعليهم إذا تكلموا بالمعصية وعملوا بها فإن لم يقدر على النكير عليهم فينبغي أن يقوم عنهم حتى لايكون من أهل هذه الآية.

(تفسير القرطبي ٥: ٣٩٧ آيت: ١٤٠)

٢) في الهندية: ولو كان في الشعر حكم أوعبر أو فقه لايكره كذا في التبيين، وإنشاد ما هو مباح من الأشعار لابأس به، وإذاكان في الشعر صفة..... (پاتې حاشيه په بل مخ)

له ناروا او خلاف شرع محفلونو څخه د ځان ساتلو عهد کول عبادت دی

سوال: څه فرمايي علماء كرام دې مسئلې باره کې چې د لمانځه په وخت د ول

(د حاشيې پاتې برخه) المرأة إن كانت امرأة بعينها وهي حية يكره وإن كانت ميتة لايكره. (فتاوى هندية ٥:٣٥١، كتاب الكراهية، الباب السابع عشر في الغناء واللهو)

وقال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: وفي فتح القدير: التغني المحرم هوماكان في اللفظ مالايحل كصفة الذكر والمرأة المعينة الحية.... سئل محمدبن شجاع عن الذي يترنم مع نفسه؟ قال: لايقدح في شهادته.... ونقل البزازي في المناقب الإجماع على حرمة الغناء إذا كان على آلة كالعود.

(البحرالرائق ٧:٨٨، كتاب الشهادة: باب من تقبل شهادته ومن لاتقبل)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله اوشعرالخ).... من آفات اللسان الشعر، سئل عنه ﷺ؟ فقال: كلام حسنه حسن وقبيحه قبيح.... ويحرم هجو مسلم ولو بما فيه .... فما كان منه في الوعظ والحكم وذكر نعم الله تعالى وصفة المتقين فهوحسن، وماكان من ذكر الأطفال والأزمان والأمم فمباح، وماكان من هجو وسخف فحرام، وماكان من وصف الخدود والقدو والشعور فمكروه.... وقدأخرج الإمام الطحاوي في شرح مجمع الآثار أنه ﷺ نهى أن تنشد الأشعار في المسجد.... ثم وفق بينه وبين ماورد أنه ﷺ وضع لحسان منبراً ينشد عليه الشعر بحمل الأول على ماكانت قريش تهجوه به ونحوه مما فيه ضرر.

(ردالمحتار ١:٤٨٨ مطلب مكروهات الصلوة، مطلب في إنشاد الشعر)

وقال العلامة أشرف علي التهانوي رحمه الله تعالى: د كوم نعت مضمون چې د شرع خلاف نه وي په جومات او غيرجومات دواړو کې يې ويل جائز دي او د كوم نعت مضمون چې د شرع خلاف وي هغه په دواړو ځايونو کې ناجائز دی، دغسې كه څه مانع امر د خارج نه وي بيا هم ناجائز دی، لكه نظم د موسيقى په قواعدو سره ويل يا د نعت خوان مشتهي كيدل.

(امدادالفتاوى ٦:١٩٧، كتاب العقائد والكلام، عنوان اشعار نعتيه درمسجد خواندن)

وهل کیدلو، مولوي صاحب خلکو ته اعلان وکړ چې په داسې محفلونو کې له ګډون کولو څخه د ځان ساتلو عهد کول پکار دی ترڅو لمونځ کوونکو ته تکلیف نه وي، لهذا ځینو خلکو عهد وکړ، یوه کس ووېل چې له ګډا او سندرو څخه د ځان ساتلو عهد کول سنګین جرم دی، آیا مولوي صاحب مجرم دی که معترض؟ بینوا توجروا

المستفتي نامعلوم.......

الجواب: له داسې ناروا او خلاف شرع محفلونو څخه د ځان ساتلو عهد کول عبادت دی (۱) ځکه چې دا له معصیت څخه د ځان ساتل دي. لهذا مولوي صاحب مجرم نه دی. بلکې معترض کوم ناخبره معلومېږي. **وهوالموفق**

په واده کې سهره تړل او ډول غږول

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې زمونږ په سیمه (علاقه) کې یو واده و، په کوم کې چې زوم (د واده زلمي) سهره تړلې وه، د کومې له وجې چې د هغه مخ هم معلومیده، او له هغه سره ډول او باجې هم وې، آیا په محمدي ﷺ شریعت کې داسې نکاح صحیح ده؟ **بینوا توجروا**

المستفتي محمد یعقوب خان ایوبیه خانپور ... ۱۳/ستمبر ۱۹۶۹ء

---

۱) قال الله تبارک وتعالی: وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتّٰى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهٖٓ ۖ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ.
(سورة النساء، آیت: ۱۴۰، پاره: ۵)

وقال العلامة القرطبی رحمه الله تعالی: فکل من جلس في مجلس معصية ولم ينكر عليهم يكون معهم في الوزر سواء، وينبغی أن ينكر عليهم إذا تكلموا بالمعصية وعملوا بها فان لم يقدر على النكير عليهم فينبغی أن يقوم عنهم حتّى لايكون من اهل هذه الآية.
(التفسير القرطبی ۵: ۳۹۷، آیت: ۱۴۰)

الجواب: سهره تړل فضول خرچي او اسراف دی، (۱) د هر مسلمان لپاره ضروري ده چې له دې څخه منعه شي (۲) او د ډول او وغيره غړول د ځينو علماوو په نزد روادي، ليکن د لهولعب په ډول بې کول قابل د منعې دي (۳) **وهوالموفق.**

د واده والا د خپلو عزيزانو او دوستانو لپاره د جامو جوړولو په عوض کې د بزې يا غوايي اخيستل

سوال: څه فرمايي علماء کرام ددې مسئلې په باره کې چې زمونږ په سيمو کې د ودونو په موقع باندې د واده والاهلک چې څومره نږدې رشته دار، دوستان او خواص وي هغوی له واده يوه ورځ مخکې د واده کوونکي هلک د هغو لپاره يوه يوه جوړه جامې جوړې کړي او خبر ورکړي چې ما ستاسو لپاره جامې جوړې کړې دي، په جامو باندې نن سبا ټولې درې سوه روپۍ مصرفيږي، نو بورته ذکر شوي کسان د همدې جامو په عوض کې يوه بزه يا غوايي يا وغيره شيان راوړي او د جامو نه جوړولو په صورت کې په خپل مينځ کې سره ناراضه کيږي او د همدې ناراضګۍ له وجې په دويم ځل له رشته دارانو سره همداسې چلند نه کيږي، آيا دا مال راوړل او د هغه په عوض کې يوه جوړه جامې جوړول د شريعت

---

۱) قال الله تبارک وتعالی :إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ.
(سورة بني إسرائيل،آيت :۲۷)

۲) قال المفتي کفايت الله رحمه الله تعالیٰ :
(کفايت المفتي ۹ :۸۸کتاب الحظر والاباحة،تيسرا باب،رسوم مروجه)

۳) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالیٰ :أن آلة اللهو ليست محرمة لعينهابل لقصد اللهو منها......وعن الحسن :لابأس بالدف في العرس ليشتهر ،وفي السراجية : هذا إذالم يكن له جلاجل ولم يضرب علی هيئة التطرب.
(ردالمحتار ۵ :۲۴۷،کتاب الحظر والاباحة ،قبيل فصل في اللبس)

له مخې څنګه دي؟ حرام دي که حلال؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: مولوي غلام الله چلاسي، ضلع كوهستان ...

۷/ ذی الحجه ۱۴۰۴ھ

الجواب: دا لین دین بذات خود نه ممنوع دی او نه مطلوب دی، لیکن د التزام او اهتمام له وجې بدعت او مکروه دی (۱) والله اعلم

د واده په وخت د چکچکو (تالیو) سره د اتڼ کولو حکم

سوال: څه فرمایي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې (۱) زمونږ په سیمه کې د واده په موقع د اتڼ او سندرو لوبه کیږي، زمونږ په سیمه کوبتیه کې په دې باندې اختلاف دی، براه کرم د هغه حکم ذکر کړی؟

(۲) د واده په موقع خلک له ماسخوتن وروسته په حجره کې سره راټول شي، د تیم سره سندرې وایي، سره له دې چې په دواړو صورتونو کې لمونځ اداء کیږي، براه کرم مونږ مستفید کړئ؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: مولوي عثمان کوبتيه..... ۲۶ صفر ۱۴۰۲ هه

الجواب: دا دواړه شغلونه د لهو لعب کېدو له وجې ناروا او مکروه دي. **لمافي ردالمحتار ۸: ۳۴۷ - ۳۴۸ : قوله كره كل لهو أي كل عبث ولعب فالثلاثة بمعنى الواحد كما في شرح التأويلات، والاطلاق شامل لنفس الفعل واستماعه كالرقص والسخرية**

---

۱) وفي المرقدة: قال النووي البدعة كل شيئ عمل على غير مثال سبق وفي الشرع احداث مالم يكن في عهد رسول الله ﷺ.

(مرقاة المفاتيح ۱: ۱۱۶، باب الاعتصام بالكتاب والسنة، الفصل الأول)

وقال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: ولأن ذكر الله إذا قصد به التخصيص بوقت دون وقت أو بشيئ دون شيئ لم يكن مشروعاً حيث لم يرد الشرع به لأنه خلاف المشروع. (البحر الرائق ۲: ۱۵۹ باب العيدين)

والتصفيق وضرب الأوتار من الطنبور والبربط والرباب والقانون والمزمار والصنج والبوق فإنها كلها مكروهة، لأنها زي الكفار(۱) وهوالموفق.

د (اوربل) رسم حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د (اوربل) رسم څه حکم دی؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: شهزاد ګل، رشکی، نوشهره. ۲۸ / ذی الحجه ۱۴۰۴ هه

الجواب: (اوربل) رسم دی، بدعت نه دی(۲) **وهوالموفق.**

په واده کې د ډول غږول د اعلان او تشهير لپاره روا دی او د سيل جوړولو لپاره ناروا دی

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د واده په موقع د ډول غږول شرعاً څه حکم لري؟ ځينې خلک ورته مباح او ځينې خلک

---

۱) (رد المحتار ۵: ۲۷۹، کتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

وقال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: (وكل لهو) يعني لايجوز ذلك لقوله عليه الصلوة والسلام: كل لعب ابن آدم حرام إلا ثلاثًا.... ويكره استماع صوت اللهو والضرب به والواجب على الإنسان أن يجتهد ما أمكن حتى لا يسمع.
(البحر الرائق ۸: ۲۰۷، كتاب الكراهية، فصل في البيع)

۲) وفي البحر: أما المبتدع فهو صاحب البدعة وهي كما في المغرب اسم من ابتدع الأمر إذا ابتدأه وأحدثه كالرفقة من الارتفاق والخلفة من الاختلاف ثم غلبت على ما هو زيادة في الدين أو نقصان منه اه، وعرفها الشمنى بأنها ما أحدث على خلاف الحق المتلقى عن رسول الله ﷺ من علم أو عمل أو حال بنوع شبهة واستحسان وجعل دينا قويمًا وصراطًا مستقيمًا. (البحر الرائق ۱: ۳۴۹، كتاب الصلوة، باب الإمامة)

ورته ناروا وايي، دې باره کې شرعي حکم څه دی؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: سيد محمد صيار خان صابری، ايبټ آباد ۱۱/۹/۱۹۹۰ ع

الجواب: په نکاح او واده کې ډول وغیره غږول روا دي (۱) کله چې د اعلان او تشهير په اراده وي، نه د تماشې جوړولو په اراده. (۲) **وهوالموفق**

په موجوده وخت کې د دف غږول ناروا دي

سوال: څه فرمايي علماء کرام دې مسئلې باره کې چې دلته په عوامو کې دوه ډلې جوړې شوي دي، د یوې ډلې وينا ده چې په ودونو کې خلاف شرع امور ډول، ګډا، باجې، له سنګار سره په پرقيدونکي لباس کې ښځې او سر عام سندرې د شريعت مطهره خلاف دي، ددې څخه پرهيز ضروري دی، دويمه ډله وايي چې چيرته ليکل شوي دي چې دا منعه دي. لهذا دواړه په مقابله کې راغلي او جوماتونو ته نږدې په زوره زوره ډولونه غږوي ترڅو کوم خلک چې خپل خان په حقه بولي د مقابلې لپاره راووځي وغيره وغيره

(۱) په دې دواړو ډلو کې کومه يوه په حقه ده؟

---

۱) عن عائشة رضي الله تعالى عنهاقالت قال رسول الله ﷺ :أعلنوا هذاالنكاح، واجعلوه في المساجد ،واضربوا عليه بالدفوف.

(جامع الترمذي ۱: ۳۳۴،باب ماجاء في إعلان النكاح)

۲) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :أن آلة اللهو ليست محرمة لعينها بل لقصد اللهو منها.....وعن الحسن لابأس بالدف في العرس ليشتهر ،وفي السراجية :هذا إذالم يكن له جل جلا ولم يضرب على هيئة التطرب.

(رد المحتار ۵: ۲۴۷، كتاب الحظر والإباحة،قبيل فصل في اللبس)

(۲) د ګډا او سندرو په شریعت کې جواز شته او که نشته؟

(۳) مونږ له کومې ډلې سره ملګري شو؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي: غلام مصطفى، ايبټ آباد...... ۷۸ع/۸/۲۳.

الجواب: په موجوده وخت کې د دف (دريا) وغيره غږول ناروا دي، هغه د اعلان په اراده سره نه غږول کيږي، بلکې د فخر، سمعت او د لهو په اراده غږول کيږي (۱) لهذا د هغو غږونکي فاسقان او فاجران دي (۲) په داسې ودونو کې برخه اخيستل ناروا دي (۳) **كما في شرح التنوير: وكره كل**

---

۱) قال العلامة سراج الدين رحمه الله تعالى: لابأس بأن يكون ليلة العرس دف يضرب لإعلان النكاح إذا لم يكن له جلاجل ولايضرب على هيئة التطريب ويكره اللعب والغناء. (فتاوى سراجية ۳۳۰، كتاب الكراهية والاستحسان، باب الوليمة)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: أقول هذا يفيد أن آلة اللهو ليست محرمة لعينها بل لقصد اللهو منها.

(ردالمحتار ۵: ۲۴۷، كتاب الحظر والإباحة، قبيل فصل في اللبس)

۲) عن ابن عباس رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: ان الله حرّم على أوحرّم الخمر والميسر والكوبة.... قال سفيان فسألت عليّ رضي الله عنه عن الكوبة؟ قال: الطبل. (سنن أبي داؤد ۲: ۵۲۰، كتاب الأشربة، باب في الأوعية)

۳) قال العلامة أبوبكر الجصاص رحمه الله تعالى: قال الله تعالى: وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ..... لأن النهي عام من مجالسة الظالمين لأن في مجالستهم مختارا مع ترك النكير دلالة على الرضا بفعلهم ونظيره قوله تعالى: لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن بَنِي إِسْرَائِيلَ.

(احكام القرآن للجصاص رحمه الله تعالى ۳: ۲، ۳، سورة الأنعام، باب النهى عن مجالسة الظالمين)

لهولقوله عليه السلام: لهو المسلم حرام الاثلثة: وفي رد المحتار ۵: ۲۶۱، قوله وكره كل لهو أي كل لعب وعبث والاطلاق شامل لنفس العمل واستماعه كالرقص والسخرية وضرب الأوتار من الطنبور والبربط والقانون والمزمار والصنج والبوق فانها كلها مكروهة لأنها زي الكفار، واستماع الدف والمزمار وغير ذلك حرام، وان سمع بغتة يكون معذوراً ويجب أن يجتهد أن لا يسمع (قهستاني) [۱] وهوالموفق.

په واده کښې د دريا غړولو شرطونه او د هغو د نه موجوديت په صورتونو کښې د نهي عن المنكر د مخالفت حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کښې چې د په واده کښې سندرې او باجې، د مزاميرو استعمال، د لهو لعب آلات او نور غير شرعي امور ترسره کيږي، آيا دا روا دي؟ که چيرته روا نه وي؛ نو د کومو دلائلو په زور سره؟

(۲) د يو ځای معززو او د دين علماوو ذکر شوي رسمونه منع کړي، ليکن يو شمير دنيا پرستو خلکو دا رسمونه د وقار مسئله جوړه کړه، دا خلک د ديندارو مسلمانانو سره مخالف شول. هغوی يې د لعن طعن نشانه جوړ کړل او ترديې چې ويل به يې په کوم واده کښې چې ذکر شوي رسمونه نه وي هغه خو واده نه دی، مړک دی، د همدې خلکو د شريعت له مخې څه حکم دی؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: محمد قاسم، راولپنډی

الجواب: واضحه دې وي چې په واده کښې دف (دريا) وغيره غړول رخصت دی لحديث الترمذی:

---

۱) رد المحتار مع الدر المختار ۵: ۲۷۹، کتاب الحظر والإباحة

واضربوا عليه بالدف (۱) ليکن په دې کې يو شمير شرطونه دي د کومو رعايت چې ضروري دی:

(۱) اعلان به مقصود وي، لهو لعب به مقصود نه وي (۲)

(ب) له جلاجل (ګونګرې يا ژغژغې) څخه به خالي وي (۳)

(ج) د بالغانو د آواز پورته کول به نه وي (۴)

چونکه په موجوده وخت کې د همدې شرطونو رعايت مفقود (ورک) دی، لهذا مونږ د فتوی د جواز له ورکولو معذور يو او حديث **(الغناء ينبت النفاق في القلب كما ينبت الماء الزرع (رواه البيهقي)** (۵) **وحديث أمرني ربي بمحق المعازف والمزامير (رواه أحمد)** (۶) **وحديث نهى عن**

---

۱) في جامع الترمذي :عن عائشة قالت قال رسول الله ﷺ :اعلنوا هذا النكاح واجعلوه في المساجد واضربوا عليه بالدفوف. (جامع الترمذي ۱: ۳۳۴، باب ماجاء في إعلان النكاح)

۲) قال العلامة محمد طاهر الفتني الكجراتي :الدف هو بالضم والفتح معروف أى الذي يطبل به والمراد في الحديث يضرب الدف على النكاح إعلان النكاح.
(مجمع بحار الأنوار ۲: ۲۸۸، باب الدال مع الفاء)

۳) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :أقول وهذا يفيد أن آلة اللهو ليست محرمة لعينها بل لقصد اللهو منها......وفي السراجية :هذا إذا لم يكن له جلاجل ولم يضرب على هيئة التطرب (ردالمحتار ۵: ۲۴۷، كتاب الحظر والإباحة، قبيل فصل في اللبس)

۴) وفي المنهاج :قوله الدف، وهو جائز اذا لم يكن معه جلاجل كما صرح به ابن الهمام وكذا إذا قصد به الإعلان لا الاجتماع.....وبشرط كون المغنيات غير بالغات لأن رفع الصوت من البالغات مكروه.
(منهاج السنن ۵: ۲۴۸، باب ماجاء في إعلان النكاح، أبواب النكاح)

۵) (سنن كبرى البهيقي ۱۰: ۳۷۷، باب الرجل يغنّى يتخذ الغناء صناعة)

۶) مشكوة المصابيح ۳۱۸، كتاب الإمارة، باب الخمر و وعيد شاربها)

الکوبة (رواه ابو داؤد) (۱) باندې عمل وکړي او کوم خلک چې د ناهین عن المنکر مخالفت کوي؛ نو په دوی باندې د اصحاب السبت په شان د مواخذې خطره ده، (۲) داخلک فساق اوفجاردي اوداستحلال په صورت کې کفاردي (۳) وهو الموفق

د ډول، دف باجې وغیره په جواز او عدم جواز کې د فقهاوو د عبارتونو په مابین کې تطبیق

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله په واده او اختر کې د ډول او مزامير په باره کې مستقله رساله ليکلې ده، په کومه کې يې چې د جواز او عدم جواز صورتونه بيان کړي دي، کوم احاديث چې قاضي صاحب نقل کړي دي د نمونې په ډول يو دوه يې ليکل کيږي:

---

۱) عن ابن عباس رضي الله تعالٰى عنه قال قال رسول الله ﷺ: ان الله حرم عليّ أو حرّم الخمر والميسر والكوبة.... قال سفيان فسألت على رضي الله عنه عن الكوبة؟ قال: الطبل. (سنن أبي داؤد ۲: ۵۲۰، كتاب الأشربة، باب في الأوعية)

۲) في تفسير القرطبي: فَجَعَلْنَاهَا نَكَالًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ. لأمة محمد ﷺ أن ينتهكوا من حرم الله عزوجل مانهاهم عنه، فيصيبهم ماأصاب أصحاب السبت إذا انتهكوا حرم الله في سبتهم.
(تفسير القرطبي ۱: ۴۸۲، سورة البقرة آيت: ۶۶)

۳) وفي شرح الفقه الاكبر: (ولانكفر مسلماً بذنب من الذنوب وان كانت كبيرة إذا لم يستحلها لأن من استحل معصية قد ثبتت حرمتها بدليل قطعي فهو كافر.
(شرح الفقه الاكبر: ۷۱)

وفي شرح العقائد: ويجوز العقاب على الصغيرة والعفو عن الكبيرة اذالم تكن عن استحلال، والاستحلال كفر. (شرح العقائد: ۸۷)

(۱) عن أبي مالك الأشعري رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ليكونن من أمتي يستحلون الخمر والحرير والمعازف، هغه موئرته د حديث درس کې دوه توجيهات وړاندې کړې وو

(۱) څوک يې چې د استحلال قائل دي هغه خو کافر دي چې حلال ته حرام او حرام ته حلال وايي

(۲) ددې ارتکاب خو کوي ليکن عقيده يې د هغه د حلال والي نه وي نو هغه فاسق دی.

دويم حديث : ان الله أمرني أن امحوا المزامير والكنازات يعني البرابط والمعازف.

دريم حديث : ان الله حرم على الخمر والكوبة والقيأن.

قاضي صاحب ويلي : چې اول الذكر حديث د بخاري شريف حديث ته ابن حزم ضعيف ويلي دي او موخر الذكر احاديثو ته عبدالرحيم عراقي ضعيف ويلي، بهر حال په رساله کې ذکر شوي احاديث خو د حرمت په استدلال کې وړاندې شوي دي، باقي د حل لپاره چې کوم دويم شق دی که چيرته له تاسو حضرت سره وخت وي نو تفصيلي او تسلي ورکوونکی ځواب راکړئ؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي : محمد اسلم حقاني، پشين کوئټه..... ۶۹ ع/ ۱۲/ ۳۰

الجواب: د احنافو په نزد په واده او وغيره کې د دف (دريا) غږول د مشهور حديث په بناء روا دي (۱) کله چې شرطونه موجود وي، يعني کله چې په پښو کې ګونګرې نه وي، کذا او تطريب نه وي. او د ډير کم وخت لپاره وي،

في رد المحتار والسراجية وشرح النقاية وشرح أبي المكارم هذا اذا لم يكن له جلاجل ولم يضرب على هيئة التطريب، وفي اللمعات: دل الحديث على اباحة مقدار اليسير، وفي مجمع البحار: أقر على قدر اليسير في

---

۱) عن عائشه رضي الله تعالى عنها: قالت قال رسول الله ﷺ: أعلنوا هذا النكاح واجعلوه في المساجد واضربوا عليه بالدفوف.
(جامع الترمذي ۱: ۳۳۴، باب ماجاء في إعلان النكاح)

العرس والعيد. او قاضي ثناء الله صاحب ويلي دي چې په دې ځايونو کې د دف خصوصيت نشته، بلکې په نورو باجو سره هم اعلان کېدلی شي. قال في رسالة السماع. چون ضرب دف براي اعلان نکاح حلال يا مستحب باشد. دهول وطنبور ونقاره را از دف چه تفاوت است براي لهو همه حرام است وبراي غرض صحيح همه حلال باشد. اعلان از هر يک مى شود فرق کردن در دفه وغيره آن امريست غير معقول، انتهى" بحواله بوادر النوادر [1] او د يوشمير علماوو د تحقيق په بناء، واده او نورو خوشحاليو کې هم د دف وغيره غږول ناروا دي. استدلال يې کړی دی په ځينو عباراتو باندې مثلا په شرح العقايد کې دي: أما الاستماع فكاستماع ضرب الدف والمزمار والغناء وغير ذلك حرام، وفي أبي المكارم كره (تحريمًا) لهو كضرب الدف والمزمار، وفي ما لابد منه مؤلفه قاضي ثناء الله پاني پتي. ملاهي ومزامير ودهل ونقاره ودف وغيره باتفاق حرام اند [2] ليکن راجح دا معلومه شوې چې دا عبارات له واده او وغيره پرته په نورو باندې محمول کړی شي ترڅو تطبيق راشي او د غير مذهب (امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ) څخه د نقل احتمال له منځه ولاړ شي [3]. وهو الموفق

له تبليغ او دنيوي ضروري کارونو پرته د سندرو او باجو په محفل کې کښون کول ناروا دي

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې که چيرته په کومه خوشحالۍ کې برابره ده که هغه د واده وي. که د ختنې وي يا د عرس

---

۱) بوادر النوادر، ۱: ۳۲۷، اته څلويښتم حکمت: تحقيق ضرب دف درشادی)

۲) (بوادرالنوادر، ۳۲۳، تحقيق ضرب دف شادی)

۳) قال حكيم الأمت رحمه الله تعالى: قال العلامة ابن حجر المكي: القسم الرابع في الدف المعتمد من مذهبنا أنه حلال لاكراهة في عرس وختان وتركه أفضل، وهذا حكمه في غيرها فيكون مباحًا أيضًا على الأصح، وفي المنهاج... (باتې حاشيه په بل مخ)

وي يا كوم بل اجلاس وي او د پورته ذكر شويو خوشحاليو په رقص او سرود سره د ښايسته كولو لپاره ډمانو، ربابونو، رنډيو او سندرو ويونكو او وغيره هم راغوښتي وي، ترڅو محفل په عيش او نشاط سره ښايسته شي، اوس مسئله دا ده چې (۱) آيا يو مسلمان په داسې محفل كې ګډون كولى شي؟

(۲) په داسې محفل كې چې كومه ډوډۍ تياره شوې وي هغه حلاله ده كه حرامه؟

(۳) د همداسې محفلونو په باره كې د الله او د هغه د رسول ﷺ حكم څه دى؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي : عبدالعزيز، ضلع هزاره... ۱۹۷۱ ع / ۱ / ۳۱.

الجواب: په داسې محفل كې ګډون كول ناروا دي، **يدل عليه قوله تعالى : وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ (أنعام)** (۱).

(۲) د همداسې ډوډۍ اجابت منعه دى، **لحديث نهى عن اجابة طعام الفاسقين (مشكوة)** (۲).

(۳) د تبليغ لپاره تلل صحي بلكې ضروري دي (۳) او د بل ضروري دنيوي امر

(د حاشيې پاتې برخه) وغيره مال من أصحابنا أنه في غيرهما حرام، او حضرت عارف بالله شيخ المشائخ شهاب الدين سهروردي شافعي عليه الرحمة عوارف المعارف كې ليكي : فاما الدف والشابة وإن كان فيهما في مذهب الشافعي فسحة والأولى تركها والأخذ بالأحوط والخروج من الخلاف.

(بوادر النوادر، ٣٢٣، تحقيق ضرب دف شادى)

۱) سورم الأنعام، آيت : ٦٨)

۲) (مشكوة المصابيح : ٢٧٩، كتاب النكاح، باب الوليمة)

وفي الهندية : ولا يجيب دعوة الفاسق الملعن ليعلم أنه غير راض بفسقه.

فتاوى هندية ٥:٣٤٣، كتاب الكراهية، الباب الثاني عشر في الهدايا)

۳) قال العلامة الحصكفي : دعى إلى وليمة وثمه........ (پاتې حاشيه په بل مخ)

لپاره تلل مباح دي **وهوالموفق.**

د ډولی معمول او د هغې صحيح طريقه

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په ودونو کې ډولی څه ډول راوړل کيدی شي؟ او صحيح طريقه يې بيان کړئ؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: جناب محمد طيب، مدرسه تعليم القرآن،

ضلع وتحصيل بتگرام... ۷۰ع/۶/۲۳.

الجواب: په متفق عليه حديث کې د **(زرالحجلة)** لفظ راغلی دی (۱) د هغه څخه د ډولی معمول کيدل ثابت شوي دي. باقي داسې امور په کومو کې چې د دين اعتقاد ونکړی شي او نه له دين سره په ټکر کې وي نو روا دي **وهوالموفق**

(د حاشيې پاتې برخه) لعب أوغناء....فإن قدرعلى المنع فعل وإلايقدرصبر .... وإن علم أولا باللعب لايحضر أصلًا....وفي السراج ودلت المسئلة أن الملاهي كلها حرام ويدخل عليهم بلا إذنهم لإنكارالمنكر.(الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى:(قوله فعل) أى فعل المنع وجوبا إزالة للمنكر (قوله صبر) أى مع الإنكار بقلبه قال عليه الصلوة والسلام:من رأى منكم منكراً فليغيره بيده،فإن لم يستطع فبلسانه،فإن لم يستطع فبقلبه،وذلک أضعف الإيمان ....(قوله لايحضر أصلاً) إلا إذاعلم أنهم يتركون ذلک احتراماًله فعليه أن يذهب. (رد المحتار ۵:۲۴۵، باب الحظر والإباحة)

۱) عن السائب بن يزيد يقول ذهبت بى خالتى إلى رسول الله ﷺ:فقالت يارسول الله! إن ابن اختى وجع فمسح رسول الله ﷺ رأسي ودعا لي بالبركة....وقمت خلف ظهره فنظرت إلى الخاتم الذي بين كتفيه فإذا هومثل زرّالحجلة.

(شمائل ترمذي ۲:۷۲۲،باب ماجاء في خاتم النبوة)

د ډول او سندرو باجو والا سره د پريکون (بائيکاټ) حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زموږ د کلي ټول خلک د حنفي فقهې مقلد دي، په کلي کې له اوږدې مودې راهيسې په ودونو کې ډولونه وغيره غږول کيږي او زومان سهرې هم استعمالوي، په دې باندې د کلي خلک دوه برخې شوې دي، د يوې ډلې نظر دا دی چې له دوی سره دې مکمل پريکون (بائيکاټ) وکړی شي. د دويمې ډلې نظر دا دی چې ډول او سهره روا دي، ليکن په دا رنګه د تعلق په قطع کولو سره خلک پوهيدلی نشي بلکې د هغو په غم او خوشحالی کې ګډون کوي او هغوی پوهول کيږي، ځکه چې د سختې روبې (چلند) په ساتلو سره په همدې کارونو کې شدت راغلی دی او خلکو پخوا هم دا هر څه خپل کړي دي، د قرآن او سنت په رڼا کې حکم وښيئ؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي: اهليان پير ګران. تحصيل مری. ضله پنډي ۹۰ع/۹/۱۶

الجواب: چونکه عوامو سرود کړی او کوي يې. کله په کورونو کې دننه او کله له کورونو د باندې. لهذا دوی ته له دې ګناه څخه د ځان ساتل ضروري دي (۱)، برابره ده که په پريکون سره (۲) او که په وعظ او نصيحت سره وي، په موجوده

---

۱) عن أبي سعيد الخدري رضي الله تعالى عنه عن رسول الله ﷺ.من رأى منكم منكراً فليغيره بيده،فإن لم يستطع فبلسانه،فإن لم يستطع فبقلبه وذلك أضعف الإيمان.

(صحيح مسلم ۱:۵۰،كتاب الإيمان،باب بيان كون النهي عن المنكر من الإيمان.

۲) في المرقاة:قال الخطابي:رخص المسلم أن يغضب على أخيه ثلاث ليال لقلته ولا يجوز فوقها إلا إذاكان الهجران في حق من حقوق الله تعالى فيجوز فوق ذلك.....فإن هجرة أهل الاهواء والبدع واجبة على مر الأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق.

مرقاة المفاتيح ۹:۲۶۲،كتاب الآداب،باب ماينهى عنه من التهاجر والتقاطع الخ)

وخت کې اول الذکر کامیاب اقدام دی او آخرالذکر هم په تبلیغي جماعت کې د وخت لګولو په صورت کې کامیاب شوي دي **وهوالموفق**

د رقص او سرود روا ګڼل او په ناخبرۍ کې د رقص حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې یو کس د یوه واده په خوشحالي کې مصنوعي ږیره واچول، د ډول او باجې سره ګډېده، یوشمیر خلکو هغه له دې کار څخه منعه کولو چې دا د نبوي صلی الله علیه وسلم سنتو توهین دی، وروسته همدغه کس له دې کار څخه منعه شو او وې ویل چې ماته هیڅکله ددې علم نشته، پوښتنه دا ده چې د همدغه کس او د لیدونکو حکم څه دی؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي: محمد اسلم تونسه ډي آئی خان

الجواب: رقص او سرود ناروا شیان دي، دیته روا ویل ډیر خطرناک دي، البته ناخبره کس په داسې رقص سره نه کافر کیږي، ځکه چې د سنتو د توهین اراده نه لري، **فليراجع الى الهندية** ۵: ۳۵۲ (۱) **والله أعلم بالصواب.**

د رواجي قوالي (سندرو) حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د رواجي قوالي شرعا څه حکم لري؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي: عبدالقدوس، ساهي وال... ۴/ جمادی الاول ۱۳۹۵ هـ

---

۱) في الهندية: السماع والقول والرقص الذي يفعله المتصوفة في زماننا حرام لايجوز القصد إليه والجلوس عليه وهو والغناء والمزامير سواء وجوزه أهل التصوف واحتجوا بفعل المشائخ من قبلهم قال وعندي أن مايفعلونه غير مايفعله هؤلاء.
(فتاوى هندية ۵:۳۵۲، كتاب الكراهية، الباب السابع عشر في الغناء الخ)

الجواب: مروجه (سندرې) قوالي حرامه ده (۱) دا د هندوانو او نصارى وو شعار دى، په دې سره زړه مړ كيږي، تر اخيره پورې د لمانځه او تلاوت خوند (لذت) ختموي (۲) **وهوالموفق**

له سرود سره او بغير له سروده د سندرو ويل

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې په موجوده وخت كې د ټيپ ريكارډ په واسطه د سندرو په نوم د الله تعالى، د هغه د رسول او د دين د بزرگانو نومونه ځاى ځاى اخيستل كيږي او په ځينو ځايونو كې ټيپ مخته كيښودل شوي رقص هم ورته كيږي. لهذا دا ووايئ چې د باجو او دبلو په آواز باندې د الله د هغه د رسول نومونه اخيستل سندره څنگه ده؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي : د اكبر پوره عوام .. ۱۴۰۰ هـ / ۲ / ۱۴

---

۱) في الهندية :السماع والقول والرقص الذي يفعله المتصوفة في زماننا حرام لايجوز القصد إليه والجلوس عليه وهو والغناء والمزامير سواء.

(فتاوى هندية ۳۵۲:۵،كتاب الكراهية،الباب السابع عشر في الغناء واللهو)

وقال العلامة الطحاوي رحمه الله تعالىٰ:(قوله وكره كل لهو أى لعب وعبث فالثلاثة بمعنى واحد كما في شرح التأويلات والإطلاق شامل لنفس الفعل واستماعه كالرقص والسخرية والتصفيق وضرب الأوتار....فإنها كلها مكروهة لأنها زيّ الكفار واستماع ضرب الدف والمزمار والغناء وغير ذلك حرام.

(الطحطاوي على الدر المختار ۱۹۸:۴،كتاب الحظر والإباحة،فصل في البيع)

۲) في حاشية شرح الوقاية :لأن الغناء يورث الغفلة ويقل الحياء ويكثر اللهو ويطفي حرارة التقوى ويهيج الطبع إلى الشهوات.

(تكمله عمدة الرعاية على شرح الوقايه ۱۶۳:۳،كتاب الشهادة،باب قبول الشهادة وعدمه)

الجواب: د الله او د رسول صفت كول ستر عبادت دى (۱)او سرود كول ستر معصيت دى (۲) پس كومې سندرې چې له سرود او مزاميرو څخه خالي وي هغه ناروا نه دي، برابره ده كه په اصل آواز سره وي يا د ټيپ په واسطه وي، په كومو سندرو كې چې سرود او مزامير وي هغه ناروا او قبيح بدعت دى (۳) **وهوالموفق**

د صحيح اغراضو لپاره ډول غږول

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې استاذان په خپلو مكتبونو كې د طالبانو لپاره ډول له بين باجو پرته استعمالول غواړي په كوم وخت كې تعليم كوونكي طالبان بدني مشقونه يا د تعليم په وخت كې ګډ تمرين كوي.په دې موقع د ډول په ذريعه په طالبانو كې نظم ضبط اود جهاد جذبه

---

۱) في المرقاة:(عن سمرة بن جندب رضي الله تعالىٰ عنه قال قال رسول الله ﷺ. أفضل الكلام أربع سبحان الله والحمدلله ولااله الاالله والله اكبر....فالمذكورات من أفضل عبادات أصحاب العقبى فانهازبدة صفات الله وعمدة كلمات الله تعالىٰ.
(مرقاة المفاتيح۵:۱۰۵،باب ثواب التسبيح والتحميد الخ)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالىٰ:دلت المسألة أن الملاهي كلهاحرام ويدخل عليهم بلا إذنهم لإنكار المنكر،قال ابن مسعود: صوت اللهو والغناء ينبت النفاق في القلب كماينبت الماء النبات.
(الدرالمختار۵:۲۴۶،كتاب الحظر والإباحة)

۳) وفي الهندية:السماع والقول والرقص الذي يفعله المتصوفة في زماننا حرام لايجوز القصد إليه والجلوس عليه وهو والغناء والمزامير سواء.
(فتاوى هندية۵:۳۵۲،كتاب الكراهية،الباب السابع عشرفي الغناء واللهو)

پیدا کول مقصود دي نه عیش، په دې باره کې د شریعت حکم څه دی؟ **بینوا توجروا.**

المستفتي: صادق حسین انک شهر..... ۱۴ هـ / شوال ۱۴۰۳ هـ

الجواب: د صحیح اغراضو لپاره ډول غږول روا دي، کله چې له طرب او جوش پیدا کولو څخه پاک وي، **کما أشار الیه العلامة الشامي في رد المحتار ۵: ۳۰۷، في السراجیة: هذا اذا لم یکن له جلاجل ولم یضرب علی هیئة التطرب** (۱).

نوټ: موجوده مروجه ډول رقص او ډانس د جهاد په نسبت جګړې ته ډیر نږدې دي. **وهو الموفق.**

د سرود اوریدل او د سرود په هوټلونو کې د کیناستو حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د سرود په هوټلونو کې کیناستل څنګه دي؟ **بینوا توجروا.**

المستفتي: عبد الوهاب، متعلم حقانیه.

الجواب: د سرود اوریدل حرام دي، په کومو هوټلونو کې چې سرود وي هلته کیناستل هم حرام دي، **کما في الدر المختار علی هامش رد المحتار ۵: ۳۰۶، استماع الملاهي معصیة والجلوس علیها فسق** (۲). **وهو الموفق.**

---

۱) رد المحتار ۵: ۲۴۷، کتاب الحظر والإباحة وقبیل في اللبس)

وفي المرقاة (یضربن بالدف).....وفیه دلیل علی جواز الدف عند النکاح والزفاف للإعلان وألحق بعضهم الختان والعیدین والقدوم من السفر ومجتمع الأحباب للسرور وقال المراد به الدف الذي کان في زمن المتقدمین وأما علیه الجلاجل فینبغي أن یکون مکروهاً بالإتفاق. (مرقاة المفاتیح ۶: ۲۱۰، کتاب النکاح، باب إعلان النکاح)

۲) الدر المختار ۵: ۲۴۶، کتاب الحظر والإباحة)..... (باقي حاشیه په بل مخ)

په اهل مزامير باندې د جنازې د لمانځه حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو مولوي صاحب په هغو خلکو ډيره سخته نيوکه کوي کوم خلک چې سندرې غږوي، يا له همدې سندرو غږونکو څخه چې کوم يو مړ شي د هغه جنازه هم کوي، خلک دغه مولوي صاحب ملامته کوي چې يا خو د سندرو غږول روا وبوله يا په همدې خلکو باندې د جنازې لمونځ مه ادا کوه؛ اوس د شريعت له مخې د خلکو لخوا د همدغه مولوي صاحب ملامته کول صحيح دي او که نه؟ او همدغه مولوي صاحب ته د همداسې خلکو د جنازې کول صحيح دي او که نه؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: راجه محمد بشير، فلور ملز بيول، براسته ګوجر خان.

راولپنډی. ۱۹۶۹ع ۸/ ۲۵.

الجواب: له مزاميرو انکار يې موجب ثواب دی او په اهل مزامير باندې جنازه کول هم د ثواب کار دی، په دې شرط چې مزامير يې حلال نه وي ګڼلي،

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ليكونن من أمتي أقوام يستحلون الخز والحرير والخمر والمعازف (۱) **وقال** عليه السلام: **من رأى منكم منكرًا فليغير بيديه** (۲) **الحديث، وقال** عليه السلام: **صلوا على كل بر وفاجر** (۳) **وهو الموفق.**

(د حاشيې پاتې برخه) وفي الخلاصة: استماع صوت الملاهي كالضرب وغيره حرام لأنه من الملاهي وقال عليه الصلوة والسلام: استماع الملاهي معصية والجلوس عليها فسق. (خلاصة الفتاوى ۴: ۳۴۵، كتاب الكراهية، الفصل الثالث في ما يتعلق بالمعاصي)

۱) صحيح البخاري ۲: ۸۳۷، كتاب الأشربة، باب ماجاء فيمن يستحل الخمر الخ)

۲) مشكوة المصابيح ۴۳۶، باب الأمر بالمعروف)

۳) طحطاوي على مراقي الفلاح ۵۸۰، أحكام الجنائز، فصل: الصلوة عليه)

وعن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال..... (پاتې حاشيه په بل مخ)

سرود په چشتیه سلسله کې داخل نه دی

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د سندرو غږول او د شطرنج لوبه کول اتفاقًا حرام دي، مګر يو شمير خلک د دوی په جواز کې د طريقت چشتيه سلسله وړاندې کوي او وايي چې د سندرو په غږولو کې چې څومره روايتونه راغلي دي هغه ضعيف دي، محدثينو په هغو باندې جرح کړې، براه کرم ددې متعلق وضاحت وکړی؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي امير خان، خالو، هری پور ۱۳ / ذیقعده ۱۴۰۴ هه

الجواب: د سرود حرمت په قرآن (۱) احادیثو (۲) او د فقهې له عبارتونو څخه په واضحه توګه معلوم شوی دی (۳) لهو هيڅ امام روا کړې نده. په چشتيه سلسله کې هم سرود داخل نه دی. البته

(د حاشيې پاتې برخه) رسول الله ﷺ: الجهاد واجب عليكم مع كل أمير براً كان أوفاجراً.... والصلوة واجبة على كل مسلم براً كان أوفاجراً وإن عمل الكبائر.

(سنن أبي داؤد ۳۴۳: ۱ كتاب الجهاد، باب الغزو مع ائمة الجور)

۱) قال الله تبارک وتعالى: وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ. (سورة لقمان آيت: ۶)

وقال الله تبارک وتعالى: وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُم بِصَوْتِكَ.

(سورة بني اسرائيل آيت: ۶۴)

۲) قال رسول الله ﷺ: ليكونن من أمتى أقوام يستحلون الخز والحرير والخمر والمعازف. (صحيح البخاري ۸۳۷:۲، كتاب الأشربة)

۳) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: دلت المسألة الملاهي كلهاحرام ويدخل عليهم بلا إذنهم لإنكارالمنكر، قال ابن مسعود: صوت اللهو والغناء ينبت النفاق في القلب كما ينبت الماء النبات. (الدرالمختار)...... (پاتې حاشيه په بل مخ)

د وثنيه او عيسويه سلسله خلک په دې کې مبتلا دي، **ولو ثبت صدوره من المشائخ لحمل على العلاج بالمحرم وغيره** (۱) **وهو الموفق.**

د سورة رحمن پر ځای د نقشبندي اشعارو ويل

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د سورة رحمن پر ځای چې کوم نقشبندي اشعار ويل کيږي هغه ټول اشعار د قرآن او سنت منافي دي. اوس دغه اشعار روا دي که نه دي؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي عثمان الدين

(د حاشيې پاتې برخه) وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: (قال ابن مسعود الخ) رواه في السنن مرفوعاً إلى النبي ﷺ بلفظ ،إنّ الغناء ينبت النفاق في القلب.... وإن كان السماع سماع غناء فهو حرام باجماع العلماء ومن أباحه من الصوفية فلمن تخلى عن اللهو وتحلى بالتقوى واحتاج إلىٰ ذلک احتياج المريض إلى الدواء.

(الدر المختار مع رد المحتار ۵: ۲۴۶، كتاب الحظر والإباحة)

۱) في الهندية: السماع والقول والرقص الذي يفعله المتصوفة في زماننا حرام لايجوز القصد إليه والجلوس عليه وهو الغناء والمزامير سواء وجوزه أهل التصوف واحتجوا بفعل المشائخ من قبلهم، قال وعندي أن مايفعلونه غير مايفعله هؤلاء فإن في زمانهم توافقه ينشد واحد شعراً فيه معنى يوافق أحوالهم فيوافقه ومن كان له قلب رقيق إذا سمع كلمة توافقه على أمر هو فيه ربمايغشى على عقله فيقوم من غير اختيار وتخرج حر كات منه من غير اختيار وذلک مما لايستبعد أن يكون جائزاً ممالايؤخذ به ولايظن في المشائخ أنهم فعلوا مثل مايفعل أهل زماننا من أهل الفسق والذين لاعلم لهم بأحكام الشرع وإنمايتمسک بأفعال أهل الدين.

(فتاوى هندية ۵: ۳۵۲، كتاب الكراهية، الباب السابع عشر في الغناء واللهو)

الجواب: إعلم أن الاحسان أن تعبد الله كأنك تراه فأن لم تكن تراه، فأنه يراك (۱) كما ثبت في حديث الصحيحين ويعبر عنه بالاخلاص وهو الروح في العبادة، ولحصوله طرق كثيرة كتعلم العربية، وهذه الطرق الأربع ألهمت الى المشائخ وكنا جربوها فوجدوها موصلة، فمن أعرض عن هذا فقد فاته الخير الكثير لكن يشترط لطالبها اصلاح الاعتقاد حسب اعتقادات أهل السنة والجماعة، وهو الموفق.

د خټکو ډانس، اتڼ، رقص، موسيقي او د سرود د آلاتو د استعمال حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلي په باره کې چې په زياتره اخبارونو کې مونږ دا لوستلي دي چې په فلاني هيواد کې ثقافتي طائفي د خپل فن مظاهره وکړه. يو شمير خلک اعتراض کوي چې د موسيقی اوريدل حرام دي او گناه ده، په يو شمير ځايونو کې رقص مثلاً د خټکو ډانس، اتڼ او وغيره کوم چې په ځانګړو محفلونو کې ترسره کيږي په دې سلسله کې وړاندېز دا دی چې زمونږ مشکل حل کړی چې آيا مونږ ته د نورو هيوادونو په مقابل کې د سيمه ييز رقص (د سړيو) کوم چې خاص د سړيو په محلف کې کيږي روا دی؟ او هغه موسيقي کومه چې له فحش او خواهشاتو څخه پاکه وي، د طبعيت د تفريح لپاره وي روا ده؟ نن سبا چې کومې سندرې نشر کيدلی شي برابره ده که فلمي وي که قومي، د هغو اوريدل روا دي او که نه؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: محمد سليم، اماؤنټ ډيپارمنټ رياض،

سعودي عرب. ۲۹ / ذی الحجه ۱۳۹۹ هه

الجواب: د سرود آلات (موسيقي وغيره) استعمال حرام دی لحديث: **أمرني ربي بمحق المعازف والمزامير والأوثان والصُلب، (رواه أحمد)** (۲) **وصرح بمنعها**

۱) (صحيح البخاري ۱۲ : ۱، باب سوال جبرئيل النبي ﷺ عن الايمان والإسلام)

۲) (مشكوة المصابيح ۳۱۸، باب بيان الخمر ووعيد شاربها)

ردالمحتار ۵: ۳۰۵، ۳۴۷ (۱)، همدارنګه رقص هم ممنوع دی، **کمافي ردالمحتار** ۵: ۳۴۷، **کالرقص والسخرية والتصفيق وضرب الأوتار من الطنبور والبربط والرباب،** (۲)، همدارنګه غناء (سندرې) هم ممنوع دي. کله چې په صحيح غرض باندې بناء نه وي. **ردالمحتار** ۵: ۳۴۷ (۳)، **وهوالموفق**.

په ډولۍ کې د قرآن اېښودل او شاته يې د رقص کولو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زمونږ په سيمه کې د واده په موقع د ډولۍ وړلو په وخت له ناوې سره په ډولۍ کې قرآن مجيد اېښودل کيږي، ډولۍ وړاندې روانه وي او شاته يې ډول، باجې او ګډا ګانې وي، د دوی دا کار څنګه دی او په ګډا کوونکو باندې خو ښځه نه طلاقيږي؟ **بينواتوجروا**.

المستفتي: فضل وهاب، شيخان، پشاور ... ۲۹/ رمضان ۱۴۰۰ هـ

الجواب: په ډولۍ کې د قرآن اېښودل د تبرک په ډول منع نه دي. البته سرود او

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالىٰ: دلت المسألة أن الملاهي كلهاحرام...... وفي البزازية: استماع صوت الملاهي كضرب قصب ونحوه حرام لقوله عليه الصلوة والسلام: استماع الملاهي معصية والجلوس عليهافسق والتلذذ بها كفر أى بالنعمة.
(الدرالمختار ۵: ۲۴۶، كتاب الحظر والإباحة، قبيل فصل في اللبس)

۲) ردالمحتار ۵: ۲۷۹، كتاب الحظر والإباحة فصل في البيع)

۳) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: (قوله قال ابن مسعود الخ) رواه في السنن مرفوعاً إلى النبي ﷺ بلفظ: إن الغناء ينبت النفاق في القلب، كما في غاية البيان، وقيل إن تغنّى ليستفيد نظم القوافي ويصير فصيح اللسان لابأس به، وقيل: إن تغنّى وحده لنفسه لدفع الوحشة لابأس به وبه أخذ السرخسي رحمه الله تعالىٰ.
(رد المحتار ۵: ۲۴۶، كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

رقص منع دی صرح به العلامة الشامي فی رد المحتار فی باب الحظر والاباحة (۱) پس ددې په مستحل باندې ښځه حرامیږي (۲) وهوالموفق

د واده په ورا کې تلل او د هغه د ډوډی خوړلو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د واده په موقع په ورا کې تلل څنګه دي؟ او د هغه د ډوډی خوړلو حکم څه دی؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي ظفر. واهګه. لاهور ۹ / ۷ / ۱۴۰۰ هـ

الجواب: دا امور د التزام مايلزم او د اهتمام فوق المقام له وجې ناروا او واجب الاجتناب دي (۳) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وكره كل لهو) أي كل لعب وعبث فالثلاثة بمعنى واحد كمافي شرح التأويلات، والإطلاق شامل لنفس الفعل، واستماعه كالرقص والسخرية والتصفيق وضرب الأوتار من الطنبور والبرابط والرباب والقانون والمزمار والصنج والبوق، فإنها كلهامكروهة لأنهازيّ الكفار، واستماع ضرب الدف والمزمار وغير ذلك حرام.

(رد المحتار ۵: ۲۷۹، كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

۲) في الهندية: من اعتقدالحرام حلالًا أوعلى القلب يكفر .... هذا إذاكان حرامًا لعينه وهو يعتقده حلالًا حتى يكون كفرًا، أما إذاكان حرامًالغيره فلا.

(فتاوى هندية ۲: ۲۷۲، الباب التاسع في أحكام المرتدين، ومنهامايتعلق بالحلال والحرام)

۳) في المرقدة: قال النووي: البدعة كل شيئ عمل على غيرمثال سبق وفي الشرع: إحداث مالم يكن في عهد رسول الله ﷺ.

(مرقاة المفاتيح ۲: ۲۱۶، باب المساجد ومواضع الصلوة) .... (پاتې حاشيه په بل مخ)

(د حاشيې باتې برخه) وقال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: ولأن ذكرالله إذا قصدبه التخصيص بوقت دون وقت أوبشيئ دون شيئ لم يكن مشروعًا حيث لم يردالشرع به لأنه خلاف المشروع.

(البحرالرائق ٢: ١٥٩، باب العيدين)

الله الله

فتاوی فریدیه

نهم جلد

باب الکذب

الله الله

بسم الله الرحمن الرحيم

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم

إذا كذب العبد تباعد عنه

الملك ميلاً من نتن

ما جاء به.

(رواه الترمذى)

باب الكذب

د جنګ او جدال ختمولو لپاره د مصلحت په ډول د دروغو ويلو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د صلح په وخت د جانبينو په مينځ کې د جنګ او جدال ختمولو لپاره که چيرته کوم کس دروغ ووايي ترڅو د هغوی تر منځ ناراضګي ختمه شي او هغوی صلح وکړي، آيا دا ډول دروغ ويل روا دي؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: عبد لرحمن... ۷۶ع / ۶۵

الجواب: د دوه قومونو يا دوه کسانو په مينځ کې د صلح کولو لپاره او د جنګ جدال ختمولو لپاره که چيرته په توريه او مبهمو الفاظو سره کار نه چليده نو دروغ ويل اګر که بنفسه ناروا دي، ليکن د دغه مصلحت دومره ستر ثواب دی چې همدا ګناه کالعدم کوي ګويا چې ګناه ګناه نه پاتې کيږي [1] **وهوالموفق**

---

[1]) في الهندية: يجب أن يعلم أن استعمال المعاريض للتحرز عن الكذب لا بأس به، جاء عن عمر رضي الله تعالى عنه أنه قال إن في معاريض الكلام لمندوحة عن الكذب أى سعة وفي ذلک طريقان، أحدهما أن يتكلم بكلمة و يريد بها غير ما وضعت له الكلمة من حيث الظاهر إلا أن ما أراده يكون من محتملات لفظه.

(فتاوى هندية ۶: ۴۳۶، كتاب الحيل، الفصل الثامن والعشرون في استعمال المعاريض)

وفي الهندية الكذب محظور إلا في القتال للخدعة وفي الصلح بين اثنين.

(فتاوى هندية ۵: ۳۵۴، كتاب الكراهية، الباب السابع عشر في الغناء واللهو)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: ومهما كان لا يتم مقصود حرب أو إصلاح ذات البين أو استمالة قلب المجنى عليه إلا بالكذب فيباح.

(ردالمحتار ۵: ۳۰۳، كتاب الحظر والإباحة، قبيل كتاب احياء التراث)

په راشن کارډ کښې د کمو کسانو پر ځای د ډیرو کسانو لیکلو حکم

سوال: چی مي فرمايد علماء، دين درين مسئله که دريک خانه پنج نفر است ودر راشن کارډ ده نفر ذکر کند. چه حکم دارد؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: حاجي سعد الله خان. علی زئي کوهاټ ۶ صفر ۱۴۰۳هـ

الجواب: دروغ گوئي وفريب، امور محرمه اند [۱] البته اگر راشن مقرره کم باشد وناکافي باشد پس حيله وتدبير جائز است، [۲] **والله اعلم.**

کمپيوټر ته پرته له تجربې د څلورو کلونو د تجربې سند ورکولو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې که چيرته يو ډاکټر کوم کمپيوټر ته پرته له تجربې د څلورو کلونو تجربه وليکي نو ددې څه حکم دی؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: محمد علی، رائيونډ. لاهور ۱۹۹۵ع/۶/۳۰

---

۱) عن عبدالله بن مسعود رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: اياكم والكذب فإن الكذب يهدي إلى الفجور وإن الفجور يهدي الى النار، وما يزال الرجل يكذب ويتحرى الكذب حتى يكتب عند الله كذابا.

(مشكوة المصابيح ۴۱۲، باب حفظ اللسان والغيبة والشتم)

وقال الإمام البخاري تعليقاً: قال النبي ﷺ: الخديعة في النار.

(صحيح البخاري ۱:۲۸۷، باب النجش)

۲) قال العلامة ابن عابدين: أن كل مقصود محمود يمكن التوصل إليه بالتصديق والكذب جميعاً فالكذب فيه حرام، وإن أمكن التوصل إليه بالكذب وحده فمباح إن أبيح تحصيل ذلك المقصود.

(رد المحتار ۵:۳۰۳، كتاب الحظر والإباحة، قبيل كتاب إحياء الموات)

الجواب: داسې تجربه کار ته د تجربې سند ورکول مشروع دي، البته له درواغو څخه د ځان ساتلو لپاره توريه استعمالول پکار دي [۱]، وهوالموفق

د ښځې او ماشومانو بل ځای ته د نه بیولو په صورت کې ملازم ته له حکومت څخه د تبادلې خرچه اخیستل

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د حکومت له طرفه چې کله د کوم حکومتي ملازم تبادله وشي او د هغه مصرف نوم ترانسفر ګرانټ اور ټي. اې. ډي دی او د هغه مصرف اندازه په دې ډول ده په ضلع کې دننه چې کله تبادله کيږي نو هغه ته نيمايي تنخا د عطيې په ډول ورکول کيږي. د ضلع څخه د باندې په تبادلې سره ټوله تنخوا ورکول کيږي، له دې پرته د هر يو ملازم لپاره (۳۰) من سامان په حساب يوه روپۍ في ميل في من اخراجاتو پورې هم اجازت دی. له دې پرته ښځې او ماشومانو ته هم په حساب ۱۲ روپۍ في بالغ او ۶ روپۍ في نابالغ فرد اجازت دی، اوس وضاحت وکړئ چې زما تبديلي له يوه مکتب څخه بل مکتب ته شوې ده، ليکن زه خپل اهل او عيال په مخکني

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: قال في البزازية: وان أدركت بالحيض تختار عند رؤية الدم، ولو في الليل تختار في تلك الساعة ثم تشهد عندالصبح وتقول رأيت الدم الآن لأنها لوأسندت أفسدت وليس هذا بكذب محض بل من قبيل المعاريض المسوغة لإحياء الحق....وحاصله أنهاتعني بقولها بلغت الآن،إنى الآن بالغة لئلايكون كذبًا صريحًا لأنه حيث أمكن إحياء الحق بالتعريض،وهو أن يريد المتكلم ما هوخلاف المتبار من كلامه كان أولى من الكذب الصريح فافهم.
(رد المحتار ۲:۳۳۶، كتاب النكاح،باب الولي)

وفي الهندية: يجب أن يعلم أن استعمال المعاريض للتحرز عن الكذب لابأس به.
(فتاوى هندية ۶:۴۳۶، كتاب الحيل،الفصل الثامن والعشرون في استعمال المعاريض)

ځای کې پرېږدم په دویم مکتب کې نوکري کول غواړم، آیا دا مصرف اخیستل زما لپاره شرعًا روا دي او که نه؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي عبد الرحم، ضلع دیر ... ۱۶/ دسمبر ۱۹۷۴ع

الجواب: تاسو ددې مسئول عنه خرچې غوښتنه څپله مه کوئ ترڅو درواغو وته ویل شي. (۱) البته په تا باندې پرته له غوښتنې د معهود مصرف واپس کول ضروري نه دي. ځکه ممکنه ده چې حکومت دا روپۍ د مساهله په ډول درکړې، په دې کې فعلیت ته نظر نشي کیدلی. کما أن حکم القصر مبني علی السفر دون المشقة بالفعل (۲) **وهوالموفق**

په څپله ویزه نور خلک له سرحد څخه اړول او روپۍ پرې اخیستل

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زموږ خلک د قطر، دوبۍ او وغیره پاسپورټونه اخلي او د ویزې اخیستلو په وخت کې په ویزه باندې داسې لیکي مثلاً چې زما پنځه زامن دي. بیا له نورو خلکو څخه پنځه زره یا شپږ زره روپۍ واخلي هغوی تر قطر پورې ورسوي او حکومت ته دا وایي چې دا زما زامن دي. آیا دا روا دي؟

---

۱) وفي الكبائر :وفي الصحيحين "أنه عليه الصلوة والسلام قال :آية المنافق ثلاث وإن صلّى وصام وزعم أنه مسلم ،إذاحدث كذب وإذا وعد أخلف وإذا ائتمن خان.

(الكبائر ۱۴۰ ،الكبيرة الثلاثون الكذاب في غالب أقواله)

۲) قال العلامة حسام الدين رحمه الله تعالى :والسفر علة للرخصة اسماً وحكماً لامعنى فان المؤثر هى المشقة لكن السبب أقيم مقامها تيسيراً.

(حسامي ۱۳۱ ،بحث القياس)

دویم یو کس په بل کس باندې خپله ویزه په اته زره باندې خرڅوي او دا شرط لګوي چې کله هغه له سرحده تیر شي او قطر ته ورسیږي نو ویزه به بیرته واپس ورکوي، آیا دا شرط او دا ډول بیع روا ده؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي: بنده علی محمد. بلوچستان ۷۵ه/۱۱/۱۱

الجواب: درواغ ویل او دوکه ورکول ناروا امور دي [۱] او د ویزې خرڅول د خروج حق خرڅول دي او ناروا دي. كما في الأشباه: لايجوز الاعتياض عن الحقوق المجردة كحق الشفعة، هامش رد المحتار ۴: ۱۴ [۲] إلا أن يحمل على النزول عن الوظائف بمال [۳]، وهوالمصوب.

---

۱) عن ابن عمر رضي الله تعالیٰ عنهما قال قال رسول الله ﷺ: إذاكذب العبد تباعد عنه الملك ميلًا من نتن ماجاءبه، رواه الترمذي.

(مشكوة المصابيح ۴۱۳، كتاب الأداب، باب حفظ اللسان والغيبة والشتم)

وقال الإمام البخاري رحمه الله تعالیٰ تعليقًا: قال النبي ﷺ: الخديعة في النار.

(الصحيح لإمام البخاري ۱: ۲۸۷، باب النجش)

۲) ردالمحتار ۴: ۱۵، كتاب البيوع، مطلب في بيع الاستجرار)

۳) وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالیٰ: (قوله وعليه بجواز النزول عن الوظائف بمال) قال العلامة العيني في فتاواه ليس للنزول شيئ يعتمد عليه ولكن العلماء والحكام مشوا ذلك للضرورة.... واستدل بعضهم للجواز بنزول سيدنا الحسن بن علي رضي الله تعالیٰ عنهما عن الخلافة لمعاوية رضي الله تعالیٰ عنه على عرض وهو ظاهر أيضًا وهذا أولى مما قد منا في الوقف عن الخيرية من عدم الجواز.

(رد المحتار ۴: ۱۶، ۱۷، كتاب البيوع، مطلب في النزول عن الوظائف بمال)

د ملازم په ډاکټر د جعلي نسخې ليکل او په هغې باندې له حکومت څخه د روپيو اخيستل

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې معذورانو ته ميډيکل الاؤنس ورکول کيږي، لومړی په ډاکټر معاينه وکړي نسخه اخلي، له دې وروسته له دواکاندار دوايي خرڅوونکي سره د کيش کاته کيږي او هغه دغه کيش ورانده کوي او روپۍ ترلاسه کوي، مګر بوشمير ملازمين د ناروغ له نبودلو پرته ډاکټر ته وايي چې ما په خپل ناروغ باندې دومره مصرف کړی مثلا دوه يا درې سوه روپۍ، ماته د معاينې پرچه جوړه کړه. يعنې د ډاکټر د تعلق په بناء باندې په جعلي نسخه باندې روپۍ راوباسي. نو دا جعلي نسخه ورکول، د کيش ورقه ورکول شرعًا څنګه دي؟ د ډاکټر په حق کې، د دواء]خرڅوونکي په حق کې او د ناروغ په حق کې ددې څه حکم دی؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي ډاکټر عبد الشکور. کمپاونډ هسپتال.

چمله بونير ... ۱۷/ جمادی الاول ۱۴۰۲هـ.

الجواب: که چيرته د پورتنيو افسرانو له طرفه ددې اجازه نه وي نو دا اقدام او دا روپۍ ناروا دي، دغه ملازم، ډاکټر او نسخه فروش د دروغو ويلو او دوکه ورکولو مرتکب دی او دا ناروا کار دی. [۱] **وهوالموفق**

په دوکه د بل ځا په سرټيفيکټ (سند) باندې داخله کول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې عمرو د

---

۱) عن سفيان بن أسد الحضرمي رضي الله تعالى عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول: كبرت خيانة أن تحدث أخاك حديثًا هولك به مصدق وأنت به كاذب «رواه أبوداؤد. (مشكوة المصابيح ۴۱۳، باب حفظ اللسان والغيبة والشتم)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :أن كل مقصود يمكن التوصل إليه بالتصديق والكذب جميعاً فالكذب فيه حرام.

(رد المحتار ۵:۳۰۲، كتاب الحظر والإباحة، قبيل كتاب إحياء الموات)

زيد په سرټيفيکيټ (سند) په دوکه باندې داخله وکړه او سند عمرو حواله کړی هم دی. اوس آيا زيد گناه وکړه؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: نامعلوم

الجواب: دی دې په توبه او استغفار باندې اکتفاء وکړي (۱) دا **أهون البليتين** دی (۲) فقط

د پاکستانی لپاره د افغان مهاجر په نوم د روپیو او غنمو اخیستلو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو افغان مهاجر له يوه ځايي اوسيدونکي سره اوسيږي. د همدغه ځايي اوسيدونکي نوم د افغان مهاجرينو په ليست کې دی. همدا ځايي اوسيدونکی له حکومت څخه غنم يا روپۍ د ځان لپاره د افغان مهاجر په ښکاره کولو سره اخلي. ايا دا کس د همدې غنمو يا روپيو حقدار دی او که نه دی؟ او آيا دا غنم او روپۍ هغه ته حرامې دي که حلالې؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: محمد نور سيد باجوړي، متعلم حقانيه... ۸/ اگست ۱۹۸۳ع

الجواب: دروغ ويل حرام دي، (۳) مگر د دروغو ويلو له وجې اجناس حاصل

---

۱) قال الله تبارك وتعالى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللهِ تَوْبَةً نَّصُوحًا.
(سورة التحريم: آيت ۸)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: أن من ابتلى ببليتين فإن تساويا خير وإن اختلفا اختار الأخف. (الدر المختار ۱:۳۰۳، باب شروط الصلاة)

۳) قال الله تعالى: إِنَّ اللهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ"
(سورة الغافر: آيت ۲۸)

وفي صحيح البخاري: أنه عليه السلام قال: آية المنافق ثلاث وإن صلّى وصام وزعم أنه مسلم، إذا حدث كذب، وإذا وعد أخلف، وإذا ائتمن خان.
(الكبائر ۱۴۰، الكبيرة الثلاثون: الكذاب في غالب أقواله)

شوي، غنم وغیره (د شراء په ډول یا د بخشش په ډول) حرمت د امر د قواعدو خلاف دي او غیر ثابت دي **ونظیره بیع الغرر والنجش**[1] **وهوالموفق**

---

۱) عن أبي هريرة رضي الله تعالىٰ قال :نهى رسول الله ﷺ بيع الحصاة وبيع الغرر.... عن ابن عمر رضي الله تعالىٰ عنهماقال :نهى عن النجش.

وقال العلامة النووي رحمه الله تعالىٰ :أماالنجش وهو أن يزيد ثمن السلعة لالرغبة فيها بل ليخدع غيره ويغره ليزيد ويشتريها ،وهذاحرام بالإجماع والبيع صحيح....إعلم أن التصرية حرام....لأنه غشّ وخداع وبيعهاصحيح مع أنه حرام. (حاشية النووي على صحيح المسلم ۳،۲:۲، كتاب البيوع ،باب بطلان بيع الحصاة)

الله الله

فتاوی فریدیه

نهم جلد

باب الشتم

الله الله

بسم الله الرحمن الرحيم

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم

سباب المسلم فسوق

وقتاله كفرٌ

(رواه مسلم)

باب الشتم

حق علماوو ته کنځل کول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې حق علماء کرامو ته چې څوک کنځل کوي د هغوی څه حکم دی؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: ګل حسن مظلوم، کوهاټ. ۱۲ جمادی الاول ۱۹۹۷ء

الجواب: اهل حق علماوو ته کنځل موجب فسق دی [۱] او دغه کس کنځل کوونکی مردود الشهادة دی. [۲] **وهوالموفق**

په کنځل کوونکي او ور کرخوونکي کې کوم يو زيات مجرم دی؟

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زمونږ په کلي کې يوه مسئله متنازع فيها وه څو کسانو په کومو کې چې زيد هم وو. يوه مولوي صاحب ته ورغلل چې په دې باره کې شرعي فيصله صادره کړي. مولوي صاحب زيد ته وويل چې ته حرام خور يې او زما د زوم ځمکه په زوره خورې.

---

۱) عن عبد الله رضي الله تعالیٰ عنه قال قال رسول الله ﷺ: سباب المسلم فسوق. (صحيح البخاري ۲:۸۹۳، کتاب الأدب، باب ما ينهى عن السباب واللعن)

۲) وفي الاختيار: ولا (تقبل شهادة) من يظهر سبّ السلف لفسقه ولا الشتام للناس والجيران. (الاختيار لتعليل المختار ۲:۱۷۸، کتاب الشهادات، فصل أحکام ردّ الشهادات)

وفي الدر المختار: ولا تقبل شهادة من ... يظهر سبّ السلف لظهور فسقه ... وإنما قيدنا بالسلف تبعاً لکلامهم وإلا فالأولى أن يقال سبّ مسلم لسقوط العدالة بسب المسلم وإن لم يکن من السلف کما في السراج والنهاية. (الدر المختار ۴:۴۲۶، کتاب الشهادات، باب القبول وعدمه)

ددې خبرې په اوریدو سره زید ووېل چې د هغې په باره کې زه څو ځلې تانه راغلی وم چې ته په دې باره کې فتوی صادره کړې او له ما سره چې د هغه کوم حق دی زه به یې هغه ته ورکړم. لیکن تا فتوی صادره نکړه او اوس فضول خبرې کوې، کله چې زید دا خبرې وکړې نو مولوي صاحب په غوسه شو او زید ته یې نهایت فحش کنځل وکړه. زید ډیر ښه مسلمان دی لیکن په جوش راغلی هغه مولوي صاحب ته هم کنځل وکړه. بیا مولوي صاحب ووېل چې تا زما توهین او بې عزتي کړې، لهذا ته زما پسې لمونځ مه کوه. همدارنګه د مولوي صاحب زوی د جمعې په ورځ په لاسپیکر باندې اعلان وکړو چې ترڅو پورې زید په لاسپیکر باندې د خپلې توبې اعلان ونه کړي زید زما پسې لمونځ نه شي کولی، ځکه چې هغه زما د پلار توهین او بې عزتي کړې ده. د کافرانو او خنزیرانو کار یې کړی دی، اوس د ذکر شوي صورت په نظر کې نیولو سره دا واضحه کړئ:

(۱) مولوي صاحب چې کوم کنځل کړي دي د شریعت له مخې د هغه څه حکم دی؟

(۲) د کنځل ور کړځولو والاکس څومره جرم کړی؟ آیا په رښتیا د مولوي صاحب په اقتداء کې د لمانځه کولو قابل نه دی؟

(۳) آیا د فسق نسبت د زید او مولوي صاحب دواړو طرفته کیږي او که صرف د زید طرفته کیږي؟

(۴) ایا توبه کول او معافي غوښتل په لاسپیکر او عام محضر کې ضروري ده یا که په تنهائي کې صلح وکړي نو هم کافي کیږي؟

(۵) د مولوي صاحب د نائب په باره کې څه حکم دی؟ بهر صورت ټول صورتونه ستاسو په وړاندې دي؟ **بینوا توجروا.**

المستفتي: عبد المالک، خطیب جامع مسجد کیمل پور

الجواب: د مستفتي د صدق په شرط مولوي صاحب فاسق شوی دی، **قال رسول الله صلی الله علیه وسلم سباب المسلم فسوق (مسلم)** (۱).

(۲) مولوي صاحب د زيد په نسبت زيات مجرم دی (**لأن البادء أظلم**) ليکن اقتداء صحيح ده اګر که امام راضي نه وي (۲).

(۳) چونکې دوارو کنځل کړي لهذا دواړه د فسق مرتکب شوي دي (۳).

(۴) کله چې ګناه په لاسپيکر کې نه ده شوې نو توبه هم په لاسپيکر کې نشته، **ان سرّافسرّوان جهراًفجهرٌ (هدايه)** (۴).

(۵) په ظاهره تعصب معلوميږي

نوټ : د داسې مسائلو حل فتوی بازي نه ده، بلکې د مشرانو خلکو لپاره ضروري ده چې جانبين صلحې ته تيار کړي والسلام **وهوالموفق**

---

۱) (صحيح مسلم ۱:۵۸، کتاب الإيمان ،باب قول النبي ﷺ سباب المسلم فسوق)

۲) قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالیٰ :والإمام ينوي صلاته فقط ويشترط لصحة الاقتداء نية إمامة المقتدي بل لنيل الثواب عند إقتداء أحد به قبله کمابحثه في الأشباه. (الدر المختار ۱:۳۱۲ ،مبحث النية ،باب شروط الصلاة)

۳) قال العلامة النووي رحمه الله تعالیٰ :فسب المسلم بغيرحق حرام باجماع الأمة وفاعله فاسق. (حاشية النووي علی صحيح المسلم ۱:۵۸، کتاب الإيمان ،باب بيان قول النبي ﷺ :سباب المسلم فسوق)

۴) قال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالیٰ :والتوبة علی حسب الجناية فالسربالسر والإعلان بالإعلان.

(الهداية ۳:۱۷۴، کتاب الرجوع عن الشهادات)

تېولو علماوو طبيبانو او پوليس والاوو ته د ظالم ويونكي حكم

سوال: څه فرمايلي دي علماء، كرامو ددې مسئلې په باره كې چې يوه كس وبلي چې ټول حكيمان، ټول مولوي صاحبان او ټول پوليس والا ظالمان دي، د دغه كس شرعًا څه حكم دى؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: ميا عبد الرشيد. ضلع جهلم

الجواب: ټولو علماوو او طبيبانو ته ظالم ويل دروغ او فسق دى. بلكې د عموم مراد كېدو په تقدير باندې كفر دى[1]، **قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: سباب المسلم فسوق (رواه مسلم)[2]، وفي الهندية ٢: ١٨٩، الأصل في وجوب التعزير أن كل من ارتكب منكرًا أو آذى مسلمًا بغير حق بقوله أو بفعله يجب التعزير[3] الخ، قلت: وسبّ جميع العلماء وبعضهم سبّ العلم والدين باللزوم البين، فافهم، وهو الموفق**

سيد ته د كنځل كوونكي حكم

سوال: څه فرمايلي دي علماء، كرامو ددې مسئلې په باره كې چې يوه كس د رمضان ځلورمه روژه نيولې وه د هوش په حالت كې يې يوه سيد ته كنځل وكړه، دى په خپلو همدې كنځلو باندې پښېمانه هم نه دى. د شريعت د قانون له مخې په سوال كې د ذكر شوي كس څه حكم دى؟ ايا مسلمان د هغه سره تعلق ساتلى شي؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: سيد زينت حسن شاه بخاري. حويليان ۶۹ع/۱۲/۲۸

---

[1] في الهندية: وفي النصاب: من أبغض عالمًا من غير سبب ظاهر خيف عليه الكفر... ويخاف عليه الكفر إذا شتم عالمًا أو فقيها من غير سبب. (فتاوى هندية ٢:٢٧٠، الباب التاسع في أحكام المرتدين، منها ما يتعلق بالعلم والعلماء)

[2] (صحيح المسلم ١:٥٨ كتاب الإيمان، باب بيان قول النبي صلى الله عليه وسلم سباب المسلم فسوق)

[3] (فتاوى هندية ٢:١٦٨، فصل في التعزير)

الجواب: چونکه مسلمان ته کنځل کول فسق دی. **قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: سباب المسلم فسوق.** (۱) او په هغه باندې توبه کول ضروري دي (۲) همدارنګه معافي غوښتل هم ضروري دي او سره له تینګاره (که چیرته مصلحت وو) د هغه سره تعلق ختمول ښکار دی. (۳) لیکن د جوماتو او په جماعت سره د لمانځه کولو منعه کول حرام او ممنوع دی. **قال الله تعالی: وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ مَنَعَ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَنْ يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ** (۴) **وهو الموفق**

میره ته د کنځل کوونکي ښځې حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې بوې ښځې خپل میره ته د ډیرو کسانو پر وړاندې دا الفاظ وویل چې ته کافر یې. ستا پلار دی او همدارنګه نور ناوړه الفاظ یې وویل. نو د همدې ګستاخې ښځې څه حکم دی؟ **بینوا توجروا**

المستفتي: محمد بشیر، ایبټ آباد ۲۶/شوال ۱۴۰۲هـ.

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط دا ښځه فاسقه او ګنهګاره ده، **لحدیث: سباب**

---

۱) (صحیح البخاري ۲:۸۹۳ کتاب الأدب، باب ما ینهی عن السباب واللعن)

۲) قال العلامة العیني رحمه الله تعالی: قال ابن المبارک: حقیقة التوبة لها ست علامات، الندم علی ما مضی، والعزم علی أن لایعود، ویؤدي كل فرض ضیعه، ویؤدي إلی كل ذي حق حقه من المظالم.

(عمدة القاري ۲۲:۲۷۹، کتاب الدعوات، باب التوبة)

۳) في المرقاة: فإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة علی مرّ الأوقات مالم یظهر منه التوبة والرجوع إلی الحق.

(مرقاة المفاتیح ۹: ۲۶۲، باب ما ینهی عنه من التهاجر والتقاطع)

۴) (سورة البقرة: آیت نمبر ۱۱۴)

المسلم فسوق،(۱) په دغه بنځه باندې ضروري ده چې د الله تعالى ځخه معافي وغواړي او له میړه ځخه هم معافي وغواړي (۲) وهوالموفق

محدثینو ته د فحش کنځل کوونکي کس حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زيد ويلي چې له مړي سره د اسقاط په وخت کې د قرآن مجيد ايښودل او په دايره کې يې ګرځول په هيڅ قولي، فعلي حديث، صحابي، تابعي، تبع تابعي او د مجتهد په قول سره ثابت نه دي، بلکې بدعت دی او عمرو ويلي چې دا ثابته ده او د ابوالليث سمرقندي ځخه روايت وړاندې کوي چې عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د يو صحابي او يوې صحابيه په جنازه کې د قرآن مجيد څه برخه ګرځولې وه، همدارنګه په طحاوي کې هم همداسې ليکل شوي دي، زيد ويلي دي چې د سمرقندي ولا روايت بالکل جعلي دی، ټولو محدثينو د دغه منعه کړې او ليکلي يې دي چې دغه روايت کوم رافضي په عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ باندې محض دروغ تړلي دي. همدې وينا سره عمرو محدثينو ته کنځل وکړه، د مفعوليت نسبت يې ورته وکړو او وې ويل که چيرته هغوی دا وخت موجود وای نو ما به له هغوی سره وطي کړې وای، اعاذنا الله من ذلک، نو عرض دا چې د مذکور کس په باره کې کوم شرعي حکم دی هغه راوليږئ؟ په دې خبره باندې ډير زيات خلک شاهدان دي **بينواتوجروا.**

المستفتي: سيد محمد شاه، اديينزئي ۲۳/جون ۱۹۷۵ع

---

۱) (صحيح المسلم ۱:۵۸، کتاب الإيمان، باب بيان قول النبي ﷺ سباب المسلم فسوق)

۲) قال العلامة النووي رحمه الله تعالى: أن لها (التوبة) ثلثة أركان: الإقلاع والندم على فعل تلک المعصية والعزم على أن لا يعود إليها أبداً، فإن کانت المعصية لحق آدمی فلها رکن رابع وهوالتحلل من صاحب ذلک الحق...واتفقوا على أن التوبة من جميع المعاصي واجبة.

(حاشية النووي على صحيح المسلم ۲:۳۵۴، کتاب التوبة)

الجواب: داسې جاهلانه کلام ويل خو د وضاعينو متعلق هم منکر او شنيع دی، فضلا عن غيرهم، که چيرته دغه کس توبه کوونکی او پښېمانه نه شي هغه ته تعزير ورکول ضروري دي، (١) لږ تر لږه د هغه سره ترک موالاة پکار دی. (٢)

کما في الهندية: **وقيل ان کان المنسوب من الأشراف کالفقهاء والعلوية يعزر وإن کان من العامة لايعزر، وهذا أحسن، کذافی الهندية (هنديه ٢: ١٨٩)** (٣) **وهوالموفق.**

د تره زوی او خويندو ته د شيطان ويونکي کس حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس خپل د تره زوی او خويندو ته وويل چې تاسو غټ شيطان ياست، ددې کس لپاره شرعي سزا څه ده؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: نامعلوم

الجواب: دا کس ګنهګار دی، په هغه باندې ضروري ده چې له الله تعالی څخه معافي وغواړي او هغه کسان هم راضي کړي. (٤)

قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: سباب المسلم فسوق

---

١) وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالی: وعزر کل مرتکب منکر أو موذی مسلم بغير حق بقول أو فعل. (الدر المختار ٣: ٩٩، باب التعزير)

٢) في المرقاة: فان هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة على مرّ الأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق. (مرقاة المفاتيح ٩: ٢٦٢، باب ما ينهى عن التهاجر والتقاطع)

٣) (فتاوى هندية ٢: ١٦٨، فصل في التعزير)

٤) في المرقاة: والتوبة في الشرع: ترک الذنب لقبحه، والندم على ما فرط منه، والعزيمة على ترک المعاودة، وتدارک ما أمکنه أن يتدارک من الأعمال بالإعادة...

وزاد النووي إن کان الذنب متعلقا ببني آدم فلها شرط آخر وهو ردّ المظلمة إلى صاحبها أو تحصيل البراءة منه.

(مرقاة المفاتيح ٥: ١٢٢، کتاب الدعوات، باب الاستغفار والتوبة)

(رواه مسلم)[۱] وهوالموفق.

ورور ته د کنځل کوونکي حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس خيل سکني کوچني ورور ته د عامو خلکو پر وړاندې کنځل وکړه، يعني په دې الفاظو چې ستا د مور سره نکاح کوم او ستا د خور سره نکاح کوم. ددې کس لپاره د شريعت څه حکم دى؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي نامعلوم ۱۲/۱۰/۱۹۷۲ع

الجواب: کنځل کوونکى فاسق دى، **لحديث: سبآب المسلم فسوق (رواه مسلم)**[۲] د هغه لپاره ضروري ده چې توبه وکړي او له ورور څخه معافي وغواړي.[۳] **وهوالموفق**

ميرنى مور ته د کنځل کوونکي حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس محمد دليل خپلې ميرنى مور ته کنځل وکړل او وې ويل چې له تا سره نکاح وکړم. نو په داسې کس باندې په شريعت کې څه تعزير دى؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي نامعلوم ۱۵/۱۱/۱۹۷۲ع

الجواب: داکس فاسق او د تعزير لائق دى. **قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: سباب المسلم**

۱، ۲) (صحيح مسلم ۱:۵۸، کتاب الإيمان، باب بيان قول النبي ﷺ سباب المسلم فسوق)

۳) في المرقاة: والتوبة في الشرع: ترک الذنب لقبحه ،والندم على ما فرط منه، والعزيمة على ترک المعاودة، وتدارک ما أمكنه أن يتدارک...وزاد النووي وقال: إن كان الذنب متعلقًا ببني آدم فلها شرط آخر وهو ردّ المظلمة إلى صاحبها أو تحصيل البراءة منه. (مرقاة المفاتيح ۵:۱۲۲، کتاب الدعوات، باب الاستغفار والتوبة)

فسوق، (رواه مسلم) (۱) وفي الأشباه: كل معصية ليس فيها حد مقدر ففيه التعزير انتهى. (۲) وهوالموفق.

يو چا ته د شيطان په ويلو په نكاح باندې اثر نه لوېږي

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې پرون له يوه عربي سره زما مجلس وو په كوم كې چې زمونږ په مينځ كې خبرې اترې وشوې. هغه زما حق په زوره اخيستل غوښتل. څه وخت وروسته زما يوه ملگري تليفون وكړ، او راته وې ويل ولې خفه يې؟ ما ورته وويل چې اوس يو شيطان راغلى وو، هغه زما دماغ خراب كړه. كله چې هغه ماته ډيرې ناوړه خبرې وكړې. لهذا پوښتنه دا ده چې د همدې الفاظو ويلو څه حكم دى؟ په دې الفاظو سره په نكاح باندې كوم اثر پريوځي او كه نه؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: امين الله، ابوظبي، يو-اې-اى ..۲۱ محرم الحرام ۱۴۰۳ هـ

الجواب: كه چيرته تا هغه كس ته د شيطان لفظ د هغه د ناوړه صفتونو او ناوړه اخلاقو له وجې ويلي وي؛ نو په دې صورت كې هيڅ حرج نشته. البته اينده د احتياط څخه كار اخله. ځكه چې بلا وجې يو چاته شيطان ويل صحيح نه دي (۳) او په نكاح باندې هيڅ اثر نه لوېږي. **وهوالموفق**

---

۱) (صحيح مسلم ۱:۵۸ كتاب الإيمان، باب بيان قول النبي ﷺ سباب المسلم فسوق)

۲) (الأشباه والنظائر ۱۸۸، كتاب الحدود والتعزير)

۳) قال الله تبارك وتعالى: وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ أي لا تداعوا بالألقاب، وهي التي يسوء الشخص بسماعها. (تفسير ابن كثير ۴:۲۶۸، سورة الحجرات، آيت نمبر ۱۱)

وقال المفتي محمود حسن الجنجوهي: *سوال:* چاته شيطان ويل څه حكم لري؟

الجواب حامداً ومصليا: كه څوک شيطاني كارونه كوي، بيا هم هغه ته شيطان ويل صحيح نه دي، فقط.

(فتاوى محمودية ۱۴:۱۱۴، باب التعزير)

د امام توهین او هغه ته د کنځل کوونکي حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې يو كس د خپل استاذ او امام سره په ناحقه جګړه وكړه، په عام محضر كې يې هغه ته د دله، ديوث او بې غيرته په شان الفاظ وويل او كنځل يې ورته وكړل او له دې سره له كور او كلي څخه د وباسلو اخطارونه يې هم وركړه، د اتلس كلونو امامت باوجود هغه له امامت څخه منعه كوي، دا په الهي قانون كې څومره عظيمه ګناه كيدلى شي چې د هغه څخه پيش امام ناراضه دى او د هغه د رضا كولو كوشش نه كوي او يو بې علمه او جاهل انسان راولي او په مصلى باندې دروي او هغه هم له دې وجې چې هغه د خان صاحب هم نظرى دى. نو شرعي حكم په دې صورت كې څه دى؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي: عبد الله، پشاور ۱۸/ ستمبر ۱۹۷۹ع

الجواب: هر مسلمان ته خصوصا د امام توهين او كنځل حرام دي، **لحديث: وأن تحقر أخاك (مشكوة)** (۱) **لحديث: سباب المسلم فسوق (رواه مسلم)** (۲) پس په دغه كس باندې ضروري ده چې د الله تعالى څخه معافي وغواړي او همدغه امام صاحب راضي كړي (۳) **وهوالموفق.**

---

۱) عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: ...بحسب امرء من الشر أن يحقر أخاه المسلم. (مشكوة المصابيح ۴۲۲، باب الرحمة على الخلق)

۲) (صحيح المسلم ۱:۵۸ كتاب الإيمان، باب بيان قول النبي ﷺ: سباب المسلم فسوق)

۳) قال العلامة النووي رحمه الله تعالى: أن لها (التوبة) ثلثة أركان، الإقلاع والندم على فعل تلك المعصية والعزم على أن لا يعود إليها أبداً، فإن كانت المعصية لحق آدمي فلها ركن رابع وهوالتحلل من صاحب ذلك الحق... واتفقوا على أن التوبة من جميع المعاصي واجبة. (حاشية النووي على صحيح المسلم ۲:۳۵۴، كتاب التوبة)

د خسر اینګور وهل او په ناوړه کنځل کولو سره د نکاح ماتېدو مسئله

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زما خسر ماته ناوړه ناوړه کنځل کوي چې ستا د اندام وینځلو ..... د تناسل آله ..... او زما غاړه یې هم وخنډل، ایا د داسې ناوړه الفاظو په اورېدو باندې زما په خسر باندې کوم حد جاري کیږي او که نه؟ ایا په دې الفاظو سره زما نکاح نه فاسدیږي؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي نامعلوم

الجواب: دغه کس د کنځل کولو له وجې فاسق دی، **قال رسول الله ﷺ: سباب المسلم فسوق** (۱) او په هغه باندې توبه کول ضروري دي. (۲) لیکن باوجود ددې نکاح ته هیڅ نقصان نه رسیږي **وهوالموفق**

خواښې ته د فحش کنځل په کولو سره د نکاح او د ایمان ختمیدو مسئله

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې اورنګزیب د خپلې ښځې مور ته په عام مجلس کې داسې وویل چې زه له تا سره د ښځې په شان عمل وکړم او ستا ټول اولاد زما دی نو آیا (۱) دا انسان په محمدي ﷺ شریعت کې مسلمان پاتې کیدی شي؟

(۲) آیا د داسې کس په ایمان کې فرق نشي راتلی؟

(۳) په محمدي ﷺ شریعت کې د داسې الفاظو په ویونکي باندې څه حد شته؟

(۴) آیا د هغه ښځه هغه ته حلاله پاتې کېدی شي. یعني نکاح یې څنګه ده؟

---

۱) (صحیح البخاري ۲:۸۹۳، کتاب الأدب، باب ما ینهی عن السباب واللعن)

۲) قال الله تبارک تعالی: یَاأَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَی اللَّهِ تَوْبَةً نَصُوحًا.

(سورة التحریم آیت ۸)

(۵) د همداسې الفاظو ویونکی فاسق دی که ګنهګار، د همدې دوه خبرو په شریعت کې څه حکم دی؟

(۶) ایا د اورنګزیب لپاره مناسبه وه چې هغه خپلې خوابنې ته وویل ستا تول اولاد زما دي، په داسې حال کې چې خوابنې د مور حیثیت لري. نو د کومې لور سره یې چې نکاح شوې ده. د هغې لپاره د داسې الفاظو په ویلو سره بنځه ترې فارغیږي او کنه؟ د هرې پوښتنې جلا جلا ځواب ولیکئ؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي محمد اشرف

الجواب: (۱) هو مسلمان دی[۱]

(۲) نه پریوځي

(۳) ترک موالاة او تعلقات[۲]

(۴) صحیح ده.

(۵) ترک موالاة او تعلقات[۳]

(۶) قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: سباب المسلم فسوق (رواه مسلم) [۴] د همدې حدیث په بناء دا کس فاسق دی، په هغه باندې توبه کول او د خوابنې رضا کول

---

۱) قال الإمام أبوحنيفة رحمه الله تعالى: ولا نكفر مسلماً بذنب من الذنوب وإن كانت كبيرة إذا لم يستحلها ولانزيل عنه اسم الإيمان.
(الفقه الأكبر ۷۱، الكبيرة لا تخرج المؤمن عن الإيمان)

۲، ۳)وفي المرقاة: قال الخطابي: رخص للمسلم أن يغضب على أخيه ثلاث ليال لقلته ولا يجوز فوقها إلا إذا كان الهجران في حق من حقوق الله تعالى فيجوز ...فإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة على مرّ الأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق.
(مرقاة المفاتيح ۹:۲۶۲، باب ما ينهى عن التهاجر والتقاطع)

۴) (صحيح المسلم ۱:۵۸، كتاب الإيمان، باب بيان قول النبي صلى الله عليه وسلم: سباب المسلم فسوق وقتاله كفر)

ضروري دي (۱)، لیکن د هغه ایمان او نکاح ته نقصان نه رسیږي یعنې دواړه باقي دي. **وهوالموفق**

خور ته د کنځل کوونکي او د هغې اولاد ته د حرامي ویونکي حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې مسمی (محمد صابر) خپلې سکنی خور ته ناروا الفاظ په دې ډول وویل چې ته یوه بازاري ښځه یې، ستا ځواني لونه هم بازاري ډي او باقي څومره اولاد مو چې دی هغه حرامیان دي. بلکې له دې یې هم سخت الفاظ استعمال کړه او څو کسان په دې موقع شاهدان هم دي. لهذا په دې باره کې حکم صادر کړئ؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي نامعلوم ۱۹۷۵ع/۸/۳۰

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط دا کس (محمد صابر) فاسق دی، **قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: سباب المسلم فسوق، (رواه مسلم)** (۲) په هغه باندې ضروري ده چې د الله تعالی څخه معافي وغواړي، خور او خفه خپلوان هم راضي کړي. (۳) **وهوالموفق**

---

۱) فی المرقاة: والتوبة فی الشرع :ترک الذنب لقبحه، والندم علی ما فرط منه، والعزيمة علی ترک المعاودة، وتدارک ما أمکنه أن يتدارک من الأعمال بالإعادة...وزاد النووی إن کان الذنب متعلقاً ببنی آدم فلها شرط آخر وهو ردّ المظلمة إلی صاحبها أو تحصيل البراءة منه. (مرقاة المفاتيح ۵:۱۲۲، کتاب الدعوات ،باب الاستغفار والتوبة)

۲)(صحيح المسلم ۱:۵۸ کتاب الإيمان ،باب بيان قول النبي ﷺ: سباب المسلم فسوق)

۳) قال العلامة النووي رحمه الله تعالیٰ :قال العلماء :التوبة واجبة من کل ذنب... وإن کانت المعصية تتعلق بآدمي فشروطها أربعة ،هذه الثلاثة، وأن يبرأ من حق صاحبها ...وإن کانت حد قذف ونحوه مکنه منه أوطلب عفوه.
(رياض الصالحين ۳۴، باب التوبة)

د زنا په تهمت باندې د شهادت نه وړاندې کوونکي کس حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې شمس الرحمن خپلې ناسکه خور ته کنځل وکړل، د شريعت له مخې د هغه څه حکم دی؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي عبد الرحمن، چکوټه، آزاد کشمير ۷۷ع/۱۰/۳۰

الجواب: که چيرته له کنځل کولو څخه زنا مراد شي؛ نو د څلورو معتمدو شاهدانو د نه قائمولو وروسته دي مسلمانان واکمن هغه ته سزا ورکړي (۱) او عوام الناس او علماء دي د هغه سره بيخي تعلقات ختم کړي (۲) **وهوالموفق**

خپلې ښځې ته ستا له مور او خور سره عقد وکړم او د نورو کنځلو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زيد خپلې منکوحې ته په غصه کې په دې الفاظو سره کنځل وکړل چې زه ستا له مور سره عقد وکړم ستا له خور او وغيره سره، دا الفاظ هغه په ډک مجلس کې وويل، د

---

۱) قال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالى :الزنا يثبت بالبينة...فالبينة أن تشهد أربعة من الشهود على رجل أوامرأة بالزناء بقوله تعالى :فَاسْتَشْهِدُوا عَلَيْهِنَّ أَرْبَعَةً مِّنكُمْ، وقال الله تعالى : ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ...وإذا وجب الحد وكان الزاني محصناً رجمه بالحجارة حتى يموت. (الهداية ۲:۵۰۹، كتاب الحدود)

قال الله تبارك وتعالى :وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَٰتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَٰنِينَ جَلْدَةً وَلَا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَٰدَةً أَبَدًا وَأُولَٰٓئِكَ هُمُ الْفَٰسِقُونَ.

(سورة النور آيت ۴ ، پاره نمبر ۱۸)

۲) في المرقاة :فإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة على مرّ الأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع الى الحق.

(مرقاة المفاتيح ۹:۲۶۲، باب ما ينهى عنه من التهاجر والتقاطع واتباع العوارت)

هغه د ښځې وينا ده چې هر کال په رمضان کې په ما خوراک پخوي او خوري يې او که چيرته انکار وکړم نو کنځل کوي او وهل کوي، شريعت مطهره د هغه لپاره څه حکم کوي؟ د هغه د اسلام او نکاح په باره کې څه وايي؟ مسلمانانو ته له هغه سره راشه درشه ساتل پکار دي او که نه؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: نامعلوم..۱۹؛ شوال ۱۴۸۵هه

الجواب: دا کس فاسق او فاجر دی، (۱) خو کافر نه دی، (۲) د هغه نکاح باقي ده او په هغه باندې د جنازې لمونځ صحيح دی. **لأن الكفر هو تكذيب الضروريات (۳) الخ، وهوالموفق**

خسر ته د بيهوده او فحش کنځل کوونکي حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس خپله ښځه ووهله او کنځل يې ورته وکړه. هغه تنګه شوه او د خپل پلار کور ته لاړه، څه ورځې وروسته پلار هغه د خپل زوم کور ته راوستل او زوم ته يې وويل چې دا مه وهه او مه يې تنګوه، په دې وخت کې زوم خپل خسر ته ډير بيهوده او فحش کنځل وکړه کوم چې يو کمزوري انسان ته هم کول پکار نه دي.

---

۱) عن عبد الله بن مسعود رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: سباب المسلم فسوق وقتاله كفر، متفق عليه.
(مشكوة المصابيح ۴۱۱، باب حفظ اللسان والغيبة والشتم)

۲) في شرح العقائد: والكبيرة لاتخرج العبد المؤمن من الإيمان ولاتدخله في الكفر.
(شرح العقائد ۸۲)

۳) في مجموعة قواعد الفقه: الكفر لغة: الستر ويقابله الشكر، وشرعاً: هو تكذيب النبي ﷺ (نعوذ بالله) في شئ مما جاء به من الدين ضرورة. (مجموعة قواعد الفقه: ۴۴۵)

د دغه کس لپاره شرعًا څه حکم دی؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي: مولوي عزيز الرحمن، خطيب جامع مسجد، کوهاله، براسته کوه مري ۱۹۷۰ع/ ۱۱/ ۵

الجواب: دا کس فاسق دی، په ده باندې ضروري ده چې خسر رضا کړي او توبه وباسي(۱) قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: **سباب المسلم فسوق.(رواه مسلم)(۲) وهوالموفق**

رشته دارو ته د تکلیف رسوونکي او کنځل کوونکي حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې یو کس خپل سکني د تره زوی ته وویل چې ته زما تیکه یې، ددې سره سره یې د خپل نیکه ښځې ته هم کنځل وکړه، دا ټوله معامله د شاهدانو په موجودګۍ کې شوې وه، لهذا د همداسې کس لپاره په شرع کې څه حکم دی؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي: محمد جاوید، پشاور، ۱۹۷۳ع/ ۵/ ۷

الجواب: چونکې مسلمان خصوصا رشته دار ته تکلیف رسول او کنځل کول فسق دی، لحدیث: **سباب المسلم فسوق وقتاله کفر(۳) وحدیث: المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده(۴) وحدیث: کل المسلم علی المسلم حرام دمه وماله وعرضه**

---

۱) في المرقاة: والتوبة في الشرع: ترک الذنب لقبحه، والندم على ما فرط منه، والعزيمة على ترک المعاودة، وتدارک ما أمكنه أن يتدارک...وزاد النووي وقال: إن كان الذنب متعلقًا ببني آدم فلها شرط آخر وهورد المظلمة إلى صاحبها أو تحصيل البراءة منه. (مرقاة المفاتيح ۵:۱۲۲، كتاب الدعوات، باب الاستغفار والتوبة)

۳،۲) (صحيح مسلم ۱:۵۸، كتاب الإيمان، باب بيان قول النبي صلى الله عليه وسلم سباب المسلم فسوق وقتاله كفر)

۴) (صحيح البخاري ۲ كتاب الرقاق، باب الانتهاء عن المعاصي)

(رواه مسلم)[١]، لهذا په دغه کس باندې ضروري ده چې د الله تعالى څخه معافي وغواړي او له همدې رشته دار څخه هم معافي وغواړي [٢]، **وهوالموفق**

خوښينې او خسر ته د کنځل کوونکي حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو سړي خپلې خوښينې ته وويل چې زه به ستا مور داسې وکړم او ډير فحش کنځل يې ورته وکړل. خسر ته يې هم ډير فحش کنځل وکړل او بې عزتي يې وکړه د دغه لپاره شرعي حکم څه دی؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي: محمد سليمان بمعرفت مولوي عبد اللطيف بزاز ١٩٧٢ء/ ٦/١٢

الجواب: د مستفتي د صدق په شرط دا کس فاجر دی، **قال رسول الله ﷺ: سباب المسلم فسوق([٣]) المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده([٤]) أوكما قال.** لهذا په دغه باندې ضروري دي چې توبه وکړي او له همدې کسانو معافي وغواړي [٥] که نه

---

١) (صحيح المسلم ٢:٣١٧، كتاب البر والصلة، باب تحريم ظلم المسلم وخذله)

٢) في المرقاة: والتوبة في الشرع: ترك الذنب لقبحه، والندم على ما فرط منه، والعزيمة على ترك المعاودة، وتدارك ما أمكنه أن يتدارك... وزاد النووي وقال: إن كان الذنب متعلقاً ببني آدم فلها شرط آخر وهورد المظلمة إلى صاحبها أو تحصيل البراءة منه.

(مرقاة المفاتيح ٥:١٢٢، كتاب الدعوات، باب الاستغفار والتوبة)

٣) (صحيح المسلم ١:٥٨، كتاب الإيمان، باب بيان قول النبي ﷺ سباب المسلم فسوق)

٤) (صحيح البخاري ٢ كتاب الرقاق، باب الانتهاء عن المعاصى)

٥) قال العلامة النووي رحمه الله تعالى: وإن كانت المعصية تتعلق بآدمي فشروطها أربعة، هذه الثلاثة، وأن يبرأ من حق صاحبها... وإن كانت حد قذف ونحوه مكنه منه أوطلب عفوه... ويجب أن يتوب من جميع الذنوب. (رياض الصالحين ٣٤، باب التوبة)

نو په هر مسلمان باندې ضروري ده چې له ده سره غیر ضروري معاملات پریږدي (۱) وهوالموفق

خواښې ته کنځل کوونکي باندې د ښځې حرامېدو مسئله

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس د جګړې په وخت خپلې خواښې ته دا الفاظ وويل چې (له تا سره مې زنا کړې ده، او ما د نکاح مخکې ستا سره زنا کړې، زما ستا سره ناروا تعلقات وو؟ خسر چې کله په هغه باندې د خپلې لور د حرمت دعوه وکړه نو هغه وويل چې خواښې ماته دا وويل چې اې زاني؛ تا اوس زنا وکړه او راغلى يې، ته فساد خپروې، ماته په دې باندې غوسه راغله؛ نو په خواب کې ما داسې الفاظ وويل چې ما له تا سره زنا کړې ده او له دې پرته نور الفاظ ما نه دي ويلي. د مدعى دعوه بالکل دروغ ده، آيا په دې الفاظو باندې سره ښځه حرامېږي او که نه؟ اميد دى چې د مسئلې وضاحت وکړئ؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي: نامعلوم

الجواب: د صدق په شرط په دغه کس باندې خپله ښځه حرامه شوې نه ده، څکه چې دده له انکاري کېدو پرته دا کلمات د غوسې (سبّ) په ډول استعمال شوي، **في الهندية ۱: ۲۹۲: لوأقر بحرمة المصاهرة يؤاخذ به ويفرق بينهما وكذلك إذا أضاف ذلك الى ما قبل النكاح بأن قال لامرأته كنت جامعت أمك قبل نكاحك يؤاخذ به ويفرق بينهما، والاصرار على هذا الاقرار ليس بشرط حتى لو رجع عن ذلك وقال كذبت فالقاضي لايصدقه لكن فيما بينه وبين الله تعالى ان كان كاذبًا فيما أقر**

---

۱) في المرقاة: فإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة على مرّ الأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق.

(مرقاة المفاتيح ۹: ۲۶۲، باب ما ينهى عنه من التهاجر والتقاطع)

لاتحرم علیه امرأته،(١) انتهی باختصار یسیر، قلت والأخیر هو فریضة المفتي(٢) له دې معلومه شوه چې له اقرار وروسته رجوع دیانةً منظوره ده، (٣) نو د امر له ابتداء څخه انکار کول په طریقه اولی منظور کېدی شي **فقط والسلام**

مسلمان نه د کافرمشرک سیک،او له نیا سره نکاح کوم ددې الفاظو ویونکي حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې یو مسلمان په عام مجلس کې د امام پر وړاندې وویل چې زه تن له خپلې نیا سره نکاح کوم، بیا یې له همدې سره سره وویل چې زما د تره زوی سیک دی. کافر دی او غیر مسلم دی او دا یې هم وویل چې تاسو هم ټول مسلمان نه یاست. کافر مشرک او سیکان یاست. ددې انسان لپاره شرعي حکم څه دی؟ او له هغه سره د تعلقاتو ختمول څنګه دي؟ **بینوا توجروا.**

المستفتي: نامعلوم ۶۹ع ۱۳/۱۰

الجواب: د صدق په شرط دا کس فاسق او فاجر دی، **قال رسول الله صلی الله علیه وسلم:**

---

١) (فتاوی هندیة ٢٧٨: ١، الباب الثالث في بیان المحرمات)

٢) قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: المراد من قولهم یدین دیانة لا قضاءً أنه إذا استفتی فقیها یجیبه علی وفق مانوی، ولکن القاضي یحکم علیه بوفق کلامه ولایلتفت إلی نیته إذا کان فیما نوی تخفیف علیه.

(فتاوی تنقیح الحامدیة ٣: ١، قبیل کتاب الطهارة)

٣) ویدل علیه ما في شرح المجلة: لوأقر بالطلاق بناء علی إفتاء المفتي ثم تبین عدم الوقوع لم یقع یعنی دیانة، أما بین یدي القاضی فلا یصدق في البناء المذکور.

(شرح المجلة ٦٣٨: ٤، المادة نمبر ١٥٨٨)

سباب المسلم فسوق(۱)، بلکې په هغه باندې د کفر او زندیقیت خطر دی. (۲) لهذا د هغه سره دې تعلقات ختم شي،ترڅو توبه وباسي او پښېمانه شي(۳) وهوالموفق

مسلمان ته بې وجې د فاسق او فاجر ویونکي حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې که چيرته يو کس بل مسلمان ته له کومې وجې يا بلا وجې فاسق او فاجر ووايي، نو د داسې انسان متعلق څه حکم دی؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: از دفتر الحق، دارالعلوم حقانيه

الجواب: دا کس فاسق او د تعزير لائق دی. قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سباب المسلم فسوق (رواه مسلم)(۴) وفي الدر المختار: ويقذف مسلم بيا فاسق الاأن يكون

---

۱)(صحيح المسلم۵۸: ۱كتاب الإيمان،باب بيان قول النبي ﷺ سباب المسلم فسوق)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى :وعزر الشاتم بيا كافر، وهل يكفر إن اعتقد المسلم كافراً؟ نعم! وإلا لا،به يفتى شرح وهبانية. (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وفي الذخيرة :المختار للفتوى أنه إن أراد الشتم ولا يعتقده كفراً لايكفر، وإن اعتقده كفراً فخاطبه بهذا بناء على اعتقاده أنه كافر يكفر لأنه لما اعتقد المسلم كافراً فقد اعتقد دين الإسلام كفراً.

(رد المحتار ۳:۲۱۰، باب التعزير)

۳) قال الملا علي قاري رحمه الله تعالى :قال الخطابي : رخص للمسلم أن يغضب على أخيه ثلاث ليال لقلته ولا يجوز فوقها إلا إذا كان الهجران في حق من حقوق الله تعالى فيجوز...فإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة على مرّ الأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق.

(مرقاة المفاتيح ۹:۲۶۲، باب ما ينهى عن التهاجر والتقاطع)

۴)صحيح المسلم۵۸: ۱كتاب الإيمان،باب بيان قول النبي ﷺ سباب المسلم فسوق)

معلوم الفسق كمكاس مثلا أو علم القاضي بفسقه لأن الشين قد ألحقه هو بنفسه قبل قول القاتل (فتح)(١) ليکن واضحه دې وي چې په موجوده وخت کې زیاتره مسلمانان ډیره تراش کوي کوم چې بلا شک او شبه فاسقان دي. (٢)لهذا داسې کسانو ته فاسق ویل موجب فسق او موجب تعزیر نه دي (٣) فقط

بې څه وجې امام ته د مور او خور کنځل کول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس خپل امام ته د خلکو پر وړاندې د مور او خور کنځل وکړي، حالانکې د جومات په امام کې هيڅ شرعي قصور نه و، په شريعت مطهره کې د داسې کس څه حکم دی؟ **بينوا توجروا.**

المستفتی: قاري عبد المالک، خطيب جامع مسجد، مظفر اباد. ١۴/رجب ١٣٩٠ھ

الجواب: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: **سباب المسلم فسوق(۴)** د همدې حدیث په بناء دا کس فاسق دی، د هغه لپاره ضروري ده چې توبه وکړي او له امام څخه معافي هم وغواړي (٥) فقط

---

١) (الدر المختار ٣:٢٠٠، باب التعزير)

٢) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: إن الأخذ من اللحية وهي دون القبضة كما يفعله بعض المغاربة ومخنثة الرجال لم يبحه أحد وأخذ كلها فعل يهود الهنود ومجوس الأعاجم، فحيث أدمن على فعل هذا المحرم يفسق.
(فتاوى تنقيح الحامدية ١:٣٥١، كتاب الشهادة)

٣) في التاتارخانية: وإذا قال لفاسق يا فاسق أوقال للص يا لص فلاشيئُ عليه.
(فتاوى تاتارخانية ٦:۴١٠، كتاب الحدود، الفصل الثامن في التعزير)

۴) (صحيح البخاري ٢:٨٩٣، كتاب الأدب، باب ما ينهى عن السباب واللعن)

٥) في شرح الفقه الأكبر: التوبة في الشريعة: هي الندم على معصية...وإن كانت عما فرط فيه من حقوق الله تعالى كصلاة وصيام..... (باتي حاشيه په بل مخ)

مسلمان ته کنځل کوونکي کس ته د تعزير ورکولو مسئله

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې مسمی رضاء الرحمن کوم چې زما کوچنی سکنی ورور دی، زما ښځې ته يې داسې ناوړه کنځل وکړه د کومو د ليکلو چې تهذيب اجازه نه کوي. د هغه دې لپاره استدعاء ده چې براه کرم د يوه داسې عاقل بالغ مسلمان لپاره په اسلامي شريعت کې څه تعزير دی؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي :نامعلوم

الجواب: مسلمان ته کنځل کول فسق دی، **لحديث : سباب المسلم فسوق (رواه مسلم)**[1]، پس په کنځل کوونکي باندې ضروري ده چې د الله تعالی څخه معافي وغواړي او ستاسو ښځه هم رضا کړي [2] **وهوالموفق**

د چا له مينې سره د غير فطري عمل کوونکي کنځل کوونکي حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زما په فصل

(د حاشيې پاتې برخه) .... وزكاة فتوبته أن يندم على تفريطه...وإن كانت عما يتعلق بالعباد ... فإن كانت المظالم في الأعراض كالقذف والغيبة فيجب في التوبة فيها مع ما قد مناه في حقوق الله تعالى أن يخبر أصحابها بما قال من ذلك ويتحلل منهم... فإذا حللوه سقط عنه ما وجب عليه لهم من الحق.

(شرح الفقه الأكبر ١٥٧ ،بحث التوبة)

١)(صحيح المسلم ٥٨ : ١ كتاب الإيمان ،باب بيان قول النبي ﷺ سباب المسلم فسوق)

٢) في حاشية صحيح البخاري :التوبة :وهي في الشرع : ترك الذنب لقبحه، والندم على ما فرط منه، والعزم على ترك المعاودة، وتدارك ما أمكنه أن يتدارك من الأعمال بالإعادة، وردّ المظلمات لذويها أوتحصيل البراءة منهم.

(حاشية صحيح البخاري ٩٣٣ : ٢، كتاب الدعوات ،باب التوبة)

کې د زید بزې تښوتلې وې، ما منعه کړې نو هغه کنځل وکړل او زما له میښې سره یې د غیر فطري عمل کول تکرار کړی، د داسې کس څه حکم دی؟ **بینوا توجروا.**

المستفتي: عزیز، مظفر آباد، مری

الجواب: دا کس د همدې کنځلو او فحش ویلو له وجې مجرم او ګنهګار دی.

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: سباب المسلم فسوق (رواه مسلم)[۱] په هغه باندې ضروري ده چې د الله تعالی څخه او له همدې مسلمان څخه معافي وغواړي[۲]. **وهوالموفق**

په کنځل کولو سره له میراثه محرومه کېدل یا د نفقې او د جنازې لمانځه اهلیت نشي باطل کېدی

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې

۱: تقریبا له لسو کلونو راهیسې زما میرمن نافرمانه ده.. د نصیحت باوجود منعه نشوه او هر وخت کنځل کوي. آیا په هغې باندې میره مصرف وکړي؟ او د میره په ذې کې هیڅ قصور هم نشته او آیا د هغې حج کېدلی شي؟

۲: زما زوی واده کړی دی. هغه ماته کنځل کړي دي او د وهلو قصد یې هم کړی دی. داسې زوی د پلار د جایداد مستحق کېدلی شي او که نه؟ تردې پورې یې ویلي چې زما پلار ته د خوراک څښاک لپاره کوم شی مه ورکوئ.

---

۱) (صحیح المسلم ۱:۵۸ کتاب الإیمان، باب بیان قول النبي ﷺ سباب المسلم فسوق)

۲) قال النووي رحمه الله تعالی: والمراد بالتوبة هنا الرجوع عن الذنب وقد سبق في کتاب الإیمان أن لها ثلثة أرکان، الإقلاع والندم علی فعل تلک المعصیة والعزم أن لایعود إلیها أبداً، فإن کانت المعصیة لحق آدمي فلها رکن رابع وهوالتحلل من صاحب ذلک الحق... واتفقوا أن التوبة من جمیع المعاصي واجبة وأنها واجبة علی الفور.

(حاشیة النووي علی صحیح المسلم ۲:۳۵۴، کتاب التوبة)

۳: دويم هلک دی هغه موجود نه دی، ليکن د هغه ښځه زما سره بده ژبه چلوي، د هغې څه حکم دی؟ زه وايم چې هغه زوی دي زما په جنازه کې هم ګډون نه کوي، نو آيا دی زما په جايداد کې شريک کېدلی شي او که نه؟ او زما په هغه باندې حق شته او که نه؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: قاری عبد الجليل ... ۱۴۰۱ع/۷/۲۶.

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط دا ښځه فاسقه ده، **لحديث: سباب المسلم فسوق (رواه مسلم)**[1] البته د عدم نشوز له وجې د نفقې مستحقه ده، [2] او د عدم کفر له وجې د هغې لمونځ، حج او روژه قبولې دي [3]

(ب) کنځل کول د فسق موجب دي، [4] ليکن په دې سره حرمان ميراث او د جنازې لمانځه عدم اهليت نه لازميږي. **وهوالموفق**

د عالم لخوا يو چا ته مرتد ويل او د هغه پسې د لمانځه کولو مسئله

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې (۱) که چېرته

---

۱) (صحيح المسلم ۱:۵۸ کتاب الإيمان، باب بيان قول النبي ﷺ سباب المسلم فسوق)

۲) وفي الهندية: تجب على الرجل نفقة امرأته المسلمة والذمية...وإن نشزت فلا نفقة لها حتّى تعود إلى منزله.

(فتاوى هندية ۱:۵۴۴، كتاب النكاح، الباب السابع عشر في النفقات)

۳) وفي شرح الفقه الأكبر: إن الله لايضيع أجر المؤمنين بل يقبلها منه أی بفضله وكرمه. (الفقه الأكبر: ۷۸، الطاعات بشروطها مقبولة)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: لأن الكبيرة لا تزيل الطاعة.

(رد المحتار ۳:۳۳۱، باب المرتد، مطلب لو تاب المرتد هل تعود حسناته)

۴) عن عبد الله رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: سباب المسلم فسوق وقتاله كفر. (صحيح البخاري ۲:۸۹۳، كتاب الأدب، باب ما ينهى عن السباب واللعن)

یو عالم کوم مسلمان ته مرتد ووایي، نو په شریعت کې دا عالم څه حکم لري؟
(۲) او آیا د همدغه عالم پسې لمونځ کیږي؟ او له هغه سره د خلکو چلند څه ډول پکار دی؟ له هغه سره خبرې اترې راشه درشه ساتل پکار دي او که نه؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي: محمد اجمل، ضلع اټک. ۲۸/رمضان ۱۴۱۰ هـ

الجواب: (۱) که چیرته په دغه کس کې کفریات یا شرکیات موجود نه وي؛ نو هغه ته مرتد ویل کبیره ګناه ده (۱)
(۲) که چیرته په دغه کس کې کفریات او شرکیات موجود وي؛ نو په دغه کس باندې توبه ضروري ده (۲) او د تینګار په وخت کې له هغه سره په غم او ښادی کې پریکون ضروري دی (۳) او که چیرته معامله برعکس وه؛ نو په دغه عالم باندې وایسي ضروري ده او د تینګار په وخت کې ورسره پریکون ضروري دی (۴)، لیکن د هغه پسې اقتداء صحیح دی **وهوالموفق.**

---

۱) عن أبي ذر رضي الله تعالیٰ عنه أنه سمع النبي ﷺ يقول: لا يرمي رجل رجلًا بالفسوق ولا يرميه بالكفر إلّا ارتدت عليه إن لم يكن صاحبه كذلک.
(صحيح البخاري ۲:۸۹۳، كتاب الأدب، باب ما ينهي عنه من السباب واللعن)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالیٰ: واعلم كل مسلم ارتد فإنه يقتل إن لم يتب ...ما يكون كفر اتفاقًا يبطل العمل...وما فيه خلاف يؤمر بالاستغفار والتوبة وتجديد النكاح. (الدر المختار ۳:۳۲۶ باب المرتد)

۳) قال الملاعلي قاري رحمه الله تعالیٰ: قال الخطابي: رخص للمسلم أن يغضب على أخيه ثلاث ليال لقلته ولايجوز فوقها إلّا إذا كان الهجران في حق من حقوق الله تعالیٰ فيجوز فوق ذلک...فإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة على مرّالأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق.
(مرقاة المفاتيح ۹:۲۶۲، باب ما ينهى عنه من التهاجر والتقاطع)

د کنځلمار توبه نه ویستلو سره د ترک موالات مسئله

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زه د جامع جومات امام یم. مستري محمد عارف په شيطاني چال چلند کې مشکوک ومونډل شو. عزتمندو خلکو ماته راووست. هغه خپله غلطي ومنل پر سمه لار د پابندی اقرار يې وکړو. بيا ما هغه ته وويل چې ته د چا په اشاره باندې چليږې؟ هغه د څو کسانو نومونه واخيستل. ما د هغو له چال چلند او د هغوی په خبرو باندې له عمل کولو منعه کړ. بيا هماغه څو کسان له ما څخه سخت ناراضه شول. زما خلاف يې پرپاګند شروع کړو او بيهوده خبرې يې وکړې. کومې چې د ليکلو وړ نه دي. زما پسې يې لمونځ او جنازه پرېښودل. د داسې کسانو په باره کې د قرآن او احاديثو په رڼا کې څه حکم دی؟ له هغوی سره ترک موالات څنګه دی؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي فضل حق. ببرک

الجواب: **قال رسول الله ﷺ: سباب المسلم فسوق وقتاله كفر**(۱) د همدې حديث په بناء دغه کسان کوم چې کنځل کوونکي دي خصوصاً امام عالم ته د کنځل کولو په وجه فاسقان دي، په عامو مسلمانانو باندې ضروري ده چې له دوی سره ترک موالات وکړي، ترڅو توبه وباسي او پښېمانه شي (۲) **وهوالموفق**

---

۱) (صحيح المسلم ۱:۵۸ كتاب الإيمان ،باب بيان قول النبي ﷺ سباب المسلم فسوق)

۲) في المرقاة :قال الخطابي : رخص للمسلم أن يغضب على أخيه ثلاث ليال لقلته ولا يجوز فوقها إلا إذا كان الهجران في حق من حقوق الله تعالى فيجوز فوق ذلك...فإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة على مر الأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق .(مرقاة المفاتيح ۹:۲۶۲، باب ما ينهى عنه من التهاجر والتقاطع واتباع العورات)

نیکه ته کنځل کوونکي، د امام الحی توهین کوونکي او په دروغو د قسم خوړونکو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو تعليم يافته کس د هوش په حالت کې خپل نيکه ته کنځل وکړهل. په شريعت کې د دغه کس څه حکم دی؟

(۲) دويم کس د جومات د امام توهين کوي. د دغه کس لمونځ په دغه امام پسې کيږي او که نه؟

(۳) يو کس د شاهدانو پر وړاندې له بل کس روپۍ واخيستلې. بيا په خپل مينځ کې ناراضه شول له روپيو څخه يې انکار وکړو. په عدالت کې يې په دروغو قسم وکړو. بيا په خپل منځ کې د رضا وروسته روپۍ واپس ورکړې. له دې معلومه شوه چې ده په دروغو قسم خوړلی و. د دغه کس څه حکم دی؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: مولوي اسحق، ضلع هزاره. ۱۵ شوال ۱۳۹۵هه

الجواب: کوم کس چې نيکه ته کنځل کوي (۱) يا د امام الحی توهين کوي (۲) يا په دروغو قسم کوي (۳) نو په دغه باندې د فاسق احکام جاري کيږي. په

---

۱) عن عبد الله بن مسعود رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: سباب المسلم فسوق وقتاله كفر.
(صحيح البخاري ۲:۸۹۳، كتاب الأدب، باب ما ينهى من السباب اللعن)

۲) عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: ...بحسب امرء من الشر أن يحقر أخاه المسلم، كل المسلم على المسلم حرام دمه وماله وعرضه.
(مشكوة المصابيح ۴۲۲، باب الشفقة والرحمة على الخلق)

۳) قال العلامة الذهبي رحمه الله تعالى: الكبيرة الخامسة والعشرون: اليمين الغموس، قال الله تعالى: إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا أُولَٰئِكَ لَا خَلَاقَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ اللهُ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ.
(الكبائر للإمام الذهبي رحمه الله تعالى ۱۱۴، الكبيرة الخامسة والعشرون)

هغه باندې ضروري ده چې توبه وکړي او نيكه او وغيره راضي كړي. (۱) باقي لمونځ د هغه صحيح دی، برابره خبره ده كه انفرادي وي او كه د همدغه خاص امام پسې وي. **وهوالموفق**

د ماما بې عزتي او كنځل كوونكي حكم

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې يو كس خپل ماما ته په عام محضر كې كنځل وكړه او د بې عزتي مرتكب شو، د هغه څه حكم دی؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي محمد يوسف، مكن كلان..۱۸/ ذی القعده ۱۳۹۵هد

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط دغه خوربې فاسق او فاجر دی، لقوله عَلَيْهِ السَّلَامُ: **سباب المسلم فسوق (مسلم)** (۲) په هغه باندې ضروري ده چې توبه وكړي له ماما څخه معافي وغواړي. (۳) **وهوالموفق**

---

۱) في شرح الفقه الأكبر :التوبة في الشريعة : هي الندم على معصية ...وإن كانت عما فرط فيه من حقوق الله تعالى كصلاة وصيام وزكاة فتوبته أن يندم على تفريطه...وإن كانت عما يتعلق بالعباد... فإن كانت المظالم في الأعراض كالقذف والغيبة فيجب في التوبة فيها مع ما قد مناه في حقوق الله تعالى أن يخبر أصحابها بما قال من ذلك ويتحلل منهم...فإذا حللوه سقط عنه ما وجب عليه لهم من الحق.
(شرح الفقه الأكبر ۱۵۷ ،بحث التوبة)

۲)(صحيح مسلم۵۸: ۱كتاب الإيمان ،باب بيان قول النبي ﷺ سباب المسلم فسوق)

۳) قال العلامة النووي رحمه الله تعالى :قال العلماء : التوبة واجبة من كل ذنب ...وإن كانت المعصية تتعلق بآدمي فشروطها أربعة، هذه الثلاثة، وأن يبرأ من حق صاحبها ... وإن كانت حد قذف ونحوه مكنه أوطلب عفوه.
(رياض الصالحين ۳۴، باب التوبة)

خپل وروړ ته د خلکو پر وړاندې د سپک بچیه ویونکي حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء، کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زید خپل سکني وروړ بکر ته د دوه کسانو په وړاندې وویل چې ته د سپک زوی یې او درې څله یې همداسې الفاظ وویل. د دغه کس لپاره په محمدي ﷺ شریعت کې څه حکم دی؟ **بینوا توجروا**

المستفتي: عجب خان، کوهاله، براسته مری. ۱۴۰۰ هـ/ ۳/ ۱۳

الجواب: داسې کس فاسق او فاجر دی، [1] په هغه باندې ضروري ده چې د الله تعالی څخه معافي وغواړي او وروړ راضي کړي [2] **وهوالموفق**

....

۱) عن عبد الله بن مسعود رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: سباب المسلم فسوق وقتاله كفر.

(صحيح المسلم ۵۸: ۱ كتاب الإيمان ،باب بيان قول النبي ﷺ سباب المسلم فسوق)

۲) قال العلامة النووي رحمه الله تعالى: فإن كانت المعصية بين العبد وبين الله تعالى لاتتعلق بحق آدمي فلها ثلاثة شروط :أحدها :أن يقلع عن المعصية ،والثانى :أن يندم على فعلها، والثالث: أن يعزم أن لايعود إليها أبداً......و إن كانت المعصية تتعلق بآدمي فشروطها أربعة :هذه الثلاثة وأن يبرأمن حق صاحبها ......وإن كانت حدّ قذف ونحوه مكّنه منه أو طلب عفوه.

(رياض الصالحين :۳۳ ،باب التوبه)

الله الله

فتاوی فریدیه

نهم جلد

باب الوعد

باب الوعد

د وعدې پوره کول واجب دي که سنت؟

سوال: څه فرمايي دې علماء کرامو د دې مسئلې په باره کې چې له وعدې څخه کرځېدل او نوې وعده کول څنګه دي؟ بينوا توجروا

المستفتي مولوي عبدالغفور، راولپنډي ۲۷ ذي القعده ۱۳۹۴هـ

الجواب: وعده پوره کول واجب نه دي، البته مروت او سنت دي، **كما في الأشباه والنظائر ۳۰۸: وفي القنية: وعده أن يأتيه فلم يأته لا يأثم ولا يلزم الوعد إلا إذا كان معلقاً(١) وهو الموفق.**

له مجبورۍ پرته وعده خلافي کول ګناه او معصيت دی

سوال: څه فرمايي دې علماء کرامو د دې مسئلې په باره کې چې زيد د يو کس سره وعده وکړه چې کله تحصيلدار راشي نو فلانی ځمکه به ستا نوم ته نقل کړم. زما او ستا به مينځ کې قرآن ضامن دی.

---

١) (الأشباه والنظائر ۲۸۸، كتاب الحظر والإباحة)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: سئل فيما إذا وعد زيد عمروا أن يعطيه غلال أرضه الفلانية فاستعملها وامتنع من أن يعطيه من الغلة شيئا فهل يلزم زيدا شيئ بمجرد الوعد المزبور؟

الجواب: لا يلزم الوفاء بوعده شرعاً وإن وفي فبها ونعمت، والله سبحانه الموفق.
(فتاوى تنقيح الحامدية ۲:۳۵۲، مسائل وفوائد شتى من الحظر والإباحة)

د لسو کلونو راهیسې هغه وعده نه پوره کوي، د هغه څه حکم دی؟ **بینواتوجروا**.

المستفتي : فیض محمد، متهیان، مری. ۲۵/ جولائي ۱۹۷۹ء

الجواب: که چیرته دغه کس مجبور نه و؛ نو د وعده خلافی له وجې ګنهګار دی، لحدیث: اذاوعدأخلف(۱) وهوالموفق.

له قصد او ارادې پرته وعده خلافي کول

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې یو امام له مقتدیانو سره وعده وکړه چې زه به تر یو کال پورې امامت کوم، باقي ترڅو پورې چې حکومتي وظیفه نه وي پیدا شوې د امامت فرائض به ترسره کوم. امام صاحب ته په یوه کال کې دننه حکومتي وظیفه پیدا شوه. اوس هغه امامت پرېږدي او وعده خلافي کوي. د هغه لپاره د شریعت څه حکم دی؟ **بینواتوجروا**.

المستفتي : اهلیان بری کوټ شریف. ۷۶ء/ ۶/۶.

الجواب: که چېرته یې د همدې تحریر په وخت کې د وعده خلافی قصد او اراده نه درلوده؛ نو وروسته خلاف وعده کول خلاف اولی شول نه دا چې ګناه او معصیت دی. (۲) لحدیث عائشة رضي الله عنها، رواه

---

۱) (مشکوة المصابیح ۱۷، باب الکبائر وعلامات النفاق)

وفي مجمع بحار الأنوار :لادین لمن لاعهد له أی من لایفي بعهده بأن یغدر بغیر عذر شرعي. (مجمع بحار الأنوار ۷۱۴،باب العین مع الهاء)

وقال العلامة العیني رحمه الله تعالی :لأن خلف الوعد لا یقدح إلا إذا عزم علیه مقارنًا بوعده، أما إذاکان عازمًا ثم عرض له مانع أو بدا له رأی فهذا لم توجد فیه صفة النفاق. (عمدة القاري ۱:۲۲۱، کتاب الإیمان ،باب علامات المنافق)

۲) قال العلامة ابن نجیم رحمه الله تعالی :وعده أن یأتیه فلم یأته لا یأثم. (الأشباه والنظائر ۲۸۸، کتاب الحظر والإباحة)

الطبرانى(١) نعم! ايفاء العهد فرض، وكم فرق بين العهد والوعد(٢) وحديث آية المنافق محلوه على ما اذا قصد الإخلاف عند الوعد(٣) فافهم، وللتفصيل مقام آخر، وهو الموفق.

---

١) قال الحافظ ابن حجر رحمه الله تعالىٰ :لأن خلف الوعد لايقدح إلا إذا كان العزم عليه مقارنًا للوعد ،أما لو كان عازمًا ثم عرض له مانع أو بدا له رأى فهذا لم توجد منه صورة النفاق ،قال الغزالي في الإحياء وفي الطبراني في حديث طويل ما يشهد له ،ففيه من حديث سلمان ،إذا وعد وهو يحدث نفسه أنه يخلف.

(فتح الباري ١:٩٠، كتاب الإيمان ،باب علامات المنافق)

وعن زيد بن أرقم رضي الله تعالىٰ عنه عن النبي ﷺ : إذا وعد الرجل أخاه ومن نيته أن يفي فلم يف ولم يجئ للميعاد فلا إثم عليه.

(سنن أبي داؤد ٢:٦٨٢، كتاب الأدب ،باب في العدة)

٢) قال العلامة العيني رحمه الله تعالىٰ : .الوعد في الاصطلاح الإخبار بإيصال الخير في المستقبل ... قوله عاهد :من المعاهدة وهي المحالفة والمواثقة.

(عمدة القاري ١:٢٢٠، كتاب الإيمان ،باب علامات المنافق)

٣) قال العلامة القاري رحمه الله تعالىٰ :(وإذا وعد أخلف)وليس فيه ما يدل على وجوب الوفاء بالوعد لأن ذم الإخلاف انما هو من حيث تضمينه الكذب المذموم، إن عزم على الإخلاف حال الوعد لا أن طرأ له.

(مرقاة المفاتيح ١:١٢٦، كتاب الإيمان ،باب الكبائر وعلامات النفاق)

وقال العلامة العيني رحمه الله تعالىٰ :لأن خلف الوعد لا يقدح إلا إذا عزم عليه مقارنًا بوعده أما إذا كان عازمًا ثم عرض له مانع أوبدا له رأى فهذا لم توجد فيه صفة النفاق. (عمدة القاري ١:٢٢١، كتاب الإيمان ،باب علامات المنافق)

وعده خلافي كول د منافقينو نښه ده

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې كوم سړى وعده وكړي او ليكن هم وكړي او بيا له هغې وعدې مخالفت وكړي؛ نو د هغه څه حكم دى؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي نامعلوم ۹ جمادى الاولى ۱۴۰۳هـ

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط دغه كس د خلاف مروت مرتكب دى. كوم چې د منافقينو له نښانو څخه شمار شوى دى. **لحديث: إذا وعد أخلف (بخاري)**[۱] او د دغه كس حكم د نورو فاسقانو په شان شو[۲]، **والله أعلم.**

په وعده خلافي باندې په دنيا كې كومه مواخذه نشته

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې يو كس د مركې (جركې) پر وړاندې وويل چې زه نن د خپلې لور نكاح له خپل سكني وراره سره كوم. د خلكو پر وړاندې له دغه اقرار وروسته دغه كس د خپلې لور نكاح له بل چا سره وكړه. له شرعي حكم څخه مو خبر كړئ؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي حاجى محمد يوسف. پنډى. ۲۱ جولائى ۱۹۸۶ع

---

۱) (صحيح البخاري ۱:۱۰، كتاب الإيمان، باب علامات المنافق)

۲) أن عبد الله بن كعب قال سمعت كعب بن مالك يحدث حديثه حين تخلف عن رسول الله ﷺ في غزوة تبوك...ونهى رسول الله ﷺ المسلمين عن كلامنا أيها الثلاثة من بين من تخلف عنه قال فاجتنبنا الناس.

قال العلامة النووي رحمه الله تعالى: .وفي هذا هجران أهل البدع والمعاصي.

(صحيح المسلم ۲:۳۶۱، كتاب التوبة، باب حديث توبة كعب بن مالك وصاحبيه)

الجواب: د شرعي عذر پرته وعده خلافي کول او په دې کې مرسته کول منافقانه رویه ده. (۱) داسې کسانو ته الله تعالی په آخرت کې سزا ورکوي. (۲) په دنیا کې حکومت دوی ته شي نیولی. (۳) **وهوالموفق**

په عهد او وعده کې فرق او له دستخط وروسته د عهد نامې مخالفت کول

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې یو کس په عهد نامه باندې د عمل کولو دستخط کړی دی او بیا دوه څلور میاشتې وروسته یې له عمل کولو انکار کړی دی. هغه ته څه سزا ورکول پکار دي؟ خلکو ته د هغه سره کومه رویه غوره کول پکار دي؟ عهد نامه دا ده:

(۱) زه دهوش په حالت کې له جبراو زورپرته اقرارکوم چې دخپلې محلې دجومات لپاره هر وخت، په هر ځای کې په یوازې تن له قرباني ځخه به دریغ نه کوم

(۲) زه به پنځه روپۍ ماهانه زکوة، عشر او نور صدقات د سیرت کیمټۍ په

---

۱) عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: آية المنافق ثلث، إذا حدث كذب، وإذا وعد أخلف و إذا ائتمن خان.
(مشكوة المصابيح ١٧، باب الكبائر وعلامات النفاق)

٢) عن ابن عمر رضي الله تعالى عنهما أن رسول الله ﷺ قال: إن الغادر ينصب له لواء يوم القيمة فيقال هذه غدرة فلان بن فلان.
(سنن أبي داؤد ٢: ٣٧٩، باب في الوفاء بالعهد، كتاب الجهاد)

٣) قال العلامة ابن عابدين: سئل فيما إذا وعد زيد عمروا أن يعطيه غلال أرضه الفلانية فاستعملها وامتنع من أن يعطيه من الغلة شيئاً فهل يلزم زيدا شئ بمجرد الوعد المزبور؟

الجواب: لا يلزمه الوفاء بوعده شرعًا، وإن وفي فبها ونعمت.
(تنقيح الحامدية ٢: ٣٥٢، مسائل وفوائد شتّى من الحظر والإباحة)

بیت المال کې جمع کوم

(۳) د جومات امام به په پابندۍ سره د پنځو لمنځونو له آداء کولو سره سره ماشومانو ته درس هم ورکوي

(۴) د سيرت كيمتي به د ټولو اسلامي شرطونو پابنده وي

(۵) دسيرت كميتي به دمحلې دمستحقو افرادو دمرستې اوكفالت ذمه واره وي

(۶) زه به حتی الامکان د غم او خوشحالۍ په وخت په اسلامي روایاتو باندې عمل کوم

کوم کس چې عملا ددې شرطونو څخه سرغړونه وکړي هغه د شرعي قانون مطابق د مواخذې قابل دی او که نه؟ بینوا توجروا.

المستفتي غلام عرفان، ازدفترسيرت كميتي، بيروت... ۳۰ ربيع الاول ۱۳۹۰ھ

الجواب: په عهد او وعده کې فرق دی، **العهد هوالمواثقة بين الاثنين والوعد هوالاخبار عن ايثال الخير في المستقبل**(۱) او د عهد پوره کول فرض دي او د وعدې پوره کول مستحب دي او وعده خلافي کول مکروه دي، کله چې د لومړي سره د مخالفت کولو قصد او اراده وي او کله چې ابتداء د ایفا اراده وي نو په اینده کې مخالفت کول مکروه نه دي، په مذکوره صورت کې عهد نه دی، دا په ایجاب او قبول باندې موقوف نه دي، بلکې دا وعده ده او له قرائنو څخه معلومه شوې چې له ابتداء څخه د ایفا قصد او اراده موجوده وه لهذا به هغې کې کومه خاصه ګناه نشته. **ذهب الجمهور منهم أبوحنيفة والشافعي الى أنه يستحب الوفاء بالوعد استحبابًا مؤكدًا ويكره خلافه كراهة تنزيه لاتحريم**(۲) **ويحمل الحديث**

---

۱) قال العلامة العيني :الوعد في الاصطلاح الإخبار بإيصال الخير في المستقبل ...قوله عاهد من المعاهدة وهي المحالفة والمواثقة.

(عمدة القاري ۱:۲۲۰، كتاب الإيمان ،باب علامات المنافق)

۲) (عمدة القاري ۱:۲۲۱، كتاب الإيمان ،باب علامات المنافق)

عندهم على العزم على الخلاف حال الوعد فانه لاشك فی حرمته(١) قال العینی فی شرح البخاری: ویشهد لذلك ما رواه الطبرانی انی باسناد لا بأس به فی حدیث طویل من حدیث سلمان: اذا وعد وهو یحدث نفسه أنه یخلف (٢) الخ وبمعناه فی الأشباه والنظائر ۳۰۸(٣) وهوالموفق.

معاهده ماتول حرام دي

سوال: نستفتیکم فی هذه المسئلة: أن القوم تعاهدوا علی أمر خیر واکدوا العهد بالایمان، هَلْ یجوز نقض هذا العهد أم لا مع أن فی نقضه غالبًا فتح باب الفساد؟ بینوا توجروا.

المستفتي نامعلوم ۲۷/ جمادی الثانی ۱۴۰۴هـ

الجواب: الخلاف منه حرام لقوله تعالیٰ: أَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ(٤) وهوالموفق

---

١) قال الحافظ ابن حجر رحمه الله تعالیٰ:.لأن خلف الوعد لايقدح إلا إذا كان العزم عليه مقارنًا للوعد،أما لو كان عازمًا ثم عرض له مانع أو بدا له رأى فهذا لم توجد منه صورة النفاق. (فتح الباري ١:٩٠، كتاب الإيمان ،باب علامات المنافق)

٢) (عمدة القاري ١:٢٢١، كتاب الإيمان ،باب علامات المنافق)

وعن زيد بن أرقم رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ :إذا وعد الر-

وينوي أن يفي به فلم يف به فلا جناح عليه.

(سنن ترمذي ٢:٢٥٠، أبواب الإيمان ،باب ما جاء في علامة المناف

٣) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى :وفي القنية :وعده

(البحرالرائق :٢٨٨، كتاب الحظر والإباحة)

٤) (سورة المائدة :آيت نمبر ١)......(باتي حا-

له ناوړه رسمونو څخه د منعه کولو وعده کول بیا وعده خلافي کول او له همدې خلکو سره مخالفت کول

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې مونږ تقریبا ۱۵ یا ۲۰ د قوم مشرانو وعده وکړه چې زمونږ د قوم اجتماعي ناوړه رسمونه کوم چې شرعًا او رواجًا په مکروه او اسراف کې داخل دي، مونږ د قوم ټولو خلکو ته ددې هدایت کوو چې که چیرته عوام زمونږ سره په دغه کار باندې اتفاق ونه کړي: نو مونږ به د قوم له موجوده معتبرو خلکو سره ترک موالات کوو. دا عهد او وعده په جومات کې واخیستل شوه. اوس که چیرته په همدې نمایندګانو او معتبرانو کې یو څوک همدا عهد مات کړي، له عوامو سره په همدې ناوړه مراسمو کې ګډون وکړي او د وعدې څخه مخالفت وکړي نو د هغه څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتي سائین خان، باریان کیمپ هزاره

الجواب: له وعدې څخه مخالفت مکروه دی او خصوصًا په دغه حالت کې په مخالطت باندې د الهي مواخذې خطر شته، قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: آية المنافق ثلاث: اذا حدث كذب واذا وعد أخلف واذا أئتمن خان، متفق عليه(۱) وقال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لما وقعت بنو اسرائيل فى المعاصى فنهاهم علماؤهم فلم ينتهوا فجالسوهم فى مجالسهم وواكلوهم وشاربوهم فضرب الله قلوبهم بعضهم ببعض فلعنهم على لسان داؤد عَلَيْهِ السَّلَام، الحديث رواه الترمذي(۲)

(د حاشيې پاتې برخه) وقال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى :الخلف في الوعد حرام كذا في أضحية الذخيرة. (الأشباه والنظائر ۲۸۷، كتاب الحظر والإباحة)

۱) (مشكوة المصابيح: ۱۷، كتاب الايمان، باب الكبائر وعلامات النفاق)

۲) (سنن ترمذي ۲: ۳۶۵، أبواب تفسير القرآن، باب: ومن سورة المائدة)

وابوداؤد[1] لهذا همداسي كسانو ته واپس كيدل پكار دي. كنه نو له دوى سره هم د تعلق قطع كول روا دي[2] وهوالموفق

"كه چيرته زه وعده خلافي وكړم نو ټولې حلالې په ما باندې حرام" له ويلو وروسته د وعده خلافۍ حكم

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې يوه كس ليكلي دي كه چيرته زه وعده خلافي وكړم نو په ما باندې ټولې حلالې حرام دي، بيا كه چيرته همدغه كس وعده خلافي وكړي نو دغه ليكل نه مني. په شريعت كې د دغه كس څه حكم دى؟ بينوا توجروا

المستفتي محمد آزاد كشمير

الجواب: كه چېرته دغه كس واده نه وي كړى نو د يمين كفاره دې وركړي او كه چېرته واده يې كړى وي نو د حرمت جماع نيت يې هم كړى وي؛ نو نكاح دې تازه كړي او د يمين كفاره دې هم وركړي او كه چيرته د جماع له حرمت څخه خالي الذهن وي نو صرف د يمين كفاره دې وركړي، **لما في رد المحتار ۳: ۸۹، والحاصل أن المعتبر انصراف هذه الألفاظ عربية أو فارسية الى معنى بلانية التعارف فيه فان لم يتعارف سئل عن نيته؟**[3] **وهوالموفق.**

---

۱) (سنن أبي داؤد ۲:۵۹۶، كتاب الملاحم ،باب الأمر والنهي)

۲) قال العلامة السهار نفوري رحمه الله تعالى: .قال السيوطي والمراد حرمة الهجران إذا كان الباعث عليه وقوع تقصير في حقوق الصحبة والاخوة وآداب العشرة كاغتياب وترك نصيحة وأما ما كان من جهة الدين والمذهب فهجران أهل البدع والأهواء واجب إلى وقت ظهور التوبة.
(بذل المجهود ۵:۲۶۱، كتاب الأدب ،باب في هجرة الرجل أخاه)

۳) (شامى ۳:۷۱، كتاب الإيمان ،مطلب تعارفوا الحرام يلزمنى) (باتي حاشيه په بل مخ)

د مهاجر او حکومت ترمنځ د فیصله شویو شیانو مخالفت روا نه دی

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې شرقي، پنجاب مهاجرو لاندې جايدادونه پريښي او راغلي: کاټل جنګ فابريکې، سره د اوسيدو له خونو، عمارتونو د شيدو له مرکزونو، بلډنګونو ۵۰، ۶۰ د شيدو والاغوا کانې اومېښې، د پنير او کوچو مشينونه سره له نورسامان، دوالد په حق کې دي. مکانونه، دکانونه، ستر بورډنګ هاوس او په دې کې بې ټول حقوق د نقد معاوضې پرته ذکرشويو شيانو کې هيڅ شی نه دي ورکړي، نه مکان ورکړل شوی او نه هم ځمکه.
(۱) اوس ايا حکومت د ټولو حقوقو ذمه وار نه دی؟
(ب) آيا حکومت ته اجازه شته چې د ټول حق څخه څه برخه منفي کړي؟
(ج) آيا حکومت ته د حق روپۍ له منفي کېدو پرته نورې ورکول نه دي پکار. کله چې حق په هغه ماليت باندې منظور شوی وي کوم جايداد چې په (۱۹۴۶ع) کې وو، او که چېرته دغه مهاجر ته د حق په عوض کې ځمکې ورکول شي نو په دې سره خو د هغه مهاجر د هغه حق ادائيګي يو ډول وشوه چې دغه مهاجر له ټرانسفر شده جايداد څخه منافع حاصل کړي؟
(د) د موجوده مهاجر او هغه مهاجر په مينځ کې ډېر زيات فرق دی. آيا په دې صورت کې موجوده مهاجر په رښتيا د خپل حق نقد معاوضه پرته له کوم کمۍ او نفي د اخيستلو حقدار نه دی؟
حکومت په اصل کې د موجوده مهاجرو قرضدار دی. آيا قرضدار په خپله په قرض کې کمی کولی شي؟ **بينوا توجروا.**
المستفتي: خواجه خورشيد الرحمن، نئى انار کلى لاهور ۵ رجب ۱۴۰۲ھ

(د حاشيې پاتې برخه) .... وفي الخلاصة: ولوقال كل حلال عليّ حرام أو هرچه مرا حلال است بر من حرام، فقال في الفتاوى الصغرى: لابد من النية، قال في المحيط: فان نوى اليمين أولم ينوشيئا كان يمينا...ولا تدخل فيه امرأته إلا بالنية استحسانا، هكذا قال محمّد رحمه الله تعالى.
(خلاصة الفتاوى ۲:۹۵، كتاب الطلاق، الفصل الثاني في الكنايات)

الجواب: د دغه مهاجر او حکومت په مینځ کې کوم امور چې د معاوضې متعلق فیصله شوي دي له هغو څخه هیڅ جانب د مخالفت کولو اجازه نه لري. لحدیث: المسلمون علی شروطهم(١) وهوالموفق.

دامام په زوره له جومات څخه وباسل اوهغه له اجازې پرته دبل امام مقررکول. له هغه څخه د عطیې په ډول د ورکړې شوې ځمکې بیرته اخیستل د عهد ماتول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د مظهر نیکه مرحوم د سیکانو په زمانه کې د یوه جومات امامت له شپیتو کلونو راهیسې کړی دی. والد صاحب مرحوم هم همدومره موده خدمت کړی دی. له هغه وروسته مظهر دوه څلویښت کاله د جومات خدمت کړی دی، دې خلکو ماته د عطیې په ډول ځمکه راکړې ده او مالیه مو هم آداء کړې ده او د روپیو هم کوم قید نه دی لګول شوی چې د ضرورت په وخت کې به له تا واپس اخیستل کیږي او برناحقه موجوده خلکو امام ووهلو او له جومات څخه یې وباسلو، دغه جومات ته یې له تلو راتلو هم منعه کړو او د لمانځه ادا کولو څخه یې منع کړو او په جبري ډول یې دویم امام مقرر کړی دی.

آیا د اول امام له اجازې پرته دویم امام د هغه ځای ناستی کیدلی شي؟ دا د (۱۹۷۰ء) کال واقعه ده. اوس له دې وروسته قوم پریکړه وکړه چې مخکنی امام هم موږ خلک نه محرومه کوو، هغه ته قوم بالاتفاق د دوارو اخترونو په موقع شپیته روپۍ او دوه جوړې جامې ورکړي دي او ویلي یې دي چې د عشر له غلې څخه څوک یې چې په خوشحالی درکړي د کمیټی پرې هیڅ اعتراض نشته، دوه کاله یې خپل دغه عهد پوره کړو، بیا منکر شول. په محمدي ﷺ شریعت کې د عهد ماتوونکو حکم څه دی؟ **بینوا توجروا.**

المستفتي: نامعلوم ... ۱۲/۳/۱۹۷۴ع

---

١) (صحیح البخاري ۱:۳۰۳، کتاب الإجارة، باب أجر السمسرة)

وقال العلامة القرطبي: (أوفُوا بالعُقُودِ)...(د حاشیې پاتې برخه

الجواب: د امام اهانت حرام دی. کله چې بلا وجه وي او که چیرته دغه ځمکه د عطیې په ډول ورکول شوې وي نو هغه هیڅوک واپس نشي اخستلی. همدارنګه وعده خلافي کول ناروا کار دی، أما الأول فلتعامل الأمة على تعظيم الامام وأما الثاني فلأن الصدقة لايرجع فيها، والهبة لايصح الرجوع فيها بعد الموت كما صرحوا به(١) وأما الثالث فلحديث: اذا وعد أخلف(٢) وهوالموفق.

امام ته کنځل کول او له هغه سره د شوي عهد ماتولو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس د خپل پيش امام سره عهد وکړو چې فلانی شی به په فلانی ورځ درکړم. په دغه صورت کې پيش امام دغه کس ته ورغلو. هغه کس منکر شو. عهد يې مات کړ او خپل پيش امام ته يې د بې ايمانه وغيره الفاظ استعمال کړه او کنځل يې ورته وکړه. د داسې کس لپاره شرعي حکم څه دی؟ بينوا توجروا.

المستفتي: مولوي محمد سعيد. علي آباد. ۱۳/ ذی الحجه ۱۴۰۰هه

(د حاشيې پاتې برخه) معناه بما أحل وبما حرم وبما فرض وبما حد في جميع الأشياء ...قال عليه الصلوة والسلام: المؤمنون عند شروطهم.

(الجامع لأحكام القرآن للقرطبي ۶:۳۲،سورة المائدة آيت نمبر ۱)

۱) وفي الفتاوى الخانية :ولوخرجت الهبة عن ملك الموهوب له إلى غيره وهلكت لايرجع الواهب وكذا لو هلك الواهب أوالموهوب له.

(فتاوى خانية على هامش الهندية ۳:۲۷۲،فصل في الرجوع في الهبة)

۲) عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ:آية المنافق ثلث، زادمسلم وإن صام وصلّى وزعم أنه مسلم، ثم اتفقا إذا حدّث كذب وإذا وعد أخلف و إذا ائتمن خان.

(مشكوة المصابيح : ۱۷،باب الكبائر وعلامات النفاق)

الجواب: له عهد او وعدې څخه انحراف منافقانه رويه ده، **لحديث: (اذا عاهد غدر) واذا وعد أخلف واذا عاهد غدر (بخاری شریف** ۱: ۴۵۱)(¹) همدارنګه مسلمان خصوصا امام ته کنځل کول فسق دی، **لحديث: سباب المسلم فسوق (رواه مسلم)**(²) لهذا د هغه حکم د نورو فاسقانو په شان دی. **وهوالموفق**

په عهد ماتولو سره په نکاح باندې اثر نه پريوځي

سوال: څه فرمايلي دي علماء، کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس په عام اجلاس کې په ليکل شوې بڼه دا بيان وکړو چې له فلانی انجلی سره زما تعلقات له دې وجې وو چې زه له هغې سره واده وکړم. ليکن ما مخکې هم واده کړی دی. له همدې وجې د جرګې د پريکړې مطابق ما له نن څخه قطع تعلق وکړو. زه هغه انجلی سکنی خور ګڼم. په اينده کې داسې حرکات نه کوم. ليکن له دې وروسته يې عهد مات کړ. د هماغه انجلی سره يې واده وکړو. آيا په دې باندې په شريعت کې کومه سزا شته او د هغه په مخکينی ښځه باندې کوم اثر پريوځي؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي افراهيم حسين، پنډی ۱۴۰۰ هـ/۳/۶

الجواب: په ظاهره ددې عهد ماتول په نکاح باندې کوم اثر نه پريوځي، **لعدم وجود اضافة الطلاق الى الملك، ويرجع إلى رد المحتار** ۲: ۶۸۰(³) **وهوالموفق.**

---

۱) (صحيح البخاري ۱: ۱۰، كتاب الإيمان، باب علامات المنافق)

۲) (صحيح المسلم ۱: ۵۸، كتاب الإيمان، باب قول النبي ﷺ: سباب المسلم فسوق)

۳) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: لوقال إن خرجت يقع الطلاق أو لاتخرجي إلابإذني فإني حلفت بالطلاق فخرجت لم يقع لتركه الإضافة إليها (درمختار)

وقال العلامة ابن عابدين (قوله لتركه الإضافة)..... (د حاشيې پاتې برخه)

(د حاشيي باتي برخه) أى المعنوية فإنها الشرط والخطاب من الإضافة المعنوية وكذا الإشارة نحو هذه طالق ، وكذا نحو امرأتي طالق وزينب طالق .

(ردالمحتار ۲: ۴۶۶، كتاب الطلاق ،مطلب من الصريح الألفاظ المصحفة)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى :شرطه الملك حقيقة أوحكماً أو الإضافة إليه أى الملك الحقيقي عاماً أوخاصاً... كإن نكحت امرأة لو إن نكحتك فأنت طالق وكذا كل امرأة.

(الدر المختار ۲: ۵۳۶، كتاب الطلاق ،باب التعليق)

الله الله

فتاوی فریدیه

نهم جلد

باب حقوق الوالدین وعقوقهما

الله الله

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

قال الله تبارک وتعالی:......

وَقَضَى رَبُّكَ أَلاَّ تَعْبُدُواْ إِلاَّ إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلاَهُمَا فَلاَ تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلاَ تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلاً كَرِيمًا {۲۳}

(سورة بنی اسرائیل)

باب حقوق الوالدين وعقوقهما

د عاق تعریف او د هغه حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې (۱) د عاق تعريف څه دی؟

(۲) آيا د عاق لپاره دوزخ دی او هغه له کافرانو سره برابر دی؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي سيد عبدالوهاب. لنډی کوتل،

خيبر ايجنسی. ۲۵/ رجب المرجب ۱۳۹۷هـ

الجواب: (۱) کوم کس چې له شرعي جواز پرته والدين يا استاذ ته په قصدي ډول تکليف ورسوي هغه ته عاق ويل کيږي (۱) او عاق فاسق وي کافر نه وي (۲)

(۲) عاق به بالاخر جنت ته ځي، هميشه به په دوزخ کې نه وي، **لکونه مسلمًا (۳) وهوالموفق.**

د استاذ او والدينو په حکم کې د کوم حکم راندې دی؟

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې کله د يو کار

---

۱) وفي مجمع بحار الأنوار :نهي عن عقوق الأمهات ،من عق والده إذا آذاه وعصاه ، من العق : الشق . (مجمع بحار الأنوار ۶۴۷:۳ ،باب العين مع القاف)

قال العلامة فيروزالدين رحمه الله تعالیٰ :عاق کول، اولاد د نافرمانی له وجې د بچيانو د حقوقو څخه ويستل او د هغه سره اړيکه پرې کول.

(فيروزاللغات ۸۸۸ ،باب العين مع الألف)

۲) وفي شرح العقائد :والكبيرة لا تخرج العبد المؤمن من الإيمان ولا تدخله في الكفر... إن مرتكب الكبيرة فاسق. (شرح العقائد ۸۲)

۳) قال العلامة الملا علي قاري رحمه الله تعالیٰ :ولا نقول إن المؤمن المذنب يخلد فيها وإن كان فاسقًا أی بارتكاب الكبائر جميعها. (الفقه الأكبر ۷۷)

لپاره استاذ حکم وکړي، خسرګنی او والدين هم حکم وکړي، نو په دوی کې د
چا حکم منل اولی دي؟ د کتابونو له حوالې سره يې وليکئ؟ **بينوا توجروا.**
المستفتي محمد خليل الله حقاني ...۹ ربيع الثانی ۱۳۹۵هـ

الجواب: ناروا حکم به د هيچا نه منل کيږي، **قال رسول الله ﷺ لاطاعة لمخلوق فی معصية الخالق**[1] او روا حکم چې کله د استاذ او والدينو له طرفه وي؛ نو د عدم تصادم په صورت کې د هر يوه امر منل ضروري دي او د تصادم په صورت کې د والد حق مقدم دی. کله چې په هغه کې د تعظيم او احترام مراعتول وي او د والدې حکم مقدم کولی شي کله چې په هغه کې د خدمت او انعام مراعتول وي، **کما فی الهندية** ۵: ۴۰۱[2]، ظاهراً د استاذ حق په نسبت سره والدينو ته کم دی، لعدم کونه منصوصاً عليه. **وهوالموفق.**

د عاق د کافر کېدو، د هغه د ذبيحه حراميدو، د لمانځه، روژې، حج او د زکوة نه قبلېدو مسئله

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې ما په تذکره غوثيه، **عجب الاخبار، منهاج العابدين، الممهد واغرائب، المهرينيه النجدی فی حقارة العلماء الزهيره** په شان معتبرو کتابونو کې سره له حوالې د عاق کيدو مسئله ليدلې ده، هغه داسې چې د استاذ لخوا د عاق شوي شاګرد لمونځ، روژه، حج او

---

۱) (مشکوة المصابيح ۳۲۱، کتاب الإمارة والقضاء ،الفصل الثانی)

۲) وفي الهندية :إذا تعذرعليه جمع مراعاة حق الوالدين بأن يتأذى أحدهما بمراعاة الآخر يرجح حق الأب فيها يرجع إلى التعظيم والاحترام، وحق الأم فيما يرجع إلى الخدمة والإنعام :(فتاوى هنديه۵:۳۶۵، كتاب الكراهية ،الباب السادس والعشرون)

وفي نفع المفتي والسائل :الاستبشار :إذا تعذر عليه مراعاة جمع حقوق الوالدين رجح جانب الأب فيما يرجع إلى التعظيم والاحترام، وحق الأم فيما يرجع إلى الخدمة والإنعام .(فتاوى اللكهنوي المسماة بنفع المفتي والسائل ۴۲۲ ،مايتعلق بإطاعة الوالدين)

زکوة وغیره د خدای تعالی په دربار کې نه قبلیږي. آن تردې چې د هغه شهادت. د هغه قول او د هغه ذبیحه هم قبوله نه وي، د هغه ذبیحه د کافر د ذبیحې په شان ده او هغه بالاتفاق کافر دی، اوس ددې په لیدلو سره په زړه کې تشویش پیدا شوی چې دغه قولونه صحیح او معتبر دي او که ضعیف دي؟ له همدې وجې مې خیال راغلو چې خط ولیکم او له تاسو څخه فتوی وغوارم، څکه چې زما په ذاتي ډول او د خلکو په عام ډول په تاسو باندې تسلي شوې ده، تاسو صاحبان د هغو د صحیح کېدو یا ضعیف کېدو سند راوباسی کتاب او صفحه ولیکی زما تنده پرې ماته کړئ او دا هم واضحه کړئ چې د کومو خبرو په نه منلو سره د عاق څنځیر په غاړه کې غورځېدلی شي؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي: مولوي عبد الرزاق، شیخان (باړه)، ۱۹/جون ۱۹۷۵ م.

الجواب: د ټول اهل السنت والجماعة دا اجتماعي عقیده ده چې په ګناه سره یو انسان نه له اسلام څخه خارج کېدلی شي او نه کافر کېدلی شي، البته فاسق کېدی شي، **کما في شرح العقائد**(۱) **وشرح المقاصد وغیره**(۲) لهذا په عاق باندې د فاسق احکام جاري کیدی شي او دا تغلیظات کوم چې په غیر معتبرو او غیر متداول کتابونه کې مسطور دي او بلا حواله هم دي لهذا هغه مقبول کیدلی نشي، بلکې مردود کیدی شي(۳) **وهوالموفق**

---

۱) وفي شرح العقائد: لا تخرج العبد المؤمن من الإيمان لبقاء التصديق الذي هو حقيقة الإيمان ... ولا تدخله أى العبد المؤمن في الكفر. (شرح العقائد: ۸۲)

۲) وفي الفقه الأكبر: ولا نكفر مسلماً بذنب من الذنوب وإن كانت كبيرة إذا لم يستحلها ولانزيل عنه اسم الإيمان ونسميه مؤمناً حقيقتاً.
(شرح الفقه الأكبر: ۷۱، الكبيرة لا تخرج المؤمن عن الإيمان)

۳) په کومو روایتونو کې چې د عاق جنت ته نه داخلېدل ذکر دي، هغه په تغلیظ او سختی باندې حمل دی او یا په ابتدایي دخول باندې حمل دی... (دحاشیې پاتې برخه)

د عاق له میراث څخه محرومه کول او له هغه سره د ترک موالات حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې که چيرته پلار څوک عاق کړي نو آيا په همدې عاق کېدو سره هغه له ميراث محروم شوی دی؟

(۲) له همداسې عاق شوي ورور سره څه ډول معامله کول پکار دي؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي: قاضي عبدالمنان، متعلم حقانيه..۷۸ع/۱۰/۱۸

الجواب: چونکې عاق شوی انسان فاسق دی (۱) او کافر نه دی (۲) لهذا دغه عاق شوی زوی باقاعده وارث دی **لعدم المانع.** (۳)

(۲) له فاسق ورور سره د نورو فاسقانو په شان معامله ده. يعني د استطاعت په اندازه ترک موالات روا دی (۱) **وهوالموفق**

(د حاشيې پاتې برخه)....وعن عبدالله بن عمرو رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ :لايدخل الجنة منان ولا عاق أى عاص بأحد والديه ولامدمن خمر.

وفي المرقاة :قال التوربشتي : محمل هذا أنه لا يدخل مع الفائزين أو لا يدخل حتى يعاقب بما اجترحه من الإثم بكل واحد من الأعمال الثلاثة.

(مرقاة الماتيح ۹:۲۰۲،باب البرّ والصلة)

۱) قال عبد الله بن عمرو رضي الله عنه جاء أعرأبي فقال :يا رسول الله ! ما الكبائر؟ قال الإشراك بالله، قال ثم ما ذا؟ قال :ثم عقوق الوالدين.

(الكبائر ۵۰،الكبيرة الثامنة : عقوق الوالدين)

۲) قال العلامة الملا علىّ القاري رحمه الله تعالىٰ : ولا نكفر مسلماً بذنب من الذنوب وإن كانت كبيرة إذالم يستحلها.

(الفقه الأكبر ۷۱،الكبيرة لا تخرج المؤمن عن الإيمان)

۳) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالىٰ : موانعه أربعة : الرق والقتل واختلاف الدين واختلاف الدارين.(الدر المختار ۵:۵۴۱،كتاب الفرائض)

د والدينو خدمت نان نفقه نه ورکول او هغوی ته د کنځلو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زيد د خپلو والدينو قصدا او عمدا خدمت نه کوي او دهغه نان نفقه نه ورکوي، بلکې برعکس هغوی ته کنځل کوي او زوروي يې، نو دده لپاره په شريعت کې څه سزا ده؟

الله تعالى د مور پلار د حقوقو او د هغو د نافرمانى کولو او هغو ته د تکليف او رنځ رسولو په باره کې په قرآن کې فرمايلي دي:

وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوٓا۟ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلْوَٰلِدَيْنِ إِحْسَٰنًا، او دا چې له مور پلار سره نيکي وکړئ. حق تعالى جَلَّجَلَالُهُ خپل عبادت له مور پلار سره له احسان کولو سره يو ځاى ذکر کړى، ځکه چې مور پلار د اولاد د پيدا کيدو او تربيت کولو ظاهري سبب دى او دا يې هم فرمايلي:

إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِندَكَ ٱلْكِبَرَ أَحَدُهُمَآ أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُل لَّهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا، وَٱخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ ٱلذُّلِّ مِنَ ٱلرَّحْمَةِ وَقُل رَّبِّ ٱرْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِى صَغِيرًا،

---

۱) أن عبدالله بن كعب قال سمعت كعب بن مالك يحدث حديثه حين تخلف عن رسول الله ﷺ في غزوة تبوک...ونهى رسول الله ﷺ المسلمين عن كلامنا أيها الثلاثة من بين من تخلف عنه قال فاجتنبنا الناس. (صحيح المسلم)

وقال العلامة النووي رحمه الله تعالى: وفي هذا هجران أهل البدع والمعاصي.

(صحيح المسلم ۲:۳۶۱، كتاب التوبة، باب حديث توبة كعب بن مالک وصاحبيه)

که چیرته دا حکم صحیح وي نو له تسلیمیدو وروسته دې بیرته راولیږل شي؟
بینوا توجروا

المستفتي: عبد القدوس. هزاره، ایبټ آباد ۱۹۶۹ع/۳/۱۶

الجواب: د صدق په شرط دا کس فاسق او د کبیره مرتکب دی، (۱) په دغه باندې توبه کول او د والدینو څخه معافي غوښتل ضروري دي، (۲) د اصل خواب سره زمونږ اتفاق دی او صحیح دی **وهوالموفق**

مطلقه مور ته د روپیو په ورکولو سره د پلار ناراضه کېدل

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د زید پلار خپلې ښځې (یعنې د زید مور ته) طلاق ورکړی دی. اوس زید او دده ورور عمرو د خپل پلار سره او د زید مور او خور د زید له ماماګانو سره اوسیږي، زید ۱۰۰ روپی ماهانه ګټي او د زید پلار هیڅ ډول دنیوي کار نه کوي. د زید مور د فقر او فاقې په حالت کې له زید څخه د څه شي غوښتلو ته مجبوره شوې ده. لیکن که چیرته زید د خپلې میاشتنی تنخواه څخه مور ته څه ورکړي نو دده پلار پرې خفه کیږي. اوس ده ته څه کول پکار دي؟ آیا دی او وروړېې عمرو دخپلې مورسره اوسېدلی شي؟ کله چې د زید د تعلیم ذریعه دده پلار جوړه کړې ده؟ **بینوا توجروا**

المستفتي: مطیع الله، طالب العلم دارالعلوم حقانیه، اکوړه خټک ۱۹۷۰ع/۴/۲۳

---

۱) عن أبي بكرة رضي الله تعالى عنه قال قال النبي ﷺ :ألا أنبئكم بأكبر الكبائر ثلاثاً؟ قالوا بلى يا رسول الله ! قال : الإشراك بالله وعقوق الوالدين الخ.
(صحيح البخاري ۱: ۲۵۹، كتاب الشهادات ، باب ما قيل في شهادة الزور)

۲) قال العلامة النووي رحمه الله تعالى : قال العلماء : التوبة واجبة من كل ذنب ... وإن كانت المعصية تتعلق بآدمي فشروطها أربعة ، هذه الثلاثة، وأن يبرأ من حق صاحبها... وإن كانت حد قذف ونحوه مكنه منه أوطلب عفوه.
(رياض الصالحين ۳۴، باب التوبة)

الجواب: د زید لپاره ضروري ده چې د پلار حکم ونه مني، ځکه چې دا ناروا حکم دی، قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق[۱] او په دې صورت کې زوی عاق کېدی نه شي، بلکې پلار په غلطه دی، قلت یارسول الله صلی الله علیه وسلم! من أبر؟ قال أمك، قلت: ثم من؟ قال أمك، قلت: ثم من؟ قال أمك (الحدیث) رواه الترمذی وابوداؤد[۲] وفی الهندیة ۱: ۵۸۳، قال ویجبر الولد الموسر علی نفقة الأبوین المعسرین[۳] فقط.

د مور وهونکی اوهغې ته د بد معاش اوکنجرې ویونکی کس فاسق دی

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې کوم کس خپلې مور ته ناروا الفاظ وايي بلکې وهلو ته یې آماده شي او مور ته د بد معاش او کنجرې پورې الفاظ وايي، په شریعت کې ددغه کس څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

المستفتي: نامعلوم ۲/ محرم ۱۳۹۵ھ

الجواب: دا کس د کنځل او عقوق له وجې فاسق دی. دهغه لپاره ضروري ده چې د الله تعالی څخه معافي وغواړي او والدین راضي کړي[۴] الحدیث: سباب المسلم

---

۱) (مشکوة المصابیح ۳۲۱، کتاب الإمارة والقضاء، الفصل الثانی)

۲) (مشکوة المصابیح ۴۲۰ باب البر والصلة)

۳) (فتاوی هندیة ۱:۵۶۴، الباب السابع عشر في النفقات: الفصل الخامس في نفقة ذوي الأرحام)

۴) في حاشیة صحیح البخاري: التوبة...وهي في الشرع ترک الذنب لقبحه والندم علی ما فرط منه و العزم علی ترک المعاودة وتدارک ما أمکنه أن یتدارک من الأعمال بالإعادة و ردّ المظلمات لذویها أوتحصیل البراءة منهم.
(حاشیة صحیح البخاري ۱:۹۳۳، کتاب الدعوات، باب التوبة)

فسوق، رواه مسلم(۱) ولحديث : الكبائر الاشراك بالله وعقوق الوالدين (رواه الشيخان)(۲) وهوالموفق.

د مال برباد کوونکي فضول خرچه او د نافرمان زوی له میراث څخه محرومه کول

سوال: څه فرمايلي دي علماء، کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د زيد زوی بکر واده کړی دی، زيد د خپل زوی څخه روزانه د بې عزتی. کنځلو او جګړو څخه تنګ شوی. آيا هغه بکر له جايداد څخه محروم کولی شي؟ **بينواتوجروا**

المستفتي مرزا ايوب. بمقام شاه پور. تحصيل وضلع اټک

الجواب: دا هلک (بکر) فاسق او فاجر دی، **لأن العقوق من الكبائر والموبقات لحديث صحيح** (۳) په هغه باندې توبه کول او د والدينو خوشحاله کول ضروري دي(۴) او چونکې پلار مالک دی: نو هغه زوی محروم کولی شي. په دې شرط

---

۱) (صحيح المسلم ۱:۵۸ كتاب الإيمان، باب بيان قول النبي ﷺ: سباب المسلم فسوق)

۲) (مشكوة المصابيح ۱۷، باب الكبائر وعلامات النفاق، الفصل الأول)

۳) عن أبي بكرة رضي الله تعالى عنه قال قال النبي ﷺ: ألا أنبئكم بأكبر الكبائر ثلاثا؟ قالوا بلى يا رسول الله، قال الإشراک بالله وعقوق الوالدين، وجلس و كان متكئا فقال: ألا وقول الزور، فما زال يكررها حتى قلنا ليته سكت.

(صحيح البخاري ۱:۳۶۲ كتاب الشهادات، باب ما قيل في شهادة الزور)

۴) قال العلامة العيني رحمه الله تعالى: قال ابن المبارک حقيقة التوبة لها ست علامات: الندم على ما مضى، والعزم على أن لا يعود، ويؤدى كل فرض ضيعه، ويؤدى إلى كل ذى حق حقه من المظالم.

(عمدة القاري ۲۲:۲۷۹، كتاب الدعوات، باب التوبة)

چې دغه زوی فضول خرچه د مال بربادونکی او ضائع کونکی وي، که نه نو د هغه محروم کول خلاف مصلحت دي (۱) وهوالموفق

پلار ته کنځل کول او هغه ته چې (په تا به کولی یخه کړم) د الفاظو ویونکي کس حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې مسمی محمد رحمن زما پلار ته د شاهدانو پر وړاندې کنځل کړي دي او نصيحت کوونکو منعه کړی چې د والدينو په حق کې داسې قبيح الفاظ ويل کفر دی، په دې باندې نور غوسه شو وې ويل چې اوس زه په هغه باندې کولی يخوم، لازيات رد بد او کنځل يې وکړه، په ډېر زيات شمير کې شاهدان موجود دي. لهذا د شرعي جرم حد د حقوقو مطابق د وبالوالدين احسانا لاندې ذکر کړئ؟ **بينوا توجروا.**

السمتفتي: نامعلوم ۱۸/۶/۷۲

الجواب: دا كس عاق دی، (۲) په هغه باندې ضروري ده چې پلار راضي کړي او د الله تعالی څخه معافي وغواړي (۳) که نه نو په ټولو مسلمانانو باندې

---

۱) في الخلاصة: ولو أعطى بعض ولده شيئا دون البعض لزيادة رشده لابأس به وإن كانا سواء لا ينبغي أن يفضل، ولو كان ولده فاسقًا فأراد أن يصرف ماله إلى وجوه الخير ويحرمه عن الميراث هذا خيرمن تركه لأن فيه إعانة على المعصية.
(خلاصة الفتاوى ۴:۴۰۰، كتاب الهبة)

۲) عن عبدالله بن عمرو رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: الكبائر الإشراك بالله وعقوق الوالدين وقتل النفس واليمين الغموس.
(مشكوة المصابيح ۱۷، باب الكبائر وعلامات النفاق، الفصل الأول)

۳) في المرقاة: والتوبة في الشرع ترک الذنب لقبحه ... (د حاشيي پاتې برخه)

ضروري ده چې له هغه سره سلام کلام پرېږدي (۱) **وهوالموفق**

پلار ته کافر، او مور ته د کنجرې او فحش الفاظو ويونکي زوی حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس په عام مجلس کې پلار ته کافر او دجال او مور ته د کنجرې او ډېر زيات فحش الفاظ وويل، د داسې کس لپاره په محمدي ﷺ شريعت کې څه حکم دی؟ د کرم له مخې يې په تفصيل سره بيان کړئ؟ **بينواتوجروا**

المستفتي مولوي عزيز الرحمن. خطيب مرى ۲۷ع/ ۷/ ۲۹

الجواب: قال رسول الله ﷺ : **وعقوق الوالدين**(۲)**وقال** عليه السلام: **سباب المسلم فسوق**(۳)د همدې احاديثو په بناء، باندې دا کس فاسق او فاجر شوی دی.

(د حاشيې پاتې برخه) والندم على ما فرط منه والعزيمة على ترك المعاودة وتدارك ما أمكنه من الأعمال بالإعادة...وزاد النووي إن كان الذنب متعلقاً ببني آدم فلها شرط آخر وهو ردّ المظلمة إلیٰ صاحبها أو تحصيل البراءة منه.

(مرقاة المفاتيح ۱۲۲:۵، كتاب الدعوات ،باب الاستغفار والتوبة)

۱) أن عبدالله بن كعب قال سمعت كعب بن مالك يحدث حديثه حين تخلف عن رسول الله ﷺ في غزوة تبوك...ونهى رسول الله ﷺ المسلمين عن كلامنا أيها الثلاثة من بين من تخلف عنه قال فاجتنبنا الناس.

وقال العلامة النووي رحمه الله تعالیٰ :وفي هذا هجران أهل البدع والمعاصي.

(صحيح مسلم ۲۶۱:۲ كتاب التوبة، باب حديث توبة كعب بن مالك وصاحبيه)

۲) وفي المشكوة :عن عبد الله بن عمرو رضي الله تعالیٰ عنه قال قال رسول الله ﷺ: الكبائر الإشراك بالله وعقوق الوالدين وقتل النفس واليمين الغموس، رواه البخاري.

(مشكوة المصابيح ۱۷ ،باب الكبائر وعلامات النفاق، الفصل الأول)

۳) (صحيح مسلم ۵۸:۱ كتاب الإيمان ،باب بيان قول النبي ﷺ :سباب المسلم فسوق)

په هغه باندې ضروري ده چې توبه وکړي والدين او غيره راضي کړي. (۱) که نه نو د ګناهګار په صورت کې په عامو مسلمانانو باندې ضروري ده چې له ده سره غير ضروري تعلقات قطع کړي او سلام کلام ورسره بند کړي (۲). **وهوالموفق**

پلار ته د کافر، ظالم او سپک ويونکي کس حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې که چيرته يو کس خپل پلار په دې الفاظو ويلو سره مخاطب کړي او ورته ووايي چې ته کافر يې، ته ظالم يې. ته سپک يې او پلار هغه عاق کړي. نو د دغه کس څه حکم دی؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: محبوب حسين، هزاره

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط دا زوی عاق او فاسق دی. (۳) په هغه باندې ضروري ده چې توبه وکړي او له پلار څخه معافي وغواړي (۴) او د ګناهګار په

---

۱) قال العلامة النووي رحمه الله تعالى: أن لها (التوبة) ثلثة أركان: الإقلاع والندم على فعل تلك المعصية والعزم على أن لا يعود إليها أبداً، فإن كانت المعصية لحق آدمي فلها ركن رابع وهوالتحليل من صاحب ذلك الحق...واتفقوا على أنّ التوبة من جميع المعاصي واجبة. (حاشية النووي على صحيح المسلم ۲:۳۵۴، كتاب التوبة)

۲) وفي المرقاة: فإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة على مرّ الأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق.
(مرقاة المفاتيح ۹:۲۶۲، باب ما ينهي عنه من التهاجر والتقاطع)

۳) عن عبدالله بن عمرو رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: الكبائر الإشراک بالله وعقوق الوالدين وقتل النفس واليمين الغموس.
(مشكوة المصابيح ۱۷، باب الكبائر وعلامات النفاق، الفصل الأول)

۴) في المرقاة: والتوبة في الشرع ترک الذنب لقبحه والندم على ما فرط منه والعزيمة على ترک المعاودة و تدارک ما أمكنه من الأعمال بالإعادة ...وزاد النووي إن كان الذنب متعلقاً ببني آدم فلها شرط آخر وهو ردّ المظلمة إلى صاحبها أو تحصيل البراءة منه. (مرقاة المفاتيح ۵:۱۲۲، كتاب الدعوات، باب الاستغفار و التوبة)

صورت کې دي اهل اسلام له ده سره پریکون وکړي [۱] **وهوالموفق**

د پلار وهونکي او زه تا له شپږ ویشتو کلونو راهیسې خنزیر بولم د داسې الفاظو ویونکي زوی حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زوی پلار له غاړې ونیولو او په ځمکه یې وغورځولو. که چیرته یو شمېر خلک موجود نه وای نو پلار یې مړ کولو، همدغه زوی پلار ته وویل چې زه تاته له ۳۶ کلونو راهیسې خنزیر وایم. اوس د داسې بیکاره زوی څه سزا ده؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي: جناب منګا خان، راولپنډي د ۱۹۷۶ع ۸/ ۲۷

الجواب: په داسې موذي زوی باندې ضروري ده چې له الله تعالی څخه معافي وغواړي او پلار راضي کړي [۲] او د ټینګار په وخت کې په ټولو مسلمانانو باندې ضروري ده چې له هغه سره ترک موالات (پریکون) ترک سلام او کلام وکړي [۳] **کما**

---

۱) أن عبدالله بن كعب قال سمعت كعب بن مالك يحدث حديثه حين تخلف عن رسول الله ﷺ في غزوة تبوك...ونهى رسول الله ﷺ المسلمين عن كلامنا أيها الثلاثة من بين من تخلف عنه قال فاجتنبنا الناس. (صحيح المسلم)

قال العلامة النووي رحمه الله تعالىٰ: وفي هذا هجران أهل البدع والمعاصي.

(صحيح المسلم ۲:۳۶۱ كتاب التوبة، باب حديث توبة كعب بن مالك وصاحبيه)

۲) قال العلامة النووي رحمه الله تعالىٰ: قال العلماء: التوبة واجبة من كل ذنب... وإن كانت المعصية تتعلق بآدمي فشروطها أربعة، هذه الثلاثة، وأن يبرأ من حق صاحبها...وإن كانت حد قذف ونحوه مكنه منه أوطلب عفوه.

(رياض الصالحين ۳۴، باب التوبة)

۳) وفي المرقاة: فإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة على مرّ الأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق.

(مرقاة المفاتيح ۹:۲۶۲، باب ما ينهي عنه من التهاجر والتقاطع)

قال بالثلثة الذين خلفوا، وكما فعله ابن عمر بابنه رواه ابن ماجه(١) وهوالموفق.

د مور وهونكي كس سره پريكون كول

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره کې چې يوه بد ذاته خپل مور ووهله، شرعي حکم يې څه دی؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي مولوي محمد سعيد، مظفر آباد کشمير

الجواب: دا کس فاسق دی، قال الله تعالی فَلَا تَقُل لَّهُمَآ أُفٍّ(٢) وقال رسول الله ﷺ: اجتنبوا السبع الموبقات وذكر فيهن عقوق الوالدين(٣)،(٤) دا کس دي

---

١) عن ابن عمر رضي الله تعالى عنهما أن رسول الله ﷺ قال: لاتمنعوا إماء الله أن يصلين في المسجد فقال ابن له: إنا لنمنعهن فقال فغضب غضباً شديدا و قال أحدثك عن رسول الله ﷺ وتقول إنا لنمنعهن.

(سنن ابن ماجة ٣، باب تعظيم حديث رسول الله ﷺ والتغليظ على من عارضه)

٢) (سورة بني اسرائيل آيت ٢٣ ،پاره نمبر ١٥)

٣) عن أبي بكرة رضي الله تعالى عنه قال قال النبي ﷺ: ألا أنبئكم بأكبر الكبائر ثلاثا؟ قالوا بلى يا رسول الله ، قال :الإشراک بالله وعقوق الوالدين، وجلس وكان متكئاً فقال :ألا وقول الزور ، فما زال يكررها حتى قلنا ليته سكت.

(صحيح البخاري ١:٣٦٢، كتاب الشهادات، باب ما قيل في شهاده الزور)

۴) ماته په سبع المعلقات کې د عقوق الوالدين ذکر کولو حواله ملاؤ نه شوه. امام بخاری رحمه الله تعالى په صحيح بخاری١:٣٨٨ كتاب الوصايا کې او ٢:١٠١٣، كتاب المحاربين کې او امام مسلم په صحيح المسلم ١:۶۴ كتاب الايمان کې ، او امام ابوداؤد په ابوداؤد ٢:٣٩٧ كتاب الوصايا کې، او امام نسائی په نسائی ٢: ١٣۴، كتاب الوصايا وغيره کې دا حديث داسې نقل کړي دي :......... (د حاشيې پاتې برخه)

د الله تعالی څخه معافي وغواړي او مور دې راضي کړي،(۱) که نه نو اهل اسلام دې له هغه سره پريکون وکړي(۲) **وهوالموفق**

د عاق امامت او له هغه سره د دوستانه تعلقاتو ساتلو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو دې مسئلې په باره کې چې زما سکنی زوی زما سخت نافرمان دی او هغه ماته په ضرر رسولو کې هيڅ وخت سرفه نه کړي، څورول او ډير فحش مغلظات يې زما لپاره ترسره کړي دي، له همدې وجهې په ما باندې زما ژوند تنګ شوی دی چې له امله يې زه د مرګ او ژوند په کشمکش کې مبتلا يم. د کرم له مخې د قرآن او احاديثو په رڼا کې د داسې سخترين نافرمان زوی په لپاره تفصيلا او استدلالا حکم صادر کړی، همدارنګه

(د حاشيې پاتې برخه).... عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه أن رسول الله ﷺ قال: اجتنبوا السبع الموبقات، قيل يا رسول الله ! ماهي؟ قال: الشرک بالله والسحر وقتل النفس التى حرم الله إلا بالحق وأكل الربوا و أكل مال اليتيم والتولى يوم الزحف وقذف المحصنات الغافلات المؤمنات.

۱) قال العلامة النووي رحمه الله تعالى: أن لها(التوبة)ثلثة أركان: الإقلاع والندم على فعل تلک المعصية والعزم على أن لا يعود إليها أبداً، فإن كانت المعصية لحق آدمى فلها ركن رابع وهوالتحليل من صاحب ذلک الحق...واتفقوا على أن التوبة من جميع المعاصى واجبة. (حاشية النووي على صحيح المسلم ۲:۳۵۴، كتاب التوبة)

۲) في المرقاة: قال الخطأبي: رخص للمسلم أن يغضب على أخيه ثلاث ليال لقلته ولا يجوز فوقها إلا إذا كان الهجران في حق من حقوق الله تعالى فيجوز فوق ذلک...فإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة على مرّالأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق.

(مرقاة المفاتيح ۹:۲۶۲، باب ما ينهي عنه من التهاجر والتقاطع واتباع العورات)

د هغه د ملګريو لپاره شرعي حکم څه دی؟ او له داسې کس سره تعلقات ساتل څنګه دي؟بینوا توجروا.

المستفتي: محفوظ الرحمن، هري پور، هزاره. ۱۹۷۰ع/۴/۵

الجواب: د صدق په شرط دا زوی د عاق کېدو له وجهې فاسق شوی دی. په هغه پسې شاته اقتداء، مکروه تحریمي ده[1] او که چیرته کېدلی شي نو له هغه سره د تعلقاتو ختمول په هر مسلمان باندې ضروري دي ترڅو چې توبه کوونکی او پښېمانه شي[2] قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: **الكبائر الاشراك بالله وعقوق الوالدين[3] فقط، وهو الموفق.**

پلار ته د کنځل کوونکي او بې وجې تنګوونکي حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس خپل پلار ته کنځل کوي او هغه بلا وجه تنګوي، شرعاً د هغه څه حکم دی؟بینوا توجروا.

المستفتي: قاضي جاويد ارشد، بکوټ، براسته مری، کهوته. ۷۰ع/۳/۲۴

الجواب: دا کس د کبيره ګناه مرتکب شوی دی، د والدينو عقوق کبيره ګناه ده، د مشکوة شريف په ۱۷ صفحه کې دي:

الكبائر الاشراك بالله وعقوق الوالدين[4] الخ، په قرآن مجيد کې دي **وَلَا تَقُلْ**

---

۱) وفي الاختيار: ويكره إمامة العبد والأعرابي والأعمى والفاسق والمبتدع.
(كتاب الاختيار ۱:۸۰، كتاب الصلوة، فصل أحكام صلوة الجماعة)

۲) وفي المرقاة: قال الخطابي: رخص للمسلم أن يغضب على أخيه ثلاث ليال لقلته ولا يجوز فوقها إلا إذا كان الهجران في حق من حقوق الله فيجوز فوق ذلك...فإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة على مرّ الأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق.
(مرقاة المفاتيح ۹:۲۶۲، باب ما ينهي عنه التهاجر و التقاطع و اتباع العورات)

۳) (مشكوة المصابيح ۱۷، باب الكبائر وعلامات النفاق، الفصل الأول)

لَهُمَا أُفٍّ(١) بهر حال دا كس به له پلار څخه معافي غواړي او توبه به كوي(٢) پلار اګر كه مشرک هم وي بيا هم اسلام له هغه سره د غوره چلند كولو حكم كړی دی.(٣) وهوالموفق

دوالدينو بې عزتي كوونكي زوی عاق كېدل له جايداد څخه محرومه كېدل

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې زيد د زوی تعليم او تربيت تر خواني پورې وكړ. اوس ځوان شوی د والدينو د عزت خيال نه ساتي، بلكې هر وخت د دوی بې عزتي كوي. آيا والدين يې عاق كولی شي. د ټول مال او دولت څخه يې محروم كولی شي او كه نه؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي دور خان پشاور

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط مذكور اولاد عاق او فاسق دی.(٤) بهرحال

---

١) (سورة بني اسرائيل آيت ٢٣، پاره نمبر ١٥)

٢) قال العلامة النووي رحمه الله تعالى: قال العلماء :التوبة واجبة من كل ذنب...وإن كانت المعصية تتعلق بآدمى فشروطها أربعة، هذه الثلاثة،وأن يبرأ من حق صاحبها ...وإن كانت حد قذف ونحوه مكنه منه أو طلب عفوه.
(رياض الصالحين ٣٤، باب التوبة)

٣) قال الله تبارک و تعالى: وَإِن جَاهَدَاكَ عَلَىٰ أَن تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا.

قال العلامة القرطبي رحمه الله تعالى: والآية دليل على صلة الأبوين الكافرين بما أمكن من المال إن كانا فقيرين، وإلانة القول والدعاء إلى الإسلام برفق.
(تفسير القرطبي ١٤:٦١، سورة لقمن،آيت نمبر ١٥)

٤) عن أنس رضي الله تعالى عنه قال سئل النبي ﷺ عن الكبائر؟ فقال: الإشراک بالله وعقوق الوالدين وقتل النفس وشهادة الزور.

دی مالک دی، هغه د تمليک غير څخه محروم کولی شي. کما في الهندية ۴: ۳۹۴، ولو كان ولد فاسقًا وأراد أن يصرف ماله الى وجوه الخير ويحرمه عن الميراث هذا خير من تركه، كذا في الخلاصة ()

البته که چېرته فساد مثلاً له ده يا موجب له سره د قتل او قتال قوي ويره وي: نو د أهون البليتين طرفته دي ميلان وکړی شي. (۲) وهوالموفق

مورپلار ته کنځل کوونکي، وهونکي اود ناوړه الفاظو ويونکي کس حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس عاقل او هوښيار خپلو والدينو ته کنځل کوي. بلکې په ناوړه الفاظو سره رټ ورته کوي او وهلو ته يې آماده کېږي. ګاونډيان يې مداخله وکړي والدين له وهلو بچ کړي، شرعًا د داسې کس څه حکم دی؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: نامعلوم. ۸۷ع/ ۳/ ۱۱

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط دا زوی عاق دی. (۳) په داسې زوی باندې ضروري ده چې والدين راضي کړي او د الله تعالى څخه معافي وغواړي، (۴) لکه

(صحيح البخاري ۱:۳۶۲، كتاب الشهادات، باب ما قيل في شهادة الزور)

۱) (فتاوى هندية ۴:۳۹۱ كتاب الهبة، الباب السادس في الهبة للصغير)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: والضابط أن من ابتلى ببليتين فإن تساويا خير وإن اختلفا اختار الأخف.

(الدر المختار ۱:۳۰۳، باب شروط الصلاة)

۳) عن أنس رضي الله تعالى عنه قال سئل النبي ﷺ عن الكبائر فقال: الإشراك بالله وعقوق الوالدين وقتل النفس وشهادة الزور.

(صحيح البخاري ۱:۳۶۲، كتاب الشهادات، باب ما قيل في شهادة الزور)

۴) في المرقاة: والتوبة في الشرع ترک الذنب لقبحه،.... (د حاشيي پاتې برخه)

څرنګه چې په والدينو باندې ضروري ده چې د زوی له اسلامي تعليم څخه د محروم ساتلو جرم معافي له الله تعالی څخه وغواړي (۱) والله اعلم بالصواب

د والدينو د اجازې پرته د علم حاصلولو مسئله

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زه يو غريب طالب العلم يم، د علم حاصلولو لپاره له خپل هيواد څخه پاکستان ته راغلی يم، ليکن د قسمت خبره ده چې پلار مي زما د علم په حاصلولو باندې خوښ نه دی او وايي چې له ما سره دنيوي کار وبار وکړه، اګر که هغه د غريبې طبقې سړی دی، ليکن هغه ته د شپې او د ورځې ډوډۍ رسيږي، د هغه پنځه اوښان دي او يو يې مشر ورور دی، د کوم چې دا وخت ۳۰۰ روپۍ تنخا ده، درې يې خويندې دي کومې چې د کور کارونه کوي، والده وفات شوې ده او زه په دې وخت کې صرف مير يادوم، کنز او قدوري وايم، اوس تاسو موږ پوه کړئ چې زه علم پريږدم د والد خدمت وکړم او که د علم په حاصلولو کې بوخت شم او د والد خبره ونه منم؟ ماته ډيره زياته پريشاني ده؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: تاجر شکارپور ۲۴/ مارچ ۱۹۷۸ع

الجواب: د غير محتاج والدينو له اجازې پرته د علم حاصلولو لپاره وتل روا دي، کله چې د فرض عين مقدار حاصلولو لپاره وي او په قرب جوار کې يې حصول مشکل وي، همدارنګه دغه طالب العلم صبيح الوجه نه وي، ددې څخه

(د حاشيې پاتې برخه) والندم على ما فرط منه، والعزيمة على ترک المعاودة وتدارک ما أمكنه من الأعمال بالإعادة...وزاد النووي إن كان الذنب متعلقاً ببني آدم فلها شرط آخر وهو ردّ المظلمة إلى صاحبها أو تحصيل البراءة منه.

(مرقاة المفاتيح ۵:۱۲۲، كتاب الدعوات، باب الاستغفار والتوبة)

۱) قال الله تبارک وتعالى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَصُوحًا.

(سورة التحريم آيت ۸)

د زيات مقدار د حصول لپاره وتل مختلف فيه دي، كما في فتح الملهم من شرح الاحياء: كل ما لاتأمن من الهلاك مع جهله فطلب علمه فرض عين لايسوغ له تركه وان منعك أبواك عن طلبه، وأما ماسوى ذلك من العلوم فقيل لايجوز له الخروج لطلبه الا بإذنهما، وقيل لا بأس بالسفر على قصد التعلم اذا كان الطريق آمنا وان كره الوالدان أو أحدهما، لأن الغالب فيه السلامة، والحزن على الغيبة يقطع بالطمع على الرجوع بخلاف الجهاد، آه بحذف ۲ : ۲۵۳(١) او راجح جواز دى كله چې دغه طالب العلم صبيح الوجه نه وي، همدارنګه په قرب او جوار كې تعليم مشكل وي. يدل عليه ما في الهندية ۵ : ۴۰۱ ،وقال محمد رحمه الله في السير الكبير: اذا أراد الرجل أن يسافر الى غير الجهاد وكره ذلك أبواه (الى أن قال) وان كان لايخاف الضيعة عليهما بأن كانا موسرين ولم تكن نفقتهما عليه ان كان سفرًا لايخاف على الولد الهلاك فيه كان له أن يخرج بغير اذنهما، كذا في الذخيرة، وكذا الجواب فيما إذا خرج للتفقه إلى بلدة أخرى، كذا في المحيط، وفي قاضي خان: هذا اذا كان ملتحيًا، فأن كان آمرد صبيح الوجه فلأبيه أن يمنعه(٢) انتهى، قلت: والغالب أن الباعث على المنع عدم الاعتناء بشأن العلم والاعتناء بحصول المال فلا يعتنى بالمنع من مثل هذا الولد، وهو الموفق.

---

١) (فتح الملهم ۲:۱۰۵، كتاب الإيمان ،باب الكبائر وأكبرها)

٢) (فتاوى هندية ۵:۳۶۵ ،كتاب الكراهية ،الباب السادس والعشرون في الرجل يخرج إلى السفر ويمنعه أبواه)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى :وله الخروج لطلب العلم الشرعي بلا إذن والديه لو ملتحيا، وتمامه في الدرر. (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :(قوله وتمامه في الدرر) قال فيها: وإن كان أمرد فلأبيه أن يمنعه، ومرادهم بالعلم العلم الشرعي وما ينتفع به فيه.

(ردالمحتار ۶:۲۸۹، كتاب الحظر والإباحة ،فصل في البيع)

د مور په وهلو او كنځل كولو سره په نكاح باندې اثر نه پريوځي

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې يو كس خپلې مور ته فحش كنځل وكړه او وې وهل، دغه كس واده هم كړى دى، ددې سرې حكم څه دى؟ بينوا توجروا.

المستفتي: زاهد حسين عباسي، مرى. يكم ذى الحجه ۱۴۹۹ هه

الجواب: مور ته كنځل كول (۱) يا يې وهل ټكول حرام دي، (۲) همدارنګه ددې مرتكب دي د مور څخه معافي وغواړي. (۳) البته په نكاح باندې كوم اثر نه پريوځي. **وهوالموفق**

---

۱) عن عبدالله بن مسعود رضي الله تعالىٰ عنه قال قال رسول الله ﷺ: سباب المسلم فسوق و قتاله كفر.

(صحيح المسلم ۱:۵۸، كتاب الإيمان، باب بيان قول النبي ﷺ: سباب المسلم فسوق)

۲) عن أنس بن مالك رضي الله تعالىٰ عنه قال: ذكر رسول الله ﷺ الكبائر أو سئل عن الكبائر؟ فقال: الشرك بالله وقتل النفس وعقوق الوالدين.

(صحيح المسلم ۱:۶۴، كتاب الإيمان، باب الكبائر وأكبرها).

۳) قال العلامة محمود أحمد الآلوسي رحمه الله تعالىٰ: وفي شرح المقاصد: قالوا إن كانت المعصية في خالص حق الله تعالىٰ فقد يكفي الندم،... وإن تعلقت بحقوق العباد لزم مع الندم والعزم إيصال حق العبد أو بدله إليه.... والاعتبار إليه إن كان ايذاءً كما في الغيبة.

(روح المعانى ۲۸:۱۵۸، ۱۵۹، سورة التحريم آيت: ۸)

وفي شرح الفقه الأكبر: وأما إن كانت المظالم في الأعراض كالقذف والغيبة فيجب في التوبة فيها مع ماقدمناه في حقوق الله تعالىٰ أن يخبر أصحابها بماقال من ذلك ويتحلل منهم.

(شرح الفقه الأكبر ۱۵۹، بحث التوبة)

له پلار سره په ناوړه چلند کنځل کولو او غیره سره زوی له میراث څخه محرومه کېدی نه شي

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زما زامن ګل خطاب او محمد افضل له ما سره ناوړه چلند او زما نافرماني کوي او زما خبره نه مني او کنځل هم راته کوي، چې په هر ډول یې پوهوم نه یې مني. علماوو او ګاونډیانو هم پوه کړي دي، آیا دغه نافرمان اولاد د مور او پلار د میراث حق لري؟ په شریعت کې د دوی څه حکم دی؟ **بینواتوجروا.**

المستفتی: ګلدار خان ،هزاره....۱۴/ محرم الحرام ۱۴۰۷ ھ

الجواب: د والدینو نافرماني او ګستاخي کوونکي حکم د نورو فاسقانو په شان دی، ځکه چې د والدینو عزت او احترام په اولاد باندې ضروري دی[۱] باقي د میراث په حق کې پلار خپل هیڅ زوی له مرګ وروسته له میراث څخه محرومه کولی نه شي، ځکه چې د میراث حق یو اضطراري حق دی، کوم چې والد یا کوم بل مورث ساقطولی نه شي، [۲] البته که چېرته والد د ژوند په حالت کې خپل ټول

---

۱) عن عبدالله بن عمرو رضي الله تعالى عنه جاء أعرابي فقال يارسول الله ! ما الكبائر؟ قال :الإشراک بالله ،قال ثم ماذا قال :ثم عقوق الوالدين.
(الكبائر ۵۰،الكبيرة الثامنة ،عقوق الوالدين)

وفي التفسير القرطبي :وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا.....
الثالثة : من البر بهما والإحسان إليهما ألا يتعرض لسبهما ولايعقهما فإن ذلک من الكبائر بلاخلاف.
(تفسير القرطبي ۸:۲۰۸، ۱۰،آیت ۲۳،سورة الإسراء)

۲) في تكملة ردالمحتار :الإرث جبري لايسقط بالاسقاط.
(تكملة ردالمحتار ۱:۳۹۱،كتاب الدعوى ،مطلب واقعة الفتوى)

جایداد چاته بخشش کړي یا د ژوند په وخت کې یو څوک د هغه مالک جوړ کړي نو د مرګ وروسته د هغه په جایداد کې حق نه لري (ماخوذ از عالمګیري)[۱] فقط

دوالدینو له اجازې پرته تبلیغ ته د تلو مسئله

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زما ورور په میډیکل کالج کوئټه کې د ایم بي بي ایس طالب العلم دی، هغه په رخصتیو کې تل (همیشه) یوه نیمه میاشت په تبلیغ کې لګوي، مګر والدین ددې اجازه نه ورکوي او هغه چې کور ته راشي په کلیو کې د تبلیغ خبره ورته کوي، ورور مې وايي چې په تبلیغ باندې باعث دا دی چې زمونږ سره په کالج کې هندو، سیک، شیعه او هر قسم زده کوونکي دي؛ نو که چیرته زه د والدینو سره کښینم نو زما حالت به څه ډول شي؟

آیا تبلیغ ته تلل د مور پلار د اجازې پرته روا دي؟ هغه په خپله وايي چې مولانا اشرف علي تهانوي رَحِمَهُ اللّٰهُ لیکلي دي په بهشتي زیور کې چې د دین د طلب لپاره د والدینو له اجازې پرته تلل روا دي، آیا تبلیغ په هغه کې شامل دی او که نه؟ **بینوا توجروا.**

المستفتي عبدالرحیم بلوچشتاني ۱۴۰۰ھ/۶/۱۱

الجواب: چونکې د تبلیغ په سفر کې هلاکت نادر او سلامتیا غالبه ده. لهذا د علم د سفر په شان دا سفر هم د غیر محتاج والدینو له اجازې پرته روا دی، لما في الهندیة ۵: ۴۰۱، **وان کان لا یخاف الضیعة علیهما بأن کان موسرین ولم تکن نفقتهما علیه**

---

۱) وفي الهنداية: رجل وهب في صحته كل المال للولد جاز في القضاء ويكون آثماً فيما صنع ..... رجل دفع إلى ابنه في صحته مالاً يتصرف فيه ففعل وكثر ذلك فمات الأب، إن أعطاه هبة فالكل له وإن دفع إليه لأن يعمل فيه للأب فهو ميراث.

(فتاوى هندية ۴: ۳۹۳، ۳۹۲، كتاب الهبة، الفصل السادس في هبة الصغير)

إن كان سفراً لايخاف على الولد الهلاك فيه كان له أن يخرج بغير إذنهما الخ(١).

نوټ: كه چېرته د څلورو مياشتو څخه زيات وخت لګوي؛ نو بيا د ښځې څخه اجازه اخيستل ضروري ده (٢)**وهوالموفق**

د والدينو لپاره د اولاد د ګټې څخه د خوړلو مسئله

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې زيد بال بچه دار دى او اولاد يې غټ شوي. بالغان دي. د بالغ اولاد د ګټې حقدار دوى څېله دي او كه والدين هم حقدار كېدلى شي؟ **بينواتوجروا**

المستفتي ګل هاشم ۱۹۷۵ع ۲۵/۳

الجواب: كه چيرته والدين محتاج وي؛ نو د اولاد له ګټې څخه يې خوړلى شي (٣)**وهومحمل أنت**

---

١) فتاوى هندية ٥:٣٦٥ كتاب الكراهية ،الباب السادس والعشرون)

٢) قال العلامة الحصكفي :ولايبلغ مدة الإيلاء برضاها.(الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :قال في الفتح....ويجب أن لايبلغ به مدة الإيلاء إلا برضاها وطيب نفسها به.(قوله ولايبلغ مدة الإيلاء)تقدم عن الفتح التعبير بقوله ويجب أن لايبلغ الخ وظاهره أنه منقول....وهو أربعة أشهر... ويؤيد ذلك أن عمر رضي الله تعالى عنه لماسمع في الليل امرأة يقول....فسأل بنته حفصة: كم تصبر امرأة عن الرجل؟ فقالت أربعة أشهر ،فأمر أمراء الأجناد أن لايتخلف المتزوّج عن أهله اكثرمنها. (ردالمحتار ٢:٤٣٢، كتاب النكاح،باب القسم)

٣) عن عائشة رضي الله تعالى عنها قالت قال النبي ﷺ:إن أطيب ما اكلتم من كسبكم وان أولادكم من كسبكم) أى من جملته لأنهم حصلوا بواسطة تزوّجكم فيجوز لكم أن تأكلوا من كسب أولادكم اذا كنتم محتاجين وإلا فلا إلا أن طابت به أنفسكم، هكذا قرره علماءنا،وقال الطيبي رحمه الله تعالى نفقة الوالدين على الولد واجبة إذا كانا محتاجين عاجزين عن السعي...روى ابن ماجة عن جابربسند...(دحاشيي باتې برخه)

ومالك لأبيك(١)وهوالموفق.

د طالب العلم له واده څخه په انکار کولو کې هيڅ حق تلفي نشته

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره کې چې که چیرته والدين طالب العلم ته واده كول غواړي او هغه انکار کوي؛ نو په دې صورت کې د والدينو حق تلفي شته او که نه؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: شفيق الرحمن، پشاور يونيورستي. ۱۵/ اګشت ۱۹۷۹ع

الجواب: په دې کې د والدينو هيڅ حق تلفي نشته. (٢) **وهوالموفق**

(د حاشيې پاتې برخه) صحيح أن رجلًا قال يارسول الله !ان لي مالًا وأبي يريد أن يجتاح مالي قال أنت ومالک لأبيک.

(مرقاة المفاتيح ۴۱:۶، كتاب البيوع ،باب الكسب وطلب الحلال)

١) (مسندالإمام اعظم ۲۰۸كتاب الأدب)

وفي هامش المسند :وفيه تنبيه على أن للأب أن يأخذ من مال ابنه بغيبته بلا رضاه لصيانة نفسه.

(هامش مسندلإمام اعظم ۲۰۹، كتاب الأدب)

٢) قال حكيم الأمت التهانوي رحمه الله تعالى : كوم امر چې شرعاً نه واجب وي او نه ممنوع وي بلكې مباح وی، اګر که مستحب وي او مور پلار دهغې د كولو يا نه كولو ووايي نو به هغې کې تفصيل دی، كتل بكار دي چې ددې امر دغه سړي ته داسې ضرورت دی چې ددې نه بغيربه ورته تكليف وي.....يا ددې كار په كولو کې به څه خطره او ويره وي ...که ددې دواړو خبر و نه يوه خبره هم نه وي، يعنې نه ددې کار يا سفر کې هغه ته نه خطره وه او نه بل څه ظاهري مشقت او تكليف څه احتمال وي؛ نو بې ضرورته هم دغه كار يا سفر باوجود د دوی د ممانعت جائز دی، اګر چې مستحب هم داده چې دغه وخت هم اطاعت وکړي.

(بوادر النوادر ۴۸۷،رساله تعديل حقوق والدين)

د علم حاصلولو یا د تبلیغ لپاره له پلار څخه په غلا د روپیو اخیستل

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زه د تبلیغ لپاره ځم که چیرته روپۍ نه وي؛ نو د پلار څخه یې په غلا اخیستلی شم. زما دا خیال وي چې وروسته به یې هغه ته ورکړم، آیا داسې صحیح ده؟ **بینوا توجروا.**

المستفتي: جناب صالح خان. لکی مروت نزد ټاون کمپنی.

الجواب: که چیرته په همدې طریقه کې د پلار ناراضګي یقیني یا شکي وي؛ نو له داسې طریقو څخه پرهیز کول ضروري دي. [1] **لأن الوارد هو أنت ومالك لأبيك**[2] **لا أنت ومالك لولدك.** بهر حال په دې طریقه له اخیستلو څخه دا بهتره ده چې له چا قرض واخیستل شي. البته د دیني طالب العلم لپاره د نفقې په اندازه اخیستل مرخص دي [3] **وهو الموفق**

---

۱) وفي الهندية: الابن البالغ يعمل عملًا لاضرر فيه دينًا ولادنيًا بوالديه وهما يكرهانه فلا بدّ من الاستئذان به إذا كان له منه بدّ.
(فتاوى هندية ۵:۳۶۵، كتاب الكراهية، الباب السادس والعشرون)

۲) عن جابر رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: أنت ومالک لأبيک.
(مسند الإمام اعظم: ۲۰۸، كتاب الأدب)

۳) قال العلامة الزيعلي رحمه الله تعالى: وإن كان (الابن) كبيراً لاتجب عليه نفقته إلا إذا كان (الأب) موسراً والابن فقير زمن ونحوه.....أوطالب علم لايتفرع لذالک.
(تبيين الحقائق ۶۴: ۲باب النفقه، قبيل كتاب الإعتاق)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وكذا تجب لولده الكبير العاجز عن الكسب.... أو طالب العلم لايتفرغ لذلک، كذا في الزيلعي والعيني.
(الدر المختار ۲:۷۳۰، كتاب الطلاق، باب النفقة)

د حدیث (أنت ومالك لأبيك) له مخې پلار د ضرورت په وخت کې د زوی مال مصرفولی شي

سوال: ماتقول العلماء الكرام في المسئلة الآتية: ماحكم هذا الحديث (أنت ومالك لأبيك) أهذا الحكم في حالة الصغر أم في حالة الكبر أم في كليهما؟ بينوا توجروا.

المستفتي: نامعلوم... ۱۶/ ربيع الثاني ۱۴۰۵هـ

الجواب: حكم هذا الحديث لايختص بحال من الأحوال لكونه مطلقاً (١) وأن الفقهاء لم يقيدوه بهما (٢) فالأب عند الضرورة ينفق مال الابن (٣) وكذا

---

١) عن جابر رضي الله تعالىٰ عنه قال قال رسول الله ﷺ: أنت ومالک لأبيک.
(مسندالإمام اعظم: ۲۰۸، كتاب الأدب)

٢) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالىٰ: وتجب على موسر ولوصغيراً النفقة لأصوله الفقراء. (الدرالمختار مختصراً)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: لوكان للفقير ابنان أحدهمافائق في الغنى والأخريملک نصاباًفهي عليهماسوية.... هذا لو تفاوتا في اليسار تفاوتا يسيراً فلو فاحشاً يجب التفاوت فيها، بحر.

(ردالمحتار ۲: ۷۳۵، ۷۳۶، باب النفقة، مطلب ضابط في حصر أحكام نفقة الأصول والفروع)

٣) في هامش المسند: أنّ رجلاً اتى النبي ﷺ فقال يارسول الله! إن لي مالا ووالدا وانّ والدي يحتاج إلى مال فقال: أنت ومالک لوالدک، انّ أولادكم من أطيب كسبكم فكلوا من كسب أولادكم.... فيه تنبيه على أنّ للأب أن يأخذ من مال ابنه بغيبته بلا رضاه لصيانة نفسه. (هامش مسندالإمام اعظم: ۲۰۹، كتاب الأدب)

يستخدمه بلا وجوب الضمان والأجرة(۱) وهو الموفق.

---

(۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: لا يجوز للابن أن يستأخر أباه للخدمة. (در المختار ۲: ۳۶۳، كتاب النكاح، باب الظهر)

الله الله

فتاوی فریدیه

نهم جلد

باب حقوق الأستاذ

باب حقوق الأستاذ

په شاګرد باندې د استاذ حقوق

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو دې مسئلې په باره کې چې په شاګرد باندې د استاذ کوم کوم حقوق دي؟ بينوا توجروا.

المستفتي: قاري فداء الرحمن. دارالقرآن، ګاردن ټاون لاهور

الجواب: د استاذ حقوق کوم چې له قرآن او حديث څخه مستنبط دي دا دي:
أن لايفتح الكلام قبله ولايجلس مكانه وان غاب ولايرد عليه كلامه ولايتقدم عليه في مشيه كذا في ردالمحتار ۵: ۶۶۱(۱) قلت: وكذا القيام إليه(۲) وتعظيمه، ومن لم يشكر الناس لم يشكر الله(۳) وهوالموفق.

---

۱) (ردالمحتار ۵:۵۳۳،قبيل كتاب الفرائض)
(ومثله في الفتاوی الهندية ۵:۳۷۳،كتاب الكراهية،الباب الثلاثون في المتفرقات)

۲) وعن أبي سعيد الخدري رضي الله تعالیٰ عنه قال: لما نزلت بنو قريظة على حكم سعد بن معاذ بعث رسول الله ﷺ، فجاء على حمار، فلما دنا قال رسول الله ﷺ: قوموا إلی سيدكم. (مشكوة المصابيح)
وفي المرقاة: قال النووي: فيه إكرام أهل الفضل وتلقيهم والقيام لهم إذا أقبلوا واحتج به الجمهور، وقال القاضي عياض ليس هذا من القيام المنهي عنه.
(مرقاة المفاتيح ۸:۴،كتاب الجهاد،باب حكم الإسراء)

۳) عن أبي هريرة رضي الله تعالیٰ عنه عن النبي ﷺ قال: لايشكر الله من لا يشكر الناس. (سنن أبي داؤد ۲:۶۶۲،كتاب الأدب،باب في شكر المعروف)

داستاذ تعریف اوپه مسائلوکې دهغه مخالفت په کوموصورتونو کې روادی؟

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زيد د تعليم لپاره بهرني هيواد ته تللی، په پوهنتون کې هغه ځينې د عيسويانو او ځينې د نورو مذهبونو والا څخه لوست زده کوي، (مثلا مالکي او وغيره) اوس زيد د هغو مخالفت کوي په مذهبي شيانو کې يا په غير مذهبي شيانو کې، نو آيا زيد له هماغه استاذونو څخه عاق کېدلی شي او که نه؟ همدارنګه د استاذ جوړېدو معيار څه دی؟ په کوم شي باندې د يو بل استاذ جوړېدلی شي؟ آيا صرف نفس د کوم شي په ورزده کولو سره استاذ جوړېدلی شي او که نه؟ او که نور شرطونه د استاذ جوړېدو لپاره شته؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: شيربهادر، ډهيروی، متعلم دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک ...۸۶ء/۲/۱۰

الجواب: د علم دين ښوونکی شرعي استاذ دی، د نورو علومو ور زده کوونکی حقدار دی، ليکن شرعي استاذ نه دی، عرفي استاذ دی او په کومو مسئلو کې چې رأيې لره دخل وي په هغو کې د استاذ څخه باقاعده مخالفت نه عقوق دی او نه فسوق دی (۱)، **وهوالموفق**

د استاذ نافرمان شاګرد د والدينو د نافرمان زوی په شان فاسق دی

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې يو داسې شاګرد

---

۱) د استاذ سره په اجتهادي مسئلو کې اختلاف د سلف او خلف د تعامل نه نقل دی، لکه څنګه چې د صاحبينو اختلاف دخپل استاذ امام ابوحنيفه رحمه الله تعالی سره په سوونو مسئلو کې ثابت دی او دې طرف ته په حديث: إختلاف أمتي رحمة،، کې هم اشاره ده، وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى :وعلم بأن الاختلاف من آثار الرحمة فمهما كان الاختلاف اكثر كانت الرحمة أوفر . (درمختار)

وقال العلامة ابن عابدين :قال مالك بن أنس :إن اختلاف العلماء رحمة من الله تعالى على هذه الأمة :،كل يتبع ماصح عنده،وكلهم على هدًى،وكل يريدالله تعالى. (رد المحتار ۱: ۵،مطلب في حديث اختلاف أمتي رحمة)

دی چې هغه له استاذ سره د قرآن څه برخه لوستلې ده، هغه د خپل استاذ سره غیر اخلاقي خبرې وکړې، آیا داسې کس عاق کېدلی شي او که نه؟ که چېرته عاق کېدلی شي د هغه څه حکم دی؟ بینوا توجروا

المستفتي عبدالرشید، یارحسین، صوابی ۱۲/ ذی القعده

الجواب: واضحه دې وي چې د والدینو عقوق د حدیث د تصریح په بناء کبیره گناه ده، وهو ما رواه البخاري(۱) ومسلم عن عبدالله بن عمرو مرفوعاً(۲) مګر د استاذ د عقوق متعلق کومه واضح تصریح موجوده نه ده. البته د دلالة النص له وجې او د علي رضي الله عنه د اثر له وجې استاذ د والد څخه کم نه دی. (۳) بهرحال د استاذ عاق شوی هم فاسق دی، د هغه پسې لمونځ کول مکروه تحریمي

---

۱) عن أنس رضي الله تعالى عنه قال سئل النبي ﷺ عن الكبائر؟ فقال: الإشراک بالله وعقوق الوالدين وقتل النفس وشهادة الزور.

(صحيح البخاري ۱:۳۶۲، كتاب الشهادات، باب ما قيل في شهادة الزور)

۲) عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله تعالى عنه أن رسول الله ﷺ قال: من الكبائر شتم الرجل والديه، قالوا يا رسول الله! وهل يشتم الرجل والديه؟ قال نعم! يسبّ أبا الرجل فيسبّ أباه ويسبّ أمه فيسبّ أمه.

(صحيح المسلم ۱: ۶۴، كتاب الإيمان، باب الكبائر وأكبرها)

۳) قال الإمام برهان الإسلام الزرنوجي رحمه الله تعالى: قال عليّ كرم الله وجهه: أنا عبد من علمنى حرفًا واحداً، إن شاء باع، وإن شاء أعتق، و إن شاء استرق، وقد انشدت في ذلک شعراً: رأيت أحقّ الحقّ حقّ المعلّم :وأوجبه حفظًا على كل مسلم: لقد حقّ أن يهدي إليه كرامة: لتعليم حرف واحد ألف درهم. فإن من علمک حرفًا مما تحتاج إليه في الدين فهوأبوک في الدين.

(تعليم المتعلم طريق التعلم ۲۱، فصل في تعظيم العلم وأهله)

وفي الهندية: ويقدم حق معلمه على حق أبويه .....(دحاشيې باتې برخه)

دي، (۱) ولايلتفت الى ما في بعض الفتاوى الضعيفة من التغليظات التي لا أصل لها في الأصول ولا في الفروع، والله أعلم.

استاذ ته د كافر ويونكي حكم

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې څېل استاذ ته كوم چې ټول قرآن مجيد د هغه څخه ويل شوى وي، هغه ته د كافر ويونكي شاګرد څه حكم دى؟ بينوا توجروا.

المستفتي: حافظ احسان الحق صاحب.پبى ستيشن.. ۱۱ رجب المرجب ۱۳۹۷ء

الجواب: مسلمان استاذ ته كافر ويل موجب ګناه موجب تعزير دى او موجب عقوق دى، أما الأول فلما في صحيح البخاري: لايرمي رجلًا بالفسوق ولايرميه بالكفر الا ارتدت عليه ان لم يكن صاحبه كذلك(۲) وأما الثاني: فلما في شرح التنوير: وعزر الشاتم بيا كافر وهل يكفر ان اعتقد المسلم كافرًا؟ نعم! والالا به يفتى(۳) أما الثالث: فواضح.

نوټ: د فاسق شاته د صالحانو اقتداء مكروه تحريمي ده، (۴) البته له انفراد څخه اقتداء افضله ده،

(د حاشيې پاتې برخه)...وسائر المسلمين...وقد قال عليّ رضي الله تعالى عنه لابنه الحسن رضي الله تعالى عنه: قم بين يدى مولاک عني أستاذه.

(فتاوى هندية ۵:۳۷۸ كتاب الكراهية، الباب الثلاثون في المتفرقات)

۱) في الاختيار: ويكره إمامة العبد والأعرابي والأعمى والفاسق وولد الزنا.

(كتاب الاختيار ۱:۸۰، كتاب الصلوة، فصل أحكام الصلوة)

۲) (صحيح البخاري ۲:۸۹۳، كتاب الأدب، باب ماينهى عن السباب واللعن)

۳) الدرالمختار ۳:۲۰۱، باب التعزيز)

۴) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: وينبغي......(دحاشيې پاتې برخه)

،]كما في سائر كتب الفتاوى (۱) وهوالموفق

سيده معلمې ته د كنځل كوونكي حكم

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې مسمى اسلم بلا وجه د سيد لور ته پر لاره د تلو په وخت كې فحش كنځل وكړل. حالانكې مذكوره بي بي له اهل بيت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه ده او د مذكور اسلم معلمه هم ده. مذكور اسلم او دده پلار د همدې ښځې په ميره پسې شاته لمونځ هم كوي كوم چې د همدې خلكو بچيانو ته د دين تعليم او قرآن ور زده كوي. د داسې كس لپاره څه حكم دى؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي: اصغر شاه كاظمي. راولپنډي

الجواب: د مستفتي د صدق په شرط اسلم د عقوق او فسق مرتكب شوى دى. قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: سباب المسلم فسوق (رواه مسلم) (۲) په هغه باندې

(د حاشيې پاتې برخه)... أيكون محل كراهة الاقتداء بهم عندوجود غيرهم وإلا فلا كراهة كما لايخفى. (البحر الرائق ۱: ۳۴۹، باب الإمامة)

وقال العلامة الحلبي رحمه الله تعالى: كذا في فتاوى الحجة وفيه إشارة إلى أنهم إن قدموا فاسقًا يأثمون بناء على أن كراهة تقديمه كراهة تحريم.

(الشرح الكبير ۴۷۵، فصل في الإمامة)

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: فإن أمكن الصلاة خلف غيرهم فهو أفضل وإلا فالإقتداء أولى من الإنفراد.

(ردالمحتار ۱: ۴۱۳، قبيل مطلب الساعة البدعة خمسة أقسام، باب الأمامة)

۲) صحيح المسلم ۱: ۵۸، كتاب الإيمان، باب بيان قول النبي ﷺ، سباب المسلم فسوق وقتاله كفر)

ضروري ده چې توبه وکړي او د معلمې څخه معافي وغواړي. (۱) کنه نو دا کس د تعزیر لائق گرځي (۲)، وهوالموفق

استاذ او امام ته د سود خور او حرام خور ویونکي حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې یو کس خپل استاذ او د جوماتت امام ته سود خور او حرام خور ویلي دي، د هغه شرعي حکم څه دی؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي هدایت الله. پشاور ۱۹۷۶ء ۲/۱۱

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط دا کس د عقوق له وجې فاسق دی. (۳) لهذا

---

۱) في شرح الفقه الأكبر :وليس شيئاًيكون سبباًلغفران جميع الذنوب إلاالتوبة.... التوبة في الشريعة :هى الندم على معصية من حيث هي معصية مع عزم أن لايعود إليها إذا قدر عليها ..... وإن كانت عما فرط فيه من حقوق الله تعالىٰ كصلاة وصيام وزكاة فتوبته أن يندم على تفريطه....وإن كانت عما يتعلق بالعباد....فإن كانت المظالم في الأعراض كالقذف والغيبة فيجب في التوبة فيها مع ما قدمناه في حقوق الله تعالىٰ : أن يخبر أصحابها بماقال من ذلک ويتحلل منهم.....فإذا حللوه سقط عنه ما وجب عليه لهم من الحق.

(شرح الفقه الأكبر ۱۵۷،بحث التوبة)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالىٰ :وعزر كل مرتكب منكر أومؤذى مسلم بغير حق بقول أو فعل....فيعزر....بقذف كافر وكل من ليس بمحصن بزنا.

(الدرالمختار ۳: ۱۹۹،باب التعزير)

۳) عن عبدالله بن عمرو رضي الله تعالىٰ عنه قال قال رسول الله ﷺ :الكبائر الإشراک بالله وعقوق الوالدين وقتل النفس واليمين الغموس.

(مشکوة المصابيح ۱۷،باب الكبائر وعلامات النفاق،الفصل الأول)

ددې کس لپاره د خپل استاذ څخه معافي غوښتل لازمي دي او د الله تعالی په دربار کې ورته توبه کول ضروري ده (۱) فقط

خپل شاګرد ته د قرآن په اورولو سره استاذي او شاګردي نشي ثابتېدلی

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو استاذ حافظ قرآن خپل شاګرد ته د خپل شک لېرې کولو له امله قرآن پاک اورولی دی، ايا په دغه استاذ باندې د شاګرد حقوق وغيره د استاذ په مثل لازمېدی شي، که چيرته استاذ د دغه شاګرد ادب کوي؛ نو د دغه شاګرد تعليمي حالت خرابېږي له وهلو پرته ګوزاره نه کېږي؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي: قاري محمد خان، اچهړيان .۱۰ دسمبر ۱۹۷۵ع

الجواب: د همداسې نوعيت په اورولو سره شاګردي او استاذي نه شي ثابتېدلی، کمافی مراجعة جبرائيل عَلَيْهِ السَّلَامُ مع النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فی رمضان (۲) **وهو الموفق.**

د شاګرد د استاذ لخوا د غره له ونو څخه په منع کولو باندې د عاق کېدو مسئله

سوال: جناب مفتي صاحب! د لاندې ذکر شوې مسئلې په ځواب سره مو ونازوی چې انور زيد ته تعليم ورکړی دی. اوس انور وايي چې ما زيد عاق کړی دی.

---

۱) قال العلامة النووي رحمه الله تعالى: قال العلماء: التوبة واجبة من كل ذنب ...وإن كانت المعصية تتعلق بآدمي فشروطها أربعة ، هذه الثلاثة، وأن يبرأمن حق صاحبها...وإن كانت حد قذف ونحوه مكنه منه أوطلب عفوه.
(رياض الصالحين ۳۴، باب التوبة)

۲) عن أبي هريرة رضي الله تعالىٰ عنه قال: كان يعرض على النبي ﷺ القرآن كل عام مرة فعرض عليه مرتين في العام الذي قبض.
(مشكوة المصابيح ۱۸۳، باب الاعتكاف)

هغه داسې چې د زید غر وو او انور له هغه ځخه لرګي پرې کول او په هندې لرګيو باندې حکومت پابندي لګولې وه. نو ځکه هغه وايي چې ما ته عاق کړې يې. له دې پرته انور بل ځوک راپورته کړي دي چې ته د زيد په جايداد باندې دعوه وکړه، هغه بل کس په هغه باندې دعوه وکړه نو قاضي صاحب د مصلحت په ډول له زيد ځخه ځلور سوه روپۍ واخيستې او مدعي ته يې ورکړې. اوس دغه مالي نقصان کوم چې بلا وجه زيد ته ورسيده محض د انور په شرارت سره. نو آيا زيد په دې خبره باندې چې دی له خپل حق ځخه نورو منع کړی دی عاق شوی دی او که نه؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: ميان جي ملا صاحب. تيمر ګره. دير ستيټ ۶۹ع ۸/۱

الجواب: د غره ونې غير مملوک دي له هغو ځخه د هيچا منع کول روا نه دي. برابره ده که استاذ وي که شاګرد وي، **يدل عليه ما في الهندية ۱: ۱۹۷، وما يجمع من ثمار الأشجار التى ليست بمملوكة كأشجار الجبال يجب فيها العشر كذا في الظهيرية() وهوالموفق**

د عاق طالب پسې د لمانځه حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس علوم زده کول ليکن يو شمير استاذان له ده ځخه ناراضه شوي وو او دی يې عاق کړی و، د دغه کس پسې د لمانځه څه حکم دی او د عاق څه حکم دی؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: مولوي عيد محمد. دارالعلوم عربيه تل. کوهاټ

---

۱) (فتاوى هندية ۱۸۶: ۱، الباب السادس في زكاة الزرع والثمار)

وفي شرح المجلة: الأشجار التي تنبت بلا غرس في الجبال المباحة يعني غير المملوكة مباحة.

(شرح المجلة ۱۸۲: ۴، المادة نمبر ۱۲۴۳)

الجواب: عاق فاسق دی، لکون العقوق کبیرة، کما فی الحدیث(۱) د هغه پسې اقتداء کول مکروه تحریمي ده، لکه څرنګه چې د نورو فاسقانو هم همدا حکم دی،[۲] الا أن یکون أصلح القوم فلا کراهة کما فی إمامة البحر(۳) وهو الموفق.

د طالب العلم له خپل استاذ سره په سبق کې بحث مباحثه کول

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې که چیرته یو طالب العلم د خپل استاذ سره په سبق کې کوم بحث وکړي نو دا روا دی او که نه؟ بینوا توجروا

المستفتي: عالم زیب، چارسده ۱۹۶۹ع ۱۴۱

الجواب: د خپل ځان پوهولو یا د حق ثابتولو لپاره بحث کول روا دی وهو الموفق

---

(۱) عن عبدالله بن عمرو رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: الكبائر الإشراك بالله وعقوق الوالدين وقتل النفس واليمين الغموس.
(صحيح المسلم ۱: ۶۴، كتاب الإيمان، باب الكبائر واكبرها)

(۲) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: قوله ويكره إمامة عبد....وفاسق) من الفسق وهوالخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من يرتكب الكبائر.
(ردالمحتار ۱: ۴۱۴، قبيل مطلب البدعة خمسة اقسام)

(۳) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: وينبغى أن يكون محل كراهة الاقتداء بهم عند وجود غيرهم وإلا فلا كراهة كما لايخفى!
(البحر الرائق ۱: ۳۴۹، باب الإمامة)

الله الله

فتاوى فريديه

نهم جلد

باب توهين الإمام والعلماء

باب توهين الامام والعلماء

د جومات د امام توهين او په هغه باندې د دروغو الزام لګول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د جومات امام د توهين کوونکي څه حکم دی؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: خليل الرحمن، پشاور

الجواب: د مسلمان توهين او په هغه باندې د دروغو الزام لګول منصوصاً حرام دي، (۱) د صدق او ثبوت په شرط په دغه کس باندې ضروري ده چې له امام څخه معافي وغواړي او توبه وکړي، (۲) کنه نو نور مسلمانان دي د هغه سره په پريکون کولو باندې مجبور شي (۳) **وهوالموفق**

---

۱) وفي المشكوة: عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: المسلم أخو المسلم لايظلمه ولايخذله ولايحقره، التقوى ههناويشير إلى صدره ثلث مرار، بحسب امرئ من الشر أن يحقرر أخاه المسلم، كل المسلم على المسلم حرام دمه وماله وعرضه. (مشكوة المصابيح: ۴۲۲، باب الشفقة والرحمة على الخلق، الفصل الأول)

۲) قال العلامة النووي رحمه الله تعالى: وإن كانت المعصية تتعلق بآدمي فشروطها أربعة، هذه الثلاثة وأن يبرأ من حق صاحبها، فإن كانت مالًا أونحوه ردّه إليه، وإن كانت حد قذف ونحوه مكنه منه أوطلب عفوه وإن كانت غيبة استحلّه منها.

(رياض الصالحين ۳۳، باب التوبة)

۳) وفي المرقدة: فإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة على مرّ الأوقات مالم يظهرمنه التوبة والرجوع إلى الحق.

(مرقاة المفاتيح ۹: ۲۶۲، باب ما ينهى عنه من التهاجر والتقاطع)

امام او مقتداء ته کنځل کول او بې عزتي کول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو بالغ انسان خپل امام او مقتداء ته کنځل وکړه او د هغه بې عزتي يې وکړه. د هغه څه حکم دی؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي: عبدالمجيد. ايبټ آباد. ۲۳/۱۱/۷۸ع

الجواب: د هر مسلمان تحقير حرام دی. **لحديث: وأن تحقر أخاك، أو كما قال**(۱) په ځانګړي ډول د امام بې عزتي کومه چې د جومات د ورانيدو لپاره ذريعه ده. د همدې سړي لپاره ضروري ده چې امام راضي کړي او د الله تعالی څخه معافي وغواړي (۲) **وهوالموفق**

بلا وجه د امام توهين کوونکی فاسق او په هغه باندي توبه او له امام څخه معافي غوښتل ضروري ده

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو امام او د قرآن حافظ کوم چې ټول عمر بالکل سم تراويح او لمونځ کولو. يوه ورځ د ماسپښين د لمانځه وروسته يو منافق ډوله انسان خپل امام ته کنځل وکړه او د

---

۱) وفي المشكوة: عن أبي هريرة قال قال رسول الله ﷺ: المسلم أخوالمسلم، لايظلمه ولا يخذله ولايحقره، التقوى ههنا، ويشير إلىٰ صدره ثلث مرار، بحسب امرئ من الشر أن يحقر أخاه المسلم، كل المسلم على المسلم حرام دمه وماله وعرضه.
(مشكوة المصابيح ۴۲۲، باب الشفقة والرحمة على الخلق، الفصل الأول)

۲) قال العلامة النووي رحمه الله تعالى: أن لها (التوبة) ثلثه أركان، الإقلاع والندم على فعل تلك المعصية والعزم على أن لايعود إليها أبداً، فإن كانت المعصية لحق آدمي فلها ركن رابع وهوالتحلل من صاحب ذلك الحق.... واتفقوا على أن التوبة من جميع المعاصي واجبة. (حاشية النووي على صحيح المسلم ۲: ۳۵۴، كتاب التوبة)

توهين كوونكو الفاظو له ويلو وروسته خبره تر لاس اچولو ورسيده. آيا اسلام
اچې ملا او واعظ بې ستني دي، په عام محضر کې په دومره زړورتيا او پټو
سترګو د دوی بې عزته کول پر ځای عمل ګڼي؟ ګويا د همدې ملا شاته بې دينه،
ګمراه او منافق خلک هميشه لمونځ هم کوي. د داسې خلکو د اسلام په دين کې
څه حکم دی؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي مولوي عزيز الرحمن. مری ۱۹۶۹ع ۱۲ ۹

الجواب: دا کس بغير د څه وجې د توهين کولو لامله فاسق دی. هغه ته توبه
کول او له امام څخه معافي غوښتل ضروري ده، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:
**ملعون من ضار مؤمنا (رواه الترمذی)(١) وأيضًا: حرم ذم المؤمن وعرضه وماله(٢) وفي
الهندية ۵: ۴۰۸، قال الزندويسي حق العالم على الجاهل وحق الأستاذ على التلميذ واحد
على السواء(٣) وهو الموفق.**

د ټولو طالبانو او علماوو تحقير موجب کفر دی

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو د دې مسئلې په باره کې چې يو کس د
کوم طالب العلم بې عزتي وکړي يا هغه ته د ذلت او حقارت په سترګه وګوري يا
طالبی ته سپک وګوري، نو د دغه کس نکاح ماتيږي او که نه؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي دکاندار، ګل بانډه، مردان. ۷۵ع/۹/۲

---

١) (جامع الترمذي ٢: ۴۵، أبواب البر والصلة، باب ماجاء في الخيانة والغش)
٢) عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: المسلم أخو المسلم
لايخونه ولايكذبه ولايخذله، كل المسلم على المسلم حرام عرضه وماله ودمه.
(جامع الترمذي ٢: ۴٢، أبواب البر والصلة، باب ماجاء في شفقة المسلم على المسلم)
٣) فتاوى هندية ۵: ٣٧٣، كتاب الكراهية، الباب الثلاثون في المتفرقات)

الجواب: د عالم او طالب بې ادبي حرامه ده، [1] لیکن ارتداد نه دی، لهذا په دې سره په نکاح باندې کوم اثر نه پریوځي، البته هر ډول تحقیر او بغض په حقیقت کې د دین تحقیر او بغض دی او موجب کفر دی. **كما يشير إليه كلام القاري في شرح الفقه الأكبر[2] وهو الموفق.**

امام ته د سیک او کافر په ویلو د توبه نه ویستونکي سره پریکون کول

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې مقتدي بلا وجه په عام محضر کې د خپل جومات امام ته سیک او کافر وویل. له دې پرته کنځل یې هم وکړه، بیا سره له پوهېدو چې د مسلمان لپاره امام ته د سیک او کافر ویل کبیره ګناه ده. هغه په خپل دغه ناوړه او قبیح عمل شرمنده او پښېمانه نه شو او توبه کوونکی نه شو، د داسې مقتدي په باره کې د لاندې ذکر شویو سوالونو په قرآن او حدیث سره ځواب راکړئ

(۱) مسلمان ورور ته په عام محضر کې کافر ویل روا دي او که نه د هغه لپاره څه حکم دی؟

(۲) کوم مقتدي چې د حقارت په سترګه امام ته ګوري د هغه تعظیم او تکریم نه کوي. د هغه څه حکم دی؟

(۳) آیا د همداسې کفریه لغویاتو استعمالوونکی مقتدي د همدې امام شاته بیا

---

۱) عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: المسلم أخو المسلم لايخونه ولايكذبه ولايخذله، كل المسلم على المسلم حرام عرضه وماله ودمه.
(جامع الترمذي ۲: ۴۲، أبواب البر والصلة، باب ماجاء في شفقة المسلم على المسلم)

۲) وفي الخلاصة: من أبغض عالماً من غير سبب ظاهر خيف عليه الكفر، قلت: الظاهر أنه يكفر لأنه إذا أبغض العالم من غير سبب دنيوي أو أخروي فيكون بغضه لعلم الشريعة، ولا شك في كفر من أنكره فضلاً عمن أبغضه.
(شرح الفقه الأكبر ۱۷۳، فصل في العلم والعلماء)

ښځه وخته لمونځ په جماعت او د جنازې لمونځ اداء کولی شي؟

(۴) د محلې اوسيدونکو ته د هغه سره په غم او خوشحالی کې پريکون کول روا دي او که نه؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: محمد رفيق، مدرس موضع منګ، ډاکخانه هري پور ۱۹۶ع ۳/ ۱۳

الجواب: د صدق په شرط مذکور سړی فاسق دی. د هغه لپاره توبه ويستل د امام او د محلې له اوسيدونکو څخه معافي غوښتل ضروري دي کنه نو له هغه سره ترک موالات ضروري دی. د هغه لمونځ او جنازه د همدې امام شاته صحيح ده، اګر که د امام زړه نه غواړي. قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: **سباب المسلم فسوق(¹)والدليل على ترك الموالات ما ذكر في القرآن(²)والحديث(³)من ترك الموالات بالثلثة الذين خلفوا عن التوبة، وكذا ترك التكلم من بعض الصحابة بابنه لأمر مروی بلا خفاء(⁴)وهوالموفق.**

---

١) صحيح البخاري ٢: ٨٩٣، كتاب الأدب، باب ماينهى عن السباب واللعن)

٢) وقال الله تبارك وتعالى: وَّعَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا ؕ حَتّٰۤى اِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ اَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوْۤا اَنْ لَّا مَلْجَاَ مِنَ اللّٰهِ اِلَّاۤ اِلَيْهِ ؕ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوْبُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ. (سورة التوبة، آيت: ١١٨، پاره ١١)

٣) عن عبدالرحمن بن عبدالله بن كعب بن مالك أن عبدالله بن كعب قال سمعت كعب بن مالك يحدث حديثه حين تخلف عن رسول الله ﷺ في غزوة تبوك....ونهى رسول الله ﷺ المسلمين عن كلامنا أيها الثلاثة من بين من تخلف عنه قال فاجتنبنا الناس.

وقال العلامة النووي رحمه الله تعالى: وفي هذا هجران أهل البدع والمعاصي.

(صحيح المسلم ٢: ٣٦١، كتاب التوبة، باب حديث توبة كعب بن مالك وصاحبيه)

۴) عن عبدالله بن عمرو رضي الله تعالى عنهما أن النبي ﷺ...(باتي حاشيه په بل مخ)

رمضان کې د ماښام آذان په وروسته کولو سره امام ته کنځل کول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس د جوماتِ امام ته په رمضان شريف کې د ماښام په آذان باندې کنځل وکړه چې اوس وخت شوی دی ولې آذان نه کوې؟ د شريعت له مخې د هغه لپاره کوم سزا مقرره شوې ده؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي ماسټر محمد اشرف. ضلع ايبټ آباد ۱۵ ستمبر ۱۹۷۹ء

الجواب: په دغه کس باندې ضروري ده چې د امام څخه معافي وغواړي.[۱] امام صاحب ته

(د حاشيې پاتې برخه) قال: لايمنعن رجل أهله أن يأتوا المساجد، فقال ابن لعبدالله بن عمر: فإنا نمنعهن، فقال عبدالله أحدثک عن رسول الله ﷺ وتقول هذا، قال فماكلّمه عبدالله حتى مات، رواه أحمد.

(مشکوة المصابيح: ۹۷، باب الجماعة وفضلها)

وعن عبدالله بن مغفل رضي الله تعالى عنه أنه كان جالساً إلى جنبه ابن أخ له فخذف فنهاه، وقال: إن رسول الله ﷺ نهى عنها وقال: إنهالاتصيد صيداً ولاتنكئ عدواً وإنها تكسر السن وتفقاء العين قال: فعاد ابن اخيه يخذف فقال أحدثک أن رسول الله ﷺ نهى عنها عدت ثم تخذف، لاأكلمک أبداً.

(سنن ابن ماجة ۳، باب تعظيم حديث رسول الله ﷺ)

۱) في حاشية صحيح البخاري: التوبة.... وهي في الشرع: ترک الذنب لقبحه، والندم على مافرط، والعزم على ترک المعاودة، وتدارک ما أمكنه أن يتدارک من الأعمال بالإعادة وردالمظلمات لذويها أو تحصيل البراءة منهم.

حاشية صحيح البخاري ۲: ۹۳۳، كتاب الدعوات، باب التوبة)

کنځل کول له فسق(۱) پرته د بې انتظامي موجب هم دي. وهوالموفق

د آذان په وخت کې له امام سره د مذاق کوونکي او په عام محضر کې د کنځل کوونکي حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس د آذان په وخت کې د جومات له امام سره توقې کړې دي او په عام محضر کې يې کنځل کړي دي. آيا په دغه کنځل کوونکي باندې شرعي حکم جاري کېدلى شي او که نه؟ ښځه د هغه د نکاح څخه جلا کېدلى شي او که نه؛ کله چې همدا کنځل صرف د ذاتي ضد له وجې وي؟ بينوا توجروا

المستفتي نور عالم، کېل. مظفر آباد ۱۹۷۵ع ۱۵/۹

الجواب: په هر امام پسې مذاق (توقې) کول او هغه ته کنځل کول حرام دي، قال الله تعالى: لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ (الايه)(۲) وقال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: سباب المسلم فسوق(۳)، پس په دغه کس باندې ضروري ده چې توبه وکړي او له امام څخه معافي وغواړي(۴) کنه نو له هغه سره دي

---

۱) عن عبدالله بن مسعود رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: سباب المسلم فسوق. (صحيح البخاري ۲: ۱۹۳، کتاب الأدب، باب ماينهى عن السباب واللعن)

۲) سورة الحجرات، آيت: ۱۱)

۳) صحيح مسلم ۱: ۵۸، کتاب الإيمان، باب بيان قول النبي ﷺ: سباب المسلم فسوق وقتاله کفر)

۴) وقال العلامة علي قاري رحمه الله تعالى: وإن كانت عمافرط فيه من حقوق الله تعالى كصلاة وصيام وزكاة فتوبته أن يندم على تفريطه....إن كانت عمايتعلق بالعباد....فإن كانت المظالم في الأعراض كالقذف والغيبة فيجب في التوبة فيها ما قدمناه في حقوق الله تعالى أن يخبر أصحابها بماقال من ذلك ويتحلل منهم.....فإذا حللوه سقط عنهم ماوجب عليه لهم من الخ. (شرح الفقه الأكبر ۱۵۷، بحث التوبة)

پرېکون وشي (۱) **وهوالموفق**

له شرعي وجې پرته د امام له جومات څخه ويستل او اهانت کول فسق او حرام دي

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې کوم کس امام پرته له کومې شرعي وجې د لمانځه کولو په وخت کې ونيسي او بيرون يې وباسي آيا په شريعت کې د داسې کس لپاره کومه سزا شته؟

واقعه داسې بيان شوې ده چې د مازديګر په وخت کله چې امام جومات ته داخل شو نو څو کسانو په جومات کې د داخليدو پر مهال پيش امام ونيولو. د محراب څخه يې راکش کړو او د باندې يې وويستلو. يو مقتدي چې نه امام و او نه عالم و په محراب کې يې ودرولو او له دې مخکې هم همدې کسانو امام په ناوړه الفاظو سره نومولی وو او د لمانځه په وخت کې څو ځلې له جماعت پرته يې لمونځ ادا کړی دی او د امام بې عزتي يې په عام مجلس کې کړې وه او د توهين الفاظ يې ورته ويلي دي، د همدې حالاتو په رڼا کې له تاسو محترمو غوښتنه دا ده چې د شريعت مطابق ليکل شوې فتوی راوليږئ؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: مولوي نذير احمد. خطيب جامع مسجد سنګريړۍ، هزاره

الجواب: د يوه مسلمان په ځانګړي ډول د امام (پرته له شرعي وجې) اهانت کول فسق دی. (۲) د دوی لپاره ضروري ده چې

---

۱) في المرقدة: قال الخطابي: رخص المسلم أن يغضب على أخيه ثلاث ليال لقلته ولا يجوز فوقها إلا إذاكان الهجران في حق من حقوق الله تعالى فيجوز فوق ذلك.... فإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة على مرّالأوقات مالم يظهرمنه التوبة والرجوع إلى الحق. (مرقاة المفاتيح ۹: ۲۶۲، باب ماينهى عنه من التهاجر والتقاطع واتباع العورات)

۲) عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: كل المسلم حرام ماله وعرضه ودمه، حسب امرئ من الشر أن يحقر أخاه المسلم، عن سعيدبن زيد رضي الله تعالى عنه عن النبي ﷺ قال: إن من أربى الربا الاستطالة في عرض المسلم بغير حق. (سنن أبي داؤد ۲: ۶۶۹، كتاب الأدب، باب في الغيبة)

امام راضي کړي که نه د محلې د نورو خلکو لپاره ضروري ده چې له دوی سره تعلق قطع کړي.(۱) وهوالموفق

د امام بې عزتي کوونکي او د توبې نه کوونکي له جومات څخه منع کول ناروا دي

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې مسمی نواب خان ته د ځايي سيمې مولوي صاحب وويل چې ته د تراويح کولو ته ته راځې څه وجه ده؟ هغه وويل چې زما جامې ناپاکې دي. مولوي صاحب ورته وويل چې جامې ومينځه جومات ته خامخا حاضر شه ځکه چې ته د جومات همسايه يې او آذان هم اورې. صرف په همدې خبره هغه غوسه شو او مولوي صاحب ته يې کنځل شروع کړه. تردې چې تر وژلو پورې يې هم کوشش وکړ مگر هلته ځو کسان موجود وو هغوی منعه کړو. هغه په ځانگړي ډول د اسلام او د مذهب ډېر زيات توهين وکړ او ډېر سخت د ذلت الفاظ يې استعمال کړه. سره له دې چې هغه بيخي په هوش کې وو. له دې وروسته هغه ځو ځله د خلکو پر وړاندې هم د امام بې عزتي وکړه. اوس له علماء کرامو څخه غوښتنه دا ده چې د همداسې کس متعلق شرعًا صحيح حکم وليکي ترڅو نور خلک عبرت واخلي؟

نوټ: که چېرته دغه کس له تعزير يا کفاره ورکولو څخه انکاري شي نو دا هم وليکی چې بيا څه ډول عمل د هغه خلاف وکړی شي په کوم سره چې هغه په سمه لار راشي، ستاسو به ډېره زياته مهرباني وي؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي: قاضي مشتاق احمد قريشي، راولپنډی. ۴/ شوال ۱۳۸۹ هـ.

الجواب: دا کس فاسق دی، قال النبی صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: سباب المسلم فسوق(۲) لهذا

---

۱) وقال الملاعلي قاري رحمه الله تعالى: فإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة على مرّالأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق.
(مرقاة المفاتيح ۹: ۲۶۲، باب ماينهى عنه من التهاجر والتقاطع)

۲) صحيح المسلم ۱: ۵۸، كتاب الإيمان، باب قول النبي ﷺ: سباب المسلم فسوق)

په دغه کس باندې ضروري ده چې امام راضي کړي او د الله طرفته توبه وکړي، (۱) که چیرته مصلحت وي: نو د هغه سره دې ترک موالات وشي. (۲) لیکن د جومات او لمانځه څخه دې نه منع کیږي (۳) **وهوالموفق**

د جومات امام بې عزتي او بې حرمتي کوونکي سره ترک موالات

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې یو کس د جومات د امام بې حرمتي کړې ده، د کوم په نتیجه کې چې د قرآن بې حرمتي شوې ده. قرآن مجید هم تر پښو لاندې شوی دی. د هغه څه حکم دی؟ **بینوا توجروا.**

المستفتي: محمد زبیر هاشمي

الجواب: د امام دغه توهین کوونکی فاسق او فاجر دی. (۴) په مسلمانانو

---

۱) قال العلامة النووي رحمه الله تعالى: قال العلماء: التوبة واجبة من كل ذنب.... وإن كانت المعصية تتعلق بآدمي فشروطها أربعة، هذه الثلاثة وأن يبرأ من حق صاحبها.... وإن كانت حد قذف ونحوه مكنه منه أوطلب عفوه. (رياض الصالحين ۳۴، باب التوبة)

۲) وفي المرقدة: فإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة على مر الأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق.
(مرقاة المفاتيح ۹: ۲۶۲، باب ماينهى عنه من التهاجر والتقاطع)

۳) قال الله تعالى: وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰهِ أَنْ يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ وَسَعٰى فِي خَرَابِهَا.
(سورة البقرة: آيت ۱۱۴)

۴) عن أبي هريرة قال قال رسول الله ﷺ: المسلم، لايخونه ولايكذبه ولايخذله، كل المسلم على المسلم حرام عرضه وماله ودمه.
(جامع الترمذي ۲: ۴۲، أبواب البر والصلة، باب ماجاء في شفقة المسلم)

ضروري ده چې دغه کس د معافي په غوښتلو مجبور کړي او د تېنګار په وخت کې د هغه سره ترک موالات وکړي (۱)فقط

عالم ته د کنځل کوونکي حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس يو مولوي صاحب ته (کوم چې په خانداني ډول عالمان دي او ماشومانو ته د قرآن مجيد تعليم هم ورکوي) په يوه دنيوي معامله کې کنځل کړي دي. له داسې انسان (کوم چې مولوي صاحب ته په ناحقه بد ويلي) سره څه ډول چلند پکار دی؟ بينواتوجروا.

المستفتي تاج محمد. کرهی

الجواب: په همدې کنځل کوونکي باندې ضروري ده چې توبه وکړي. له الله تعالى څخه معافي وغواړي او امام صاحب هم راضي کړي. (۲)قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: سباب المسلم فسوق وقتاله كفر (رواه مسلم)(۳) وهوالموفق.

---

۱) أن عبدالله بن كعب قال سمعت كعب بن مالك يحدث حديثه حين تخلف عن رسول الله ﷺ في غزوة تبوك......ونهى رسول الله ﷺ المسلمين عن كلامنا أيها الثلاثة من بين من تخلف عنه ،قال فاجتنبنا الناس.

وقال العلامة النووي رحمه الله تعالى :وفي هذا هجران أهل البدع والمعاصي.

(صحيح المسلم ۲ :۳۶۱،كتاب التوبة ،باب حديث توبة كعب بن مالك وصاحبيه)

۲) قال العلامة النووي رحمه الله تعالى :أن لها (التوبة) ثلثة أركان :الإقلاع والندم على فعل تلك المعصية والعزم على أن لا يعود إليها أبداً،فإن كانت المعصية لحق آدمي فلها ركن رابع وهوالتحلل من صاحب ذلک الحق.....واتفقوا على أن التوبة من جميع المعاصي واجبة.(حاشية النووي على صحيح المسلم ۲ :۳۵۴،كتاب التوبة)

۳)صحيح المسلم ۱ :۵۸،كتاب الإيمان ،باب بيان قول النبي ﷺ سباب المسلم فسوق)

د عالم بې عزتي او ذليل كوونكي حكم

سوال: څه فرمايلي دي علماء، كرامو ددې مسئلې په باره كې چې يو عالم دين كوم چې د زيد استاذ دى، زيد د هغه توهين، بې عزتي او تذليل كړى دى. ايا زيد شرعًا مجرم دى؟ بينواتوجروا.

المستفتي: عبد العزيز مالكي، مانسهره ۱۴/ اگست ۱۰۸۹ع

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط دا توهين كوونكى مجرم دى، په هغه باندې ضروري ده چې د الله تعالى څخه معافي وغواړي او د استاذ څخه هم معافي وغواړي او هغه راضي كړي(۱) لحديث: بحسب امرء من الشر أن يحقر أخاه المسلم، رواه مسلم بحواله مشكوة ۲: ۴۲۲.(۲) وهوالموفق.

د عالم امام گستاخي، بې حرمتي او كنځل كوونكي حكم

سوال: څه فرمايلي دي علماء، كرامو ددې مسئلې په باره كې چې يو كس پرته له كوم شرعي عذر د يو ديني عالم د جومات له امام سره جنجال وكړ، ناروا كنځل يې وكړه، په اخيره اندازه گستاخي او بې حرمتي يې وكړه. له داسې كس سره د كلي خلكو ته څه ډول چلند كول پكار دى؟ بينواتوجروا.

المستفتي: عبدالمالک خان. تحصيل وضلع مانسهره. ۹۰ع/ ۸/ ۱۱

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط دا كس فاسق دى، (۳) په هغه باندې ضروري

---

۱) في هامش صحيح البخاري :التوبة.....وهى في الشرع ترک الذنب لقبحه والندم على مافرط منه والعزم على ترک المعاودة وتدارک ما أمكنه أن يتدارک من الأعمال بالإعادة وردالمظلمات لذويها أوتحصيل البراءة منهم.
(هامش صحيح البخاري ۲: ۹۳۳، كتاب الدعوات، باب التوبة)

۲) مشكوة المصابيح ۴۲۲، باب الشفقة والرحمة على الخلق)

۳) عن عبدالله بن مسعود رضي الله تعالىٰ عنه قال...... (پاتې حاشيه په بل مخ)

ده چې تائب شي او هغه امام راضي کړي. (۱) کنه نو د کلي خلک دي له هغه سره پريکون وکړي (۲) وهوالموفق

د صحت امامت د وجوهاتو د موجوديدو باوجود د امام معزول کول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د جامع جومات يو امام او خطيب د لمانځه او روژې پابند او عبادت کوونکی دی. ليکن د جماعت خيال نه ساتي. يعنې سره له دې چې د جومات ګاونډی دی خو د جومات پر ځای زياتره وخت په خپل کور کې لمونځ ادا کوي. زياتره عوام په همدې وجه د هغه څخه خفه دي. سره له استطاعت په يوه دکان کې د پنځوسو روپيو ماهانه ملازم دی. حنفي المذهب دی. د هغه د امامت او خطابت په باره کې د شريعت څه حکم دی؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: سيد عالم خان صاحب. روالپنډی

الجواب: په دغه کس کې د امامت د عدم صحت وجوهات موجود نه دي (۳) او

(د حاشيې پاتې برخه) قال رسول الله ﷺ: سباب المسلم فسوق.
(صحيح البخاري ۲: ۱۹۳، کتاب الأدب، باب ما ينهى عن السباب واللعن)

۱) قال العلامة النووي رحمه الله تعالى: قال العلماء: التوبة واجبة من كل ذنب.... وإن كانت المعصية تتعلق بآدمي فشروطها أربعة، هذه الثلاثة وأن يبرأ من حق صاحبها ...وإن كانت حد قذف ونحوه مكنه منه أوطلب عفوه. (رياض الصالحين ۳۴، باب التوبة)

۲) في المرقدة: فإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة على مر الأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق. (مرقاة المفاتيح ۹: ۲۶۲ ما ينهى عنه من التهاجر والتقاطع)

۳) وفي الهندية: ,,الأولى بالإمامة أعلمهم بأحكام الصلوة...هذا إذا علم من القراء قدر ماتقوم به سنة القراءة.....ولم يطعن في دينه.....ويجتنب الفواحش الظاهرة و إن كان غيره أورع منه. (فتاوى هندية ۱/۸۳، كتاب الصلوة، الباب الخامس في الإمامة)

بلا وجه په عزل او نصب کولو کې د قوم لپاره ډیر خطرات موجود دي. والسلام

د امام له امامت څخه معزول کول

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو دې مسئلې په باره کې چې زموږ په کلي کې څو کسانو د خپې جومات د امام بې عزتي او توهین وکړو او بو بل امام یې په جومات کې مقرر کړی دی چې عمر یې ۴۰ کاله دی او واده یې نه دی کړی او دا هم معلومه نه ده چې د هغه څه عقیده ده؟ د کوم مذهب پیروي کوي؟ د داسې کس شاته لمونځ کول روا دي او که نه؟ او یوې ډلې قرآني پریکړه وکړه چې محکنی امام دې امامت کوي. هغوی وعده او اقرار مات کړو. دویم امام یې مقرر کړو. د داسې کس لپاره څه حکم دی؟ **بینوا توجروا**

المستفتي مولوي نذیر احمد. کوهاله، براسته کوه مری ۱ صفر ۹۰هـ

الجواب: چونکې د امامت کبری (بادشاهی) څخه معزول کول تغلبًا صحیح دي، کله چې په اهل حل او عقد سره وي؛ نو له امامت صغری څخه په طریقه اولی صحیح شول. بېشکه تحقیر (۱) او بې شرعي وجې عزل ناروا دی په کوم باندې چې د مواخذې خطر موجود دی، **صرح به في کتب علم الکلام(۲) والفقه کالدر المختار حیث قال: ویعزل به إلا لفتنة وتصح سلطنة متغلب للضرورة.(۳) وهو الموفق**

---

۱) عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: المسلم أخو المسلم، لايخونه ولايكذبه ولايخذله، كل المسلم على المسلم حرام عرضه وماله ودمه.
(جامع الترمذي ۲: ۲۲، أبواب البر والصلة، باب ماجاء في شفقة المسلم على المسلم)

۲) وفي شرح العقائد: وفي رواية النوادر عن العلماء الثلثة أنه لايجوز قضاء الفاسق، وقال بعض المشائخ: إذا قلد الفاسق ابتداءً يصح ولو قلد وهو عدل ينعزل بالفسق لأن المقلد اعتمد على عدالته فلم يرض بقضائه بدونها. (شرح العقائد ۱۱۵، بحث الإمام)

۳) ردالمحتار ۱: ۴۰۵، كتاب الصلوة، باب الإمامة، مطلب شروط الإمامة الكبرى)

د ضرر رسوونکي کس له جومات څخه منع کول او امام ته د دين د اهانت له وجې د کنځل کوونکي حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو د دې مسئلې په باره کې چې دوه کسان په يوه محله کې اوسيږي کومو چې د جومات خطيب (عالم دين) په خلاف د زبردست بهتان تراشي په کولو سره د هغه توهين کړی دی. يو خل د هغه په کور ورغلل او د هغه اهل ته يې فحش کنځل وکړل او تر قتل پورې خبره ورسيده او يو خل يې نائب خطيب ته بلا وجه په جومات کې کنځل وکړه. هغه يې د ډېرې څخه ونيولو. ترڅو چې د جومات څخه يې په بې عزتۍ سره ووستلو. دريم خل کله چې دويم خطيب د حکومت لخوا راغی نو د هغه په خلاف يې هم بهتان تراشي او غيبت شروع کړو سره له دې چې په خپله د هغه کس حالت دا دی چې وعده خلافي کول. خيانت کول او دروغ ويل د هغه عام عادت دی چې صلح وکړي نو سمدستي يې ماته کړي
اوس د جومات پنځه نوي ۹۵ فيصده لمونځ کوونکي کړې چې په دغه امام پسې په اطمينان سره لمونځ کوي. دوی ته له امام څخه هيڅ شک بت نشته. دوی ټولو ته د همدې څو کسانو څخه سخت تشويش پيدا شوی دی، لهذا نو همدې دوو خلکو سره څه ډول چلند پکار دی او داخلک په کوم قسم حکم کې داخل دي؟ **بينوا توجروا.**
المستفتي سرپرست کميټي مسجد اسلام آباد ۱۴۰۰ هـ ۷ ۲۶

الجواب: د ضرر رسوونکي کس د جومات څخه منعه کول روا دي، يدل عليه ما في ردالمحتار ۱: ۶۱۶، **والحق بالحديث كل من آذى الناس بلسانه وبه أفتى ابن عمر(۱) فافهم.**
او که چيرته دغه کنځل د دين د اهانت له وجې وي نو بيا شکه دا کس کافر دی. **لما في الطريقة المحمدية، قال في الاشباه: الإستهزاء بالعلم والعلماء كفر(۲) وعن منية**

---

۱) ردالمحتار ۱: ۴۸۹، باب ما يفسد الصلوة ومايكره فيها، مطلب في الغرس في المسجد)
۲) وفي الأشباه والنظائر: الإستهزاء بالعلم والعلماء كفر.
(الأشباه والنظائر ۱۹۱، كتاب السير)

المفتی تخفیف العلم والعلماء کفر، وعن المحیط: ان شتم عالماً فقد کفر فتطلق امرأته(۱)
الخ، بیا هم د کفر په فتوی ورکولو کې بیړه کول نه ده پکار(۲)
او که چیرته دغه کنځل وغیره د دنیوي غرض یا معاملې له وجې وي: نو داسې
کس فاسق او فاجر دی. **لحدیث: سباب المسلم فسوق**(۳) چې هر مسلمان ته کنځل
کول فسق دی. **وهوالموفق**

د عاق امام جوړول په جماعت سره له لمانځه

د منع کولو او د هغه د نه کافر کېدلو مسئله

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې یو کس د
جومات امام عاق کړی دی، کله چې هغه له امام سره عاق شوي کس له دوولسو
کلونو زیات په جماعت سره لمونځ کړی دی. د جومات امام له قاري پرته مکمل

---

۱) وفي المحيط البرهاني :ومن أبغض عالمًا أو فقيهًا من غير سبب ظاهر خيف عليه الكفر إذا قال: "فيدلنا ذكردن از دانشمندى كردن" فهذا كفر ،إمرأة قالت "لعنت برشوى دايسمند ياد" (على الزوج العالم اللعنة) تكفر ،لأنها استخفّت بالشريعة ،وفي فتاوى الأصل :رجل قال لعالم، ذكر الحمار في است علمك ،إن أراد به علم الدين يكفر .(المحيط البرهاني ۵:۵۶۹، كتاب السير ،فصل في مسائل المرتدين وأحكامهم)

وفي الهندية :ويخاف عليه الكفر إذا شتم عالمًا أوفقيهًا من غير سبب.
(فتاوى هندية ۲:۲۷۰ ،الباب التاسع في أحكام المرتدين)

۲) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ (قوله لايفتى بكفر مسلم أمكن حمل كلامه على محمل حسن).....لاينبغي للعالم أن يبادر بتكفير أهل الإسلام.
(ردالمحتار ۳:۳۱۶ ،باب المرتد ،مطلب في حكم من شتم دين مسلم)

۳) عن عبدالله بن مسعود رضي الله تعالىٰ عنه قال قال رسول الله ﷺ :سباب المسلم فسوق .(صحيح البخاري ۲:۱۹۳، كتاب الأدب ،باب ماينهى عن السباب واللعن)

عالم باعمله دی او عاق شوی کس نهایت د ناوړه (بدو) اخلاقو څښتن دی. له عاق کېدو وروسته دغه کس له بل امام سره په جماعت د لمانځه کول شروع کړه او تقريبا له څلور کاله پنځه کاله لمانځه کولو وروسته د دریم امام شاته لمونځ کوي او د دویم امام په باره کې غلط پروپاګند وایي او د هغه په خلاف نفرت خپروي او امام ته کنځل کول د هغه دنده (کار) ده. واضحه دې وي چې لومړی (اول) امام وفات شوی دی. د مهرباني له لارې وضاحت وکړئ چې

(۱) د امام په عاق کېدو سره څه اثر پرېوځي؟

(۲) له همدغه کس سره په جماعت سره په لمانځه کې شرکت (ګډون) کول صحيح دي او که نه؟ بينوا توجروا.

المستفتي: سيد زمرد شاه ولد سيد خيل. موضع اكبر پوره. تحصيل نوښهره

الجواب: عاق نه كافر كيږي بلكې فاسق او فاجر ګرځي. (۱) د هغه امام جوړول مکروه تحريمي دي، (۲) ليکن په جماعت سره د لمانځه له کولو د هغه منعه کول حرام دي (۳) **وهوالموفق**

---

۱) في شرح العقائد: والكبيرة لاتخرج العبد المؤمن من الإيمان ولاتدخله في الكفر....إن مرتكب الكبيرة فاسق. (شرح العقائد ۸۲)

وعن أنس رضي الله تعالى عنه قال سئل النبي ﷺ عن الكبائر؟ فقال الإشراك بالله وعقوق الوالدين.

(صحيح البخاري ۱: ۳۶۲، كتاب الشهادات، باب ماقيل في شهادة الزور)

۲) وفي الهندية: وتجوز إمامة الأعرابي والأعمى والعبد وولد الزنا والفاسق، كذا في الخلاصة إلا أنها تكره، هكذا في المتون.

(فتاوى هندية ۱: ۸۵، الباب الخامس في الإمامة، الفصل الثالث)

۳) قال الله تبارك وتعالى: وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَن يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ.

(سورة البقرة آيت: ۱۱۴)

آيا امام مقتدي عاق كولى شي

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې امام مقتدي عاق كولى شي؟ كله چې يې امام خفه كړى وي؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي قاري رحمن الدين كربوغه شريف ۲ محرم ۱۴۰۱ھ

الجواب: امام نه ضرور رسونكى هم عاق دى، مګر د والدينو او استاذ له عاق كېدو څخه كم دى **وهو الموفق**

الله الله

فتاوی فریدیه

نهم جلد

باب ختم القرآن

الله الله

بسم الله الرحمن الرحيم

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم

قراءة القرآن فى الصلوة افضل من قراءة القرآن فى غير الصلوة وقراءة القرآن فى غير الصلوة افضل من التسبيح والتكبير.

(رواه البيهقى)

باب ختم القرآن وتعليمه وآدابه والأجرة عليه

د هر ديني او دنيوي مقصد لپاره د قرآن ختم كول روا دي

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددي مسئلي په باره كي چي د هر ديني او دنيوي مقصد لپاره د قرآن ختم كول روا دي كه ناروا؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي نامعلوم

الجواب: د قرآن ختم كول د هر ديني او دنيوي مقصد لپاره روا دي. (۱) البته كله چي د ايصال ثواب لپاره وي نو په دي كي اختلاف دى. علامه شامي حرمت راجح بللى دى (۲) او په هنديه او نورو كي جواز ته اصح او مفتى به ويل شوي دي. (۳) پس احوط اجتناب دى او په مجوزينو باندي سخت انكار كول منكر

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: اختلف في الاستشفاء بالقرآن بأن يقرأ على المريض أو الملدوغ الفاتحة...قال رضي الله تعالى عنه وعلى الجواز عمل الناس اليوم. (رد المحتار ۵:۲۵۷، كتاب الحظر والإباحة، قبيل فصل في النظر والمس)

وقال العلامة الشيخ الأنور: نعم! لوكان الختم لمطالب دنيوية طاب له الأجرة ... قوله (أحق ما أخذ تم عليه اجراً كتاب الله) هو عندنا محمول على الرقية ونحوها. (فيض الباري على صحيح البخاري ۳:۲۷۶،۲۷۷، كتاب الإجارات، باب مايعطى في الرقية)

۲) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وقال العيني في شرح الهداية: ويمنع القاري للدنيا، والآخذ والمعطي آثمان.
(ردالمحتار ۵:۳۹، باب الإجارة الفاسدة، مطلب في عدم جواز الإستيجار على التلاوة الخ)

۳) وفي الهندية: واختلفوا في الاستيجار على قرأة القرآن على القبر مدة معلومة، قال بعضهم لايجوز، وقال بعضهم يجوز وهوالمختار كذا في السراج الوهاج.
(فتاوى هندية ۴:۴۴۹، كتاب الإجارة، الاستيجار على الطاعات)

امر دی وهوالموفق

په اجتماعي ډول د قرآن پاک ويل روا دي، خو بهتر نه دي

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې په اجتماعي طريقه د قرآن ختم كول څنګه دي؟ كله چې ټې هر يو جلا جلا وايي. په دې طريقه د قرآن استماع فوت كيږي كومه چې واجبه او لازمه ده. د شريعت له مخې دا جهري ختم كول روا دي او كه نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: متعلم حقانيه. جنوري ١٩٧٥ع

الجواب: په اجتماعي ډول بالجهر د قرآت ختم كول روا دي. البته بهتر نه دي، أما الجواز فرواه الطحطاوي ١٩٠، حيث قال: وفي الدرة المنيفة عن القنية: يكره للقوم أن يقرؤوا القرآن جملة لتضمنها ترك الاستماع والإنصات وقيل لا بأس به(١) انتهى، والقول الثاني يؤيده ما رواه ابن أبي داؤد عن علي ابن أبي طالب رضي الله عنه أنه سمع ضجة ناس في المسجد يقرؤون القرآن فقال: طوبى هؤلاء وكانوا أحب الناس الى رسول الله صلى الله عليه وسلم (تفسير مظهرى ٣: ٥٠٩)(٢) والمأمور بالإستماع هو المقتدي كما روى عن عبد الله بن مغفل رضي الله عنه كما هو

---

١) (الطحطاوي على مراقي الفلاح ٣١٨، قبيل باب ما يفسد الصلاة)

٢) (التفسير المظهري ٣: ٤٥١، سورة الأعراف، آيت ٢٠٤)

وفي الهندية: ولا بأس باجتماعهم على قراءة الإخلاص جهراً عند ختم القرآن ولو قرأ واحد واستمع الباقون فهو أولى، كذا في القنية.

(فتاوى هندية ٥: ٣١٧، كتاب الكراهية، الباب الرابع في الصلاة والتسبيح وقراءة القرآن)

مصرّح به في تلك الصفحة(١) وأما عدم الأفضلية فللخروج عن الاختلاف، وهوالموفق

د ډمانو په کور کې د قرآن ختم کول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د ډمانو په کور کې د قرآن ختم کول څنګه دي، کله چې د هغوی ټولو ګټه د همدې ډمتوب څخه وي؟ بينوا توجروا.

المستفتي: عباد الله، شيرازی، مردان

الجواب: د همدې ډمانو په کور کې د قرآن ختم کول ممنوع نه دي، البته په دې کې د همدې خلکو د بې دينۍ شاباسي او همت افزائي کيږي، له همدې وجې دا ختم کوونکي ساقط المروت دي (٢) **وهوالموفق**

دقرآن ختم او د نفلونو بل ځاته بښلو سره لوستونکي ته ثواب ورکول کيږي او که نه؟

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې که چېرته

---

١) في التفسير المظهري: قال عبدالله بن مغفل إنمانزلت هذه الاية، وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا، في القراءة خلف الإمام.
(التفسير المظهری ۳:۴۵۱، سورة الأعراف، آيت ۲۰۴)

٢) في الهندية: رجل أراد أن يقراء القرآن فينبغی أن يكون على أحسن أحواله، يلبس صالح ثيابه ويتعمم ويستقبل القبلة، لأن تعظيم القرآن والفقه واجب كذا في فتاوى قاضي خان... إذا قرأ القرآن خارج الحمام في موضع ليس فيه غسالة الناس نحو مجلس صاحب الحمام والثيابي فقداختلف علماء نا فيه، قال أبوحنيفة رحمه الله تعالى: لايكره ذلک وقال محمد رحمه الله تعالى: يكره.
(فتاوى هندية ۵:۳۱۶، كتاب الكراهية، الباب الرابع في الصلاة والتسبيح وقراءة القرآن)

وفي الفتاوى الخانية: والمجلس الذي اجتمعوا فيه للغناء والرقص لايقرأ القرآن كما لايقرأ في البيع والكنائس لأنه مجمع الشيطان.
(فتاوى خانية على هامش الهندية ۶:۳۳۸، كتاب ألفاظ تكون اسلاماً أو كفراً، الفصل التاسع)

مړي ته د ایصال ثواب لپاره څوک د قرآن ختم یا نفلونه وکړي نو آیا مړي ته یې ثواب رسیږي او که نه؟ او چا چې کړي دي هغه ته هم ثواب ورکول کیږي او که نه؟ **بینوا توجروا.**

المستفتي: خادم ثمین، پشاور صدر... ۳ رمضان ۱۴۰۲ هـ

الجواب: د قرآن تلاوت د دارینو د فلاح سبب دی، (۱) د ثواب لپاره یې لوستل صحیح او ثواب دی (۲)، او فقهاوو لیکلي دي چې همدغه د ثواب ایصال کوونکي ته هم مکمل ثواب ورکول کیږي ځکه چې ایصال ثواب مرسته (تعاون) او د خیر کار دی (۳)، **وهوالموفق**

---

۱) عن أبي ذر رضي الله تعالى عنه قال قلت يا رسول الله ! أوصني ، قال : عليك بتقوى الله فإنه رأس الأمر كله ، قلت يا رسول الله ! زدني ، قال : عليك بتلاوة القرآن فإنه نور لك في الأرض وذخر لك في السماء.

(صحيح ابن حبان بحواله فضائل أعمال ۲۳۶،فضائل القرآن)

۲) قال العلامة الشامي رحمه الله تعالى :واختلفوا في وصول قرأة القرآن إذا قال القاري اللهم أوصل ثواب ما قرأته إلى فلان ، قال بعضهم لايصل...وقال بعضهم يصل إليه وهو المختار .

(فتاوى تنقيح الحامدية ۲:۳۵۷، مسائل وفوائد شتّى من الحظر والإباحة)

۳) عن عبد الله بن عمرو رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ :إذا تصدق بصدقة تطوعاً فيجعلها عن أبويه ، فيكون لها أجرها ولا ينقص من أجره شيئا.

(مجمع الزوائد ۳:۱۳۸، باب الصدقة على الميت)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : وقدمنا في الزكاة عن التاتارخانية عن المحيط الأفضل لمن يتصدق نفلاً أن ينوي لجميع المؤمنين والمؤمنات لأنها تصل إليهم ولاينقص من أجره شيئ.

(رد المحتار ۲:۲۵۶، كتاب الحج ، باب الحج عن الغير)

د قرآن په ختم باندې د اجرت (مزدورۍ) په اخیستو سره مړي ته ثواب رسېدلی شي او که نه؟

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې د ناروغ لپاره دقرآن په ختم باندې اجرت اخيستل څنګه دي؟ او د مړي لپاره دقرآن په ختم باندې په خوراك او څښاك سره اجرت روا دی او كه ناروا؟ كه چيرته په دغه ختم باندې دوډۍ يا روپۍ، واخلي نو په دې سره مړي ته ثواب رسېږي او كه نه؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي عبد الرحمن. چارسده، پشاور

الجواب: د قرآن تلاوت چې كله د (استشفاء) لپاره وي نو په هغه باندې اجرت (مزدوري) اخيستل روا دي. (۱) **لحديث رواه البخاري وغيره: ان أحق ما أخذتم عليه أجراً كتاب الله تعالى** (۲) **أو كما قال، وقال العيني في شرح البخاري: ونقله (أي جواز أخذ الأجرة) القرطبي عن أبي حنيفة في الرقية** (۳) همدارنګه د نورو دنيوي حاجتونو لپاره په تلاوت باندې اجرت اخيستل روا شوي دي، ځكه چې دلته هم ايصال ثواب مقصود نه دی، **وصرّح به الشاه عبد العزيز في الفتاوى الغزنوية** (۴) پاتې شوه د ايصال

---

۱) قال الشيخ الأنور: نعم ! لوكان لمطالب دنيوية طاب له الأجرة...(قوله أحق ما أخذتم عليه اجراً كتاب الله)...هوعندنامحمول على الرقية ونحوها.
(فيض الباري على صحيح البخاري ۳:۲۷۶.۲۷۷، كتاب الإجارات، باب ما يعطى في الرقية)

۲) (صحيح البخاري ۲:۸۵۴، باب الشرط في الرقية بقطيع من الغنم)

۳) (عمدة القاري ۱۲:۹۵، كتاب الإجارات، باب ما يعطى في الرقية)

۴) قال العلامة الشاه عبد العزيز رحمه الله تعالى: پنځم صورت دا چې يو كس قرآن شريف ووايي او د هغه نيت د عبادت نه وي بلكې صرف په دې خيال يې ووايي چې قرآن شريف ويل مباح دی او په دې باندې اجرت واخلي، مثلا دم يې كړي يا يې ليكلو سره تعويذ وركړي، يا د قرآن شريف بعضې سورتونه په دې غرض ووايي چې يو خاص دنيوي مطلب حاصل شي ...... دا هم بلا كراهت جائز دی او هم دا په دې حديث ...(د حاشيې پاتې برخه په بل مخ)

ثواب لياره په تلاوت باندې اجرت اخيستل نو دا مختلف فيه دي، ځينو فقهاؤ ويلي دي چې دا ناروا دي، قال العيني في شرح الهداية: ويمنع للدنيا والأخذ والمعطى آثمان، كذا في ردالمحتار ۵: ۴۷ (¹) او د ځينو فقهاؤ په نزد روا دي، قالوا في الهندية ۴: ۴۶۱، واختلفوا في الاستيجار على قراءة القرآن على القبر مدة معلومة، قال بعضهم لايجوز وقال بعضهم يجوز وهو المختار كذا في سراج الوهاج (²) انتهى، وفي البحر: أن المفتي به جواز الأخذ على القراءة (³) ليكن احتياط په نه اخيستو كې دى. ځكه چې كله تلاوت كوونكو ته ثواب نه وركول كيږي؛ نو مړو ته به څه شي ايصال كړي. (صرح به تقي الدين فليراجع إلى ردالمحتار ۵: ۴۸) (⁴).

واضحه دي وي په معروف (مشهور) اجرت او معروف اكرام كې فرق ضروري دى، ځكه چې اكرامًا او اعزازًا (شكرانه) وركول روا دي، لحديث رواه الترمذي عن أنس: أن رجلًا من كلاب سأل رسول الله صلى الله عليه وسلم عن عسب الفحل؟ فنهاه، فقال يارسول الله! انا نطرق فنكرم فرخص له في الكرامة (مشكوة شريف باب المنهي عنها

(د حاشيې پاتې برخه)..... سره مراد دى. إن أحق ما أخذتم عليه أجراً كتاب الله.

(فتاوى عزيزيه ۴۹۱، عبادات اوراعمال كواجرت پردينے كا حكم)

۱) (رد المحتار ۵:۳۹، باب الإجارة الفاسدة، مطلب تحرير مهم في عدم جواز الاستيجار على التلاوة)

۲) (فتاوى هندية ۴:۴۴۹، كتاب الإجارة، الاستيجار على الطاعات)

۳) (البحر الرائق ۵:۲۲۸، باب الوقف)

۴) قال العلامة ابن عابدين: ونقل العلامة الخلوتي في حاشية المنتهى الحنبلي عن شيخ الإسلام تقي الدين ما نصه: ولايصح الإستيجار على القرأة واهدائها إلى الميت ...إن القارئ إذا قرأ لأجل المال فلا ثواب له فأي شيئٌ يهديه إلى الميت. (رد المحتار ۵:۳۹، باب الإجارة الفاسدة، مطلب تحرير مهم في عدم جواز الإستيجار على التلاوة)

من البيوع)(١) زموږ په وطن کې زياتره اکرام دی او فيس (عوض) نه دی، ځکه چې د نه ورکولو په صورت کې صرف شکايت کېدلی شي، استحقاق او دعوه نه کيږي وهوالموفق

د قرآن په ختم باندې اجرت او مېټايانو وېشلو لپاره چنده کول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې (١) نن سبا په رمضان کې د قرآن مجيد د ختم په اوريدو باندې لمونځ کوونکي په خپله خوښه چنده کوي او د حافظانو خدمت کوي، طرفين دېته معاوضه نه وايي او نه د حافظانو صاحبانو لخوا معلومه شوې ده. البته حافظانو صاحبانو ته دا معلومه ده چې د توفيق په اندازه زموږ خدمت خامخا کيدلی شي او که چيرته يې خدمت ونه کړي؛ نو په ظاهره نه ناراضه کيږي، مگر د دوی په دې سخته رويه باندې هغوی ته سخت بوج وي، وجه دا ده که چيرته يو خل په کوم جومات کې څه خدمت ونه کړي نو په راتلونکي کال هلته قرآن مجيد نه اوروي، يو شمير حافظان د کمو روپيو ځايونه پريږدي داسې جوماتونه لټوي چيرته چې زياتې روپۍ ورکول کيږي، زياتره حافظان صاحبان غريبان هم وي، آيا دا خدمت روا دی او که ناروا؟ آيا د همداسې حافظانو شاته لمونځ کول روا دي او که مکروه؟ جواب د حنفي فقهې په مستندو حوالو سره مطلوب دی؟

(٢) که چيرته د همداسې حافظانو شاته لمونځ کول مکروه دي نو آيا د قرآن د ختم پر ځای د کوچنيو (وړو) سورتونو سره تراويح کول بهتر دي او که د هغوی پسې ختم کول بهتر دي؟

(٣) که چيرته دا خدمت ناروا وي نو د امامت او د قرآن د تدريس تنخوا اخيستل روا دي او که ناروا؟ آيا دا درې واړه يو شان دي او که په شرعي حکم کې د دوی نوعيت جلا جلا دی؟

(۴) همدارنگه د قرآن مجيد ختم يا په جومات کې په تروايح کې لمونځ کوونکي

١) (سنن ترمذي ١:١٥٣، باب ماجاء في کراهية عسب الفحل)

چنده کوي د تبرک او ثواب په نسبت شیریني تقسیموي او هیڅ کال یې نه قضاء کوي. په ژبه دا وایي چې موږ دا ضروري نه ګڼو لیکن که چیرته په کوم کال قضاء شي نو خلک ناراضه کیږي او بد وایي، نو په تراویح کې د ختم قرآن مجید په موقع هر کال چنده کول د تبرک او ثواب په نیت یې تقسیمول او نه کول یې بد ګڼل شرعًا روا دي او که بدعت دی؟ جواب د قرآن او حدیث په رڼا کې د حنفي فقهي د مستندو کتابونو په حوالو سره مطلوب دی؟ **بینوا توجروا.**

المستفتي محمد انیس فاروقي، اسلام آباد... ۱۸/ شوال ۸۹ع

الجواب: واضحه دې وي چې حافظانو ته کومې روپۍ ورکول کیږي هغه اکرام او اعزاز دی. لهذا د هغو په اخیستو او ورکولو کې هیڅ خبره نشته، **یدل علیه ما رواه الترمذی عن أنس رضي الله عنه أن رجلاً من کلاب سأل رسول الله صلی الله علیه وسلم عن عسب الفحل؟ فنهاه، فقال یارسول الله! انا نطرق الفحل فنکرم، فرخص له في الکرامة، بحواله مشکوة:۲۴۸)**[۱] او د نه ورکولو یا د کومو په ورکولو کې طبعي رنځ خامخا وي او دا بخښ یو طبعي امر دی حتی که چیرته له یوه دوست او میزبان څخه بې التفاتي محسوس شي نو په راتلونکي کې له هغه سره راشه درشه ختمیږي، حالانکه د دوست او میزبان لخوا چې څه ورکړل شوي هغه اعزاز دی اجرت نه دی همدارنګه واضحه دې وي چې حافظان په رمضان کې کومې روپۍ اخلي که چیرته دا ومنل شي چې دا اجرت دی بیا یې هم د هغه لپاره په اخیستو کې کومه خبره نشته. ځکه دا روپۍ د قراءة قرآن اجرت نه دی، که چیرته دا حافظان له تراویح د باندې د قرآن ختم وکړي نو دوی د همدې روپیو مستحق نه شمارل کیږي او دا روپۍ صرف د امامت اجرت هم نه دي، ځکه که چیرته په تراویح کې امام جوړ شي او په هغو کې ټول قرآن ونه لولي نو هغوی ته روپۍ نه ورکول کیږي، بلکې دا روپۍ په اصل حقیقت کې د یوه ځانګړې امامت عوض دی[۲]

---

۱) (مشکوة المصابیح ۲۴۸، باب المنهي عنها من البیوع)

۲) في المنهاج: وأما ما یعطی الحفاظ في رمضان عند.. (د حاشیې پاتې برخه په بل مخ)

نهذا دا په حقيقت کې په امامت باندي اجرت دی کوم چې د مفتی به قول په بنياد
اخيستل روا دي: صرح به فی الهداية(١) والبحر(٢) والدر المختار(٣) والهندية(۴) وغيرها
فی باب الاجارة، پس د حافظانو امامت کول او د هغو شاته اقتداء کول روا دي
(٢)، دا د ځينو محتاطو علماء کرامو رأيه ده

(د حاشيې پاتې برخه).... ختم القرآن فالحق أنه جائز لأنها هدية معروفة ليست بأجرة، ويشهد له حديث الترمذي عن أنس أن رجلًا من كلاب سأل النبي ﷺ عن عسب الفحل؟ فنهاه، فقال يا رسول الله! انا نطرق الفحل فنكرم فرخص لي في الكرامة، والاعتبارلنية الدافع دون الآخذ، فافهم،ولو سلم انه أجرة فلا حرج فيه أيضا لأنها ليست عوض التلاوة البحتة ولا الإمامة البحتة بل هي عوض الإمامة المسنونة المخصوصة ولاضير في أخذ الأجرة على الإمامة المقيدة بمكان أوزمان أوقراء ة سورة أوسور هذا.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ٢:٩٠ باب كراهية الأجر على الأذان)

١) قال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالیٰ: ولا الاستيجار على الأذان والحج وكذا الإمامة وتعليم القرآن والفقه...وبعض مشائخنا استحسنوا الإستيجار على تعليم القرآن اليوم...وعليه الفتوى. (الهداية ٣:٣٠٣، باب الاجارة الفاسده)

٢) وفي البحر: وفي زماننا يجوز للإمام والمؤذن والمعلم أخذ الاجرة ومثله في الذخيرة.(البحر الرائق ٨:٢٠، باب الإجارة الفاسدة)

٣) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالیٰ: ويفتى اليوم بصحتها لتعليم القرآن والفقه والإمامة والأذان.(الدر المختار ٥:٣٨، باب الإجارة الفاسدة)

۴) وفي الهندية :ومشائخ بلخ جوّزوا الاستيجار على تعليم القرآن...وكذا جواز الاستيجار على تعليم الفقه ونحوه، والمختار للفتوى في زماننا قول هؤلاء كذا في العتابية.(فتاوى هندية ۴:۴۴۸، كتاب الإجارة،الباب السادس)

(۳) : تيولو حکم يو شانته دی. الدرالمختار على هامش ردالمحتار ۵: ۴۶ ( ).

(۴) که چيرته دا چنده باقاعده وي يعني د زړه په خوشحالی سره وي. له فخر او رياکارۍ څخه خالي وي او مقصد صرف خوشحالي وي نو په دې کې خبره نشته (۲) **وهوالموفق**.

فاتح د ختم قرآن په موقع اجرت. رسم چراغان او په جومات کې د خوراک څښاک مسئله

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې (۱) په تراويح کې کله حافظ صاحب قرآن آوروي نو هغه ته چې کومې روپۍ ورکول کيږي دا روا دي او که ناروا؟

(۲) که چيرته فاتح دا فيصله وکړي چې زه خلور سوه روپۍ غواړم. دا روا دي او که ناروا؟ (۳) د ختم قرآن په موقع د چراغانو او وغيره لګول څه حکم لري؟

(۴) په همدې موقع د ميټهايانو او وغيره په جومات کې خوړل روا دي که حرام؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي : دلبرشاد، سواتی، متعلم اکوړه خټک... ۱۷ رمضان ۱۴۰۳ هـ

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :الأصل أن كل طاعة يختص بها المسلم لايجوز الإستئجار عليها عندنا...وبعض مشائخنا رحمهم الله تعالى استحسنوا الاستئجار على تعليم القرآن اليوم...وزاد في مختصر الوقاية ومتن الإصلاح تعليم الفقه،وزاد في متن المجمع الإمامة..وزاد بعضهم الأذان والإقامة والوعظ..وقد اتفقت كلمتهم جميعا على أن التصريح بأصل المذهب من عدم الجواز ،ثم استثنوا بعده ما علمته.
(ردالمحتار ۵:۳۸، باب الإجارة الفاسدة ،مطلب تحرير مهم في عدم جواز الاستجار على التلاوة)

۲) وفي المشكوة :عن أبي حرة الرقاشي عن عمه رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ : الالا تظلموا ،ألا لايحل مال امرئٍ إلا بطيب نفس منه.
(مشكوة المصابيح ۲۵۵، باب الغصب والعارية)

الجواب: ومنه الصدق والصواب: په تراویح کې د قرآن اورونکي امام ته چې کومې روپۍ ورکول کیږي د هغو ورکول او اخیستل روا دي. زمونږ د ښارونو (کلیو) په عرف کې دا اکرامًا ورکول کیږي نه د اجرت په ډول. (۱) **وهكذا مايعطى الفاتح وامام الحي.** همدارنګه د قرآن اورونکي امام ته د اجرت په ډول ورکول او اخیستل روا دي. ځکه چې اولًا د مفتی به قول په بنا، په مجرد تلاوت باندې اجرت اخیستل روا دي، **كما في وقف البحر**(۲) **وغيره**،(۳) او ثانيًا دا اجرت په امامت مسنونه باندې دی نه په محض امامت باندې او نه په محض تلاوت باندې. چونکه فاتح د معلم د یوه شاخ کردار اداء کوي لهذا هغه ته یې ورکول هم قابل اعتراض نه دي. او چراغان محض فضول خرچي ده برابره ده که د ختم په محفل کې وي او که په نورو اجتماعاتو کې وي (۴) او په جومات کې خوراک او څښاک

---

۱) في المشكوة: عن أنس رضي الله تعالى عنه ان رجلاً من كلاب سأل النبي ﷺ عن عسب الفحل؟ فنهاه، فقال يا رسول الله! إنا نطرق الفحل فنكرم فرخص له في الكرامة. (مشكوة المصابيح ۲۴۸، باب المنهي عنها من البيوع، الفصل الثاني)

۲) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: فإن المفتى به جواز الأخذ على القرأة. (البحر الرائق ۵:۲۲۸، باب الوقف)

۳) قال العلامة الحموى رحمه الله تعالى: أن صاحب الاختيار علله بأن أخذ شيئ للقرأة لايجوز لأنه كالأجرة، فأعاد أنه مبني على غير المفتي به فإن المفتى به جواز الأخذ على القراءة. (غمز عيون البصائر شرح الأشباه والنظائر ۲:۲۲۹، كتاب الوقف)

۴) قال الامام الحافظ عمادالدين بن كثير رحمه الله تعالى: (وَلَاتُبَذِّرۡ تَبۡذِيرا) لما أمر بالانفاق، نهي عن الإسراف فيه... (اِنَّ الۡمُبَذِّرِين كَانُوا اِخۡوَانَ الشَّيَاطِيۡن) أى أشباههم في ذلک، قال ابن مسعود رضي الله عنه: التبذير الإنفاق في غير الحق... وقال قتادة: التبذير النفقة في معصية الله تعالى، وفي غير الحق والفساد.
(تفسير ابن كثير ۳:۵۳ سورة الإسراء)

روا دی په دې شرط چې د جومات وقار په ځای وساتل شي (۱) **وهوالموفق.**

دحافظ صاحب د پيسو د نه ارادې په صورت کې دختم په وخت کې پیسې اخیستل

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زمونږ په سیمه (علاقه) کې په رمضان شریف کې د قرآن مجید ختم کیږي. د ختم په وخت کې عوام روپۍ جمع کوي حافظ صاحب ته يې د نقدو يا د جامو په صورت کې ورکوي، د همدې روپيو ورکولو څه حکم دی؟ کله چې د حافظ صاحب اراده د روپيو نه وي؟ **بينواتوجروا**

المستفتي حافظ عبدالباري ۷۹ع ۸ / ۱۸

الجواب: که چيرته د حافظ صاحب د روپيو او وغیره اراده نه وه نو د روپيو اخيستل بلا اختلاف روا دي (۲) **فقط**

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: قال ابن كمال لايكره الأكل والشرب والنوم فيه مطلقًا ونحوه في المجتبى. ((الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: والظاهر آن مثل النوم الأكل والشرب إذا لم يشغل المسجد ولم يلوثه لأن تنظيفه واجب.

(الدرالمختارمع ردالمحتار ۲:۱۴۶، كتاب الصوم، باب الاعتكاف)

۲) قال العلامة الشاه عبدالعزيزرحمه الله تعالى: دريم صورت دا دی چې يو کس خالص د الله تعالى لپاره د خپلو لوستلو ثواب بل چاته وبخښي يا دغه بل کس ته د ثواب رسولو په غرض يې ووايي او د عوض اخستلو خيال دده په زړه کې بالکل تیر نه شي او دغه دويم کس ددې لوستلو په عوض کې د لوستلو نه پس يا د لوستلو په مينځ کې لوستونکي ته څه ورکړي يا څه بل څه احسان ورسره وکړي ...... دا صورت بلاشبه جائز دی بلکې دا مستحب دی څکه چې د احسان په بدله کې احسان جائز دی. (فتاوى عزيزيه ۴۹۰ مسائل نماز، عبادات واعمال كواجرت پردينے كا حكم)

د قرآن ختم کوونکو ته په همدغه ورځ یا بله ورځ ډوډۍ ورکول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو د دې مسئلې په باره کې چې زموږ په سيمه (علاقه) کې رواج دی کله چې د چا کوم مشر يا نږدې رشته دار وفات شي نو تر درې ورځو له ماتم وروسته خيرات کيږي. کوم چې په هفته کې يو ځل خامخا کيږي. بيا په څلويښتمه ورځ کيږي. مګر زموږ ځايي علماء په دې باندې اعتراض کوي چې که چيرته ئې کوم حضرات ختم کوي د دوی لپاره د همدې کور څخه په همدې ورځ خوراک څښاک کول حرام دي او که چيرته ئې ختم وشي او خوراک يوه ورځ مخکې يا يوه ورځ وروسته ورکړل شي نو صحيح ده.

نوټ: د هغه خوراک متعلق حکم ذکر کړئ چې د ختم په ورځ پوخ شوی وي. که هغه په دويمه ورځ پوخ شي او تقسيم شي. کوم چې ختم والا خوري هغه د بنه روا وايي. فتوی ورکړئ مهرباني به مو وي؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي: الطاف حسين. ګندم منډی. راولپنډی. ۲۲ جمادی الاولی ۱۳۹۳هـ

الجواب: واضحه دې وي چې د رواج (رسم) پابندي او د پيغور (عار) ليرې کولو په ارادې سره د ډوډۍ پخول هر وخت ناروا ده او په مسکينانو باندې د صدقې په ارادې سره يې هر وخت پخول روا دي. ميلمستيا او دعوت تر درې ورځو پورې ناروا دی (شامي)⁽¹⁾ او مړي ته د ايصال ثواب لپاره ختم کول او په هغه باندې اجرت اخيستل مختلف فيه دي

---

١) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :وفي البزازية ويكره إتخاذ الطعام في اليوم الأول والثالث وبعد الأسبوع ونقل الطعام إلى القبر في المواسم وإتخاذ الدعوة لقراءة القرآن وجمع الصلحاء والقراء للختم أو لقراء ة سورة الأنعام أوالإخلاص ،والحاصل أن اتخاذ الطعام عند قراء ة القرآن لاجل الأكل يكره، وفيها من كتاب الاستحسان وإن اتخذ طعامًا للفقراء كان حسنا، وأطال في ذلک في المعراج، وقال : وهذه الأفعال كلها للسمعة والرياء فيحترز عنها لأنهم لايريدون بها وجه الله تعالى.
(ردالمحتار ۶۶۴:۱، باب صلاة الجنازة ،مطلب في كراهة الضيافة من أهل الميت)

دعلامه شامي رَحِمَهُ اللهُ په نزد عدم جواز راجح دی[۱] او په عالمګيري کې جواز ته اصح ويل شوي دي[۲] او کله چې دوړی د اجرت په ډول نه وي نو دهغې په جواز کې هيڅ اختلاف نشته. کله چې له نورو مفاسدوڅخه خالي وي[۳] البته که چيرته مړي ته د کومې ګټې رسېدل مطلوب وي: نود نقدمال صدقه کول پکاردي او که چيرته د زړه له کومې کوم تلاوت وکړي او ايصال ثواب وکړي نو بهتر به وي[۴] وهوالموفق

د ايصال ثواب لپاره د قرآن په ختم باندې عوض اخيستل او د خوراک کولو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې آيا په مړي

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :\قال العيني في شرح الهداية :ويمنع القاري للدنيا والآخذ والمعطي آثمان. (ردالمحتار ۵:۳۹، باب الإجارة الفاسدة، مطلب تحرير مهم في عدم جواز الإستيجار على التلاوة)

۲) في الهندية :واختلفوا في الاستيجار على قرأة القرآن على القبر مدة معلومة، قال بعضهم لايجوز وقال بعضهم يجوزهوالمختار، كذا في السراج الوهاج.
(فتاوى هندية ۴:۴۴۹، كتاب الإجارة، الاستئجار على الطاعات)

۳) قال الشاه عبدالعزيز رحمه الله تعالى : دريم صورت دا دی چې يو کس خالص د الله تعالى لپاره د خپلو لوستلو ثواب بل چاته وبخښي يا دغه بل کس ته د ثواب رسولو په غرض يې ووايي او د عوض اخستلو خيال دده په زړه کې بالکل تير نه شي او دغه دويم کس ددې لوستلو په عوض کې د لوستلو نه پس يا د لوستلو په مينځ کې لوستونکي ته څه ورکړي يا څه بل څه احسان ورسره وکړي ...... دا صورت بلاشبه جائز دی بلکې دا مستحب دی څکه چې د احسان په بدله کې احسان جائز دی.
(فتاوى عزيزيه ۴۹۰ مسائل نماز، عبادات واعمال کواجرت پر دينے کا حکم)

۴) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :ولو زار قبر صديق أو قريب له وقرأ عنده شيئا من القرآن فهو حسن. (ردالمحتار ۵:۳۹، باب الإجارة الفاسدة، مطلب تحرير مهم في عدم جواز الاستئجار على التلاوة)

پسې شاته د ایصال ثواب لپاره د قرآن په ختم باندې عوض اخستل او خوراک کول روا دي؟ بینوا توجروا.

المستفتي فضل حق، کالوخان مردان ۱۴۰۰ھ ۴ ۱۰

الجواب: په مجرد تلاوت باندې اجرت اخستل مختلف فیه دي. **کمافی الهندیة ۴: ۴۶۱، واختلفوا فی الاستیجار علی قراءة القرآن علی القبر مدة معلومه، قال بعضهم لایجوز وقال بعضهم یجوز وهوالمختار کذا فی السراج الوهاج**،(۱) **وفی ردالمحتار ۵: ۴۷، وقال العینی فی شرح الهدایة: ویمنع القاری للدنیا والآخذ والمعطی آثمان**(۲) **الخ، وفی البحر ۵: ۲۲۸، فإن المفتی به جواز الأخذ علی القراءة**(۳) **انتهی، قلت: ولیس مراده جواز الأخذ علی تعلیم القرآن کما فهم**. پس په دې کې تشدد مناسب نه دی. البته احوط دا ده چې د اجرت له لین دین څخه پرهیز وشي **وهوالموفق**

د قرآن په ختم کې یو ځل په جهر د بسم الله ویلو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د قرآن په ختم کې یو ځل په جهر (په زوره) بسم الله ویل څنګه دي؟ **بینوا توجروا**.

المستفتي: نور الهادی حقانیه ۱۳۹۹ھ/ ۱۱/ ۱۴.

الجواب: یو ځل په جهر د بسم الله ویل ضروري دي (۴) **وهوالموفق**

---

۱) (فتاوی هندیة ۴: ۴۴۹، کتاب الإجارة، الاستیجار علی الطاعات)

۲) (ردالمحتار ۵: ۳۹، باب الإجارة الفاسدة، مطلب في عدم جواز الإستیجار علی التلاوة)

۳) البحر الرائق ۵: ۲۲۸، باب الوقف)

۴) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وهي آية واحدة من القرآن كله أنزلت للفصل بين السور فما في النمل بعض آية إجماعاً، وليست.. (دحاشيې پاتې برخه په بل مخ)

د مروجه شبينه حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په ابو داؤد کې دي چې (لم يفقه من قرأ القرآن في أقل من ثلث) نو په يوه شپه کې د قرآن ختم څنګه دی؟بينوا توجروا.

المستفتي نور الهادي حقانيه ۱۳۹۹ هه ۱۱ ۱۳

الجواب: زمونږ په سيمو کې چې کومه شبينه کيږي هغه په مقتديانو باندې بوج دی او قاري هم په قراءت کې بيړه (تلوار) کوي او دا دواړه مکروه دي.(۱)

(د حاشيې پاتې برخه) من الفاتحة ولامن كل سورة في الأصح.

(الدر المختار ۱: ۳۶۲، كتاب الصلوة، مطلب قرآءة البسملة بين الفاتحه والسورة حسن)

وقال العلامة أبوبكر الجصاص الرازي رحمه الله تعالى: فالأولى أن تكون آية تامة من القران من غير سورة النمل لأن التى في سورة النمل ليست بآية تامّة والدليل على أنها آية تامّة حديث ابن أبي مليكة عن أم سلمة رضي الله تعالى عنها: أن رسول الله ﷺ قرأ في الصلوة فعدّها آية.

(أحكام القرآن ۱: ۱۲، فصل أماالقول في أنها آية أوليست آية)

وقال العلامة عبدالحى اللكهنوي رحمه الله تعالى: لو قرأ تمام القرآن في التراويح ولم يقرأ البسملة في ابتداء سورة من السور سوى مافي سورة النمل لم يخرج عند عهدة السنية، ولو قرأها الإمام سرًّا خرج عن العهدة، لكن لم يخرج المقتدون عن العهدة.

(مجموعة رسائل اللكهنوي، أحكام القنطرة في أحكام البسملة ۱: ۷۱)

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: الأفضل في زماننا قدر مالايثقل عليهم..... ويجتنب المنكرات هذرمة القرآءة وترك تعوذ وتسمية وطمانينة وتسبيح واستراحة.

(الدر المختار ۱: ۵۲۳، كتاب الصلوة، مبحث صلوة التراويح)

وفي مراقي الفلاح ويحذر من الهذرمة و.....(دحاشيې باتې برخه په بل مخ)

هو نفس شبينه مكروه نه ده، پس كه چېرته داسې قاري پيدا شي چې هغه په يوه شپه كې د قرآن ختم وكړي د حروفو، حركاتو او د تجويد د ضروري قواعدو لحاظ وكړى شي بنه تلاوت وكړي او په مقتديانو باندې هم بوج نه شي. هغوى هم د قرآن آوريدو لپاره تيار وي نو دا شبينه موجب ثواب ده [1]، اګر كه په خير القرون كې ددې اصل نه دى موندل شوى او دا د ديني مدارسو په شان بدعت حسنه دى **وهوالموفق**

په لاسپيكر باندې په تراويح كې د قرآن ويلو حكم

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې په لاسپيكر

(د حاشيې پاتې برخه) ترک الترتيل وترک تعديل الأركان وغيرها كمايفعله من لاخشية له.

(مراقي الفلاح ۴۱۶، كتاب الصلوة فصل في صلوة التراويح)

۱) عن أبي أمامة قال: قال النبي ﷺ: ما آذن لعبد في شيئ أفضل من ركعتين يصليها وان البر ليذرّ على رأس العبد ما دام في صلوته وما تقرب العباد إلى الله عزّوجل بمثل ما خرج منه، قال أبوالنصر: يعنى القرآن. (سنن الترمذي ۲: ۱۱۹، أبواب فضائل القرآن)

وعن عبدالله بن عمرو أن رسول الله ﷺ قال لم يفقه من قرأ القرآن في أقل من ثلاث. رواه الترمذي) .... وقال ابن حجر أى من الأيام وفيه بحث لأنه اذ ذاک لم يتمكن من التدبر له والتفكير فيه بسبب العجلة والملالة..... والمراد نفي الفهم لانفي الثواب، ثم يتفاوت الفهم بحسب الأشخاص.....ثم جرى على ظاهر الحديث جماعة من السلف فكانوا يختمون القرآن في ثلاث دائماً وكرهوا الختم في أقل من ثلاث ولم يأخذ به آخرون نظراً إلى أن مفهوم العدد ليس بحجة على ماهو الأصح عندالأصوليين فختمه جماعة في يوم وليلة مرّة وآخرون مرّتين وآخرون ثلاث مرّات وختمه في ركعة من لايحصون كثرةً ..... وقال النووي المختار أن ذلک يختلف باختلاف الأشخاص.

(مرقاة المفاتيح ۵: ۹، ۱۰، كتاب فضائل القرآن، باب، الفصل الثاني)

باندې د قرآن ختم څنګه دی؟ بینوا توجروا.

المستفتي نورالهادي حقانيه ۱۳۹۹هـ ۱۱ ۱۳

الجواب: په لاسپيکر باندې په ختم کولو سره که چيرته چاته تکليف نه وي. مثلاً په نورو جوماتونو کې د تراويح کوونکو ته تکليف نه وي يا د آواز د تصادم (ټکر) خطر نه وي، (۱) نو ممنوع هم نه دی او مطلوب هم نه دی او سجده تلاوت په اوريدونکو باندې واجبيږي (۲) **وهوالموفق.**

د (من قرأ القرآن يتأكل به الناس) حديث مطلب

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس د نورو لپاره د قرآن ختم کوي او د کور خلک هغه ته ډوډۍ ورکوي او څه نقدي روپۍ هم ورکوي. ددې متعلق د شريعت څه حکم دی؟ د جواز په صورت کې د (من قرأ القرآن يتأكل به الناس) حديث مطلب څه شو؟ بینوا توجروا.

المستفتي محمد ارشاد. متعلم حقانيه. ۸۷ع ۳/ ۱۵

الجواب: دا مسئله مختلف فيه ده، ډير زيات فقهاء ددې د جواز قائل دي. كما في الهندية ۴ ك ۴۶۱، واختلفوا في الإستيجار على قراءة القرآن على القبر مدة معلومة، وقال

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: أجمع العلماء سلفاً وخلفاً على استحباب ذكر الجماعة في المساجد وغيرها إلا أن يشوّش جهرهم على نائم أومصلّ أوقارئ.

(رد المحتار ۱: ۴۸۸، كتاب الصلوة، مطلب في رفع الصوت بالذكر)

۲) وفي الهندية: والسجدة واجبة في هذه المواضع على التالي والسامع سواء قصد سماع القرآن أو لم يقصد.

(فتاوى هندية ۱: ۱۳۲، كتاب الصلوة، الباب الثالث عشر في سجود التلاوة)

بعضهم لايجوز وقال بعضهم يجوز، وهوالمختار، كذا في السراج الوهاج( ) انتهى، قلت : وأما حديث: من قرأ القرآن أن يتأكل به الناس جاء يوم القيمة، الحديث، فمعنى التأكل: طلب الأكل وسؤاله لا أخذ الأجرة عليه(١) والله أعلم.

قادياني او د هغه اولاد ته د قرآن پاک ویل او د هغه اجير جوړول

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې زه له څو كلونو راهيسې د قاديانانو زامنو ته قرآن وايم. دې باره كې ما د يو عالم دين څخه پوښتنه وكړه نو هغه اجازه راكړه. الله تعالى دې هدايت ورته وكړي ځكه چې هغه د اسلام له دين څخه خارج شوي دي. اوس زما لپاره څه مسئله ده؟ بينواتوجروا

المستفتي : حاجي ارشاد علي. پشاور صدر. ۱۹۷۴ء. ۵/۱۰.

الجواب: قاديانيانو او د هغو اولاد ته د قرآن ويل روا دي(٢)، ليكن د قادياني

---

١) (فتاوى هندية ۴۴۹:۴، كتاب الإجارة، الاستيجار على الطاعات)

وقال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى : فإن المفتى به جواز الأخذ على القرأة. (البحر الرائق ۲۲۸:۵، باب الوقف)

٢) وفي مجمع بحارالأنوار : من قرأ القرآن يتأكل به أي يستأكل بسببه بأن يجعله ذريعة إلى احكام الدنيا. (مجمع بحارالأنوار ۹۱:۱، باب الهمزة مع الكاف)

وفي المنهاج :والجواب عن حديث : اقرؤا القرآن أنه معلول سنداً معارض بالأقوى ويمكن حمله على سوال الأكل أو العزيمة.

(منهاج السنن شرح جامع السنن ۹۰:۲، باب ما جاء في كراهية أن يأخذ المؤذن على الأذان أجراً)

٣) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى : ويمنع ....(د حاشيې پاتې برخه)

اجير جوړول د امام اعظم رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد ناروا دي، يعني غير نافذ او موقوف دي، كما في الدر المختار: ويتوقف منه عند الامام وينفذ عندهما كل ما كان مبادلة مال بمال أو عقد تبرع كالمبايعة والاجارة، هامش ردالمحتار ۴: ۳۰۱-۳۰۳ () وهوالموفق.

كافر ته د مطالعې لپاره د قرآن پاک وركول

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې كوم غير مسلم ته د مطالعې لپاره د قرآن كريم وركول څه حكم لري؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي جناب محمد اسحق، هانگ كانگ ۱۹۷۴ع ۲ ۱۱

الجواب: كه چېرته ئې دبې حرمتۍ وېره (خطر) نه وي: نو روا دی (۲) **وهوالموفق**

(د حاشيې پاتې برخه)..... النصراني من مسه و جوزه محمد إذا اغتسل، ولا بأس بتعليمه القرآن والفقه عسى أن يهتدى. (الدر المختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله ويمنع النصراني) في بعض النسخ الكافر وفي الخانية: الحربي أو الذمي.

(ردالمحتار ۱: ۱۳۱، كتاب الطهارة، قبيل باب المياه)

وفي الفتاوى الخانية: الحربي والذمي إذا طلب تعلم القرآن يعلم، وكذا إذا طلب الفقه والأحكام رجاء أن يهتدي إلى الحق لكنه يمنع من مس المصحف إلا إذا اغتسل فلا يمنع بعد ذلك.

(فتاوى خانية على هامش الهندية ۱: ۱۶۳، باب الحدث في الصلاة، مسائل كيفية القراءة)

۱) (الدر المختار ۴: ۳۳۰، باب المرتد، قبيل مطلب المعصية تبقى بعد الردة)

۲) وفي الهندية: قال أبو حنيفة رحمه الله تعالى: اعلم النصراني الفقه والقرآن لعله يهتدي ولا يمسّ المصحف وإن اغتسل ثم مسّ ....(دحاشيې پاتې برخه په بل مخ)

په توره تخته باندې د قرآن د آيتونو، د الله تعالى او د رسول الله ﷺ د مبارکو نومونو ليکل او بيا يې په کوم شي سره ورانول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په توره تخته باندې د الله تعالى او د رسول الله ﷺ د مبارکو نومونو ليکل يا د قرآن پاک ليکل او بيا يې په کوم شي سره ورانول څنګه دي؟ **بينوا توجروا**

المستفتي ارشد علي چارسده ۵ ربيع الاول ۱۴۰۹ هـ

الجواب: لکه څرنګه چې د همداسې مبارکو الفاظو په اوبو سره ورانول عفوه دي نو په جامې سره يې هم ورانول عفوه دي. (۱) البته مناسبه دا ده چې د تورې تختې لاندې کومه جامه يا بل شی وغوړول شي. **وهوالموفق**

د اسماء حسنى، د انبياوو د نومونو، د آيتونو يا د احاديثو په محراب وغيره باندې د ليکلو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس جومات په مخامخ ديوال باندې محراب ته نږدې د اسماء حسنى يا د انبياوو د

(پاتې حاشيه) ...... لا بأس، كذا في الملتقط

(فتاوى هندية ۵: ۳۲۳، كتاب الكراهية، الباب الخامس في آداب المسجد والقبلة)

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ويمنع النصراني من مسه و جوزه محمد إذا اغتسل، ولا بأس بتعليمه القرآن والفقه عسى أن يهتدي .(الدرالمختار ۱: ۱۳۱، قبيل باب المياه)

۱) قال العلامة العيني رحمه الله تعالى: وقال عياض غسلوها بالماء ثم احرقوها مبالغة في إذهابها ...... وقال ابن بطال في هذا الحديث جواز تحريق الكتب التي فيها اسم الله عزّ وجلّ بالنار و إن ذلك إكرام لها وصون عن وطئها بالأقدام وقيل هذا كان في ذالك الوقت وأما الآن فالغسل أولى اذا دعت الحاجة الى إزالته.

(عمدة القاري ۲۰: ۱۸، ۱۹، كتاب فضائل القرآن، باب جمع القرآن)

نومونو متعلق ليکل کړي دي. ددې کوونکي د حرامو مرتکب دی. که مبتدع که مکروه او که دا روا او ثواب کار دی؟ همدارنګه په محراب باندې دیاسه آیت کرمه یا حدیث لیکلي دي لکه د دارالعلوم حقانیه په محراب باندې چې آیت کریمه او حدیث شریف لیکل شوي دي؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي ابوالخير، ګاؤن بتياره ...۷۳ع ۳/ ۱۴

الجواب: په دغه مسئله کې اختلاف دی، لیکن کله چې د اهانت ویره (خطر) نه وي او د لمانځه په حالت کې په هغو باندې نظر نه لګیږي نو عدم کراهت ته ترجیح ورکول کیږي. **في الهندية ۵: ۳۵۸، ولو كتب القرآن على الحيطان والجدران بعضهم قالوا يرجى أن يجوز وبعضهم كرهوا ذلك مخافة السقوط تحت اقدام الناس كذا في فتاوى قاضي خان() وهو الموفق**

د استاذ لپاره په چوکۍ باندې کيناستل کله چې کتابونه لاندې وي

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زه په مکتب کې ماشومانو ته زده کړه ورکوم. تقریباً د مکتب په هر کتاب کې بسم الله او په مختلفو ځايونو کې د الله تعالى او د رسول الله ﷺ مبارک نومونه ليکل شوي دي، اوس سوال دا دی چې د استاذ لپاره په چوکۍ باندې کيناستل د داسې کتابونو یا خالص د دينياتو کتابونه، په کومو کې چې دننه د قرآن پاک آيتونه هم ليکل شوي دي لوستل څنګه دي. کله چې ماشومان ښکته (لاندې) په فرش باندې ناست وي؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي: ارشد علي، چارسده... ۱۹۸۸ع/ ۲/ ۱۹.

---

۱) فتاوى هندية ۵: ۳۲۳، كتاب الكراهية، الباب الخامس في آداب المسجد والقبلة)

وقال العلامة ابن عابدين: وقدمنا قبيل باب المياه عن الفتح: أنه تكره كتابة القرآن وأسماء الله تعالى على الدراهم والمحاريب والجدران ومايفرش، وماذاک إلا لاحترامه وخشية وطئه ونحوه مما فيه إهانة. (ردالمحتار ۱: ۶۶۹، قبيل باب الشهيد)

الجواب: چونکې د داسې کتابونو څخه لوړ (اوچت) کیناستل نه شرعاً بې ادبي ده او نه عرفاً بې ادبي ده. لهذا دا کیناستل بې ناروا نه دي (۱) **وهوالموفق**

لوڅ سر د قرآن لوستل او په جومات کې کیناستل

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په لوڅ سر د قرآن مجيد لوستل او ورښودل څنګه دي؟ په خانګړې ډول ماشومان بې په لوڅ سر وايي او په جومات کې ناست وي. ددې څه حکم دی؟ بينواتوجروا.

المستفتي نامعلوم

الجواب: لوڅ سر د قرآن لوستل او په جومات کې کیناستل منعه نه دي (۲) **وهوالموفق**

---

۱) قال المفتي كفايت الله رحمه الله تعالى: د عرفي بې ادبی مدار په عرف عام باندې دی او هم په دې باندې حکم لګولی شي... كه په يو صورت کې په عرف عام کې بې ادبی ګڼلی شي نوهغه به بې ادبی وي اګرچې دهغې تصريح په يو كتاب كې ملاو نه شي. (كفايت المفتي ۱: ۱۲۶، كتاب العقائد)

۲) في الهندية: رجل أراد أن يقرأ القرآن فينبغي أن يكون على أحسن أحواله، يلبس صالح ثيابه ويتعمم ويستقبل القبلة، لأن تعظيم القرآن والفقه واجب كذا في فتاوى قاضي خان.
(فتاوى هندية ۵:۳۱۶، كتاب الكراهية، الباب الرابع في الصلاة والتسبيح وقراءة القرآن)

وقال العلامة التهانوي رحمه الله تعالى: د خولی نه بغير سرتور سر قرآن مجيد لوستل مكروه تنزيهي دي يا نه؟
الجواب: نه دی.
(امداد الفتاوى ۴: ۳۹، كتاب الحظر والإباحة، نماز، تسبيح، ذكر، دعا وغيره كے احكام)

د قرآن مجيد او ديني كتابونو طرفته د پښو غځولو حكم

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره کې چې آيا د قبلې طرفته د پښو غځول ناروا دي؟ آيا له دې پرته كوم بل طرفته يې هم غځول ناروا دي؟بينواتوجروا.

المستفتي: ذاكرحسين، پولي ټيكنك كالج كوهاټ روډ،پشاور ۱۴۰۰ هـ ۶ ۱۸

الجواب: دقرآن مجيد اوديني كتابونو طرفته د پښو غځول ممنوع دي [۱]. **فقط**

د قرآن مجيد په جامه باندې د پښو ايښودلو او په هغو دپاسه د لوبو حكم

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره کې چې ماشومانو په كومو جامو کې قرآن مجيدونه ايښي وي، په هغو جامو باندې دپاسه لوبې كول يا په هغو باندې د پښو ايښودل څنګه دي؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: نامعلوم

الجواب: كه چيرته قرآن مجيد په هغو في الحال نه وي ايښودل شوى نو خير دى **وهوالموفق**

په جوماتونو کې په راډيو يا ټيپ ريكارډ سره د قرآن مجيد اوريدلو حكم

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره کې چې له راډيو څخه دقرآن مجيد اوريدل څنګه دي؟ او په ټيپ ريكارډ کې د قرآن مجيد ثبتول او بيا يې اوريدل څنګه دي؟ همدارنګه په جوماتونو کې دهغه اوريدل څنګه دي؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: نامعلوم

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى : كُرِهَ (مَدُّ رِجْلَيْهِ فِي نَوْمٍ أَوْ غَيْرِهِ إِلَيْهَا) أَيْ عَمْدًا لِأَنَّهُ إِسَاءَةُ أَدَبٍ قَالَهُ مُنْلَا نَاكِيرٌ (أَوْ إِلَى مُصْحَفٍ أَوْ شَيْءٍ مِنَ الْكُتُبِ الشَّرْعِيَّةِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ عَلَى مَوْضِعٍ مُرْتَفِعٍ عَنِ الْمُحَاذَاةِ) (الدر المختار ۱ : ۴۸۵، باب ما يفسد الصلوة وما يكره فيها، مطلب في أحكام المسجد)

وقال العلامة ابن حجر : قال الزركشي : ويحرم مد الرجل إلى شيئ من القرآن أو كتب العلم. (الفتاوى الحديثية ۳۰۶، مطلب حكم مد الرجل للمصحف أو كتب العلم)

الجواب: دا اصل شی نه دی بلکې عکس دی، لهذا د هغه آوریدل نه عبادت نه ضروري او نه معصیت او حرام دی، **فلایجب سجدة التلاوة بالسماع من تلك الآلات()فقط.**

د قرآن مجید د ځانګړیو (خاصو) سورتونو په ځانګړیو (خاصو) ورځو کې د ثواب په نیت د ویلو حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زمونږ په سیمه (علاقه) کې د رمضان په دیرشمه شپه د قرآن مجید مخصوص سورتونه ویل کیږي او دا عمل د لزوم ثواب په ډول ګڼل کیږي. ددې څه حکم دی؟ **بینوا توجروا.**

المستفتي: مختار احمد. تحصیل وضلع مردان ۱۴۰۰ هـ/ ۷/ ۱۷

الجواب: که چیرته دغه سورتونه په همدې خاص وخت کې د کثرت ثواب په اعتقاد سره ویل کیږي نو مکروه او ناروا دي، **کما في البحر۲: ۵۹، ولأن ذكر الله اذا قصد به التخصيص بوقت دون وقت أوبشيئ دون شيئ لم يكن مشروعاً حيث لم يرد الشرع به()وهوالموفق.**

د الله او قرآن په خاطر (ما مه تنګوه) ویلو کې کومه ګناه نشته

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې که چیرته کوم کس څوک تنګوي او هغه دده په خواب کې ووایي چې د الله یا قرآن مجید په خاطر ما مه تنګوه، نو په دې کې کومه ګناه شته او که نشته؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي: نامعلوم ۱۹۸۸ع/ ۸/ ۲۸

---

۱) قال العلامة الكاساني رحمه الله تعالى: بخلاف السماع من الببغاء والصدى فإن ذلك ليس بتلاوة.

۲) (البحر الرائق ۶: ۷۰ باب البيع الفاسد)

الجواب: په دې کې هيڅ ګناه نشته. د الله او د قرآن رعايت په هر مسلمان باندې ضروري دی (۱) **وهوالموفق**

د قرآن مجيد لپاره غلاف او د هغو شمير (تعداد)

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د قرآن مجيد لپاره څومره غلافونه روا دي څکه چې خلک غلاف سنت بولي؟ **بينواتوجروا**

المستفتي شير خان. چارسده ۷۴ع ۱۰ ۱۱

الجواب: بلا غلاف هم روا دی او با غلاف هم روا دی. ددې لپاره هيڅ حد (اندازه) نشته. **فقط**

د (وَاللَّاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِن نِّسَآئِكُمْ) او د (وَاللَّذَانِ يَأْتِيَانِهَا مِنكُمْ فَآذُوهُمَا) بهترين تفسير

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د قرآن مجيد د څلورمې سپارې د سورة النساء آيت نمبر ۱۴ (وَاللَّاتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِن نِّسَآئِكُمْ) (الاية) (وَاللَّذَانِ يَأْتِيَانِهَا مِنكُمْ فَآذُوهُمَا) (الاية) په ترجمه کې اختلاف پيدا شوی دی. يو عالم د هغه ترجمه د دوو ښځو په مينځ کې په زنا سره کړې ده. او بل عالم دين وايي دي چې صرف په دغه ځای کې نه دي بلکې په ټول قرآن مجيد کې د ښځې له ښځې سره د زنا کولو ذکر نشته. په دې دواړو کې کوم يو صحيح دی؟ **بينواتوجروا**

المستفتي عبدالحکيم، کوهستان ۸/ رمضان ۱۳۹۴هـ

الجواب: د همدې آيتونو تفسير په بيان القرآن کې حضرت تهانوي رَحِمَهُ اللهُ په

---

۱) (وفي الهندية :لأن تعظيم القرآن والفقه واجب.
فتاوى هندية ۵: ۳۱۶، كتاب الكراهية ،الباب الرابع)

ښه طريقه کړې دی لهذا تاسو هغه ته مراجعه وکړئ [۱] او له (واللاتي يأتين الخ) څخه که چيرته صرف د ښځو په مينځ کې بې حيايي وشي؛ نو د هغه مصداق د سحق وي، يعنې له يوې بلې سره بلاحائل دفرج يوځای کول [۲]. فافهم وهوالموفق

دعلم له حاصلولو پرته خلکو ته دقرآن اوحديث ترجمه اوتفسير کولوحکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو اردو ويونکي يا پښتو ويونکي يا فارسي ويونکي د قرآن او حديث ترجمه له کوم عالم څخه نه وي زده کړې او هغه خلکو ته تعليم ورکوي. د هغه څه حکم دی؟ بينوا توجروا.

المستفتي قاضي فيض القادر، ميران شاه. ۱۹۸۸ع ۷ ۶.

---

۱) قال حکيم الأمت رحمه الله تعالىٰ: اوکومې ښځې چې د بې حيايئ کار (يعنى زنا) وکړي ستاسو (منکوحه) ښځو سره، تاسو ددې ښځو (په دې کار) باندې څلورسړي دخپلو نه (يعني آزاد عاقل بالغ مذکر) ګواهان کړئ (چې ددوی په ګواهئ باندې حکام آينده سزا جاری کړي)... او (د زنا په سزاکې د ځينې منکوحه ښځو تخصيص نشته بلکې) چې کوم دوه سړي هم دغه د بې حيايئ کار (يعنې زنا) وکړي ستاسو نه (يعنې د بالغ عاقل مسلمانانو نه) نو دوی دواړو ته تکليف ورسوئ....
فايده: دا چې وويل شو چې: "کوم دوه سړي هم" په دې کې د نکاح او بې نکاح والا ښځې او د نکاح او بې نکاح والا سړي ټول راغلل، پس د څلور واړو حکم ذکر شو، د دوی دا حکم په ابتداء کې وو چې تکليف خو ټولو ته ورسول شي چې ددې طريقه يې صرف منکوحه ښځې لپاره بيان کړه چې دوی مقيدې وساتئ او د باقي لپاره يې طريقه بيان نه کړه، ظاهره هم دا ده چې د اسلامي حکامو په رايې باندې به وي.
(بيان القرآن ۱:۳۳۶، سورة النساء، آيت نمبر ۱۶،۱۵)
۲) قال الدکتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالىٰ: والسحاق (وهوفعل النساء بعضهن ببعض)حرام أيضا ويعزر فاعل المساحقة...وعن واثلة رضي الله تعالىٰ عنه قال رسول الله ﷺ سحاق النساء بينهن زنا.
(الفقه الإسلامي وأدلته ۷:۵۳۴۶، الباب الأول الحدود الشرعية ،الفصل الأول حدالزنا)

الجواب: همداسې کسانو ته کتاب ته په کتلو سره ترجمه او تشريح کول ممنوع نه دي، ليکن په ياد سره يې کول ممنوع دي (۱) **وهوالموفق**

د ښځو لپاره د غير محرم ښځه علم حاصول

سوال: زمونږ په سيمه (علاقه) کې يو شمير خلک وايي چې علم فرض دی که چېرته د ښځې ميړه يا کوم رشته دار نه وي نو د ښځې لپاره د بېګانه سړي ښځه يا د سړي لپاره د بېګانه ښځې ښځه د علم زده کول روا دي؟ آيا دا مسئله صحيح ده؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: نامعلوم

الجواب: په صورت مسئوله کې د علم حصول ضروري دی. (۲) بيا هم د خلوت

---

۱) في المرقاة: ثم إنه إنما يأمرو ينهى من كان عالمًا بما يأمر به وينهي عنه وذلك يختلف باختلاف الشيئ، فإن كان من الواجبات الظاهرة أو المحرمات المشهورة كالصلاة والصيام والزكاة والزنا والخمر ونحوها فكل المسلمين عالم بها، وإن كان من دقائق الأفعال والأقوال وما يتعلق بالاجتهاد لم يكن للعوام مدخل فيه لأن انكاره على ذلك للعلماء.

(مرقاة المفاتيح ۹:۳۲۹، كتاب الآداب، باب الأمر بالمعروف)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وقد رأيت في فتاوى العلامة ابن حجر: سئل في شخص يقرأ ويطالع في الكتب الفقهية بنفسه ولم يكن له شيخ ويفتي ويعتمد على مطالعته في الكتب، فهل يجوز له ذلك أم لا؟

فأجاب بقوله: لايجوز له الإفتاء بوجه من الوجوه لأنه عامي جاهل لايدري ما يقول؟

(شرح عقود رسم المفتي ۲۲، عدم جواز الافتاء بمجرد المطالعة بلا تدريبه)

۲) في المرقاة: عن أنس قال قال رسول الله ﷺ: طلب العلم فريضة على كل مسلم ومسلمة كما في رواية. (مرقاة المفاتيح ۱:۲۸۴، كتاب العلم)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: واعلم أن تعلم العلم يكون فرض عين وهوبقدر مايحتاج لدينه. (الدر المختار ۱:۴۲، مقدمة، مطلب في فرض الكفاية وفرض العين)

او بردی خیال ساتل ضروری دی (۱) وهوالموفق

---

۱) وفي المشكوة: عن عقبة بن عامر رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: اياكم والدخول على النساء، فقال رجل يا رسول الله! ارأيت الحمو؟ قال: الحمو الموت... وعن عمر رضي الله تعالى عنه عن النبي ﷺ قال لايخلونّ رجل بامرأة إلاكان ثالثهما شيطان، رواه الترمذي.

(مشكوة المصابيح ۲۶۸، باب النظر إلى المخطوبة وبيان العورات)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: الخلوة بالأجنبية حرام.

(الدر المختار ۵:۲۶۰، كتاب الحظر والإباحة، فصل في النظر والمس)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وتمنع المرأة الشابة من كشف الوجه بين رجال لا لأنه عورة بل لخوف الفتنة. (الدر المختار ۱:۲۹۹، باب شروط الصلاة)

باب آداب الكواغذ

د قرآن مجید د زړو پاڼو حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د قرآن مجید د زړو پاڼو انبار پروت دی له هغه سره باید څه وشي؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: ډاکټر شریف احمد صاحب ۲ رجب المرجب

الجواب: د قرآن مجید هغه پاڼې د کتې اخیستو قابل نه وي په کوم محفوظ ځای کې دي د یوه مسلمان مړي په شان ښخ کړای شي او یا دې په روانو (جاري) اوبو کې واچول شي. والأول هوالأولى کمافي الهندية ۵:۳۲۵(۱) **وهوالموفق.**

د قرآن مجید د زړو پاڼو سوځول ناروا دي

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د قرآن یا د نورو دیني کتابونو زړو پاڼو سوځول بهتر دي که ښخول یې. که په اوبو کې یې اچول. کله چې په اوبو کې په اچولو سره هغه په خزلو بوټو کې راخوړندېږي او په

---

(۱) فی الهندية: المصحف اذا صار خلقا لا يقرأ منه ويخاف أن يضيع يجعل فی خرقة طاهرة ويدفن ودفنه أولى من وضعه موضعاً يخاف عليه النجاسة أو نحو ذلک.

(فتاوى هندية ۵:۳۲۳، کتاب الكراهية، الباب الخامس فی آداب المسجد الخ)

وقال العلامة الحصكفی رحمه الله تعالى: المصحف إذا صار بحال لا يقراء فيه يدفن كالمسلم.

(الدرالمختار ۱:۱۳۰، قبيل باب المياه)

ښخولو کې په هغو دپاسه څناور وغيره ګرځي؟ بينوا توجروا

المستفتي: قاري فداء محمد، مانسهره ..شعبان ۱۳۹۵هه

الجواب: ښخول يې ضروري دي، سوځول يې زمونږ په نزد غير مشروع دي. كما في الهندية ۵: ۳۵۸، المصحف اذا صار خلقًا لايقرأ منه ويخاف أن يضيع يجعل في خرقة طاهرة ويدفن ودفنه أولى من وضعه موضعًا يخاف أن يقع عليه النجاسة أو نحو ذلك ويلحد له، وفيها بعد أسطر، ولايحرق بالنار(۱) وهوالموفّق.

په اخبارونو کې د قرآني آيتونو او مبارکو احاديثو دفن (ښخول) درياب ته يې د غورځولو او سوځولو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په اخبارونو کې ځينې وخت قرآني آيتونه مبارک احاديث يا د الله تعالى نوم ليکل شوی وي. د همدې اخبارونو خرڅول څنګه دي؟ که چيرته همدغه اخبارونه ځيرې کړل شي په سمندر کې له اچولو پرته د هغو سوځول څه حکم لري؟

---

۱) (فتاوى هندية ۵:۳۲۳، كتاب الكراهية، الباب الخامس في آداب المسجد الخ)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: المصحف إذا صار بحال لايقرأ فيه يدفن كالمسلم. (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله يدفن) أي يجعل في خرقة طاهرة ويدفن في محله غير ممتهن لا يوطأ، وفي الذخيرة،: وينبغي أن يلحد له ولا يشق لأنه يحتاج إلى إهالة التراب عليه وفي ذلك نوع تحقير إلاإذا جعل فوقه سقفًا بحيث لا يصل التراب إليه فهو حسن أيضا... فليس في دفنه إهانة له بل ذلك إكرام خوفًا من الامتهان. (ردالمحتار ۱:۱۳۰، قبيل باب المياه)

همدارنگه د همدي الفاظو دفن (ښخول) څه حکم لري؟ بینواتوجروا.

المستفتي: میاں محمد اکرم، اټک شهر ۲۹/ محرم ۱۴۰۳ هه

الجواب: د همدي مقدسو الفاظو پريکول او ښخول روا دي، کله چې کفن کړی شي، همدارنگه په درياب کې يې اچول هم صحيح دي [۱] او سوځول يې د شافعيانو په نزد روا دي، [۲] بيا هم عند الاحناف دا روا دي چې د ضرورت په

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالىٰ: المصحف إذا صار بحال لايقرأ فيه يدفن كالمسلم. (درمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: (قوله يدفن) أى يجعل في خرقة طاهرة ويدفن... وأما غيره من الكتب فسيأتي في الحظر والإباحة أنه يمحى عنها اسم الله تعالىٰ وملائكته ورسله ويحرق الباقي ولابأس بأن تلقي في ماء جار كما هي أو تدفن وهو أحسن.

(ردالمحتار ۱:۳۰، قبيل باب المياه)

۲) قال العلامة الحافظ ابن حجر رحمه الله تعالىٰ: (قوله وأمر بما سواه من القرآن في كل صحيفة أو مصحف أن يحرق)... وفي رواية سويد بن غفلة عن عليؓ قال لاتقولوا لعثمان في إحراق المصاحف إلا خيرا... ومن طريق مصعب بن سعد قال: أدركت الناس متوافرين حين حرق عثمان المصاحف، فأعجبهم ذلک، أوقال لم ينكرذلک منهم أحد... وأكثر الروايات صريح في التحريق فهو الذي وقع،... قال ابن بطال: في هذا الحديث جواز تحريق الكتب التي فيها اسم الله بالنار وأن ذلک إكرام لها وصون عن وطئها بالأقدام.

(فتح الباري ۹:۲۰،۲۱، باب جمع القرآن، كتاب فضائل القرآن)

وقال العلامة ملا علي قاري رحمه الله تعالىٰ: واختلف العلماء في ورق المصحف البالي إذا لم يبق فيه نفع أن الأولى هو الغسل أو الإحراق فقيل الثاني لأنه يدفع سائر صور الامتهان... قال ابن حجر وفعل عثمان يرجح ...(باتي حاشيه په بل مخ)

وخت کې د نورو ائمه وو په رأيه عمل وشي.(۱) والله أعلم

له ردي کاغذونو څخه د الله او د رسول نوم رنګول او غورځول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زموږ دفتر ته مختلف کاغذونه راځي په کومو باندې چې نوم هم ليکل شوی وي، ملګری هغه پرې کړي باقي په ټوکری کې واچوي او بيا په خس خزلو کې واچول شي، مګر زه داسې کوم چې د خدای او د رسول نوم په قلم رنګوم بيا يې څيرې کوم او غورځوم يې، زما دا عمل څنګه دی؟ بينوا توجروا.

المستفتي: جناب ګل محمد. ټائم آفس ډي ايم ټيکسټائل ملز، راولپنډۍ. ۱۷ نومبر ۱۹۸۴ع

الجواب: ستاسو طريقه ډيره غوره ده له دې پرته يې ښخول يا درياب ته اچول

(د حاشيې پاتې برخه) ... الإحراق وحرقه بقصد صيانته بالكلية لا امتهان فيه بوجه.
(مرقاة المفاتيح ۵:۲۹، كتاب فضائل القرآن)

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وقد قال في البزازية: الفتوى في زماننا على قول مالک، وقال الزاهدي: كان بعض أصحابنا يفتون به للضرورة... لكن قدمنا أن الكلام عند تحقق الضرورة حيث لم يوجد مالكي يحكم به.
(ردالمحتار ۵:۳۶۲، كتاب المفقود، مطلب في الإفتاء بمذهب مالک في زوجة المفقود)

وفي البشرى لأرباب الفتوى: إعلم أنه لايجوز الحكم والإفتاء بالقول المرجوح وبمذهب سائر الأئمة إلا في ثلاثة مواضع الأول عند الضرورة... عند كون الحديث المخالف ثابتاً سنداً ومتناً غير منسوخ وغير معلول وغير معارض بحديث آخر... وعند تبدل العرف.
(البشرى لأرباب الفتوى ۳۳، الفصل السادس، الإفتاء بالقول المرجوح وبمذهب سائر الأئمة)

هم روا دي (۱) وهوالموفق

د قرآني آيتونو او مباركو نومونو لرونكو اخبارونو او رسالو توهين او په هغو كې د ډوډۍ وغيره نغښتل

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو د دې مسئلې په باره كې چې د ځمكې پر مخ د الله او د هغه د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مقدسو نومونو بې حرمتي كيږي. په اخبارونو رسالو او نورو كتابونو كې مبارك نومونه ليكل شوي دي. له لوستلو وروسته په هغو كې شيان مثلاً ډوډۍ وغيره نغښتل كيږي. بيا خلك شيان ترې راوباسي او په كوڅو كې يې وغورځوي. د همدې بې حرمتى مخنيوى څه دى؟ شرعي حكم يې څه دى؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي: محمد اسلم مختار كراچى. ۲۴/ شعبان ۱۴۰۳هـ

الجواب: د قرآني آيتونو او مباركو نومونو توهين كفر بواح دى. (۲) په همداسې اخبارونو وغيره كې د كومو متعلق چې د خلكو بې التفاتي معلومه شوي د هغو د ليكلو په ذريعه په ګناه او معصيت كې برخه اخيستونكي دي (۳) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وأما غيره من الكتب فسيأتي في الحظر والإباحة أنه يمحى عنها اسم الله تعالى وملائكته ورسله ويحرق الباقي، ولابأس بأن تلقي في ماء جار، أو تدفن وهو أحسن. (رد المحتار ۱۳۰:۱، قبيل باب المياه)

۲) قال الملا علي قاري رحمه الله تعالى: ثم لا نزاع في أن من المعاصي ماجعله الشارع أمارة التكذيب وعلم كونه كذلك بالأدلة الشرعية كالسجود للصنم وايقاء المصحف في القاذورات والتلفظ بكلمة الكفر ونحو ذلك مما ثبت بالأدلة أنه كفر.

(شرح الفقه الأكبر ص: ۷۷)

۳) قال الله تبارک وتعالى: وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ.... (پاتې حاشيه په بل مخ)

د قرآن مجيد د ضعيفو پاڼو ښخول بهتر دي

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې قرآن كريم كله ضعيف شي؛ نو د هغه په پاكه جامه كې بندول په كوم درياب كې اچول پكار دي او يا كه په هديره (قبرستان) كې په پاك خاى كې ښخ كړى شي؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: تاج محمد سكنه سهره هري پور ۱۹۸۶ع/ ۶/ ۱۷

الجواب: ښخول يې بهتر دي، **في الهندية ۵: ۳۵۸: المصحف إذا صار خلقًا لايقرأ منه ويخاف أن يضيع يجعل في خرقة طاهرة ويدفن، ودفنه أولى من وضعه موضعًا يخاف أن يقع عليه النجاسة ().**

(د حاشيې پاتې برخه)....... (سورة المائدة آيت نمبر ۲)

وقال الدكتور وهبة الزحيلى رحمه الله تعالى: سدّ الذرائع أصل من أصول الشريعة الإسلامية، وحقيقته منع المباحات التي يتوصل بها إلى مفاسد أو محظورات.

سدالذرائع لايقتصر على مواضع الاشتباه والاحتياط، وإنما يشمل كل ما من شأنه التوصل به إلى الحرام... وضابط منع الذريعة: أن تكون من شأنها الإفضاء إلى المفسدة لامحالة (قطعًا) أو كثيرا.

(الفقه الإسلامي وأدلته: ۷:۵۲۵۸، بشأن سدالذرائع)

۱) (فتاوى هندية ۵: ۳۲۳ كتاب الكراهية، الباب الخامس في آداب المسجد والقبلة)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: المصحف إذا صار بحال لا يقرأ فيه يدفن كالمسلم. (در مختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله يدفن) أى يجعل في خرقة طاهرة ويدفن في محل غير ممتهن لايوطأ... وأما غيره من ... (پاتې حاشيه په بل مخ)

نوټ: که چیرته په جامه کې تاو کړی شي په هغه کې ډبره (کاڼی) بند کېښودل شي او په دریاب کې ډوب کړی شي نو دا هم قائم مقام د ښخولو دی (کما في الميت) [۱] **وهوالموفق**

د زاړه قرآن غلاف صدقه کول یا یې سره له غلافه ښخول

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د زاړه قرآن مجید او د هغه د غلاف په باره کې څه حکم دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: نامعلوم

الجواب: فقهاء کرامو لیکلي دي چې زوړ شوی قرآن مجید دې په جامه کې تاو ښخ کړی شي [۲] او که چېرته غلاف لیرې کړي په بله پاکه جامه کې یې ښخ کړی شي نو هم روا دي او له هغه وروسته د غلاف په صدقه کولو کې هیڅ خبره نشته. **وهوالموفق**

(د حاشیې پاتې برخه)..... الكتب فسيأتي في الحظروالإباحة أنه يمحى عنها اسم الله تعالىٰ وملائكته ورسله ويحرق الباقي ولا بأس بأن تلقي في ماء جار كما هي أوتدفن وهوأحسن.

(رد المحتار ۱:۱۳۰ ،قبيل باب المياه)

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالىٰ :مات في سفينة غسل وكفن وصلى عليه و ألقي في البحر. (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: قوله وألقي في البحر ،قال في الفتح :وعن أحمد ينقل ليرسب.

(ردالمحتار ۱:۶۶۰ كتاب الجنائز ،مطلب في دفن الميت)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالىٰ :المصحف إذا صار بحال لايقرأ فيه يدفن كالمسلم. (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ :قوله يدفن)أى يجعل خرقة طاهرة ويدفن في محل غيرممتهن لايوطأ. (ردالمحتار ۱:۱۳۰ ،قبيل باب المياه)

الله الله

فتاوی فریدیه

نهم جلد

باب التوبة

الله الله

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمْ

"اَلتَّآئِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ"

(رواه ابن ماجة)

باب التوبة

د توبې صحيح طريقه څه ده؟

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې يو كس له گناه وروسته د صحيح توبې ويستلو قصد كړى دى، د توبې صحيح طريقه څه ده؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: مولوي كليم، دوسلي، بنو... ۸۸ع، ۶/۶.

الجواب: مفسرينو او فقهاوو ليكلي دي چې د كمال توبه دار مدار په څو امورو باندې دى، اول په ماضي باندې پښېماني، دويم په اينده كې د گناه نكولو عزم، دريم د كومو حقوقو لپاره چې بدل شي نو د هغه بدل په عمل كې راوستل او د حقوق العباد تعلق آداء يا استبراء كول [۱] **وهوالموفق.**

له ټولو گناهونو څخه يوه توبه كافي ده

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې كه چيرته د يو كس څخه كفر يا شرک وشي او په ټول عمر كې يوه توبه وباسي نو آيا د هغه لپاره يوه توبه كافي كيږي؟ او هغه داسې ووايي چې: اې الله! زما څخه چې په

---

۱) قال العلامة النووي رحمه الله تعالى :قال العلماء :التوبة واجبة من كل ذنب فإن كانت المعصية بين العبد وبين الله تعالى لاتتعلق بحق آدمي فلها ثلاثة شروط : أحدها : أن يقلع عن المعصية ، والثاني : أن يندم على فعلها ،والثالث :أن يعزم أن لايعود إليها أبداً،فإن فقد أحد الثلاثة لم تصح توبته ،و إن كانت المعصية تتعلق بآدمي فشروطها أربعة :هذه الثلاثة وأن يبرأ من حق صاحبها، فإن كانت مالّا أو نحوه ردّه إليه وإن كانت حدّ قذف ونحوه مكّنه منه أو طلب عفوه و إن كانت غيبة استحلّه منها .
(رياض الصالحين : ۳۳،باب التوبه)

ژوند کې څومره د کفر او شرک ګناهونه شوي دي، يا الله ! تاته معلوم دي ماته معلوم نه دي د هغو څخه زه توبه کوم او اوس به ان شاء الله ګناه ته نه ورنږدې کيږم؛ نو آيا دا توبه صحيح ده؟ بينواتوجروا.

المستفتي: محمد پرويز، چارسده... ۳۱/ شوال ۱۴۱۱هه

الجواب: د رښتوني زړه دا توبه کافي شافي ده، قال الله تعالى: تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَصُوحًا(۱) والله أعلم بالصواب.

آيا په توبې سره حقوق العباد معاف کېدلى شي؟

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په توبې سره حقوق العباد معاف کېدلى شي او که نه؟ بينواتوجروا.

المستفتي: نديم، پشاور يونيورسټي... ۷۸ع/ ۲۳/۱۱

الجواب: حقوق العباد په توبې سره نه معاف کيږي، څکه چې دا په ابراء باندې موقوف دي (۲)

---

۱) (سورة التحريم :ايت ۸)

وفي المشكوة :قال قال رسول الله ﷺ : يا أيها الناس توبوا إلى الله فإني أتوب إليه في اليوم مائة مرة.

(مشكوة المصابيح :۲۰۳،باب الاستغفار والتوبة ،الفصل الأول)

۲) في المرقاة :وزاد النووي وإن كان الذنب متعلقًا ببني آدم فلها شرط آخر وهو ردّ المظلمة إلى صاحبها أو تحصيل البراءة منهم.

(مرقاة المفاتيح ۱۲۲ : ۵، كتاب الدعوات ،باب الاستغفار والتوبة)

و قال العلامة النووي رحمه الله تعالى :وإن كانت المعصية تتعلق بآدمي فشروطها أربعة، هذه الثلاثة، وأن يبرأ من حق صاحبها، فإن كانت حد قذف ونحوه مكنه منه أوطلب عفوه وإن كانت غيبة استحله منها. (رياض الصالحين ۳۳، باب التوبة)

ارباب الحقوق ته دحقوقو په رسولو کې په تفصیل باندې خبرول ضروري نه دي

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې کوم کس د قصده يا غير قصده د چا روپۍ يا کوم بل شی په ناروا طريقه پورته کړي يا يې په دوکه روپۍ اخيستي وي؛ نو اوس که چيرته الله تعالى هغه ته د توبې توفيق ورکړي او هغه له همدې ناوړه حرکتونو څخه توبه وکړي، له چا څخه يې چې روپۍ اخيستي دي،هغه ته بيخي معلومې نه دي چې د فلاني کس په ذمه زما څو روپۍ دي، اوس هغه گنهگار هغو خلکو ته د روپيو واپس بيرته ورکول غواړي ليکن دی غواړي چې په داسې طريقه روپۍ ورکړي چې حقوق العباد هم ساقط شي او په جرم باندې هم اقرار ته ضرورت پيښ نه شي، ځکه چې هغه په عزتمندو کې شمار شوی دی، نو آيا هغه خلکو ته داسې روپۍ واپس کولی شي چې هغو ته تفصيل هم بيان نه کړي او په کومې حيلې بهانې سره هغه روپۍ هم ورکړي، آيا په همدې ډول حقوق العباد اداء کېدلی شي؟بينواتوجروا.

المستفتي: محمد رفيق عفي عنه...۲۵، رجب المرجب ۱۳۸۷ هـ

الجواب: ارباب الحقوق ته د حقوقو رسول ضروري دي، (۱) دا ضروري نه ده چې ته هغوی په تفصيل باندې خبر کړي، صرف د زړه اراده کافي ده. (۲) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة النووي رحمه الله تعالى: إن لها (التوبة) ثلاثة أركان ،الإقلاع والندم على فعل تلك المعصية والعزم على أن لايعود إليها أبداً، فإن كانت المعصية لحق آدمي فلها ركن رابع وهو التحليل من صاحب ذلك الحق ...واتفقوا على أن التوبة من جميع المعاصي واجبة. (حاشية النووي على صحيح المسلم ۲:۳۵۴، كتاب التوبة)

۲) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :و هل يكفيه أن يقول اغتبتك فاجعلني في حل أم لا بد أن يبين ما اغتاب ؟ قال بعض علمائنا في الغيبة إلا بعلمه بها بل يستغفر الله له إن علم أن إعلامه يثير فتنة ، ويدل عليه أن الإبراء عن الحقوق المجهولة جائز عندنا. (رد المحتار ۵:۲۹۱، كتاب الحظر والإباحة ، فصل في البيع)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى : والأصل..... ......(پاتې حاشيه په بل مخ)

په کلک قصد د توبې وروسته په گناه سره توبې ته نقصان نه رسیږي

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې یو مسلمان د جرگې پر وړاندې په قرآن حکیم باندې قسم وکړ چې له خپل دښمن یا کوم شي یا له خپل جرم څخه د لیرې اوسیدو په قسم یې وعده وکړه، که چیرته دغه مسلمان خپله وعده ماته کړي او د قرآن کریم خیال ونه ساتي. له کوم ناوړه کار څخه د لیرې اوسیدو وعده یې چې کړې وه له هغه لیرې ونه اوسي نو:

(۱) د اسلامي قانون مطابق د داسې کس څه سزا کېدلی شي؟

(۲) دی مسلمان پاتې شو او که له ایمان څخه خلاص شو؟ کفاره به ورکوي او که نه؟

(۳) دده نکاح، د ښځې حق وغیره وغیره په خپل حال دي او که نه؟ **بینوا توجروا.**

المستفتي: سمیع الرحمن، مډل سکول، گمبت مردان

الجواب: کله چې د توبې کولو په وخت د گناه پرېښودلو کلک قصد وي؛ نو د گناه په کولو سره توبې ته کوم نقصان نه رسیږي (۱) **وهوالموفق.**

د شرعي قانون او سزا نه موندلو له وجې صرف په توبه باندې اکتفاء کول

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې یو کس که چیرته په تیره شوې زمانه کې د لواطت او وغیره ارتکاب کړی وي، اوس په هغو

(د حاشیې پاتې برخه)..... أن المستحق بجهة إذا وصل إلى المستحق بجهة أخرى اعتبر واصلًا بجهة مستحقة إن وصل إليه من المستحق عليه.

(الدرالمختار ۴: ۱۴۱، باب البیع الفاسد)

۱) قال العلامةالنووي رحمه الله تعالیٰ :وإذا تاب توبة صحیحة بشروطها ثم عاود ذلک الذنب کتب علیه ذلک الذنب الثاني ولم تبطل توبته ، هذامذهب أهل السنة في المسئلتین .

(حاشیة النووي علی صحیح المسلم ۲: ۳۵۴ ، کتاب التوبة)

باندې پښېمانه وي او د سزا لپاره هم د خان د وړاندې کولو څخه دریغ نه کوي. د هغه لپاره څه حکم دی؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: ندیم، پشاور یونیورسټي ۱۹۷۸ع/۱۱/۲۲

الجواب: چونکې په پاکستان کې د شرعي سزا د قانون اجراء نشته. لهذا صرف په توبه کولو باندې اکتفاء پکار ده (۱) **وهوالموفق**

له شرعي سزا څخه د خان ساتونکي کس توبه له شرطونو سره صحیح ده؟

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې کوم کس کومه ګناه په ښکاره یا پټه کړې وي او هغه د شرعي سزا مستحق شو، مګر خپل خان يې د سزا څخه ساتلی وي، نو د داسې کس توبه صحیح ده او که نه؟ **بینوا توجروا**

المستفتي: پروین شاه، هانګ کانګ ۷/ صفر ۱۴۰۷هـ

الجواب: د هغه توبه له حقوق الله (زنا، شراب او وغیره) څخه صحیح ده. د حقوق العباد (قتل، قرض او وغیره) څخه توبه صحیح ده. **من وجهٍ لا من کل الوجوه.** (۲) **وهوالموفق**

---

۱) في شرح الفقه الأكبر: ثمّ كون التوبة سببًا لغفران الذنوب وعدم المؤاخذة بها مما لاخلاف فيه بين الأمة، وليس شيئا يكون سببًا لغفران جميع الذنوب إلا التوبة كما قال الله تعالىٰ: قل ياعبادي الذين أسرفوا على أنفسهم لا تقنطوا من رحمة الله إن الله يغفر الذنوب جميعا. (شرح الفقه الأكبر ۱۵۷، بحث التوبة)

۲) و في المرقاة: و التوبة في الشرع ترک الذنب لقبحه والندم على ما فرط منه والعزيمة على ترک المعاودة و تدارک ما أمكنه من الأعمال بالإعادة ...وزاد النووي إن كان الذنب متعلقًا ببني آدم فلها شرط آخر وهو ردّ المظلمة إلىٰ صاحبها أو تحصيل البراء ة منه. (مرقاة المفاتيح ۵: ۱۲۲، كتاب الدعوات، باب الاستغفار و التوبة)

د لمانځه په پرېښودلو او د ګناهونو په کولو سره انسان نه کافر کېږي

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې دلته يو مولوي صاحب ويلي که چيرته چا يو لمونځ قضاء کړ نو هغه د کفر په دائره کې داخليږي او د يوه لمانځه قضاء کوونکی هم کافر دی، د مولانا صاحب په دې فتوی سره دلته په خلکو کې ډېره ناقراري خپره شوې ده او مولانا صاحب د خپلې فتوی د تصديق لپاره لاندې حديثونه وړاندې کړي دي **بين العبد وبين الكفر ترك الصلوة، مشكوة، ۱۱۴: العهد الذی بيننا وبينهم فمن تركها فقد كفر، ص ۵۸ بحواله مسلم، أوصانی خليلی ﷺ أن لاتشرك بالله شيئًا وان قطعت وحرقت ولاتترك الصلوة مكتوبة متعمدًا فمن تركها متعمدًا فقد برئت منه الذمة، مشكوة: ۵۷ بحواله أحمد والترمذي والنسائي، كتاب الصلوة، الفصل الثالث.** مذکور مولانا صاحب د پورتنيو احاديثو په رڼا کې د يوه لمانځه قضاء کوونکي ته هم کافر ويلي دي، او يو بل مولوي صاحب دئ کوم چې د اکوړه خټک سند لرونکی دی، هغه داسې کس محض ګنهګار بللی دی، لهذا د مکمل بحث او خپل تصديق لپاره له تاسو څخه غوښتنه ده چې تاسو موږ ته احاديث وليکئ چې د يو يا زياتو لمونځونو قضاء کوونکی کافر دی که ګنهګار دی؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي حبيب الله، واړي..... ۲۹/ مارچ ۱۹۷۸ع

الجواب: د قرآن (۱) او احاديثو (۲) څخه د رڼا ورځې په شان دا حقيقت واضح دی

---

۱) قال الله تبارک وتعالیٰ: إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَاءُ. (سورة النساء آيت ۱۱۶)

۲) وفي المشكوة: عن صفوان بن سليم أنه قيل لرسول الله ﷺ أ يكون المؤمن جبانًا؟ قال: نعم، فقيل له أ يكون المؤمن بخيلا؟ قال: نعم.
(مشكوة المصابيح ۴۱۴، باب حفظ اللسان و الغيبة... (پاتې حاشيه په بل مخ)

چې د لمانځه پرېښودلو او نورو ګناهونو په ترسره کولو سره مسلمان نه کافر کېږي، همدارنګه د ايمان ځخه نه خارجېږي [۱] او مذکور احاديث په تغليظ يا استحلال باندې محمول دي، [۲] لهذا د لمانځه نه کوونکي ته کافر ويونکي يا جاهل دی يا خارجي دی. **وهوالموفق**.

د علماوو او عوامو پر وړاندې له توبه ويستونکي سره تعلقات ساتل

سوال: ځه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د يو کس (محمد انار) په خلاف له ديوبند ځخه فتویٰ راغلې ده، د کومې له مخې چې له ده سره خوراک، ځښاک، ناسته او وغيره منع ګڼل شوي دي، هغه د ځلوېښتو کسانو پر وړاندې واورول شوه، بيا مسمی مذکور يو شمير علماء او عوام په يوه ځای کې سره راټول کړل د مجلس پر وړاندې يې توبه وويستل او د الله تعالی ځخه يې معافي وغوښتل، د مجلس شريکان د شاهدانو په حيث شاهدي

(د حاشيې باتې برخه)..... والشتم، الفصل الثالث)

و في صحيح المسلم :عن معرور بن سويد قال سمعت أبا ذرّ يحدث عن النبي ﷺ أنه قال :أتاني جبريل عليه السلام فبشرني أنه من مات من أمتك لايشرك بالله شيأ دخل الجنة ، قلت : وإن زنى وإن سرق قال : وإن زنى وإن سرق.

(صحيح المسلم ١ : ٦۶، كتاب الإيمان ،باب الدليل على أن مات لا يشرك بالله شيأ)

١) وفي شرح العقائد : و الكبيرة لاتخرج العبد المؤمن من الإيمان ولا تدخله في الكفر ... إن مرتكب الكبيرة فاسق. (شرح العقائد ٨٢)

٢) قال العلامة الملا علي قاري رحمه الله تعالى : قُلْتُ: وَنِعْمَ الرَّأْيُ رَأْيُ أَبِي حَنِيفَةَ ، إِذِ الْأَقْوَالُ بَاقِيهَا ضَعِيفَةٌ، ثُمَّ مِنَ التَّأْوِيلَاتِ أَنْ يَكُونَ مُسْتَحِلًّا لِتَرْكِهَا. أَوْ تَرْكُهَا يُؤَدِّي إِلَى الْكُفْرِ، فَإِنَّ الْمَعْصِيَةَ بَرِيدُ الْكُفْرِ. أَوْ يُخْشَى عَلَى تَارِكِهَا أَنْ يَمُوتَ كَافِرًا، أَوْ فِعْلُهُ شَابَهَ فِعْلَ الْكَافِرِ.

(مرقاة المفاتيح ٢ : ١١۴، كتاب الصلوة ،الفصل الأول)

ورکړه، بیا همدغه فتوی له مخکنی فتوی سره بیا دیوبند ته ولیږل شوه او تاسو ته هم لیږل شوې ده. آیا د ده توبه قبوله ده؟ او د هغه سره تعلقات ساتل څنګه دي؟ بینوا توجروا.

المستفتي: حافظ عبد الستار، روالپنډی.... ۶۹ع/ ۹/۵

الجواب: د همدې کس (محمد انار) توبه منظوره ده، (۱) له هغه سره تعلقات ساتل روا دي، لیکن د هغه معامله نظر انداز کول نه دي پکار **وهوالموفق**

د توبه نه کوونکي سره ترک موالات او د جومات څخه یې منع کول

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو د دې مسئلې په باره کې چې یو کس په قسم سره اقرار وکړ چې ما لواطت کړی و، هغه وخت زه نه پوهېدم، مفعول دوکه راکړه او راته یې وویل چې په دې کې هیڅ ګناه نشته، که چیرته کومه ګناه وي نو زه یې ذمه وار یم، ګنهګار د جمعې له لمانځه وروسته له ټولو ناوړه کارونو څخه په اخلاص توبه وویستل او خطیب صاحب ته یې د استغفار کلمې وویل. اوس خلک په جماعت سره په لمانځه کې دده په شرکت اعتراض کوي:

(۱) آیا په شریعت کې په رښتیا همدغه کس د توبې په کولو سره د لمانځه په صف کې شرکت نه شي کولی؟

(۲) کوم خلک یې چې په لمانځه کې له شرکت کولو منع کوي، ګنهګار دي او که نه؟

(۳) مفعول کوم چې اورده موده په همدې جهالت کې تیره کړې، د هغه څه حکم دی؟ مهرباني وکړی په حنفي فقه کې مفتی به عبارتونه ولیکئ، مونږ ته اطمینان راکړی؟ بینوا توجروا.

المستفتي: نامعلوم.... ۶/ اکتوبر ۶۹ع

---

۱) في حاشية صحيح البخاري: التوبة ... وهي في الشرع ترک الذنب لقبحه والندم على ما فرط منه والعزم على ترک المعاودة وتدارک ما أمكنه أن يتدارک من الأعمال بالإعادة وردّ المظلمات لذويها أو تحصيل البراءة منهم.
(حاشيه صحيح البخاري ۲:۹۳۳، كتاب الدعوات، باب التوبة)

الجواب: قال رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التائب من الذنب كمن لا ذنب له(١) وروى موقوفًا أيضا، وقال عَلَيْهِ السَّلَامُ: ان الله يقبل توبة العبد ما لم يغرغر(٢) رواه الترمذي، والأولى رواه ابن ماجه، وفي حديث متفق عليه: ان العبد اذا اعترف ثم تاب تاب الله عليه(٣) د همدې روايتونو په بناء د همدغه كس توبه صحيح ده او د لمانځه له صف څخه د هغه وباسل د توبې نه كولو په وخت هم حرام وو او له توبې وروسته په طريقه اولى حرام دي، قال الله تعالى: وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَن يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ(٤) وقال تعالى: أَرَأَيْتَ الَّذِي يَنْهَىٰ عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰ(٥).

(٢) سخت گنهگار دي.

(٣) د دوارو لپاره توبه ضروري ده او په دوی کې چې کوم تائب نه شي د هغه سره ترک موالات ضروري دی، (٦) ليكن د لمانځه او جومات څخه منع كول او په جماعت كې له شركت څخه منع كول حرام قطعي دي فقط.

---

١) (سنن ابن ماجة ٣٢٣، باب ذكر التوبة)

٢) (سنن الترمذي ٢:٥٠٥، أبواب الدعوات، باب ماجاء في فضل التوبة والاستغفار)

٣) (مشكوة المصابيح ٢٠٣، باب الاستغفار والتوبة)

۴) (سورة البقرة: آيت نمبر ١١۴)

۵) (سورة العلق: آيت نمبر ٩،١٠)

٦) في المرقاة: قال الخطابي رخص للمسلم أن يغضب على أخيه ثلاث ليال لقلته ولايجوز فوق ذلك إلا إذا كان الهجران في حق من حقوق الله تعالى فيجوز فوق ذلك... فإن هجرة الأهواء والبدع واجبة على مر الأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق.
(مرقاة المفاتيح ٩:٢٦٢، باب ما ينهى عنه من التهاجر والتقاطع واتباع العورات)

د زنديق د توبې قبلېدو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د زنديقانو توبه په اختياري حالت کې قبلېږي او که نه؟**بينواتوجروا.**

المستفتي: عبدالواحد، نقشبندی پاره چنار ۱۴۰۰ هـ/ ۶/ ۱۸

الجواب: د زنادقه ؤ توبه منظوره ده. البته که چيرته د پرېښودلو په وخت کې د زنادقه ؤ رجوع په تجربې سره ثابته وه نوقتل يې روا دی (شامي)[1] **وهوالموفق**

د گناه کبيره تعريف او له هغه توبه د هاروت ماروت پرښته کېدو او د دوی د گناه کولو مسئله

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې گناه کبيره څومره دي؟ کوم کوم دي؟ په توبې سره معاف کېدلی شي او که نه؟ د هغو سزا څومره ده؟ د هميشه لپاره دوزخ دی او که تر څه وخته پورې په دوزخ کې له اوسيدو وروسته بيرته جنت ته راتلل دي؟ همدارنگه هاروت ماروت چې کومې پرښتې وې هغه د کوم مقصد لپاره دنيا ته راغلي وې، دوی په رښتيا بابل ښار ته نږدې په يوه کوهي (څاه) کې په عذاب کې مبتلا شوي دي. د قاتل په باره کې زياتره خلکو دا فتوی ورکړې ده آيا دوی به د تل لپاره په دوزخ کې وي. دا مسئله صحيح ده او که نه؟ چونکه هميشه په دوزخ کې مشرک اوسيږي نو د

---

(۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى :وكذا الكافر بسبب الزندقة لاتوبة له ،وجعله في الفتح ظاهرالمذهب ،لكن في حظرالخانية :الفتوى على أنه إذا أخذالساحر أو الزنديق المعروف الداعي قبل توبته ثم تاب لم تقبل توبته ويقتل ولو أخذ بعدها قبلت. (الدرالمختار ۳: ۳۲۴،باب المرتد ،قبيل مطلب في الفرق بين الزنديق والمنافق والدهري)

همدې قاتل په باره کې څه حکم دی؟ بینواتوجروا

المستفتي رضا خان، تیمرگره ۱۹۷۴ع ۳/۹.

الجواب: کبیره ګناه هغه ګناه ده په کومه کې چې حدود او قصاص واجب شي یا هغې باندې په اور سره وعید وارد شوی وي یا د هغې له وجې کوم قوم هلاک شوی وي.(۱) پس سود، قتل او زنا کبیره ګناه ده او د ګناه کبیره مرتکب فاسق دی، کافر او مخلد في النار نه دی، بېشکه که چېرته یې ګناه حلاله ګڼلې وي: نو مخلد في النار ګرځي.(۲)

(۲) هاورت او ماروت د مشهور قول په بنا، ملائکه دي په سحر او معجزه کې د

---

۱) قال العلامة الملا علي قاري رحمه الله تعالىٰ :الكبيرة هي السيئة العظيمة التي خطيئتها في نفسها كبيرة وعقوبة فاعلها عظيمة بالنسبة إلىٰ معصية ليست بكبيرة ،وقيل الكبيرة ما أوعد عليه الشارع بخصوصه ،وقيل ماعين له حد ،وقيل النسبة إضافية فقد يكون الذنب كبيرة بالنسبة لما دونه صغيرة بالنسبة إلىٰ مافوقه.
(مرقاة المفاتيح ۱ : ۱۲۰ ،باب الكبائر وعلامات النفاق ،الفصل الأول)

وفي التعليق الصبيح :فروى عن ابن عباس رضي الله تعالىٰ عنه أنه قال الكبائر كل ذنب حتمه الله تعالىٰ بنار أوغضب أولعنة أوعذاب ونحو هذا عن الحسن البصري رحمه الله تعالىٰ وقال آخرون ما أوعدالله تعالىٰ عليه بنار أو حد في الدنيا.
(التعليق الصبيح ۱ : ۱۰۷ ،باب الكبائر وعلامات النفاق ،الفصل الأول)

۲) وفي شرح الفقه الأكبر :ولانكفر مسلماً بذنب من الذنوب وإن كانت كبيرة إذالم يستحلها أى لكن إذالم يكن يعتقد حلها.....ويجوز أن يكون أى الشخص مؤمنا أى بتصديقه وإقراره فاسقاً أى بعصيانه وإصراره.
(شرح الفقه الأكبر ۷۴ ،الكبيرة تخرج المؤمن عن الإيمان)

فرق بيانولو لپاره نازلي شوي وې. (۱) ځکه چې په ډېرو خلکو باندې په سحر او معجزه کې فرق پټ وو. پاتې شوه د هغو ګناه کول یا د هغوی په بابل کوهي کې معذب کېدل نو د زیاتره مفسرینو او محققینو په نزد غیر مصدقه امور دي. (۲) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة البيضاوي رحمه الله تعالیٰ: (وَمَا أُنزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ).....وهماملكان أنزلا لتعليم السحر ابتلاءً من الله للناس وتميزاً بينه وبين المعجزة.....وقيل رجلان سُميا ملكين.

(التفسير البيضاوي ۱: ۱۴۲، سورة البقرة، آيت ۱۰۲)

۲) في التفسير المظهري: ذكر البغوي عن ابن عباس والكلبي وقتادة وغيرهم في شأن هاروت وماروت قصة.....وهذه القصة من أخبار الآحاد بل من الروايات الضعيفة الشاذة ولا دلالة عليها في القرآن بشئ، وفي بعض روايات هذه القصة مايأباه النقل والعقل.....وأئمة النقل لم يصححوا هذه القصة ولا أثبتوا روايتها عن علیؓ ولاعن ابن عباس رضي الله تعالیٰ عنهما.....قال الصالحي ذكروا في تأويل الآية إن الله تعالیٰ كان قد امتحن الناس بالملكين فإن السحر كان قد ظهر وظهر قول أهله، فأنزل الله تعالیٰ ملكين يعلمان الناس حقيقة السحر ويوضحان أمره ليعلم الناس ذلك ويميزوا بينه المعجزات والكرامات.

(التفسير المظهري ۱: ۱۰۹، آيت ۱۰۲)

وقال الحافظ ابن كثير رحمه الله تعالیٰ: وذهب كثير من السلف إلیٰ أنهما كاناملكين من السماء، وأنهما أنزلا إلى الأرض، فكان من أمرهما ما كان.....وقصها خلق من المفسرين من المتقدمين والمتأخرين، وحاصلها راجع في تفصليها إلیٰ أخبار بني إسرائيل، اذ ليس فيها حديث مرفوع صحيح متصل الإسناد إلى الصادق والمصدوق المعصوم الذي لاينطق عن الهوى.

(تفسير القرآن العظيم لابن كثير رحمه الله تعالیٰ ۱: ۱۶۹، سورة البقرة، آيت ۱۰۲)

د خلقي، پرچمي او دهريانو توبه مقبوله ده او که نه؟

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو د دې مسئلې په باره کې چې د خلقي او پرچمي کومې چې په افغانستان کې دهري ډلې دي که چيرته توبه وکړي نو د هغوی توبه مقبوله ده او که نه؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي محمد سليم، متعلم حقانيه ۱۹۸۵ع/۱۹/ ۶

الجواب: د هغوی توبه قبوله ده. البته په ځينو ختونو کې يې وژل روا دي (۱) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة القرطبي رحمه الله تعالىٰ :قوله تعالىٰ (الامن تاب وامن وعمل صالحا). لاخلاف بين العلماء أنّ الاستثناء عامل في الكافر والزاني.
(تفسير القرطبي ۱۳: ۷۶،سورة الفرقان آيت ۷۰)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالىٰ :وكذاالكافر بسبب الزندقة لاتوبة له، وجعله في الفتح ظاهر المذهب لكن في حظرالفتوى على أنه إذا أخذ الساحر أو الزنديق المعروف الداعي قبل توبته ثم تاب لم تقبل توبته ويقتل،ولو أخذ بعدها قبلت .... والإباحي كالزنديق.(الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالهى :(قوله وكذاالكافر بسبب الزندقة) قال العلامة ابن كمال باشا في رسالته :الزنديق في لسان العرب يطلق على من ينفي الباري تعالىٰ، وعلى من يثبت الشريک ،وعلى من ينكر حكمته....(قوله لاتوبة له) .... والمراد بعدم التوبة أنها لاتقبل منه نفي القتل عنه كما مرّ في الساب،ولذا نقل البيرى عن الشمني بعد نقله اختلاف الرواية في القبول وعدمه أن الخلاف في حق الدنيا، أما فيمابينه وبين الله تعالىٰ فتقبل توبته بلاخلاف.
(ردالمحتار ۴: ۳۲،باب المرتد،مطلب في الفرق بين الزنديق والمنافق والدهري والملحد)

الله الله

فتاوی فریدیہ

نہم جلد

باب الأمر بالمعروف والنہی عن المنکر

باب الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر

دعلماوو او عوامو لپاره د امر بالمعروف او نهي عن المنكر شرعي حيثيت

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې (۱) د امر بالمعروف او نهي عن المنكر شرعي حيثيت څه دی؟ آيا امر بالمعروف او نهي عن المنكر په هر مسلمان باندې فرض عين دی. يا دا چې د څينو په اداء كولو سره د ټولو ذمه ساقطيږي؟ همدارنګه د مروجه تبليغ څه حكم دی؟ بينوا توجروا

المستفتي: كليم الله، چارسده

الجواب: امر بالمعروف او نهي عن المنكر په هر مسلم فرض نه دی. دا صرف د علماوو كار دی او په هغوی باندې هم فرض عين نه دی. بلكې فرض كفايه دی. (۱) د جهاد بالسيف په شان **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة النووي رحمه الله تعالى: إن الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر فرض كفاية إذا قام به بعض الناس سقط الحرج عن الباقين وإذا تركه الجميع أثم كل من تمكن منه بلا عذر ولا خوف ... ثم إنه إنما يأمر و ينهى من كان عالمًا بما يأمربه وينهى عنه وذلک يختلف باختلاف الشيئ، فإن كان من الواجبات الظاهرة والمحرمات المشهورة كالصلاة والصيام والزنا والخمر ونحوها، فكل المسلمين علماء بها وإن كان من دقائق الأفعال والأقوال ومما يتعلق بالاجتهاد لم يكن للعوام مدخل فيه ولا لهم إنكاره بل ذلک للعلماء.

(حاشية النووي على صحيح المسلم ۱:۵۱، كتاب الإيمان، باب بيان كون النهي عن المنكر من الإيمان)

(ومثله في مرقاة المفاتيح ۹:۳۲۹، باب الأمر بالمعروف)

امر بالمعروف او نهي عن المنكر د علم او قدرت سره فرض كفايه دى

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې زموږ په وطن وزيرستان كې تقريبًا د ۱۰ كالو راهيسې د تبليغ په نوم كار روان دى. عوام او خواص خو ټول په دې پوهيږي چې دا د انبياء كرامو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ كار دى. ليكن موږ نه پوهيږو چې دغه كار د هر وګړي (فرد) لپاره څه حكم لري. ځكه چې زموږ يو شمير علماء كرام دا وايي چې تبليغ مستحب دى. يو شمير وايي چې سنت دى، او يو شمير فرض عين ورته وايي، نو ددې متعلق وضاحت وكړئ؟ بينوا توجروا.

المستفتي: وزير ميډيكل سټور، وزيرستان ۱۹۷۳ء ۵/۵

الجواب: واضحه دې وي چې تبليغ يعنې امر بالمعروف او نهي عن المنكر فرض كفايه دى، د علم او قدرت په شرط. قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى: وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ أُمَّةٌ، الآية.(۱) او په محتسب باندې فرض عين دى، يعنې حكومت چې څوك د همدغه كار لپاره مقرر كړى وي، يا په خپله خوښه په دې كار كې مشغول شوى وي او په هر فرد باندې فرض عين نه دى، ليكن سره له دې د هغه فاعل ته د فرضو اداء كوونكى ويل شوى دى، والتفصيل في التفسير الأحمدي ۲۰۶ تا ۲۱۰ (۲)..........

---

۱) وفي التفسير المظهري: (وَلْتَكُن مِنكُم) من للتبعيض لأن الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر من فروض الكفاية ولأنه لايصلح له كل أحد حيث يشترط له شروط من العلم والتمكن على الاحتساب وطلب من الجميع خاطب الجميع وطلب فعل البعض ليدل على أنه واجب على الكل حتى لوترك الكل أثموا جميعا ولكن يسقط بفعل بعضهم وهذا شأن فروض الكفاية.

(التفسير المظهري: ۲:۱۱۴، سورة آل عمران، ايت نمبر ۱۰۴)

۲) قال الملا أحمد جيون رحمه الله تعالى: واضحه دې وي چې د علماوو په مينځ كې دا خبره متفق عليه ده چې امر بالمعروف او نهى عن المنكر فرض كفايه دى، كه په مجلس كې يو....... (د حاشيې پاتې برخه په بل مخ)

وفي الهندية ۵ : ۳۸۹(۱) لیکن واضحه دې وي چې مروجه تبلیغ کوم ته چې تبلیغي جماعت ویل کیږي یو اصلاحي پروګرام دی، د ده حکم له بیعت پیرۍ او مریدۍ څخه جلا نه دی **وهوالموفق**

د ګنهګار کس د امر بالمعروف او نهی عن المنکر حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې یو کس نورو ته نصیحت کوي، مګر په خپله دروغ هم وایي، غیبت هم کوي او یو بل سره جنګوي. نو د داسې کس څه حکم دی؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي مشاهد اختر، نوشهره ۶/ ذی قعده ۱۴۱۱ هـ

الجواب: دغه کس ته د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ثواب ور کول کیږي او

(د حاشیې پاتې برخه)..... کس امر بالمعروف یا نهی عن المنکر وکړي نو د ټولو له طرفه کافي ده..... علماء کرامو ددې لپاره دا لاندې شرطونه ایښودلي دي: (۱) په امر بالمعروف او نهي عن المنکر باندې قادرېدل (۲) په امر بالمعروف او نهي عن المنکر کې د طاقت استعمال د حکامو کار دی، د ژبې استعمال د علماوو کار دی..... په محتسب باندې واجب دي چې کوم ګناهونه خپله کوي د هغې نه هم خلق منع کړي، ځکه چې په محتسب باندې دوه شیان واجب دي، ګناه پرېښودل او د ګناه څخه انکار (یعني نورخلق د ګناه نه منع کول) لهذا د یو شي په پرېښودلو سره د بل شي پرېښودل نه لازمیږي..... د نهي عن المنکر یو شرط دا هم دی چې د منع کونکي په علم کې دا خبره وي چې د کوم شي نه هغه نورخلق منع کوي هغه شی حرام دی.
(التفسیر الأحمدي اردو: ۲۳۱ تا ۲۳۳ سورة ال عمران)

۱) وفي الهندية: ولوعلم أنهم لايقبلون منه ولايخاف منه ضربًا ولا شتمًا فهوبالخيار والأمر أفضل كذا في المحيط...ويقال الأمر بالمعروف باليد على الأمراء وباللسان على العلماء وبالقلب لعوام الناس...الأمر بالمعروف يحتاج إلى خمسة أشياء ،أولها العلم لأن الجاهل لا يحسن الأمر بالمعروف.
(فتاوى هندية ۵:۳۵۳، كتاب الكراهية ،الباب السابع عشر في الغناء)

د همدې ګناهونو له وجې به هغه ته عذاب ورکول کیږي (١) وهوالموفق.

د امر بالمعروف او نهي عن المنكر كوونكي كس حكم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوونکي کس څه حکم دی؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي مولانا غلام فاروق، متعلم حقانيه ....٦/ رجب ۱۴۰۳هه

الجواب: دا بذات خود نیک کار دی، **لقوله تعالى: وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ** (٢) **وهوالموفق.**

---

١) قال العلامة النووي رحمه الله تعالى: قال العلماء لايشترط في الآمروالناهي أن يكون كامل الحال ممتثلاً ما يأمر به مجتنباً ما ينهي عنه بل عليه الأمر وإن كان مخلا بما يأمر به والنهي وإن كان متلبساً بما ينهي عنه فإنه يجب عليه شيئان :أن يأمر نفسه وينهاه ويأمر غيره وينهاه، فإذا أخل بأحدهما كيف يباح له الإخلال بالآخر.

(حاشية النووي على صحيح المسلم ١:٥١، كتاب الإيمان، باب بيان كون النهي عن المنكر من الإيمان)

وفي الهندية :رجل رأى منكراً وهذا الرأيُ ممن يرتكب هذا المنكر يلزمه أن ينهي عنه لأن الواجب عليه ترك المنكر والنهي عنه فبترك أحدهما لا يسقط الآخر.

(فتاوى هندية ٥:٣٥٣، كتاب الكراهية، الباب السابع عشر في الغناء)

٢) (سورة آل عمران: آيت نمبر ١٠٤)

وعن حذيفة رضي الله تعالى عنه أن النبي ﷺ قال :والذى نفسي بيده لتأمرن بالمعروف ولتنهون عن المنكر، أو ليوشكن الله أن يبعث...... (د حاشيې باتې برخه په بل مخ)

د امر بالمعروف او نهی عن المنکر کسانو ته د موذي کسانو د وژلو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې هغه خلک کوم چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوي، آيا دوی موذي (ضرر رسوونکي) کسان وژلی شي؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: مولانا غلام فاروق، متعلم حقانيه ۶ رجب ۱۴۰۳هـ

الجواب: صرف حکام (واکمنان) هغوی ته سزا ورکولی شي (۱)، **والله أعلم**

کوم خلک چې په (لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَالَا تَفْعَلُوْنَ) باندې عمل کوي د هغوی څه حکم دی؟

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې کوم خلک د (لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَالَا تَفْعَلُوْنَ) په شان عمل کوي، د هغوی څه حکم دی؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: ګل مست خان، مصری بانده. اکوړه خټک ۲ شعبان

الجواب: تاسو د پښتنو په متل باندې عمل وکړئ (ملا چې څه وايي هغه کوه. او چې څه کوي هغه مه کوه) **وهوالموفق.**

د نصحيت نه منونکي کس څخه چوپ اوسېدل او له هغه سره د مدارات وغيره حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو انسان هميشه په نيکه ټولنه (معاشره) کې اوسيږي ليکن که چيرته کوم وخت دغه انسان په کومه داسې ټولنه (معاشره) کې اوسيدلو ته مجبور شي په کومه کې

(دحاشيې پاتې برخه)...عليکم عذابًا من عنده، ثم لتدعنّه ولايستجاب لکم،رواه الترمذي. (مشکوة المصابيح ۴۳۶، کتاب الآداب،باب الأمر بالمعروف)

(۱) وفي رد المحتار : فيشترط الإمام لإستيفاء الحدود.
(ردالمحتار ۵:۳۹۰، کتاب الجنايات ، قبيل باب القود في ما دون النفس)

چې دی څو بې لمانځو ته د نصیحت په کولو سره د لمانځه طرفته د راوستلو کوشش وکړي مګر نصیحت اثر ونه کړي، تردې چې په خپله هم له نصیحت کولو کولو ستومانه شي او بې لمانځه هم زیات ناراضه کېدو ته نږدې شي، نصیحت کوونکی همدا معاشره (ټولنه) پرېښودلی نه شي، ځکه چې د ده د ژوند زیاتره ضرورتونه له همدې ټولنې سره تړلي دي، اوس ووایئ چې په داسې صورت کې نصیحت کوونکی کومه طریقه غوره کړي ترڅو دین او ژوند دواړه قائم پاتې شي؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي: ستاسو خادم عبد المجید، ایس وی معلم...۱۹۷۳ع/۱/۱

الجواب: تاسو د قدر وړ ته وعلیکم السلام! واضحه دې وي چې کله په تجربې سره ثابته شي چې یو کس یا قوم نصیحت نه قبلوي نو له دوی څخه خاموش (چوپ) پاتې کېدل د رخصت په درجه کې روا دي، په دې کې هیڅ ګناه نشته.

قال الله تعالى: فَذَكِّرْ إِنْ نَفَعَتِ الذِّكْرَى، الأية(۱) وروى في جامع البيان: عن علي رضي الله عنه ترك التذكير بمثله، وفي الهندية ۵:۲۸۸، ولو علم أنهم لايقبلون منه ولايخاف منهم ضرباً ولاشتماً فهو بالخيار، والأمر أفضل كذا في المحيط(۲) باقي له فاسقانو سره ضروري معاملات (بیع شراء اجاره او وغیره) مدارات (ظاهري خوش اخلاقي) د محکمې تفصیل موافق روا دي (۳) او کله چې ستا په خپل نفس باندې د فسق او فجور خطر نه وي؛ نو په همداسې ماحول کې اوسېدل موجب د ثواب دی **فقط والسلام**

---

۱) (سورة الأعلى :ایت نمبر ۹)

۲) (فتاوی هندیة ۵:۳۵۳، کتاب الکراهیة، الباب السابع عشر في الغناء)

۳) وفي الهندية :لا بأس بأن يصل الرجل المسلم والمشرك قريبا كان أو بعيدا، محاربًا كان أو ذميا، وأراد بالمحارب المستأمن... لا بأس بأن يكون بين المسلم والذمي معاملة إذاكان ممالابدمنه كذا في السراجية... (دحاشیې پاتې برخه په بل مخ)

د ګمراهۍ د اډو بندول په دولت باندې فرض دي

سوال: څه فرمايي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د وي سي آر او قمار بازۍ په ښکاره د اډو بندول که چيرته د يو چا په وس، طاقت، کې نه وي نو آيا په کومه بله طريقه د هغو تباه کول روا دي او که نه؟ بينواتوجروا.

المستفتي: نامعلوم.... ۵ رمضان ۱۴۱۰ھ

الجواب: د ګمراهۍ د اډو بندول په دولت باندې فرض دي. (۱) عوام د دولت څخه غوښتنه کولی شي، محض جلسه او جلوس ناکافي دي. **وهوالموفق**

(د حاشيې پاتې برخه)....ولا بأس بعيادة اليهودي والنصراني،وفي المجوسي إختلاف كذا في التهذيب،ويجوز عيادة الذمي كذا في التبيين.

(فتاوى هندية ۵:۲۴۷، كتاب الكراهية، الباب الرابع عشر في أهل الذمة)

۱) عن أبي سعيد الخدرى رضي الله تعالىٰ عنه عن رسول الله ﷺ قال: من رأى منكم منكراً فليغيره بيده، فإن لم يستطع فبلسانه، فإن لم يستطع فبقلبه،وذلک أضعف الإيمان.

وفي المرقاة: وقد قال بعض علماء نا:الأمر الأول للأمراء ،والثاني للعلماء ، والثالث لعامة المؤمنين.

(مرقاة المفاتيح ۹:۳۲۸، باب الأمر بالمعروف)

وقال الدكتور وهبة الزحيلى رحمه الله تعالىٰ:حدّد الفقهاء واجبات الإمام أو وظائفه بعشرة أمورأساسية...الوظائف الدينيه وهي أربعة:أولاً: حفظ الدين: المحافظة على أحكامه وحماية حدوده وعقاب مخالفيه.

د تبلیغیانو د دعوت نه آوریدونکي او دهغوی سره د نه کیناستونکي حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې نن سبا د تبلیغي جماعت خلک د پاکستان کونج کونج ته رسیدلي دي، دا خلک په جوماتو، بازارونو او کوڅو کې خلکو ته دعوتونه ورکوي، په ځانګړې توګه کله چې په جوماتو کې له لمانځه وروسته دا خلک عوام الناس ته د مسائلو د اوریدلو دعوت ورکوي نو خلک د کورونو طرفته روان شي، که چیرته څوک د لاس څخه ونیسي دعوت ورکړي او هغه یې بیا هم ونه مني او د جوماتو څخه ووځي نو د همدې خلکو لپاره په شریعت کې څه حکم دی؟ د نه کیناستو په صورت کې څومره ګنهګار کیږي؟ **بینوا توجروا.**

المستفتي: نامعلوم

الجواب: که چیرته دعوت او بیان کله کله وي؛ نو د عوامو لپاره یې نه اوریدل له دین او آخرت څخه بې پرواهي او بې غمي ده. (۱) **وهوالموفق**

(الفقه الإسلامي وأدلته ۸:۶۱۸۵، المبحث الخامس :وظائف الإمام)

۱) عن ابن مسعود رضي الله تعالى عنه قال : كان النبي ﷺ يتخولنا بالموعظة في الأيام كراهة السامة علينا. (صحيح البخاري)

وفي الحاشية :قوله يتخولهم أى يتعهدهم ويراعي الأوقات في وعظهم ويتحري منها ما يكون مظنة القبول ولا يفعل كل يوم لئلا يسئاموا.

(صحيح البخاري ۱:۱۴، كتاب العلم، باب ما كان النبي ﷺ يتخولهم بالموعظة والعلم)

فتاوی فریدیه

نهم جلد

باب ترك الموالات

الله الله

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قال الله تبارك وتعالٰى:

وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا حَتَّى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ
الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ وَظَنُّوا
أَن لَّا مَلْجَأَ مِنَ اللَّهِ إِلَّا إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا
إِنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ {۱۱۸}

(سورة التوبة)

باب ترك الموالات

له فاسق سره د ترک موالات ثبوت

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې چونکه څو ورځې وړاندې تاسو ته د مردان څخه يوه فيصله راغلې وه. مسئله دا وه چې يو کس يوه ښځه خپل کور ته راوستلې وه، نو په دې سره د کلي خلکو د همدې کس پلار له جومات څخه منع کړی وو. نو تاسو فيصله داسې اورولې وه چې د همدغه کس له پلار سره لمونځ کيږي او د هغه مدعي کس سره هم، له دې پرته تاسو ويلي وو چې له دغه مدعي سره هيڅ ډول په غم او خوشحالۍ کې شرکت کول نه دي پکار، د شريعت له مخې د هغه څه حکم دی؟ **بينواتوجروا**

السمتفتي حکم خان. مردان. ۱۹۷۵ع ۱۳/۵

الجواب: واضحه دې وي چې ترک موالات (پريکون) په حديث شريف سره ثابت دی (رواه البخاري)(۱) وابن ماجه(۲) باقي زمونږ ذمه واري د مسئلې بيانول دي. که خلک عمل کوي او که يې نه کوي. **وهوالموفق**

---

۱) وفي صحيح البخاري: باب ما يجوز من الهجران لمن عصى، وقال كعب بن ملك حين تخلّف عن النبي ﷺ ونهى النبي ﷺ المسلمين عن كلامنا وذكر خمسين ليلة.
(صحيح البخاري ۸۹۷:۲، كتاب الادب، باب ما يجوز من الهجران لمن عصى)

۲) وفي سنن ابن ماجة: عن عبد الله بن مغفل أنه كان جالساً إلى جنبه ابن اخ له، فخذف فنهاه، وقال إنّ رسول الله ﷺ نهى عنها... قال فعاد ابن اخيه يخذف، فقال أحدثك أن رسول الله ﷺ نهى عنها عدتّ ثم تخذف لا أكلمك ابداً.
(سنن ابن ماجة ۳، باب تعظيم حديث رسول الله ﷺ والتغليظ على من عارضه)

په معصیت کې له مرسته کوونکي سره پریکون او

د هغه په جماعت سره له لمانځه څخه منع کول

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې یو کس نابالغه لور په شرعي نکاح ورکړه، انجلۍ د بلوغ وروسته انکار وکړو او د کوهاټ ډي، آئي سي دغه انجلۍ آزاده کړه، لیکن دا په زور وشوه. سړي طلاق نه دی ورکړی. یوه تانه دار د خپل زوی سره د هغې واده وکړو. اوس تانه دار د جمعې لمانځه لپاره زمونږ جومات ته راغلی دی. اوس سوال دا دی چې زمونږ په لمانځه کې نقصان پیدا کېدی شي او که نه؟ اوس که چیرته زمونږ جمعې ته نقصان وي؛ نو جواب راکړی څکه چې ما له تاسو څخه په دې باره کې پوښتنه کړې وه، تاسو ویلي وو چې د حاکم طلاق، طلاق نه دی. یعنې د شریعت مخالفت یې کړی دی او دا کار یې کړی دی؟ بینوا توجروا.

المستفتي: مولوي محبت خان، مندوري، کوهاټ. ۱۹۶۹ء/۵/۹

الجواب: چونکه د واده شوي لور پلار په معصیت کې د مرستې له وجې فاسق دی، (۱) لهذا د هغه سره اعزازي تعلقات ختمول واجب دي، (۲) لیکن په جماعت

---

۱) قال الله تبارک وتعالی: وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ. (سورة المائدة، آیت ۲)

وفي صحیح المسلم: (عن جابر رضي الله تعالی عنه قال لعن رسول الله ﷺ آکل الربوا وموکله وکاتبه وشاهدیه) وقال النووي: فیه تصریح بتحریم کتابة المبایعة بین المترأبیین والشهادة علیهما وفیه تحریم الإعانة علی الباطل.

(صحیح المسلم ۲۸:۲ باب الربوا)

۲) وفي المرقاة: فإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة علی مرّالأوقات ما لم یظهر منه التوبة والرجوع إلی الحق.

(مرقاة المفاتیح ۶:۲۶۲ باب ما ینهی عنه من التهاجر والتقاطع واتباع العورات)

سره له لمانځه ځخه منع کول غیر مشروع کار دی، (۱) ځکه چې رسول الله ﷺ د تبوک د غزا ځخه د تخلف له وجې له کومو صحابه کرامو رضي الله عنهم سره د ترک موالات حکم کړی وو هغوی په باقاعده ډول په جماعت سره په لمانځه کې شریک شوي وو. (۲) **وهوالموفق**

د ترغیب او ترهیب لپاره د علماؤ د فاسقانو په پریکون باندې اتفاق کول

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د یوه کلي علماء کرامو اتفاق وکړ چې د هر کبیره مرتکب کوونکي د جنازې لمونځ به نه ادا کوي، دعوت به یې نه قبلوي، دغه کار د ترغیب او ترهیب لپاره د شریعت له مخې روا دی او که نه؟ **بینوا توجروا.**

المستفتي: گل قدم خان، وزیرستان...۱۹/ رجب المرجب ۱۳۸۹هه

الجواب: د فاسقانو د دعوت په پرېښودو باندې اتفاق روا دی، **لورود النهي عن اجابة طعام الفاسقین، ذکره في المشکوة**(۳) همدارنګه اتفاق د دعوت په پرېښودو

---

۱) قال العلامة القرطبي رحمه الله تعالى: (وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن مَّنَعَ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَن يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ وَسَعَىٰ فِي خَرَابِهَا)...وقيل المراد من منع من كل مسجد إلى يوم القيمة، وهو الصحيح. (تفسير القرطبي ۲:۷۴ سورة البقرة: آيت ۱۱۴)

۲) وفي صحيح المسلم: أخبرني عبد الرحمن بن عبد الله بن كعب بن مالك أن عبد الله بن كعب وكان قائد كعب من بنيه حين عمى، قال سمعت كعب بن مالك يحدث حديثه حين تخلف عن رسول الله ﷺ في غزوة تبوك...واتي رسول الله ﷺ فاسلم عليه وهو في مجلسه بعد الصلوة، فأقول في نفسي، هل حرّک شفتيه برد السلام أم لا؟ ثم أصلى قريبا منه وأسارقه النظر فإذا اقبلت على صلاتي نظر إلىّ وإذا التفت نحوه اعرض عني، الحديث.
(صحيح المسلم ۲:۳۶۰ باب حديث توبه كعب بن مالک وصاحبيه)

۳) عن عمران بن حصين رضي الله تعالى عنه قال: نهى رسول الله ﷺ عن إجابة طعام الفاسقين. (مشكوة المصابيح ۲۷۹ كتاب النكاح، باب الوليمة) (دحاشيې باتې برخه په بل مخ)

باندې هم روا دی، لکونه أمراً غیر مطلوب شرعاً، البته د جنازې په لمانځه نه ادا کولو باندې اتفاق ناروا دی، لکونه مفروضاً ومطلوباً، قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: صلوا علی کل برٍّ وفاجرٍ (رواه أبوداؤد) () وهو الموفق.

نافرمانه ښځه، له بچیانو سره پریکون او په فاسقانو باندې د اصلاح په نیت د انفاق حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د زید سکنې زوی نافرمان او گستاخ دی. د هغه عمر ۳۵ کاله دی. په دیارلس کلنی کې یې له کور څخه تښتیدل شروع کړي وو. تردې وخته هغه ۲۳ څله تښتېدلی دی. د هغه د اصلاح په خاطر هغه ته واده وشو. له واده پنځه میاشتې وروسته یې زیورات واخیستل او وتښتیدلو او اوس دوه نیم کاله وروسته راغلو، هر ځل یې عهد او پیمان مات کړی او له کوره تښتیدلی دی. له دې پرته هغه د زید (یعني پلار) په خلاف هم ناوړه کارونه کوي او بدنامه کړی یې دی. زید له همدې وجې د هغه سره د نه تعلق غوښتونکی دی ترڅو د هغه له شرارتونو څخه محفوظ شي، آیا د زید لپاره دا اقدام روا دی او که نه؟ همدارنګه د زید ښځې هم د هغه نافرمانی کړې ده، زید له هغې څخه هم د ځان څنګته کول غواړي، آیا دا اقدام صحیح دی او که نه؟ **بینوا توجروا.**

المستفتي شیخ تاج الدین لدهیانوی، کراچی..... ۱۸ ضعبان ۱۴۰۳هه

(د حاشیې پاتې برخه)....وفي الهندية : لايجيب دعوة الفاسق المعلن ليعلم أنه غير راضٍ بفسقه. (فتاوى هندية ۵:۳۴۳ كتاب الكراهية، الباب الثاني عشر في الهدايا)

۱) عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ ...الصلاة واجبة على كل مسلم، براً كان أوفاجراً وإن عمل الكبائر.

(سنن أبي داؤد ۱:۳۴۲ كتاب الجهاد، باب في الغزو مع أيمة الجور)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى : (والصلاة عليه) صفتها (فرض كفاية) بالإجماع كد فنه وغسله وتجهيزه فإنها فرض كفاية.

(الدرالمختار ۱:۶۴۰ كتاب الجنائز، مطلب في صلاة الجنازة)

الجواب: زید له دغه زوی او ښځې سره د تعلق په قطع کولو باندې نه ګنهګاریږي، (۱)البته که چېرته په دغه اقدام کې د اصلاح امید نه وي: نو د فاسقانو سره تعلقات پرېښودل. په دې اراده چې هغوی نصیحت قبول کړي او په هغوی باندې انفاق (خرچه) کول د هغوی له ګناه څخه (له افتراء او الزام لګولو څخه) د بندولو په خیال خلاف مصلحت نه دی. (۲)والله أعلم.

د غیر مشروع پرېکون کوونکي او له هغه سره د مرسته کوونکي حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې یو ښهر خلک یو کس د هغه له ملکیت څخه کوم چې شرعًا او قانونًا ثابت شوی دی، په

---

۱) عن عبدالله بن مغفل رضي الله تعالى عنه أنه كان جالساً إلى جنبه ابن اخ له، فخذف، فنهاه، وقال إن رسول الله ﷺ نهى عنها...قال فعاد ابن اخيه يخذف، فقال أحدثك أن رسول الله ﷺ نهى عنها، عدت ثم تخذف، لا أكلمك ابداً.

وفي حاشية ابن ماجة: وفيه جواز الهجران من أهل المعاصي إن اصرّوا عليها.

(سنن ابن ماجة ۳، باب تعظيم حديث رسول الله ﷺ)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: لابأس بالرشوة إذا خاف على دينه والنبي عليه الصلاة والسلام كان يعطي الشعراء ولمن يخاف لسانه، وكفي بسهم المؤلفة من الصدقات دليلا على أمثاله. (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله إذا خاف على دينه) عبارة المجتبى لمن يخاف، وفيه أيضا: دفع المال للسلطان الجائر لدفع الظلم عن نفسه وماله ولإستخراج حق له ليس برشوة يعنى في حق الدافع. (قوله كان يعطي الشعراء) فقد روى الخطابي في الغريب عن عكرمة مرسلًا قال: اتى شاعر النبيّ ﷺ فقال يا بلال! اقطع لسانه عني فأعطاه أربعين درهما.

(رد المحتار ۵:۳۰۰ كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع، فروع)

طاقت (زور) سره محرومه کول غواړي او له هغه څخه يې اخيستل غواړي او که چيرته هغه له قانوني او شرعي حق څخه نه تيريږي نو له هغه سره د راشه درشه پريکون کوي، د همداسې خلکو متعلق څه حکم دی؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: وارثان خان قائم دين، ايبټ آباد... ۲۲ محرم ۱۴۰۳هـ.

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط د ظالمانو خلکو سره په پرېکون کې برخه اخيستل د هغوی سره مرسته ده، د دغه پريکون (قطع تعلق) او په دې کې له مرستې څخه ځان ساتل پکار دي (۱) **وهوالموفق**

بې وجې د بدګمانۍ کوونکي او بې لمانځه سره د ترک موالات حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د يو کس خپل سکنی لور ده کومه چې طلاق شوې ده او د خپل پلار په کور کې ژوند تيروي، دغه پلار همدې انجلۍ ته څو ځله ويلي چې ته بل چيرته لاړه شه، ولې ميره نه کوې او د همدغه کس د لمانځه کولو شهادت هم نشته دی.

(۱) په شريعت مطهره کې د پورته ذکر شوي کس په باره کې څه حکم دی؟

(۲) دده سره د خلکو راشه درشه څه حکم لري؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: مولوي الطاف الرحمن، امام مسجد ماړی، ايبټ آباد: ۵ شوال ۱۳۹۴م

---

۱) قال الله تبارک وتعالیٰ: وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ. (سورة المائدة آيت ۲)

وفي المرقاة: (لعن رسول الله آكل الربوا وموكله وكاتبه وشاهديه) قال النووي فيه تصريح بتحريم كتابة المترابيين والشهادة عليهما وبتحريم الإعانة على الباطل. (مرقاة المفاتيح ۲:۵۹ باب الربا)

وعن اوس بن شرحبيل رضي الله تعالیٰ عنه أنه سمع رسول الله ﷺ يقول: من مشى مع ظالم ليقويه وهويعلم أنه ظالم فقد خرج من الإسلام. (مشكوة المصابيح ۱:۴۳۶ باب الظلم)

الجواب: بې وجې بدګماني کول حرامه ده، ددې څخه پرهيز کولو ضروري دي، کما صرّح به في القرآن (۱) البته له دغه کس د بې لمانځې له وجې ترک موالات (پريکون کول) روا دي، لکه څرنګه چې د نورو فاسقانو هم همدا حکم دی. (۲)

وهوالموفق

هميشه د حرام خوړونکي او د صاحب حق له معافی پرته د شخص بخښش او له هغه سره پريکون کول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يوکس هميشه حرام خوري، ايا د حقدار له معافی پرته الله تعالی دغه کس ته معافي کوي او که نه؟ له دې پرته له دغه کس سره دوستي او تعلق ساتل څنګه دي؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: تاج علي خان، جنوبي وزيرستان....۱۰۸۶ع/۱/۱۳.

الجواب: د قواعدو له مخې داسې کس يا دعذاب په څکلو سره بخښل کيږي (۳)

---

۱) قال الله تبارک تعالیٰ: يا أيها الذين آمنوا اجتنبوا كثيرا من الظن إن بعض الظن إثم. (سورة الحجرات، آيت ۱۲)

۲) وفي التعليق الصبيح: (أن رسول الله ﷺ قال: لايكون لمسلم أن يهجر مسلماً فوق ثلاثة) قال التور بشتي: إنما لم يكن له الزيادة على ثلاثة أيام فيما كان بينهما من الأمور الدنيوية، وأما إذا كان الهجران في حق من حقوق الله تعالىٰ فله ما فوق ذلک، ولقد هجر رسول الله ﷺ الثلاثة الذين خلفوا، كعب بن مالک وهلال بن امية ومرارة بن الربيع رضي الله عنهم، فلم يكلمهم خمسين يوما وأمر الناس بهجرانهم.

(التعليق الصبيح على مشكوة المصابيح ۵:۲۶۷ كتاب الاداب،باب ما ينهى عنه من التهاجر والتقاطع واتباع العورات)

۳) قال الملا علي قاري رحمه الله تعالىٰ: وما كان... (دحاشيې باتې برخه په بل مخ)

او یا د صاحب حق په معاف کولو سره (په دنیا یا آخرت کې مفت یا بالمعاوضه) بخښل کیږي (۱)

نوټ: له داسې کس سره اعزازي تعلقات یا د خوراک څښاک کولو تعلقات سائل ممنوع دي (۲) فقط

د کابل له موجوده واکمنانو سره تعلقات او له معاهده کوونکو سره د ترک موالات حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د باجوړ سیمې له مختلفو ځایونو څخه یو شمیر خلک د کابل له موجوده واکمنانو سره د تعلقاتو په بناء، او له دوی سره د دولت او معاهده جوازات او د خیرخواهی په

(د حاشیې پاتې برخه)..... من السیئات أی المعاصي جمیعها دون الشرک والکفر ولم یتب عنها حتی مات مؤمناً أی غیر تائب فإنه في مشیئة الله تعالیٰ، إن شاء عذبه أی بعدله علی قدر استحقاق عقابه، وان شاء عفاعنه أی بفضله ولم یعذبه بالنار أبداً بل یدخله الجنة ویجعله فیها مخلداً.

(الفقه الأکبر: ۷۸، الطاعات بشروطها مقبولة)

۱) قال العلامة النووي رحمه الله تعالیٰ: وإن کانت المعصیة تتعلق بآدمي فشروطها أربعة، هذه الثلاثة، وأن یبرأ من حق صاحبها، فإن کانت مالا أونحوه رده إلیه، وإن کانت حد قذف ونحوه مکنه منه أوطلب عفوه.

(ریاض الصالحین: ۳۴، باب التوبة)

۲) قال العلامة الملا علي قاري رحمه الله تعالیٰ: قال الخطابي: رخص للمسلم أن یغضب علی أخیه ثلاث لیال لقلته، ولایجوز فوقها إلاإذا کان الهجران في حق من حقوق الله تعالیٰ فیجوز فوق ذلک... قال وأجمع العلماء علی أن من خاف من مکالمته أحد وصلته مایفسد علیه دینه أو یدخل مضرة في دنیاه یجوز له مجانبته وبعده.

(مرقاة المفاتیح ۸:۷۵۹، کتاب الآداب، باب ما ینهی عنه من التهاجر والتقاطع، الفصل الأول)

ترلاسه کولو ورسره ملاویږي، کومو چې په خپله رسیدګی باندې د راډیو ستیشن په ذریعه د افغانستان له موجوده واکمنانو او د جوماتونو د جوړولو او دخپلې خیرخواهی اعلانونه هم کړي دي،آیا شرعا مونږ دهمدې خلکوسره دسلام کلام تعلقات ساتلی شو؟ او د دوی د دعوت قبلول څه حکم لري؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي: فضل واحد. باجوړ شهر ۱۹۸۵ع ۲/۱۰

الجواب: له همدې خلکو سره ترک موالات مشروع دی. (۱) خو که چېرته د ترک موالات په صورت کې د فساد او کورنۍ جګړې خطر وي؛ نو په أهون البلیتین باندې عمل کول مصلحت دی. (۲) **وهوالموفق**

د غاصب عبادات او له هغه سره د معاملاتو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په زر، زن (ښځه) او ځمکه باندې په زوره قبضه کوونکی کس، کوم ته چې غاصب هم ویل کیږي آیا هغه په جنازه کې شاملیدلی شي؟ د هغه روژه، حج، زکوة، صدقه، خیرات او قرباني کېدلی شي؟ د هغه متعلق د اسلام څه حکم دی؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي: رستم خان، ولد رحیم خان، اټک. ۱۹۸۹ع ۳/۱۰

---

۱) قال العلامة العيني رحمه الله تعالى :هذا باب في بيان ما يجوز من الهجران لمن عصى ، وقال المهلب :غرض البخاري من هذا الباب أن يبين صفة الهجران الجائز وإن ذلک متنوع على قدر الأجرام ،فمن كان جرمه كثيرا فينبغي هجرانه واجتنابه وترک مكالمته كما جاء في كعب بن مالک وصاحبيه وماكان من المغاضبة بين الأهل والاخوان فالهجران الجائز فيها ترک التحية والتسمية وبسط الوجه.
(عمدة القاري ۲۲:۱۴۴، كتاب الادب ،باب ما يجوز من الهجران لمن عصى)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى : والضابط أن من ابتلى ببليتين فان تساويا خير ، وان اختلفا اختار الأخف. (الدرالمختار ۱:۳۰۳، باب شروط الصلاة)
وفي شرح المجلة : يختار أهون الشرين. (شرح المجلة ۱:۷۰، المادة نمبر ۲۹)

الجواب: که چیرته دغه کس دغه جرمونه حلال ګڼلي دي؛ نو له اسلام څخه خارج (وتلی) دی، د هغه عبادات باطل دي، که چیرته خپل خاتته ګنهګار وایي نو د هغه عبادات صحیح دي او د فساقو په حکم کې شامل شو (۱) والله أعلم.

د کبائرو له مرتکب سره پریکون، له جوماتت څخه يې منع کول او له هغه سره په صف کې دریدل

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې (۱) آيا له زاني سره په یوه صف کې دریدل صحیح دي؟ همدارنګه له طلاق سره بيا هم هغه له ښځې سره ژوند تیروي؟

(۲) آيا له داسې کس سره لمونځ کول صحیح دي کوم چې د ښځو د خرڅولو او اخیستلو کار کوي يا د کوم زوی چې د هغه په اجازه د شرابو کاروبار کوي؟ د قرآن او سنت په رڼا کې مو خبر کړئ؟ بينوا توجروا.

المستفتي: محب الله سرحدي، مردان... ۱۹۸۶ع/۷/۸

الجواب: کوم کس چې مسلمان وي هغه دي له جوماتت يا په جماعت سره له لمانځه نه منع کیږي، قال الله تعالى: ﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ مَنَعَ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَنْ يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ﴾ الخ(۲) اګر که دغه کس مرتکب د کبائرو او فواحشو وي، د هغه له صف څخه

---

۱) في شرح الفقه الأكبر: أن إستحلال المعصية صغيرة كانت أوكبيرة كفر إذا ثبت كونها معصية بدلالة قطعية... ثم اعلم أن الحسنات يذهبن السيئات، كما قال الله تعالى، الا إنها مختصة بالصغائر ولا تبطل الحسنات بشؤم المعاصي إلابالكفر، بقوله تعالى: ﴿وَمَن يَكْفُرْ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ﴾، والفسق ليس في معنى الكفر فلا يلحق به الإحباط. (شرح الفقه الأكبر ۱۵۲، استحلال المعصية ولوصغيرة كفر)

وفي شرح العقائد: والكبيرة لاتخرج العبد المؤمن من الإيمان... نعم! إذا كان بطريق الاستحلال والاستخفاف كان كفراً لكونه علامة للتكذيب. (شرح العقائد ۸۲)

۲) (سورة البقرة: ايت ۱۱۴)

وباسل يا هغه ته نږدې لمونځ نه کول دا د عوامو تعزيرات دي، اسلامي هدايات نه دي، البته په نورو مسلمانانو باندې ضروري ده چې د همداسې خلکو سره پريکون (قطع تعلق) وکړي، (١) په غم او خوشحالی کې غير مطلوب شرعي مراسم ورسره ونه پالي. **وهوالموفق**

د زاني، ديوث او مطلقه له ساتونکي سره غم، بادي، عليک سليک ختمول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې غلام مرتضی له اوږدې مودې راهيسې زمونږ په عزت باندې لوبې کوي، هغه چې د کله راهيسې زمونږ کور ته تګ راتګ شروع شو نو له هر څه دمخه يې زما همشيره غلام سکينه وتښتول او دوه کاله په غلط کارۍ کې مبتلا وو، له دې وروسته زما اوښي ساول خان غلام سکينې ته طلاق ورکړ، دوه کاله وروسته بيا راغی زما د والدينو سره اوسيږي، ما والدينو ته هر ډول نصيحت وکړو، مګر هغوی ونه منلو او هغه يې له ځان سره وساتلو، په همدې وخت کې غلام مرتضی زما له کوچنی خور غلام مسکينه سره ناروا تعلقات جوړ کړه، ما د کلي په عزتمندو سره والدينو ته نصيحت وکړو چې دا بد معاش انسان دی، له غلام مرتضی سره يې هم خبرې وشوې چې ته له دې ځايه ولاړ شه مګر دوی ونه منل، قسم يې وخوړلو او منکر شو چې زما له هغې سره ناورا تعلقات نشته، بالاخر هغه غلام مسکينه هم وتښتول، يو کال وروسته هغه غلام مسکينې ته طلاق

---

١) اخبرنی عبد الرحمن بن عبد الله بن کعب بن مالک أن عبد الله بن کعب قال سمعت کعب بن مالک يحدث حديثه حين تخلف عن رسول الله ﷺ في غزوة تبوک ... ونهی رسول الله ﷺ المسلمين عن کلامنا أيها الثلاثة من بين من تخلف عنه، قال فاجتنبنا الناس. (صحيح المسلم)

وقال العلامة النووي رحمه الله تعالی: وفي هذا هجران أهل البدع والمعاصي. (حاشية النووي علی صحيح المسلم ٢:٣٢١، باب حديث توبة کعب بن مالک وصاحبيه)

ورکړو. هغه اوس بیا زما د والدینو سره اوسیږي، له مشرې همشیره (مطلقې) سره یې هم غلط تعلقات بیا جوړ کړي، د کلي هر خاص او عام په دې پوه دی، اوس د کلي خلک مونږ د جنازې له لمانځه او په جماعت سره له لمانځه منع کړي یو چې تاسو خو زناکاري شروع کړې ده، ددې متعلق مونږ ته شرعي حکم بیان کړئ؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي: نامعلوم ۱۹۸۵ع/ ۲/۷.

الجواب: د پورته لیکلو د صدق او ثبوت په شرط په واکمنانو او په بااثره عوامو باندې ضروري ده چې همدغه تبنتوونکی او د مستفتي والدین د همدې کلي څخه وشړي (وباسي)، (۱) کنه نو له هغوی سره دې غم، ښادي، علیک سلیک ختم کړي، (۲) داسې بې غیرتي او دیوثي برداشت کول د اسلام خلاف او مخالفت دی. **وهوالموفق**

---

۱) في الصحیح للإمام مسلم: (سمعت رسول الله یقول من رأی منکم منکراً فلیغیره بیده، فإن لم یستطع فبلسانه، فإن لم یستطع فبقلبه، وذلک أضعف الایمان) قال القاضي عیاض رحمه الله تعالیٰ: هذا الحدیث أصل في صفة التغییر، فحق المغیر أن یغیره بکل وجه أمکنه زواله به قولًا کان أوفعلًا فیکسر الات الباطل ویریق المسکر بنفسه أویأمر من یفعله وینزع الغصوب ویردها إلی أصحابها بنفسه أوبأمره إذا أمکنه. (حاشیة النووي علی صحیح المسلم ۱:۵۱، کتاب الإیمان،باب بیان کون النهي عن المنکر من الإیمان)

۲) في صحیح البخاري: (باب مایجوز من الهجران لمن عصی، وقال کعب حین تخلف عن النبي ﷺ "ونهی النبي ﷺ المسلمین عن کلامنا وذکر خمسین لیلة. وقال الحافظ ابن حجر رحمه الله تعالیٰ: أراد بهذه الترجمة بیان الهجران الجائز، لأن عموم النهي مخصوص لمن لم یکن لهجره سبب مشروع ، فتبین هنا السبب المسوغ للهجر وهو لمن صدرت منه معصیة، فیسوغ لمن اطلع علیها منه هجره علیها لیکف عنها. (فتح الباري ۱۰:۴۹۷، کتاب الأدب، باب مایجوز من الهجران لمن عصی)

د شریعت څخه له انکار کوونکي، له حکومت څخه په دروغو استغاثه کوونکي او مسلمانانو ته له تکلیف رسوونکي سره د ترک موالات حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د کلي په شاملاتو کې يو شمير بارسوخه خلکو نوې لاره وباسلې ده، په هغې باندې د درې کسانو د کومو ځمکې چې نږدې وې، لار منعه کړه، په همدې باندې يې د همدې کسانو خلاف استغاثه دايره کړه او په څلورم کس يې هم استغاثه دايره کړه، د عدالت څخه حاکم استغاثه دروغجنه وبلل او خارج يې کړه، په دې استغاثه کې په څلورم کس باندې په دروغو استغاثه شوې وه اوس:

(۱) د استغاثه دايروونکي کس شرعي حکم څه دی؟

(۲) هغه د شریعت د فيصلې لپاره له هغه سره هيڅ ځای د تللو لپاره تيار نه دی، مهرباني وکړئ ددې ځواب وليکئ؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: رحمت خان، اټک ..۱۷/ رمضان المبارک ۱۹۷۹ع

الجواب: د شریعت څخه انکار کوونکی (۱) او حکومت ته په دروغو استغاثه کوونکی (۲) مسلمانانو ته د بې ځايه تکليف رسوونکی سخت......

---

۱) قال الله تعالى: ﴿وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ﴾...قال ابن مسعود والحسن هي عامة في كل من لم يحكم بما أنزل الله من المسلمين واليهود والكفار أى معتقدا ذلک ومستحلًا له فأما من فعل ذلک وهو معتقد أنه راكب محرّم فهو من فساق المسلمين وأمره الى الله تعالى.

(تفسير القرطبي ۱۸۰:۶،سورة المائدة:ايت ۴۴)

۲) وفي التفسير المظهري: ﴿وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ﴾ كالدعوى الزور والشهادة بالزور أوالحلف بعد إنكار الحق أو الغصب...(دحاشيې پاتې برخه په بل مخ)

ګنهګار دی، (۱) د هغه سره پرهکون پکار دی (۲) وهوالموفق

د امام توهين كوونكي او د قرآن نه مراعت كوونكي ظالم سره د ترک موالات حكم

سوال: څه فرمايلي دي علماء، كرامو ددې مسئلې په باره كې چې يو كس خادم حسين پر لاره را روان وو، په هغه باندې څلورو پنځو كسانو حمله وكړه. هغه جومات ته وتښتېدلو، دا ظالم له پېزار سره جومات ته دننه شو، هلته مولوي صاحب ماشومانو ته درس وركولو، مولوي صاحب هغو ته قرآن واسطه كړ ليكن هغوى ونه منلو او مولوي صاحب يې د جومات څخه وويستلو. د خادم حسين وينې د جومات په ديوالونو ولګيدلې، د همدې ظالمانو په باره كې شرعي حكم څه دى؟ بينواتوجروا.

المستفتي: خادم حسين عباسي، بيروټ، براسته مرى، كوهاله

الجواب: په خادم حسين باندې ظلم كوونكي، د امام توهين كوونكي او د قرآن

(د حاشيې پاتې برخه)..... ﴿وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ﴾...قال مجاهد يعنى لا تخاصم وانت ظالم، ﴿لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾.

(التفسير المظهري ۱:۲۰۹، سورة البقرة، ايت ۱۸۸)

۱) عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: المسلم أخو المسلم لا يخونه ولايكذبه ولايخذله، كل المسلم على المسلم حرام عرضه وماله ودمه.

(جامع الترمذي ۲:۴۲، باب ماجاء في شفقة المسلم على المسلم، أبواب البر والصلة)

۲) وفي المرقاة: فإن هجرة أهل الاهواء والبدع واجبة على مرّ الاوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق.

(مرقاة المفاتيح ۶:۲۶۲، باب ما ينهى عنه من التهاجر والتقاطع واتباع العورات)

نه مراعت کوونکي مجرمين دي، (۱) د هغوی سره په غم او خوشحالی کي پرېکون مناسب دی. (۲) وهوالموفق

بلا وجه الزام لګول او له چا د پرده له لیرې کوونکي سره د ترک موالات حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې (۱) يو کس په بل باندې د غلا تور ولګولو کوم چې د انسانيت خلاف دی، په داسې حالت کې دشريعت څه حکم دی، په داسې حال کې چې د غلا هيڅ ثبوت نه وي؟ (۲) يو کس په ډک مجلس کې ووېل که چيرته فلانی ښځه زما سره په چينه باندې مخامخ شي؛ نو زه به هغه لوڅه لغړه کړم، د هغه څه حکم دی؟ آيا په شريعت کې چاته اختيار شته چې هغه د ښځې د ذات متعلق داسې خبرې وکړي؟ بينوا توجروا.

المستفتي: حاشير خان، مری...۸۶ع/۸/۱۰.

الجواب: الزام لګول او د بې حجابه کولو اراده کول ناروا او حرام کارونه دي، (۳)

---

۱) عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: المسلم اخوالمسلم لايظلمه ولايخذله ولايحقره... بحسب امرء من الشر أن يحقر أخاه المسلم، كل المسلم على المسلم حرام دمه وماله وعرضه.
(صحيح المسلم ۲:۳۱۷، کتاب البروالصلة والادب، باب تحريم ظلم المسلم)

۲) في التعليق الصبيح: فإن هجرة أهل الأهواء والبدع دائمة على مرالأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق، فإنه ﷺ لما خاف على كعب بن مالك وأصحابه النفاق حين تخلفوا عن غزوة تبوك أمر بهجرانهم خمسين يوماً وقد هجر نساء ه شهراً.
(التعليق الصبيح على مشكوة المصابيح ۵:۲۶۲، کتاب الآداب، باب ما ينهى عنه من التهاجر والتقاطع واتباع العورات)

۳) عن أبي هريرة قال قال رسول الله ﷺ: المسلم... (دحاشيې باتې برخه په بل مخ)

په داسې کسانو باندې توبه وباسل ضروري دي، (۱) کنه نو عوام الناس دې له هغه سره پريکون وکړي. (۲) والله أعلم.

پردی منکوحه د ځان سره د ساتونکي او د هغه له مرسته کوونکو سره د پريکون حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې سلطان محمد واده کړی دی، بله ښځه چې د ګل محمد منکوحه ده، د خپل ځان سره يې ساتلې ده، مونږ (اهل سرياني) سلطان محمد ته وويل چې دا د شريعت معامله ده چې ته شرعًا منکوحه ښځه د طلاق پرته له ځان سره نه شې ساتلی، لهذا هغه واپس کړه او شرعًا دا ښځه له تا سره نه شي اوسيدلی، کنه نو مونږ له تا سره په ګډه لمونځ، جمعه، جنازه، اخترونه او وغيره نه اداء کوو، اوس دغه معامله له

(د حاشيې پاتې برخه)..... أخوالمسلم لايخونه ولايكذبه ولا يخذله، كل المسلم على المسلم حرام عرضه وماله ودمه.
(جامع الترمذي ۲:۴۲، ابواب البر والصلة، باب ماجاء في شفقة المسلم على المسلم)

۱) قال الله تبارک وتعالىٰ: يٰٓأيها الذين اٰمنوا توبوٓا الى الله توبة نصوحًا.
(سورة التحريم آيت نمبر ۸)
وقال العلامة النووي رحمه الله تعالىٰ: قال العلماء التوبة واجبة من كل ذنب.
(رياض الصالحين ۳۳ باب التوبة)

۲) قال العلامة السهارنفوري رحمه الله تعالىٰ: (ولايحل لمسلم أن يهجر أخاه فوق ثلث ليال) قال السيوطي رحمه الله تعالىٰ: والمراد حرمة الهجران إذا كان الباعث عليه وقوع تقصير في حقوق الصحبة والاخوة وآداب العشرة كاغتياب وترک نصيحة، وأما ماكان من جهة الدين والمذهب فهجران أهل البدع والأهواء واجب إلى وقت ظهور التوبة.
(بذل المجهود ۵:۲۶۱ كتاب الآداب، باب في هجرة الرجل أخاه)
وفي المرقاة: فإن هجرة أهل الاهواء والبدع واجبة على مرّالأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق. (مرقاة المفاتيح ۹:۲۶۲، باب ماينهى عنه من التهاجر والتقاطع)

څو هفتو څخه روانه ده، سره له دې چې سلطان محمد ډېو هولډر هم دی او د نکاح رجسټر کوونکی هم دی، نو مونږ خلک نه له هغه څخه راشن اخلو او نه له هغه سره په دنيوي معاملاتو لګه ښادي، غم او وغيره کې يو ځاى کېدل او ملاقات کوو، اوس کوم خلک چې له هغه سره مرسته کوي او له مونږ سره مرسته نه کوي. له هغوى سره څه معامله وکړى شي؟ ايا دغه کس زمونږ سره په ديني شعائرو کې لکه لمونځ، روژه، او د جنازې لمونځ کې شرکت کولى شي او که داسې کسان له عبادت ګاه څخه وويستل شي؟ بينوا توجروا

المستفتي: نامعلوم ...۱۹۷۶ع ۱۳/۱۰

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط ددغه کس (سلطان محمد) او دده له مرسته کوونکو سره ترک موالات (پريکون) روا دی، په قرآن[۱] او حديث [۲] سره ثابت دی، البته که دغه خلک مستحلين نه وي د دوى له جومات او جماعت څخه منع کول حرام دي، قال الله تعالى: **وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ مَنَعَ مَسَاجِدَ اللَّهِ أَنْ يُذْكَرَ فِيهَا اسْمُهُ** الاية[۳] **وهوالموفق**

د وريندارې ساتونکي او له هغې سره د ناروا تعلقاتو ساتونکي حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې داؤد ولد

---

۱) قال الله تعالى: وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا حَتَّى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوا أَنْ لَا مَلْجَأَ مِنَ اللَّهِ إِلَّا إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا.
(سورة التوبة :ايت۱۱۸)

۲) وفي صحيح البخاري : نهى رسول الله ﷺ المسلمين عن كلامنا أيها الثلثة من بين من تخلف عنه فاجتنبنا الناس وتغيروا لناحتّى تنكرت في نفسي الأرض فما هي التى اعرف فلبثنا على ذلک خمسين ليلة.
(صحيح البخاري ۶۳۵:۲ کتاب المغازى ،باب حديث كعب بن مالک)

۳) (سورة البقرة :ايت ۱۱۴)

حاضر له لسو کلونو یا کم او زیات له خپلې مشرې وریندارې، کومه چې د لسو کالو راهیسې کونډه ده، د هغې سره په ګډه ژوند کوي، د داؤد او دده د وریندارې ژوند، خوراک څښاک، ویده کیدل او بیداریدل هر ه یو ځای دي، داؤد خپلو دوو میرمنو (کوروڼو) ته هم طلاق ورکړی دی، د خلکو اوس د دوی دواړو په ناروا تعلقاتو باندې اشتباه ده، دا وخت دغې اشتباه د ثبوت شکل غوره کړی دی، داوخت عیني شاهدان موجود دي چې مذکور کس له دغې ښځې سره ناروا تعلقات ساتلي دي، داؤد نه د هغې ښځې سره نکاح کوي او نه دهغې څخه ځانته ژوند کوي. آیا داکس دمسلمانانو په غم، ښادی، جنازې لمانځه او په جماعت سره په فرض لمانځه وغیره کې شرکت کولی شي؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي غلام حیدر، پشاور ۱۹۷۸ع/ ۹/ ۴

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط دغه کس (داؤد) ولد حاضر فاسق او فاجر دی، (۱) د تینګار په صورت کې په هر مسلمان باندې ضروري ده چې له هغه سره پریکون (ترک موالات) وکړي. (۲) **وهوالموفق**

د خوابې لوڅوونکي وهونکي او ټکوونکي حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې یو کس خپله خوابښې یعنې د ښځې (کوروداني) مور په ناروا طریقه ووهل، وې ټکول

---

۱) قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله وفاسق) من الفسق وهوالخروج عن الاستقامة ولعل المراد به من یرتکب الکبائر کشارب الخمر والزاني وآکل الربا ونحو ذلک. (ردالمحتار ۱:۴۱۴، کتاب الصلوة، باب الإمامة)

۲) قال الله تعالی: ﴿وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا حَتَّىٰ إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ﴾.

قال العلامة القرطبي رحمه الله تعالی: وفي هذا دلیل علی هجران أهل المعاصي حتی یتوبوا. (تفسیر القرطبي ۸:۲۶۰، سورة التوبة، آیت ۱۱۸)

تردې چې د خپلې ښځې مور يې لوڅه کړه. آيا شرعًا په دغه کس باندې کوم حرج شته او که نه؟ که چیرته نشته نو د هغه سره څه وکړو؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي: جناب علیم خان، هزاره... يكم رمضان ۱۹۸۹ع

الجواب: دغه کس د ایذاء او اهانت له وجې فاسق دی، (۱) په ده باندې توبه کول او واپس کېدل ضروري دي (۲) **وهوالموفق**

د سپين رنګو ښځو له ساتونکو سره پرېکون کول ضروري دي

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره کې چې دلته زياتره خلکو سپين رنګې ښځې ساتلي دي، دا ضرور ګڼي چې موږ ناروا کار کړی دی، لیکن استعمال يې د خپلو ښځو په شان کوي، له دوی سره ترک موالات څنګه دی؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي: مولانا فخرالدین، برمنګهم، انګلینډ. ۱۹۷۳ع/۸/۱۵

الجواب: له همدې خلکو سره ترک موالات (۳) او په هغوی باندې د وس سره سم

---

۱) عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: المسلم أخوالمسلم لايخونه ولايكذبه ولا يخذله، كل المسلم على المسلم حرام عرضه وماله ودمه. (جامع الترمذي ۲: ۴۲، أبواب البر والصلة، باب ماجاء في شفقة المسلم على المسلم)

۲) وفي تفسير القرطبي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَّصُوحًا. أمر بالتوبة وهي فرض على الأعيان في كل الأحوال وكل الأزمان...وقال الكلبي: التوبة النصوح الندم بالقلب والاستغفار باللسان والاقلاع عن الذنب والاطمئنان على أنه لايعود. (تفسير القرطبي ۱۸: ۱۷۴، سورة التحريم: ايت ۸)

۳) قال الله تعالى: وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا حَتَّىٰ إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنفُسُهُمْ. قال العلامة القرطبي رحمه الله تعالى: وفي هذا دليل..(دحاشيې باتې برخه په بل مخ)

انکار ضروري دی. (۱) په دې کې ډيرې زياتې ذاتي ګټې دي. **وهوالموفق**

د يتيمانو په جايداد باندې له قبضه کوونکي د هغوی له ويروونکي اخطار ورکوونکي سره د ترک موالات حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو په دې مسئله کې چې (۱) يو کس سلمان خان ډير لمونځ کوونکی او په ډير لوړ (اوچت) آواز د کلمې ويونکی دی، ليکن له څلويښتو کلونو راهيسې دی د يتيمانو په جايداد باندې قابض دی د کومو پلار چې د غربت له وجې بل ځای ته تللی وو او هلته يې تپوله کورنۍ مړه شوه، صرف يو زوی يې ژوندی دی کوم چې سلمان خان ويرولی اخطار يې ورکړی او په پرده کې يې د وژلو اخطار ورکړی، په جايداد باندې يې ورته ناروا قبضه کړې ده. يو ځل د څو ورځو لپاره هغه خپله ښځه پرېښودل کومه چې وړې اوسيدله او ژړل به يې هغې ته يې طلاق ورکړو.

(۲) د دغه کس يوه ښځه وه، دی ۳۵ کاله مخکې په يوه ښځه باندې مين (عاشق) شو کومه چې واده شوې وه، بيا يې د هغې له ميړه څخه طلاق واخيست په خپله يې له هغې سره نکاح وکړه او لومړی ښځه يې د هغو يتيمانو په جايداد باندې بې ياره او مددګاره پرېښودله کومه چې تر ننه پورې د غربت په حالت کې خپله ګوزاره کوي او اوس د يتيمانو په جايداد باندې د بشپړې قبضې کولو لپاره نوې نوې لارې استعمالوي، لهذا د دغه غاصب په باره کې څه حکم دی؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: صوبيدار محمد اشرف، راولپنډی. ۱۹۷۵ع/۱۰/۱۴

(د حاشيې باقي برخه).... على هجران أهل المعاصي حتى يتوبوا. (تفسير القرطبي ۸:۲۶۰ سورة التوبة، آيت ۱۱۸)

۱) عن أبي سعيد الخدري رضي الله تعالى عنه عن رسول الله ﷺ قال: من رأى منكم منكراً فليغيره بيده، فإن لم يستطع فبلسانه، فإن لم يستطع فبقلبه، وذلك أضعف الإيمان. (مشكوة المصابيح على هامش مرقاة المفاتيح ۹:۳۲۸، باب الأمر بالمعروف)

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط له دغه کس سره د توبې تر وخته پورې ترک موالات او پریکون کول پکار دي (۱) **وهوالموفق**

د سړیو په شان شکل او صورت. د وضع او قطع جوړونکې بد چلنده ښځې د والدینو او نورو محارمو حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په ایبټ آباد کې یو کس د خپلې سکنې لور په ماشومتوب کې شکل او صورت بدل کړی دی د سړیو (نارینه وو) شکل یې غوره کړی دی. سر یې غوڅ (کټ) کړی دی. د سړیو لباس یې اغوستی دی، اوس هغه د ۱۵ کلونو ځوانه انجلۍ ده او عاقله بالغه ده. دې ښځې د خپل اصلي نوم پر ځای د سړي نوم ایښی دی. ښځې او سړي یې گمراه کړي دي. دا ښځه په غم ښادۍ کې گډون کوي له سړیو سره کار لري، ورسره ملاویږي. د همدې ښځې والدین او نور رشته داران هغه له دې ناوړه عمل څخه نه منع کوي، خلک د همدې ښځې له ناروا حرکتونو څخه تنگ راغلي دي، د هغې د والدینو او رشته دارانو لپاره څه حکم دی؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي: نامعلوم... ۱۹۷۶ع/ ۱/ ۱۹.

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط د همدې ښځې ټول محارم دیوث، بې غیرته او واجب التعزیر دي، **لأن الدیوث کمافي شرح التنویر: هومن لایغار علی امرأته**

---

۱) في المرقاة: فإن هجرة أهل الأهواء والبدع واجبة على مرّ الأوقات ما لم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق، فإنه ﷺ لما خاف على كعب بن مالك وأصحابه النفاق حين تخلفوا عن غزوة تبوك، أمر بهجرانهم خمسين يوماً، وقد هجر نساءه شهراً.

(مرقاة المفاتيح ۹:۲۶۲، باب ما ينهى عنه من التهاجر والتقاطع واتباع العورات)

أو محرمه[۱] وهوالموفق

تا په خانه کعبه کې خره څرولې د داسې جاهلانه خبرې کوونکې حکم

سوال: څه فرمايلې دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس عمره اداء کړې، دويم کس د هغه څخه پوښتنه وکړه چې هلته تا څه وليدل، هغه چې څه ليدلي وو صحيح صحيح يې بيان کړه، بس يوه خبره يې نه وه کړې سائل حج کړی و، هغه وويل چې تا هلته خره څرولي وو، د عمرې اداء کوونکي په زړه کې د خانه کعبې ډېر احترام دی، ليکن د حج کوونکي وويل چې تا په خانه کعبه کې خره څرولي، د هغه په باره کې څه حکم دی؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: نامعلوم.... ۱۵ ستمبر ۱۹۶۹ع

الجواب: د دغه کس يعنې د سائل (سوال کوونکي) خبره جاهلانه خبره ده، البته يوه عام کس ته داسې خبره کول موجب تعزير نه دي، **بخلاف الأشراف والخواص**[۲] **وهوالموفق**

له غير معذور روژه خور سره د ترک موالات حکم

سوال: څه فرمايلې دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو د روژې نه ساتونکي کس خپله ښځه (ميرمن) په رمضان کې د ورځې د خوراک په پخولو

---

۱) (الدر المختار ۲۰۲:۳، باب التعزير)

۲) قال العلامة الحصكفي : لايعزر بيا حمارُ يا خنزير يا كلب...لظهور كذبه واستحسن في الهداية التعزير لوالمخاطب من الأشراف ، وتبعه الزيلعي وغيره. (الدر المختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : عبارة الهداية :وقيل في عرفنا يعزر لأنه يعد شينا، وقيل إن كان المسبوب من الأشراف كالفقهاء والعلوية يعزر لأنه يلحقهم الوحشة بذلك، وإن كان من العامة لايعزر وهذا أحسن.

(ردالمحتار ۲۰۲:۳، باب التعزير)

باندې مجبوره کوي او د هغې په انکار سره په هغې باندې سختي (تشدد) کوي له کوره يې وباسي، والدين چې کله هغه ته احساس ورکوي نو هغوی ته هم ناوړه کنځل کوي، له دغه کس سره څه وکړی شي؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: مرزا خان عباسي، مری ... ۱۱/ شوال ۱۴۰۰هـ

الجواب: له غير معذور روژه خور سره ترک موالات يعنې د سلام کلام او وغيره پرېښودل ضروري دي، په هر مسلمان باندې همدا رويه ساتل ضروري ده، **نظيره ثلثة الذين خلفوا**(۱) **وهوالموفق**.

د فاسقانو او بدمعاشانو له جومات څخه منع کول او د هغوی سره ترک موالات کول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د فاسقانو او بدمعاشانو له جومات څخه د منع کولو څه حکم دی؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: غلام مصطفي، ايبټ آباد، هزاره ... ۲۹/ رمضان ۱۴۰۰هـ

الجواب: د قرآن او احاديثو له مخې د فاسقانو او بدمعاشانو له جومات څخه منع کول ظلم او حرام دي، (۲) د متقيانو لپاره د همدې عوامي تعزير څخه پرهيز

---

۱) أخبرني عبدالرحمن بن عبدالله بن كعب بن مالك أن عبدالله بن كعب وكان قائد كعب من بنيه حين عمي، قال سمعت كعب بن مالك يحدث حديثه حين تخلف عن رسول الله ﷺ في غزوة تبوك.....ونهى رسول الله ﷺ المسلمين عن كلامنا أيها الثلاثة من بين من تخلف عنه قال فاجتنبنا الناس. (صحيح المسلم)

وقال العلامة النووي رحمه الله تعالى :وفي هذا هجران أهل البدع والمعاصي.

(حاشية النووي على صحيح المسلم ۲: ۳۶۱، كتاب التوبة، باب حديث توبة كعب بن مالك وصاحبيه)

۲) قال العلامة القرطبي رحمه الله تعالى :(وَمَنْ أَظْلَمُ..(دحاشيې باتې برخه په بل مخ)

کول پکار دي، البته له فاسقانو سره ترک موالات یعني د سلام کلام پرېښودل

بيع او شراء (معاملات) کې پرېکون کول مشروع دي (۱) **وهوالموفق**

د ديوث له کلي څخه د وباسلو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو د دې مسئلې په باره کې چې زمونږ په کلي کې يو ديوث انسان دی. د هغه له ښځې سره خلک زنا کوي. دی خپلې ښځې ته هيڅ نه وايي، سره له دې چې ښه پرې خبر دی. په داسې خلکو سره چونکه د ټولنې (معاشره) د خرابيدو وېره ده. ايا د هغه په حيله بهانه سره له کلي څخه وباسل روا دي او که نه؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: زاهد حسين، بټ خيله، ملاکنډ ايجنسي. ۱۲ / صفر ۱۴۱۰ هـ

(د حاشيې پاتې برخه) مِمَّن مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللهِ اَن يُّذكَرَ فِيهَا اسمُهُ وَسَعٰى فِي خَرَابِهَا)....

وقيل المراد من منع من كل المسجد إلى يوم القيمة ،وهوالصحيح.

وعن عبدالله بن كعب قال سمعت بن مالک يحدث حديثه حين تخلف عن رسول الله ﷺ في غزووة تبوک.....وأتى رسول الله ﷺفاسلّم عليه وهو في مجلسه بعدالصلوة فأقول في نفسى هل حرّک شفتيه بردالسلام أم لا؟ثم أصلّى قريباً منه وأسارقه النظر فإذا أقبلت على نظر اليّ الخ.

(صحيح مسلم ۲: ۳۶۰،باب حديث توبة كعب بن مالک وصاحبيه)

۱) قال العلامة العيني رحمه الله تعالىٰ :هذا باب في بيان مايجوز من الهجران لمن عصى ، وقال المهلب :غرض البخاري من هذاالباب أن يبين صفة الهجران الجائز وإن ذلک متنوع على قدرالأجرام ،فمن كان كثيراً فينبغي هجرانه واجتنابه وترک مكالمته كماجاء في كعب بن مالک وصاحبيه.

(عمدة القاري ۲۲: ۱۴۴، كتاب الأدب ،باب مايجوز من الهجران لمن عصى)

الجواب: په با اثره خلکو باندې ضروري ده چې همداسې ديوث په زوره وباسي او د کمزورو خلکو لپاره يې د حيلې په ډول وباسل ضروري دي (۱) **وهوالموفق**

د امام توهين کوونکي فاسق کس سره د ترک موالات حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس خانداني امام ته په يوه غلط کار د اعتراض په کولو مور خور او ښځې ته کنځل وکړه او په جومات کې يې د خلکو پر وړاندې د امام د وهلو کوشش کړی په کوم سره چې د سيمې په خلکو کې جنجال پيدا شوی، مذکور کس يې له اسلام څخه خارج بللی او له هغه سره يې تولنيز پرېکون کړی، د همدې مسئلې شرعي حکم څه دی؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: محمد رفيق، بمعرفت قاضي محمد يونس انور، لاهور ۱۴۰۰/۱/۱۰ھ

الجواب: د امام توهين ناروا او موجب د فسق دی، **قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:** **سباب المسلم فسوق (رواه مسلم)** (۲)، د تينګار په صورت کې او د معافي نه غوښتلو

---

۱) **في المرقاة:** (عن أبي سعيد الخدري رضي الله تعالى عنه أن رسول الله ﷺ قال من رأى منكم منكراً فليغيره بيده) أى بأن يمنعه بالفعل بأن يكسر الآلات ويريق الخمر ويرد المغضوب إلى مالكه (فإن لم يستطع) أى التغيير باليد وإزالته بالفعل لكون فاعله أقوى منه (فبلسانه) أى فليغيره بالقول وتلاوة ما أنزل الله من الوعيد عليه وذكر الوعظ والتخويف والنصيحة. (مرقاة المفاتيح ۹: ۳۲۸، باب الأمر بالمعروف)

في التعليق الصبيح: فإن هجرة أهل الأهواء والبدع دائمة على مر الأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق.

(التعليق الصبيح على مشكوة المصابيح ۵: ۲۶۲، كتاب الأدب باب ماينهى عنه من التهاجر والتقاطع واتباع العورات)

۲) (صحيح المسلم ۱: ۵۸، كتاب الإيمان، باب قول النبي ﷺ: سباب المسلم فسوق)

په صورت کې له دغه کس سره ترک موالات او ترک کلام روا دی. وله نظائر[۱] وهوالموفق

له نیشنل مسلم لیک او د افغانستان له خلقیانو او پرچمیانو سره د ترک موالات حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د افغانستان د خلقیانو او پرچمیانو چې دلته کوم دوستان دي، د هغوی سره په قطع تعلق باندې ګنهګار دي او که نه؟ **بینواتوجروا**

المستفتي: مفتي محمد سردار، مدرس دارالعلوم عربیه تل ۸۸ع/ ۱/ ۱۸

الجواب: د نیشنل او مسلم لیک دواړو دواړو ارادي له اسلام سره متصادمې دي او دواړه اسلامي نظام ته شکست ورکول غواړي، که چیرته ممکنه وي همدې ټولو ډلو (پارټیو) سره دې ترک موالات وشي[۲] **وهوالموفق**

له قادیانیانو سره مکمل ټولنیز پریکون

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې یو کس له

---

۱) عن عبدالله بن مغفل رضي الله تعالی عنه أنه كان جالساً إلی جنبه ابن أخ له، فخذف فنهاه، وقال إن رسول الله ﷺ نهى عنها، وقال إنها لاتصيد صيداً ولاتنكئ عدوًا وانّها تكسر السنّ وتفقاء العين، قال فعاد ابن أخيه يخذف، فقال أحدّثك أن رسول الله ﷺ نهى عنها عدت ثم تخذف، لا اكلمك أبداً (ابن ماجة)

وفي حاشيته: وفيه جواز الهجران من أهل المعاصي إن أصرّوا عليها.

(سنن ابن ماجة ۳، باب تعظيم حديث رسول الله ﷺ)

۲) أن عبدالله بن كعب قال سمعت كعب بن مالک يحدث حديثه حين تخلف رسول الله ﷺ في غزوة تبوک.... ونهى رسول الله ﷺ المسلمين عن كلامنا أيها الثلاثة من بين من تخلف عنه قال فاجتنبنا الناس.

وقال العلامة النووي رحمه الله تعالی: وفي هذا هجران أهل البدع والمعاصي.

(صحيح المسلم ۲: ۳۶۱، كتاب التوبة، باب حديث توبة كعب بن مالک وصاحبيه)

قادیانیانو سره لاندې ذکر شوې معاملات کوي:
(۱) د روپیو په قرض ورکول او اخیستل (۲) سترې مشې (مصافحه)
(۳) د ودونو په خوشحالی کې ګډون
(۴) په جنازو کې ګډون کول، د هغه متعلق څه حکم دی؟ **بینواتوجروا**.
المستفتي: سمیع الحق، پشاور ۱۲/ ذي القعده ۱۳۹۴هه

الجواب: که چیرته همدې قادیانیانو د حکومت فیصله (د دوی د کافر کېدو متعلق) منلې وي؛ نو د هغوی سره معاملات او مواسات روا شوي دي، (۱) البته په هغوی باندې سلام اچول یا د سلام ځواب ورکول (۲) یا د هغوی ذبیحه خوړل (۳) یا په هغوی باندې جنازه کول حرام شوي دي (۴) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة أشرف على التهانوي : د کفارو سره درې قسمه معاملات کېږي، (۱) موالات (۲) مدارات (۳) مواسات ...... او د مواسات حکم دا دی چې د اهل حرب سره ناجائز دی او د غیر اهل حرب سره جائز. د سورة ممتحنه آیت: «لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ» کې ددې تصریح ده او په دې آیت کې دا مواسات مجازا تولی سره تعبیر شوی دی.
وفي الهندية :ولابأس بأن يكون بين المسلم والذمي معاملة إذاكان ممالابدمنه.
(فتاوى هندية ٥:٣٤٨، كتاب الكراهية ،الباب الرابع في أهل الذمة)

۲) قال العلامة الحصكفي :فلا يسلّم على كافر لحديث :لاتبدؤا اليهود ولا النصارى بالسلام ..... ولو سلّم يهودي أو نصراني أومجوسي على مسلم فلا بأس بالرد ولكن لايزيد على قوله وعليك. (الدرالمختار ٥:٢٩٢، كتاب الحظر والإباحة ،فصل في البيع)

۳) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى :لاتحل ذبيحة غير كتابي من وثني ومجوسي ومرتد الخ. (الدر المختار ٥:٢٠٩، كتاب الذبائح)

۴) قال الله تعالى :وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰ أَحَدٍ مِّنْهُم مَّاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَىٰ قَبْرِهِ ۖ إِنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُوا وَهُمْ فَاسِقُونَ. ......(دحاشيې باقي برخه په بل مخ)

له قادیانیانو او مرزائي نوازو سره پرېکون او د دوی له جومات یا جماعت څخه د منع کولو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې مرزايان کوم چې د غير مسلم اقليت ګڼل شوي دي نو:

۱: ايا اوس د هغوی سره پرېکون ختمېدلی شي او که نه؟ که چيرته نه وي؛ نو له هندو، سيک، عيسايي يا نورو غير مسلمو سره تولنيز پريکون ولې نشته؟

۲: که چيرته د تولنيز پريکون حکم تراوسه نافذ وي؛ نو د مرزايي نوازو سره د پرېکون حکم تراوسه شته او که نه؟

۳: کوم کس چې د مرزايي نوازو سره پريکون نه کوي د هغه متعلق څه حکم دی؟ هغه د جومات يا جماعت څخه ويستل څنګه دي؟

۴: مثلا د زيد ورور مرزائي دی، زيدخپل مرزائي ورور ته کافر او مرتد ويلي دي مګر دنيوي تعلقات له هغه سره ساتي، د دغه زيد ملامت وغيره کول څنګه دي؟

نوټ: له مرزايانو سره د دنيوي معاملاتو پريکون مراد دی، ديني پرېکون خو برحال دی که ذبيحه شوه، مناکحت، سلام دعا او وغيره، دنيوي لکه تجارت، ملازمت مزدوري او وغيره

المستفتي: سيد عنايت الله شاه بخاري، کيمل پور... ۷/ نومبر ۷۴ع

الجواب: ماته د مجلس عمل د پرېکړې (فيصلې) هيڅ علم نشته، البته د مجلس عمل (د کوم چې زياتره علماء برحق دي) د دوی فيصله حسب خداوندي ارشاد وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ واجب الاطاعت ګرځي، (۱) همدارنګه واضحه دې وي چې

(د حاشيې پاتې برخه) وقال العلامة القرطبي رحمه الله تعالى: قال علمائنا هذا نص في الامتناع من الصلوة على الكفار. (الجامع لأحكام القرآن ۸: ۲۰۲، سورة التوبة، آيت ۸۳)

(۱) قال الله تبارک وتعالى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ، سورة النساء آيت ۵۹)......(د حاشيې پاتې برخه)....

د مرزايي نوازو له جومات يا جماعت څخه وباسل حرام دي، قال الله تعالىٰ: وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ الخ (۱) البته له هغوی څخه ځان ساتل او احتياط کول ډيرضروري دي محترمه: حسب وعده د مولانا صاحب څخه معلومات وشول، هغه وفرمايل چې حکومت کومه فيصله کړې ده د هغې نفاذ او د مرزايانو له منلو وروسته له مرزايانو سره د ذميانو په شان تعلق ساتل کيږي، (۲) د هغوی سره ملازمت (دنده) او وغيره روا شوي (۳) او پرېکون ختم شوی او دا يې هم وفرمايل چې د

(د حاشيې پاتې برخه) وقال العلامة القرطبي رحمه الله تعالىٰ: (وأولي الأمر) أهل القرآن والعلم وهو اختيار مالک رحمه الله تعالىٰ ونحوه قول الضحاک قال: يعني الفقهاء والعلماء في الدين. (التفسير القرطبي ۵:۲۴۹، سورة النساء آيت ۵۹)

وفي التفسير المظهري: وکذا يشتمل الفقهاء والعلماء والمشائخ بل أولى لأنهم ورثة الأنبياء وخازنوا أحکام الله وأحکام رسوله، أخرج ابن جرير والحاکم وغيرهما عن ابن عباس هم أهل الفقه والدين وفي لفظ هم أهل العلم.

(التفسير المظهري ۲:۱۵۲، سورة النساء، آيت ۵۹)

۱) سورة البقرة، آيت ۱۱۴)

۲) وفي التعريفات الفقهية: والذمي هو المعاهد من الکفار لأنه أومن على ماله ودمه ودينه بالجزية. (التعريفات الفقهية ۳۰۰، الذال)

وقال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالىٰ: ولايجوز أن يحدث بيعة ولاکنيسة ولا صومعة ولابيت نارولامقبرة ولاصنما حاوي، في دارالاسلام....ويميز الذمي عنافي زيّه بالکسر، لباسه وهيئته ومرکبه وسرجه وسلاحه.

(الدر المختار ۳:۳۹۶، باب العشر والخراج والجزية، فصل في الجزية)

۳) وفي الهندية: المسلم إذا أجر نفسه من کافر ليخدمه جاز ويکره، وقال الفضلي لايجوز للخدمة ومافيه الإذلال بخلاف الزراعة والسقي.

(فتاوى هندية ۴:۴۳۵، کتاب الإجارة، الباب الحادي عشر في الإستيجار للخدمة)

مرزايي تواز و ملازمت کول خو مخکې هم ممنوع نه وو، دغه پرېکون له مرزايانو سره منحصر وو **وهوالموفق**.

له معتدې سره د خلوت کوونکي او په گناه باندې د ټينگار کوونکي کس او د هغه له مرسته کوونکو سره د پرېکون حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې اکرم د عدالت وړاندې خپلې ښځې ته درې طلاقونه ورکړه (د عدالت په ريکارډ (ثبت) کې د مطلق طلاق ذکر شوی دی) ځکه چې د مروجه قانون مطابق درې طلاقونه په يو طلاق باندې حمل شوي، د طلاق وروسته مطلقه د عدت تيرولو لپاره د پلار کور ته لاړه، په دې وخت کې د مطلقې پلار د مهر او د جهيز بيرته ورکولو مقدمه په عدالت کې درج کړه، ډير تاريخونه تير شوه. په يوه تاريخ باندې ناڅاپه ښځې په عدالت کې وويل چې زه له اکرم سره اوسيدل غواړم، مگر زما پلار او ورور ماته د اوسېدو اجازه نه راکوي. عدالت د خپل قانون له مخې ښځه خپل ميړه ته وسپارل او هغه د ميړه سره لاړه. سره له دې چې په عدت کې څو ورځې پاتې وې، د اکرم په دغه غير شرعي کار باندې د کلي خلک غوسه شول چې مطلقه بالثلثه څنگه له ځان سره ساتي؟ معامله تر ډسترک خطيب پورې ورسيده، اکرم د خطيب پر وړاندې وويل چې ما يوه خبره پټه کړې وه هغه دا چې ما د طلاق په وخت کې ان شاء الله ويلي و، نورو دوه متشرع کسانو شاهدي ادا کړه چې ده د (خطيب) څخه مخکې محمد اکرم دا بيان کړی دی چې زه درې طلاقونه ورکوم او په هغو کې د ان شاء الله ذکر نه و، خير! په اخير کې اکرم وويل چې زه درې طلاقونه په رښتيا ورکوم او تاسو ته فيصله درسپارم، خطيب صاحب هغه ته تاريخ ورکړ او يوه ډله يې جوړه کړه په کومه کې چې ټول نيک سري دي. په معلوم تاريخ باندې اکرم د ډلې پر وړاندې وويل چې زه د مطلقې پلار ته د سپارلو لپاره تيار يم، لهذا د ډلې په مشوره فيصله وشوه:

۱ چې مطلقه به د ماز ديگر په وخت کې پلار ته سپارل کيږي

۲: جهیز او حق مهر به ورته سپارل کیږي
۳: د مطلقې پلار ته د قانوني کار حق نشته

دويمه ورځ اکرم ده خطيب پر وړاندې وويل چې اوس انجلۍ د پلار کور ته نه ځي، نو اکرم له مطلقې سره وخت ټيروي، پوښتنه دا ده چې

۱: اکرم د مطلقې سره په عدت کې ژوند تيرولی شي او که نه؟
۲: آيا د مسلمانانو سره په جماعت کې شريکيدلی شي او که نه؟
۳: خلک د هغه سره ټولنيز پريکون کولی شي او که نه؟
۴: د طلاق ورکوونکي د مرستندويانو او ملګرو سره څه وشي؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: اهاليان اټک.... ۱۴۰۰هـ/۷/۱۱

الجواب: د ان شاء الله ويلو تکذيب چې کله مدعي نه کوي نو د حاکم او محکم تکذيب بې قاعدې دی (۱)

۲: په عدت کې له ښځې سره خلوت ممنوع دی نه مساکنت (اوسيدل) (۲)

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى :ويقبل قوله إن ادعاه وأنكرته. (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين : (قوله إن ادعاه وأنكرته)أى ادعى الاستثناء.... وقيد بإنكارها لأنه محل الخلاف إذلولم يكن له منازع فلا إشكال أن القول قوله كماصرّح به في الفتح. (ردالمحتار ۲ :۵۵۴،باب التعليق،مطلب فيما لوادعى الإستثناء وأنكرته الزوجة)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى :ولابدّ من سترة بينهما في البائن لئلا يختلي بالأجنبية ومفاده أن الحائل يمنع الخلوة المحرمة.....ولهما أن يسكنا بعدالثلاث في بيت واحد إذالم يلتقيا التقاء الأزواج ولم يكن فيه خوف فتنة.(الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :فإن السترة لابد منها....والظاهر لحرمة الخلوة بالأجنبية. (ردالمحتار ۲ :۶۷۵،باب العدة،فصل في الحداد)

۳ : د جوماتو څخه منع کول د کوم نیک یا فاجر سړي ظلم او حرام دی (۱)

۴ : که چیرته د جرم ارتکاب تسلیم شي یا په شهادت سره ثابت شي نو د دغه تینګکار په صورت کې پریکون ضروري دی (۲)

۵ او دهغه له مرسته کوونکو سره هم بیا پریکون کول پکار دی (۳) **وهوالموفق**

---

۱) قال الله تعالی :وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسٰجِدَاللّٰهِ اَنْ يُّذْكَرَفِيهَا اسْمُهٗ وَسَعٰى فِي خَرَابِهَا. وقال العلامة القرطبي رحمه الله تعالٰی :وقيل المراد من منع كل مسجد إلى يوم القيمة وهو الصحيح.

(الجامع لأحكام القرآن للقرطبي ۲: ۷۴، سورة البقرة آيت : ۱۱۴)

۲، ۳) وفي المرقاة :فإن هجرة أهل الاهواء والبدع واجبة على مرّالأوقات مالم يظهر منه التوبة والرجوع إلى الحق.

(مرقاة المفاتيح ۹: ۲۶۲،باب ماينهى عنه من التهاجر والتقاطع)

الله الله

فتاوی فریدیه

نهم جلد

باب أحكام الآلات الجديدة

باب أحكام الآلات الجديدة

په راډيو باندې د سندرو اورېدل

سوال: څه فرمايلي دي علماء كراموددې مسئلې په باره كې چې په راډيو سره د سړيو يا د ښځو په آواز كې د سندرو په باره كې موخبر كړئ چې اورېدل يې روا دي او كه ناروا؟ بينواتوجروا.

المستفتي: ډاکټر خالد حسين، ميرعلي، وزيرستان ۷۲ع/ ۵/ ۲۸

الجواب: د راډيو په ذريعه اگر كه عين اواز نه آورېدل كيږي. بلكې عكس يې اورېدل كيږي ليكن په خوند كې هيڅ فرق نشته، لهذا حكم د دواړو يو شان دی، ويشيراليه حديث: كأنه ينظر إليها. (١) وهوالموفق

د راډيو ټيپ ريكارډ استعمال او په كور كې د ساتلو حكم

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې زمونږ په مينځ كې ددې مسئلې په باره كې د علماوو ترمنځ اختلاف دی چې په كوم كور كې راډيو يا ټيپ ريكارډ وي، په هغو باندې كه سندرې غږوي او كه نه، دغه كور ته د رحمت پرښتې نه داخليږي او ځينو ويلي دي چې په راډيو سره تلاوت او خبرونه اورېدل روا دي، شرعي حكم يې څه دی؟ بينواتوجروا.

المستفتي: مولوي محمد رضا، كوئټه....۵/ مئی ۱۰۸۶ع

---

١) عن ابن مسعود رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ :لاتباشر المرأة المرأة فتنعتها لزوجها كأنه ينظر إليها،متفق عليه.

(مشكوة المصابيح ۲۶۸ ،باب النظر إلى المخطوبة)

الجواب: د عام عرف په بناء دا آلات د لهو دي د هغو په كور كې ساتل ناروا دي، (۱) كما صرّح به في ثمرة الأوراق. البته كله چې د كوم كس متعلق دا معلومه شي چې هغه دغه شيان د صحيح مقصد لپاره په كور كې ايښي دي؛ نو بيا ورته ممنوع ويل بنه نه دي (۲)، **وهوالموفق**

د ټي وي استعمالول

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې د ټي وي استعمال روا دى كه ناروا؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: مولوي عبد القيوم، كيمل پور ۹/ ۹۷ع

الجواب: ټي وي بذات خود يوه آله ده د هغې ساتل نه مطلوب دي او نه ممنوع. د ممنوع كېدو فتوى له اوريدو او ليدلو سره متعلق د مفاسدو په بناء وركول شوې ده، كله چې له همدې مفاسدو څخه حفاظت حاصل شي؛ نو د ممنوعيت حكم بې معنى شو. (۳) **وهوالموفق**

---

۱) في الخلاصة :ولم امسک في بيته شيئا من المعازف والملاهي كره ويأثم وإن كان لا يستعملها لأن إمساک هذه الأشياء يكون للهو عادة.

(خلاصة الفتاوى ۴:۲۳۸، كتاب الكراهية،الفصل الثاني في العبادات)

۲) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: إن آلة اللهو ليست محرمة لعينها بل لقصد اللهو منها اما من سامعها أومن المشتغل بها وبه تشعر الإضافة ألاترى أن ضرب تلک الآلة بعينها حل تارة وحرم أخرى باختلاف النية بسماعها والأمور بمقاصدها.

(ردالمحتار ۵:۲۴۷، كتاب الحظر والإباحة، قبيل فصل في اللبس)

وقال المفتي كفايت الله رحمه الله تعالى: د ريډيو مشين په كور كې لګول په دې شرط جائز دى چې په هغې كې صرف خبرونه او مباح تقريرونه اوروللى شي، ګانې، سندرې او ناجائز تقريرونه ....(د حاشيې پاتې برخه په بل مخ)

د بې حيايۍ او مختلفو مفاسدو په وجه د ټي وي کتل ناروا دي

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په موجوده وخت کې د ټي وي کتل څنګه دي؟ که چيرته کتل يې حرام دي نو علماء کرام ولې ورته ګوري، د البلاغ مياشتيني مجله چې له کراچۍ څخه خپرېږي د هغې مطابق د هر ډول مذهبي پروګرام کتل په ټي وي باندې ګناه ده، مهرباني وکړئ مسئله واضحه کړئ؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: نور محمد، چکوال، جهلم ۸۵ع/۷/۲۸

الجواب: ټي وي د مختلفو مفاسدو لپاره سبب دی، مقصود بالذات ترې د تقريرونو اوريدل نه دي بلکې بې حيائي ده، د هغه کتل ناروا دي.[۱] د يو شمير علماوو د ټي وي په ښيښه (سکرين) باندې راتلل په جواز باندې استدلال نه جوړيږي **وهوالموفق**

د ټي وي د خرڅولو او اخيستلو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو د ټي وي په باره کې چې د هغه اخيستل د هغه کتل کله چې په هغه کې د ژونديو شيانو عکسونه راځي، د شريعت له مخې روا دي او که نه؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: قاري محمد حنيف، ملتان ۱۹/ربيع الثاني ۱۴۰۴هـ

(د حاشيې پاتې برخه)..... وانه وريدل شي، په ريډيو باندې قرآن مجيد ويل او د ريډيو په ذريعه قرآن کريم اوريدل مباح دی.
(کفايت المفتي ۹:۲۱۸، کتاب الحظر والإباحة)

۱) قال الدكتور وهبة الزحيلي رحمه الله تعالى: سدّ الذرائع أصل من أصول الشريعة الإسلامية وحقيقته: منع المباحات التي يتوصل بها إلى مفاسد أومحظورات.

سدّالذرائع لايقتصرعلى مواضع الاشتباه والاحتياط، وإنمايشمل كل مامن شأنه التوصل به إلى الحرام.....وضابط منع الذريعة، أن تكون من شأنها الإفضاء إلى المفسدة لا محالة قطعاً أو كثيراً. (الفقه الإسلامي وأدلته ۷:۵۲۵۸، بشأن الذرائع)

الجواب: په هغه شیښه (آئینه) کې اګر که عکس لیدل کیږي مګر چونکه په همدغه عکس سره د اصل په شان نفساني خواهشات پوره کیږي. لهذا د حدیث په بناء کأنه ینظر الیها[1] د دواړو حکم یو دی او چونکه دغه آله عموماً د لهو لعب په ارادې سره اخیستل کیږي، لهذا عامه فتوی د عدم جواز صحیح ده[2]

وهوالموفق

په ټېپ وي باندې د تلاوت په اوریدو کې کوم ثواب نشته

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په ټېپ وي باندې تلاوت اوریدل څنګه دي؟ ایا دا د ثواب باعث ګرځي؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي جناب بغداد. وزیرستان

الجواب: په ټېپ وي باندې د تلاوت په اوریدلو کې نه کوم ثواب شته او نه کوم عذاب، **لأن المسموع ههنا عکس صوت القاری کالصدی دون أصله[3] وهوالموفق**

---

۱) عن ابن مسعود رضي الله تعالی عنه قال قال رسول الله ﷺ :لاتباشر المرأة فتنعتها لزوجها کأنه ینظر إلیها ،متفق علیه.
(مشکوة المصابیح ۲۶۸، کتاب النکاح ،باب النظر إلی المخطوبة)

۲) قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالی :ان ما قامت المعصیة بعینه یکره بیعه تحریماً وإلا فتنزیهاً .... وجازحمل خمر ذمي بأجر لاعصرها لقیام المعصیة بعینه.
(الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدین :لعل المراد هنا عصرالعنب علی قصد الخمریة فإن عین هذا الفعل معصیة بهذا القصد.(ردالمحتار ۵: ۲۷۷کتاب الحظر والإباحة ،فصل في البیع)

۳) قال العلامة الکسائي رحمه الله تعالی :بخلاف السماع من الببغاء والصدی ،فإن ذلک لیس بتلاوة. (بدائع الصنائع ۱: ۴۴۰،کتاب الصلوة ،سبب وجوبها)

په راډیو، ټي وي، ټیپ ریکارډ او لاسپیکر باندې د تلاوت په اوریدو کې فرق (توپیر)

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په ټي وي، راډيو، ټيپ ريکارډ باندې د قرآن په اوريدو کې څه فرق (توپير) دی؟ همدارنګه په لاسپيکر باندې تلاوت څه حکم لري؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: جناب بغداد، وزيرستان ۱۸/ شوال ۱۴۰۴هـ

الجواب: دلاسپيکر په ذريعه اصلي آواز پورته کيدلی شي. **عند أهل الفن**[1] او په دې نورو آلاتو سره د آواز عکس اوريدل کيږي، **ولي في كون الأول أصل الصوت نظراً لأن المشاهدة أن الصوت يسمع بعد سكوت المتكلم على مكبر الصوت، فأفهم، وهوالموفق**

د (الله اکبر) فلم کتل ناروا دي

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د الله اکبر فلم کتل روا دي او که ناروا؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: محمد رحمن فاروقي، کراچي. ۲۴/۳/۷۶

الجواب: د دغه فلم کتل ناروا او حرام دي، [2] د اسلام دښمنانو لومړی (اول) د

---

۱) قال الشيخ الاسلام حسين احمدالمدني رحمه الله تعالى: د آله مكبر الصوت (لاسپيكر) متعلق د فن د ماهرينو نه په هندوستان او يورپ كې تحقيق وشو او معلومه شوه چې آواز هم هغه دی د آلې په وجه هغې كې صرف وسعت او قوت پيدا كيږي. (آلات جديده ک ے شرعی احكام: ۱۲۷)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: دلت المسألة أن الملاهي كلها حرام ويدخل عليهم بلا إذنهم لإنكارالمنكر، قال ابن مسعود: صوت اللهو والغناء ينبت النفاق في القلب كما ينبت الماء النبات (الدر المختار)

وقال العلامة ابن عابدين: (قوله ودلت.... (باقي حاشيه په بل مخ)

کتابت په ذریعه رحمة للعلمین د غله او شاعر په نوم یاد کړی و، په هغې کې له ناکامۍ وروسته دويمه حربه يې په کار واچول، دغه چالاک دښمن په داسې رنګ کې دغه فلم وړاندې کوي چې بالاخر د مسلمانانو په ايمان باندې د ډاکې په اچولو کې کامياب شي **وهوالموفق**

په وي سي آر او سينما کې د فلم په کتلو کې هيڅ فرق نشته

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې نن سبا وي سي آر عام دی او خلک په هغه باندې فلم کتل ګناه نه ګڼي، بلکې يو شمير کسانو هغه په اسلام کې روا بللی دی، د هغوی اړوند څه حکم دی؟ **بينواتوجروا**.

المستفتي: علي سجاد، رياض، سعودي عرب ... ۷/ رمضان المبارک ۱۴۰۵ھ

الجواب: د وي سي آر او سينما په کتلو کې هيڅ فرق نشته، لکه څرنګه چې د

(د حاشيې پاتې برخه) المسألة الخ) لأن محمداً أطلق اسم اللعب والغناء فاللعب وهواللهو حرام بالنص قال عليه الصلوة والسلام لهو المؤمن باطل إلا في ثلاث....وكذا قول الإمام ابتليت دليل على أنه حرام.

(رد المحتار ۵:۲۴۵، كتاب الحظر والإباحة)

وقال العلامة الطحطاوي رحمه الله تعالى: (وكره كل لهو) أى لعب وعبث فالثلاثة بمعنى واحد كما في شرح التأويلات والإطلاق شامل لنفس الفعل واستماعه كالرقص والسخرية والتصفيق وضرب الأوتار من الطنبور والبربط والرباب والقانون والمزمار والصنج والبوق فإنها كلها مكروهة لأنها زيّ الكفار.

(الطحطاوي على الدر المختار ۴:۱۹۸، كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

غير محرم بدن ته کتل او د هغه د اصل اواز اوريدل ممنوع دي،(۱) همدارنګه بناء پر حديث كأنماينظرإليه،(۲)د غير محارمو عکسونو ته کتل او د اواز عکس اوريدل هم ممنوع دی، لوجود المنشأ المنع في الأخرين أيضاً(۳)وهوالموفق

د ټي وي سره د نورو محرماتو استعمالونکي حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په کور کې تلويزيون ساتل، په هغه باندې خبرونه اوريدل او د معلوماتي پروګرامونو کتل څنګه دي؟ ددې ګناه شته؟ بينواتوجروا.

المستفتي: محمد صديق، نرياب، هنګو....۸۹ع ۶/ ۳۱

الجواب: چونکه ټي وي په عام ډول د لهو لعب لپاره استعماليږي، لهذا د هغه

---

۱) عن أبي سعيد رضي الله تعالىٰ عنه قال قال رسول الله ﷺ :لاينظر الرجل إلى عورة الرجل ولاالمرأة إلى عورة المرأة.

(مشكوةالمصابيح ۲۶۸،باب النظر الى المخطوبة)

۲) وعن ابن مسعود رضي الله تعالىٰ عنه قال قال رسول الله ﷺ :لاتباشر المرأة لتنعتها لزوجها كأنماينظر إليها.

(سنن أبي داؤد ۲:۲۹۲،كتاب النكاح ،باب مايؤمر به من غضّ البصر)

۳) قال المفتي محمدشفيع رحمه الله تعالىٰ : د کوم شي آواز چې په اصل کې اوريدل حرام دي د هغې اوريدل په ګراموفون کې هم قطعاً بلا اختلافه حرام دي، مثلاً د ښځو ګاني اګرچې بغير د مزامير وي او د سړيو د سندرو سره د مزامير اود ګډا ډمتوب سره، دغسې د يو مسلمان غيبت يا په هغه باندې بهتان يا يوه دروغ خبره لکه څرنګه چې اصل اوريدل او بل ته اورول حرام دي دغسې په دې آله کې هم اتفاقا او اجماعا حرام دي. كما لايخفي.

(آلات جديده کے شرعی احکام : ۱۳۹)

استعمال د فتوی له مخې ناروا دی، البته کوم کس چې د متعلقه محرماتو څخه ځان ساتلی شي نو د هغه لپاره ناروا نه دي (١)**وهوالموفق**

په کور کې د ښځو لپاره د راډیو ساتلو حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په کور کې د ښځو لپاره د راډیو ساتل روا دي که ناروا؟ **بینواتوجروا!**

المستفتي: شیر خان، چارسده. ۶۷۶ع/ ١٠/ ١١

الجواب: کله چې په تجربې وغیره سره ثابته شي چې ښځې په هغې باندې سندرې اوري یا ګډېږي نو د داسې ښځو لپاره د هغوی په کور کې ساتل ناروا ګرځي (٢) **وهوالموفق**

د راډیو په خبرونو باندې له سوچ کولو مخکې اعتماد ناروا دی

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې ماته په

---

١) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى :ومن ذلک ضرب التوبة للتفاخر فلو للتنبيه فلا بأس به. (الدر المختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : إن آلة اللهو ليست محرمة لعينها بل لقصد اللهو منها اما من سامعها أومن المشتغل بهاوبه تشعر الإضافة ألاترى أن ضرب تلک الآلة بعينها حل تارة وحرم أخرى ،بإختلاف النية بسماعها،والأمور بمقاصدها.

(ردالمحتار٥: ٢٤٧، كتاب الحظر والإباحة ،قبيل فصل في اللبس)

٢) وفي الخلاصة :ولو أمسک في بيته شيئا من المعازف والملاهي كره ويأثم وإن كان لا يستعملها لأن إمساک هذه الأشياء يكون للهو عادة.

(خلاصة الفتاوى ٤: ٢٣٨، كتاب الكراهية ،الفصل الثاني في العبادات)

راډیو باندې خبرونه او د هیواد حالات اورېدل روا دي که ناروا؟ بینوا توجروا.

المستفتي: شیر خان، چارسده..... ۷۴ع/ ۱۰/ ۱۱

الجواب: اورېدل یې روا دي، (۱) لیکن په هغو باندې د سوچ کولو وړاندې اعتماد ناروا دی (۲) **وهوالموفق**.

په ټي وي د بادشاه یا مولوي صاحب تقریر اورېدل او عکس ته یې کتل

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې که چېرته په ټي وي باندې فحش سندرې او ناوړه لیکچر نه وي، نو عام قومي پروګرام یا اخبار او تقریرونه اورېدل څنګه دي؟ **بینوا توجروا.**

المستفتي: شاهد اقبال، ذره بازار..... ۷۷ع/ ۱۰/ ۱۷

الجواب: په ټي وي د کوم بادشاه (صدر) یا د مقرر تقریر اورېدل نه امر مطلوبه دی او نه امر ممنوعه دی، بلکې مباح او روا کار دی، په ځانګړي ډول کله چې له مفاسدو څخه خالي وي، (۳) باقي د عکس او تصویر کتل بذات خود امر ممنوع نه دی. **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: إن آلة اللهو ليست محرمة لعينها بل لقصد اللهو منها إمامن سامعها أومن المشتغل بها وبه تشعر الإضافة ألاترى أن ضرب تلك الآلة بعينها حل تارة وحرم أخرى باختلاف النية بسماعها والأمور بمقاصدها.
(ردالمحتار ۵: ۲۴۷، كتاب الحظر والإباحة قبيل فصل في اللبس)

۲) قال الله تبارك وتعالى: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَن تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ. (سورة الحجرات آيت: ۶)
وقال الحافظ ابن كثير رحمه الله تعالى: يأمر تعالى بالتثبت في خبر الفاسق ليحتاط له لئلا يحكم بقوله، فيكون في نفس الأمر كاذبًا أومخطئًا.
(تفسير ابن كثير ۴: ۲۶۴، سورة الحجرات آيت: ۶)

۳) د لومړۍ حاشيې حواله ده)

د راډيو، ټي وي د لهو او لعب د آلاتو جوړول او مرمت کول ناروا دي

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زما يو دوست د راډيو، ټي وي، تلويزيون، ټيپ ريکارډ، وي سي آر او وغيره جوړولو کار کوي، د هغه په غوښتنه تاسو ته عرض دی چې د شريعت له مخې دغه کار څنګه دی؟ څکه که چيرته شرعاً په دې کې بدي (قباحت) وي نو له دې څخه احتراز کولی شي؟ بينواتوجروا.

المستفتي: اظهار الحق، پشاور......۲۳/ شوال ۱۴۰۳هه

الجواب: آلات بذات خود نه حسن دي نه قبيح، البته د خارجي عوارضو له وجې په هغو کې حسن يا قبحه پيدا کېدی شي (۱) او چونکه دغه آلات په عام ډول په لهو لعب او عياشۍ کې استعماليږي، لهذا د هغو جوړول يا مرمت کول ناروا دي (۲) **وهوالموفق**

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى :ومن ذلک ضرب النوبة للتفاخر فلو للتنبيه فلا بأس به. (الدرالمختار)

وقال العلامة الشامي رحمه الله تعالى :وهذا يفيد أن آلة اللهو ليست محرمة لعينها بل لقصد اللهو منها إما من سامعها أو من المشتغل بها وبه تشعر الإضافة ألاترى أن ضرب تلک الآلة بعينها حل تارة وحرم أخرى باختلاف النية بسماعها والأمور بمقاصدها.

(ردالمحتار ۵: ۲۴۷، كتاب الحظر والإباحة، قبيل فصل في اللبس)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: أن ما قامت المعصية بعينه يكره بيعه تحريماً وإلا فتنزيهاً .... وجازحمل خمر ذمي بأجر لاعصرها لقيام المعصية بعينه. (الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :لعل المراد هنا عصر العنب على قصد الخمرية فإن عين هذا الفعل معصية بهذا القصد.

(ردالمحتار ۵: ۲۷۷، كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

د راډیو او ټي وي متعلق مختلف سوالونه

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د شريعت له مخې په تلويزيون او راډيو کې څه فرق دی؟

(۱) د همدې استعمالوونکي پسې لمونځ کول روا دی که ناروا؟

(۲) د هغو استعمال ګناه کبيره ده که صغيره، ممنوع دی که مباح؟

(۳) په هغو خبرونه اوريدل، يا د حضرت تهانوي رَحِمَهُ اللّٰهُ د درس قرآن، يا د لاهور اسلامي کانفرنس او همدارنګه د نورو پروګرامونو ليدل څنګه دي؟

(۴) که چيرته د غير مشروع نشرياتو (خپرونو) له وجې د هغو استعمال ممنوع دی نو بيا هر ډول د حرب او قتال آلات ساتل ولې ممنوع نه دي؟ لکه چې په دې سره هم هر وخت د کوم مسلمان د ناروا قتل صدور ممکن بلکې يقيني دی، جواب له دليل سره وليکئ؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: سيد فضل معبود، عثمان خيل، درګی ... ۹/ ربيع الاول ۱۳۹۵ هـ

الجواب: د راډيو په ذريعه د اواز عکس رسيدلی شي او د تلويزيون په ذريعه د اواز او بدن دواړو عکس رسيدلی شي. پس د راډيو په ذريعه خبرونه وغيره د روا اوازونو اوريدل روا شول. د سرود او ناروا اوازونو اوريدل ناروا شول (۱) **يجري على العكس حكم الأصل**

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وهذا يفيد أن آلة اللهو ليست محرمة لعينها بل لقصد اللهو منها إمامن سامعها أومن المشتغل بها وبه تشعر الإضافة ألاترى أن ضرب تلك الآلة بعينها حل تارة وحرم أخرى باختلاف النية بسماعها والأمور بمقاصدها.

(رد المحتار ۵: ۲۴۷، کتاب الحظر والإباحة، قبيل فصل في اللبس.

لحديث: كأنما ينظر اليها (رواه ابوداؤد)(١) أنكر عليه الصلوة والسلام على المتخيل أيضًا. او د تلويزيون په ذريعه كه چيرته روا اواز د سري ښځه واورېدل شي نو د هغه په كتلو او اورېدلو كې هيڅ حرج نشته، كه چيرته ښځي ته ګوري او اوري يې نو د مخكني حديث د دلالت په بناء ناروا او منكر شول، ولما حرم النظر إلى الثوب ان كان تصف حجم البدن به كما في رد المحتار ٥: ٣٢١(٢) فتكون النظر الى العورة ممنوعة أيضًا، فافهم.

(٢) د همدې دوارو غير مشروع استعمالوونكى فاسق دى. (٣) د هغه پسې اقتداء كول (د صالحينو لپاره) مكروه ده (٤) وهوالموفق

---

١) عن ابن مسعود رضي الله تعالىٰ عنه قال قال رسول الله ﷺ: لاتباشر المرأة المرأة فتنعتها لزوجها كأنما ينظر إليها.

(سن أبي داؤد ٢: ٢٩٢، كتاب النكاح، باب مايؤمر به من غض البصر)

٢) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ: ولوكانت (ثياب المرأة) تصف (ماتحتها) يكون ناظراً إلى أعضائها .... والعلة والله أعلم خوف الفتنة.... ويحتمل أن تكون العلة كون ذلك استمتاعاً بمالايحل بلاضرورة.

(ردالمحتار ٥: ٢٦٣، كتاب الحظر والإباحة، فصل في النظر والمس)

٣) في التاتارخانية: وفي فتاوى أهل سمرقند: استماع صوت الملاهي كالضرب بالقصيب وغير ذلك حرام من الملاهي وقد قال عليه السلام: الملاهي معصية والجلوس عليها فسق والتلذذ بها من الكفر.

(فتاوى تاتارخانية ١٨: ١٨٩، كتاب الكراهية، الفصل الثامن عشر في الغناء واللهو)

٤) قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالىٰ: وينبغي أن يكون محل كراهة الاقتداء به عند وجود غيرهم وإلافلا كراهة كمالايخفى.

(البحر الرائق ١: ٣٤٩، باب الإمامة)

په لاسپیکر باندې د خطبې او جمعې لمونځ

او د ښځو لپاره د خطبې اورېدلو مسئله

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په لاسپیکر باندې د خطبې او لمانځه څه حکم دی؟ ايا د خطبې اوريدل په ښځو باندې هم واجب دي؟ **بينوا توجروا**

السمتفتی: متعلم حقانيه....۸/ جمادی الثانی ۱۴۰۴هه

الجواب: کله چې د اوازونو د ټکر (تصادم) خطر نه وي نوروادی او په ښځو باندې نه د خطبې اوريدل واجب دي او نه پرې د جمعې لمونځ واجب دی. (۱) **وهوالموفق**

په ټیپ ریکارډ باندې د تلاوت په اورېدلو کې هیڅ ثواب نشته

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې سورت يسين په کيسټ (فيته) کې ثبت (ريکارډ) شوی. د سهار په وخت کې د ثواب په نيت اوريدل د ثواب کار دی او که نه دی؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: حاجي مسلم خان، تنگی، چارسده.... ۱۹۹۲ع/ ۹/ ۵

الجواب: دقرآن د عکس په اورېدو کې نه ثواب شته نه عذاب دی (۲) **وهوالموفق**

---

۱) في الهندية: لاتجب الجمعة على العبيد والنسوان والمسافرين والمرضى.
(فتاوى هندية ۱: ۱۴۴، الباب السادس عشر في صلاة الجمعة)

وقال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: وشرط وجوبها الإقامة والذكورة ....فلا تجب على مسافر ولا على امرأة.
(البحر الرائق ۲: ۱۵۱، باب صلاة الجمعة)

۲) قال العلامة الكاساني رحمه الله تعالى: بخلاف السماع من الببغاء والصدى، فإن ذلک ليس بتلاوة. (بدائع الصنائع ۱: ۴۴۵، سجدة التلاوة، فصل في بيان من تجب عليه السجدة)
وقال المفتي كفايت الله رحمه الله تعالى: په... (دحاشيې پاتې برخه په راوانه صفحه)

په جومات کې د ټيپ ريکارډ په ذريعه وعظ اورېدل

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په جومات کې د ټيپ ريکارډ په ذريعه وعظ اورېدل روا دي او که نه؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: نامعلوم

الجواب: نه ممنوع دي نه مطلوب دي. **وهوالموفق**

د راډيو په ذريعه د روژې، اختر او صبح صادق معلومولو مسئله

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د راډيو په ذريعه د روژې، اختر او صبح صادق ثابتول روا دي او که نه؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: نامعلوم

الجواب: په ديني امورو کې له علماء کرامو پرته د همدې امورو فيصله کول خطرناک دي (١) **وهوالموفق**

په ټي وي باندې د خانه کعبې، حج، اذان، تلاوت او نورو ديني معلوماتو کتلو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو مولوي

(د حاشيې پاتې برخه)... ريډيو باندې قرآن مجيد لوستل او د ريډيو په ذريعه قرآن کريم اورېدل مباح دي.

(کفايت المفتي ۹: ۲۱۸، کتاب الحظر والإباحة، سولهواں باب ريډيو اور لاؤډ سپيکر کے بيان ميں)

١) قال العلامة القرطبي رحمه الله تعالى: فَسْـَٔلُوٓا أَهْلَ الذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ (النحل: ۴۳) وأجمعوا على أن الأعمى لابدله من تقليد غيره ممن يثق بميزه بالقبلة إذا أشكلت عليه، فكذلک من لاعلم له ولابصربمعنى مايدين به لابدله من تقليد عالمه، وكذلک لم يختلف العلماء أن العامة لايجوز لهاالفتيا، لجهلهابالمعاني التي منها يجوز التحليل والتحريم. (الجامع لأحكام القرآن ۱۱: ۲۴۱، سورة النحل آيت: ۴۳)

صاحب ټي وي ته ډمخانه وويل، په داسې حال کې چې په ټي وي باندې ديني معلومات، د کلام پاک تلاوت، اذان، خانه کعبه او حج هم کتل کيږي. ايا رښتيا هغه ډمخانه او د ګناه شی دی؟ او د ذکر شويو شيانو په هغه باندې کتل روا دي او که نه؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي: زمان خان، کيماړی کراچی ۱۹/ شوال ۱۴۱۱هه

الجواب: ومنه الصدق والصواب ټي وي بذات خود د اسلحې په شان يوه آله ده. که چيرته په روا شيانو کې استعمال شي؛ نو د غزا د اسلحې په شان روا کيږي او که چيرته په ناروا کارونو کې استعمال شي؛ نو د قطاع الطريق د اسلحې په شان ناروا کيږي[1]، او چونکه مشهور دويم شق دی، لهذا فتوی د عدم جواز ورکول کيږي، په اشرف المخلوقات باندې ضروري ده چې اطاعت وکړي که نه نو اسفل سافلين به شي [2]. **وهو الموفق**

د راډيو او ټي وي جوړوونکي آمدن حرام دی

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په شريعت کې د راډيو او ټي وي جوړونکي آمدن حلال دی که حرام؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي: مولوي سيد امير، تخت بهائي مردان. ۲۸/ جمادی الثانی ۱۴۰۴ھ

الجواب: چونکې په عام ډول دغه آلات د لهو لعب په ډول استعماليږي، لهذا

---

۱) قال العلامة المرغيناني رحمه الله تعالى: ويكره بيع السلاح في أيام الفتنة....وقد بيناه في السير وإن كان لايعرف أنه من أهل الفتنة لابأس بذلك لأنه يحتمل أن لايستعمله في الفتنة فلايكره بالشك.

(الهداية ۴: ۴۷۲، كتاب الكراهية، فصل في البيع)

۲) قال الله تبارک وتعالى: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ.

(سورة النساء آيت: ۵۹)

جوړول يې په معصيت کې د مرستې (کومک) له وجې حرام دي. (۱) والله أعلم

په ټي وي باندې د فحش او بې حيايي پروګرامونو کتلو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې دلته په انګلينډ کې په هر کور کې د زړه خوشحاله کولو لپاره تلويزيون عام دی. اوس دوی يو پروګرام خپور (نشر) کړی دی کوم چې بې انتهاء په بې حيايي باندې مشتمل دی، غيرت يې نه مني چې مونږ مور، پلار او بچيان ټول يو ځای په يوه کمره کې هغه وګورو، د هغه د کتلو څه حکم دی؟ بينوا توجروا.

المستفتي: محمد اعظم، بولټين، انګلينډ ۱۹/صفر ۸۹ع

الجواب: چونکه د تلويزيون په ذريعه په غير محرمو باندې داسې نظر لګيږي کوم چې موجب فتنه او د شهوت باعث دی، ګويا براه راست او د تلويزيون په ذريعه په کتلو سره يو شانته لذت (خوند) او شهوت پوره کېدلی شي، لهذا په تلويزيون باندې پروګرام کتل د اسلامي اصولو په بناء باندې ناروا دي، في رد المحتار ۵ مخ ۳۲۷، الثاني لم أر ما لو نظر إلى الأجنبية من المرآة أو الماء وقد صرحوا في حرمة المصاهرة بأنها لا تثبت برؤية فرج من مرآة أو ماء لأن المرئي مثاله لا عينه بخلاف ما لو نظر من زجاج أو ماء هي فيه لأن البصر ينفذ في الزجاج والماء فيرى ما فيه، ومفاد هذا أنه لا يحرم نظر الأجنبية من المرآة أو الماء الا أن يفرق بأن حرمة المصاهرة

---

۱) قال الله تبارك وتعالى: وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ. (سورة المائدة آيت: ۲)
وفي المرقدة: (عن جابر رضي الله تعالى عنه قال لعن رسول الله ﷺ اكل الربا ومؤكله وكاتبه وشاهديه) قال النووي فيه تصريح بتحريم كتابة المترابيين والشهادة عليهما وبتحريم الإعانة على الباطل.
(مرقاة المفاتيح ۶: ۵۹، باب الربا)

بالنظر ونحوه شدد فی شروطها لأن الأصل فیها الحل بخلاف النظر لأنه انما منع منه خشیة الفتنة والشهوة، وذلك موجود هنا، انتهی، ویدل علیه أیضًا ما فیه ٥: ٣٢٨، ولو كانت (ثیاب المرأة) تصف (ماتحتها) یكون ناظرًا الی اعضاءها ویؤخذ مما هنا تقییده بما اذا كان بغیر شهوة فلو بها منع مطلقًا، انتهی(١) وجه الدلالة أنه لما حرم النظر الی اعضائها عند الستر بالثیاب المخصوصة فالنظر إلیها بلا ثیاب أشد فتنة منه فافهم، وهوالموفق.

په راډیو، ټیپ ریکارډ او ټي وي باندې د تلاوت یا د سندرو اوریدو حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په ټیپ ریکارډ یا تلویزیون باندې د تلاوت اوریدل یا د سندرو اورېدل څه حکم لري او ایا د تلاوت ثواب په دې صورت کې شته دی؟ او ایا د سندرو په اورېدلو باندې په دې صورت کې ګناه شته؟ بینوا توجروا.

المستفتی: عزیز الرحمن، متعلم حقانیه اکوړه خټک ... ۴/ جمادی الثانی ۱۴۰۳ھ

الجواب: چونکه د دغو آلاتو په ذریعه اصل اواز نشي اوریدل کیدی بلکې عکس اورېدل کیږي، لهذا په همدې آلاتو سره اوریدل نه بذات خود موجب ثواب دي او نه موجب عذاب دي، (٢) لیکن کله په عکس سره هغه ناروا خواهشات پوره کوي کوم چې په اصل سره پوره کیدی شي نو دغه عکس هم ناروا شو،

---

١) ردالمحتار ٥: ٢٦٣، کتاب الحظر والإباحة، فصل في النظر والمس)

٢) قال العلامة الکاساني رحمه الله تعالی: بخلاف السماع من الببغاء والصدی فإن ذلک لیس بتلاوة.

(بدائع الصنائع ١: ٤٤٥، کتاب الصلوة، سبب وجوبها)

لحديث أبي داؤد كأنما ينظر اليها الخ(۱) وهوالموفق.

په جومات کې په ټيپ ريکارډ سره وعظ اورېدل

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې که چيرته په ټيپ ريکارډ کې د وعظ او نصيحت پيټه (کيسټ) واچول شي نو د هغې په جومات کې اورېدل ممنوع دي او که نه؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: مولانا آغا محمد طيب، بلوچستان ... ۶/ رمضان المبارک ۱۳۹۹ھ

الجواب: که چيرته له ايذاء (ضرر) څخه خالي وي نو نه ممنوع دی او نه مطلوب دی، که نه نو ممنوع دی (۲). **وهوالموفق**

په جومات کې په راډيو باندې د تلاوت، تقرير، د اختر او روژې د سپوږمۍ خبر اورېدل

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د قرآن مجيد تلاوت، يا د يوچا تقرير اورېدل، يا د اختر، لوی اختر يا د رمضان شريف د سپوږمۍ د خبر لپاره په جومات کې د راډيو اورېدل څنګه دي؟ دا خو به د جومات توهين نه وي؟ راډيو خو په ظاهره مشين دی، خو فلم سندرې، ترانې او نغمې ناروا کېدلی شي؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: نامعلوم ... ۸/ رمضان المبارک ۱۳۸۸ھ

---

۱) عن ابن مسعود رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: لاتباشر المرأة المرأة فتنعتها لزوجها كأنما ينظر إليها.
(سنن أبي داؤد ۲: ۲۹۲، كتاب النكاح، باب مايؤمر به من غض البصر)

۲) فقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: أجمع العلماء سلفاً وخلفاً على استحباب ذكر الجماعة في المسجد وغيره إلا أن يشوّش جهرهم على نائم أومصل أو قارئ.
(ردالمحتار ۱: ۴۸۸، باب مايفسد الصلاة ومايكره فيها، مطلب في رفع الصوت بالذكر)

الجواب: دا مقاصد له ځايي (مقامي) علماوو څخه حاصلېدلی شي، همدارنګه په راډيو سره له جومات څخه د بانګ هم کېدلی شي. لهذا راډيو (کومه چې د عام لهو لعب له آلاتو څخه ده) جومات ته يې د وړلو هيڅ ضرورت نشته (۱). **وهوالموفق.**

په لاسپيکر بانګ د لمانځه او اذان حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په تيرو ورځو کې مې يوه فتوی له نظره تيره شوه په کومه کې چې د عمدة الرعاية په حواله د مولانا عبدالحی مرحوم او ځو الفاظ د مفتي شفيع درج شوي وو چې که چيرته امام په لاسپيکر بانګ د امامت په حالت کې قرآن شريف وايي نو دا ډول د قرآن شريف ويل په لمانځه کې روا نه دي، هو! اذان وغيره روا دی، همدارنګه په دې حالت کې دامام پسې اقتداء کول هم ناروا ده، سره له دې چې ډير غټ غټ علماء په لاسپيکر بانګ لمونځ کوي، تاسو مو په ځواب بانګ ونازوئ؟ **بينواتوجروا**

المستفتي: غلام محمد، مردان...... ۲۸ / ذی الحجه ۱۳۹۹ هه

الجواب: د لاسپيکر او نورو نويو موجوده الاتو حکم دا دی چې بذات خود دغه الات نه مقصود دي او نه ممنوع، لحديث أبي داؤد: وماسکت عنه فهو عفو (۲).

---

۱) عن واثلة بن الأسقع رضي الله تعالیٰ عنه أن النبي ﷺ قال: جنبوا مساجدكم صبيانكم ومجانينكم وشراءكم وبيعكم وخصوماتكم ورفع أصواتكم وإقامة حدودكم وسلّ سيوفكم.
(سنن أبي ماجة: ۵۵، أبواب المساجد والجماعات، باب مايكره في المساجد)

۲) عن ابن عباس رضي الله تعالیٰ عنهما قال كان أهل الجاهلية يأكلون أشياء ويتركون أشياء تقذراً، فبعث الله نبيه ﷺ وأنزل كتابه وأحلّ حلاله وحرّم حرامه، فما أحلّ فهو حلال وما حرّم فهو حرام، وماسكت عنه فهوعفو.
(سنن أبي داؤد ۲: ۵۳۹، قبيل كتاب الطب، باب مالم يذكر تحريمه)

او دويمه يوه قاعده دا هم ده: لأن الأصل الإباحة في الأشياء[1] لهذا د لاسپيکر او نورو آلاتو بذات خود استعمال روا دی، البته که چيرته د لهو لعب يا د نورو خلاف شريعت امورو سبب ګرځي؛ نو د هغو استعمال ناروا دی. [2] همدارنګه په لمانځه کې د ضرورت په وخت کې د لاسپيکر استعمال روا دی او د لاسپيکر د استعمال په وخت کې اقتداء هم صحيح ده، هكذا حكم تلاوة القرآن والعوظ والتقرير وغير ذلك[3] وهو الموفق

د سندرو اورېدو لپاره د راډيو اخيستونکی مجرم دی که نه؟

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې يو کس د

---

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وصرّح في التحرير بأن المختار أن الأصل الإباحة عند الجمهور من الحنفية والشافعية، وتبعه تلميذه العلامة قاسم، وجرى عليه في الهداية من فصل الحداد.
(ردالمحتار ۱: ۷۷، كتاب الطهارة، مطلب المختار أن الأصل في الأشياء الأباحة)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ومن ذلك ضرب النوبة للتفاخر، فلو للتنبيه فلا بأس به. (درمختار)
وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وهذا يفيد أن آلة اللهو ليست محرمة لعينها، بل لقصد اللهو منها إما من سامعها أو من المشتغل بها، وبه تشعر الإضافة، ألا ترى أن ضرب تلك الآلة بعينها حلّ تارة وحرم أخرى باختلاف النية بسماعها و الأمور بمقاصدها. (رد المحتار ۵: ۲۴۷، كتاب الحظر والإباحة، قبيل فصل في اللبس)

۳) قال المفتي كفايت الله رحمه الله تعالى: ما خوځله ددې آلې په لمونځ کې د استعمال حکم ليکلی دی ...... هغه دا چې في حد ذاته ددې آلې د عدم جواز هيڅ وجه نشته په دې وجه د جمعې او د اخترونو خطبه او د وعظ او تقرير په مجلس کې ددې استعمال مباح دی، د لمونځ په لويو مجمعو کې څوک چې تکبير خلکو ته رسوي د هغوی د آواز اوچتولو لپاره هم استعماليږي؛ نو هيڅ باک نشته.
کفايت المفتي ۹: ۲۱۱، كتاب الحظر والإباحة)

عربستان څخه راډيو راوړې ده، اوس که چيرته په هغې راډيو باندې نور خلک سندرې اوري نو د هغه په حق کې ګناه شته او که نه؟

المستفتي: غلام رسول وزير، وانا کيمپ ديره... ۱۴۰۰هـ/ ۳/ ۲.

الجواب: سره له منع غږوونکی او اوريدونکی مجرم دی، راوړونکی مجرم نه دی، والدليل عليه أن الراديو آلة لاحسن فيها ولا قبح فيها من حيث هي كالسيف، فالمجرم هو المباشر دون المتسبب(١) فافهم، وهو الموفق.

په راډيو باندې د ښځو په اواز کې د خبرونو يا اعلاناتو آوريدو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په راډيو کې د ښځو په آواز باندې که خبرونه وي که ضروري اعلانونه وي، د سړي لپاره د هغو اوريدل صحيح دي او که نه؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي: ذاکر الله، پشاور... ۱۴۰۰هـ/ ۴/ ۲۱.

الجواب: د سړي لپاره د غير محرم ښځې اواز اوريدل ناروا دي (٢)، **وهو الموفق**

---

١) وفي شرح المجلة: إذا جمع المباشر والمتسبب أضيف الحكم إلى المباشر.
(شرح المجلة على هامش درر الحكام ١: ٨٠، المادة ٩٠)
وفي الأشباه: إذا اجتمع المباشر والمتسبب أضيف الحكم إلى المباشر.... فلا ضمان على من دفع إلى صبي سكيناً أو سلاحاً ليمسكه فقتل به نفسه.
(الأشباه والنظائر ١٦٣، القاعدة التاسعة عشرة)

٢) قال العلامة اللكهنوي: الاستفسار: صوت المرأة هل هو عورة؟
الاسبشار: اختلف فيه، فقيل: إنها عورة..... وفي فتح القدير: صرح في النوازل: أن نغمة المرأة عورة، وبنى عليها، أن تعلمها القرآن من المرأة أحب من تعلمها من الأعمى، ولهذا قال النبي ﷺ: التسبيح للرجل والتصديق للنساء، فلا يحسن أن يسمعها الرجل... وقيل: إنه ليس عورة ورجحه في الدر المختار،.... (پاتې حاشيه په بل مخ)

د تي وي اخيستل او د هغه پروګرامونو او عکسونو ته د کتلو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په موجوده وخت کې د تي وي اخيستل، د هغه په پروګرامونو کې دلچسپي اخيستل او د ډرامو او وغيره کتل روا دي او که ناروا؟ او دغه عکسونه کوم چې موږ ګورو حقيقت دی که تصوير دی او نن سبا خو په تي وي باندې ښه پروګرامونه هم شته دي؟ بينواتوجروا.

المستفتي: عبد المتين ډاګۍ، تصحيل صوابی، مردان ... ۱۴۰۰هـ/ ۱/ ۲۸

الجواب: په تلويزيون کې د آئينه په شان عکس ليدل کيږي نه اصل صورت، پس چونکه په دغه صورت سره هم نفساني لذت پوره کيدی شي، **لهذا حديث: إنما ينظر اليها (رواه أبو داؤد)** () وغيره په بناء باندې په دغه آله سره نظر بالشهوة ناروا او منکر دی. ()[۲] **وهوالموفق**

(باتي حاشيه) واعتمد عليه ابن نجيم المصري في الأشباه،وفي غمز عيون البصائر: في شرح المنية :الأشبه أن صوتها ليس بعورة،وإنما يؤدي إلى الفتنة.
(نفع المفتي والسائل ۲۰۰،۲۰۱،مايتعلق بالنظر والمس)

۱) عن ابن مسعود رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ :لاتباشر المرأة لتنعتها لزوجها كأنما ينظر إليها.
(سنن أبي داؤد ۱ :۲۹۲، كتاب النكاح ،باب مايؤمر به من غض البصر)

۲) قال العلامة ابن عابدين :(قوله النظر إلى ملاءة الأجنبية بشهوة حرام)....لو كان على المرأة ثياب لابأس بأن يتأمل جسدها مالم تكن ملتزقة بها تصف ماتحتها لأنه يكون ناظراً إلى ثيابها وقامتها،فهو كنظره إلى خيمة هي فيها ولو كانت تصف يكون ناظراً إلى أعضائها... فإن نظره بشهوة إلى ملاءتها أوثيابها وتأمله في طول قوامها ونحوه قد يدعوه إلى الكلام معها ثم إلى غيره،ويحتمل أن تكون العلة كون ذلك استمتاعاً بمالايحل بلاضرورة. (ردالمحتار ۵: ۲۶۳، كتاب الحظر والإباحة،فصل في النظر والمس)

د سینما کتونکو حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د سینما کتلو څه حکم دی؟

المستفتي: کامران راشدی ..... ۶ / ربیع الثانی ۱۴۰۵ هـ

الجواب: د سینما کتل حرام دي، په هغې کې سرود اوربدل کیږي (۱) او غیر محارم صورتونه یکې لیدل کیږي. (۲) په همدې عکس سره د اصل په شان ناروا خوند اخیستل کېدی شي، ومستدله ماروا ه أبوداؤد کأنما ینظر الیها. (۳) وهو الموفق

له سینما څخه د ترلاسه شویو روپو په اجرت کې د اخیستو حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې زید یو تعلیم یافته انسان دی، هغه د بکر له ماشومانو سره په پرایویټ (شخصي) ډول د مکتب کار کوي او بکر زید میاشتنی تنخوا ورکوي، مګر د بکر روپۍ له

---

۱) عن أبي أمامة رضي الله تعالى عنه قال قال النبي ﷺ.....أمرني ربي بمحق المعازف والمزامیر. (مشکوة المصابیح ۳۱۸، باب بیان الخمر و وعید شاربها)

۲) قال الله تبارک وتعالى: قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ۚ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ.
(سورة النور آیت ۳۰، پاره ۱۸)

وعن بريدة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ لعلي: یاعلي! لاتتبع النظرة النظرة فإن لک الأولى ولیس لک الآخرة.
(مشکوة المصابیح ۲۶۹، کتاب النکاح، باب النظر إلى المخطوبة)

۳) عن ابن مسعود رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله ﷺ: لاتباشر المرأة المرأة لتنعتها لزوجها کأنما ینظر إلیها.
(سنن أبي داؤد ۱ : ۲۹۲، کتاب النکاح، باب مایؤمر به من غضّ البصر)

سینما څخه ترلاسه شوي دي، یعنې هغه د سینما مالک دی، آیا د زید لپاره د همدې روپیو اخیستل روا دي؟ هغه په خپل استعمال کې مصرفولی شي؟ که چیرته نه شي کېدلی نو د دغو روپیو مصرف غریب رشته دار جوړیدلی شي یا که هغو ته یې اخیستل هم حرام دي؟ د قرآن او حدیث په رڼا کې جواب راکړئ؟

بینوا توجروا

المستفتي نامعلوم

الجواب: که چیرته یقیناً یا په غالب ګمان سره معلومه شي چې دا له سینما څخه حاصل شوی مال دی نو نه اخیستل یې ضروري دي (١) او که چیرته شکي وي او یا معلومه شي چې په قرض یا په تجارت وغیره سره ترلاسه شوی دی؛ نو اخیستل یې روا دی. **وهوالموفق**

---

١) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى :الحرام ينتقل،فلو بأمان وأخذ مال حربي بلا رضاه وأخرجه إلينا ملكه،وصح بيعه،لكن لايطيب له ولا للمشتري منه، وفي حظر الأشباه : الحرمة تتعدد مع العلم .(الدرالمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :مانقل عن بعض الحنفية من أنّ الحرام لا يتعدي ذمتين سألت عنه الشهاب بن الشلبي؟ فقال؟ هو محمول على ما إذا لم يعلم بذلك ، أما لو رأى المكاس مثلاً يأخذ من أحد شيئاً من المكس،ثم يعطيه آخر،ثم يأخذ من ذلك الآخر آخر فهوحرام.

(رد المحتار ٤:١٤٥ ،كتاب البيوع ،باب البيع الفاسد ،مطلب الحرمة تتعدد)

باب مسائل الکهرباء وعدّادها

(د بجلی او میټر مسائل)

د حکومت له اجازې پرته له خپل میټر څخه نورو ته بجلی ورکول

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې حکومت حکم جاري کړی چې د یو میټر څخه کچه تارونه نورو ځایونو ته ورنه کړئ، اوس زید میټر لګولی دی او عمر ورته وایي چې ورورہ ماته د خپل میټر څخه برق راکړه او مصرف به یې په ګډه ادا کوو. ایا عندالله دغه دواړه مجرمان دي؟

بینوا توجروا.

المستفتي: قاري فدا محمد، مانسهره..... ۲۵/ اګست ۱۹۷۵ء

الجواب: دا قانوني جرم دی مذهبي جرم نه دی، لخلوه عن الخداع والسرقة وغيرهما، ولأنه تمليك من جانب الحكومة لا اباحة، والمالك جازله التمليك(۱) وهو الموفق.

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ولا يمنع الشخص من تصرفه في ملكه إلا إذا كان الضرر بجاره ضرراً بيّناً فيمنع من ذلک وعليه الفتوى. (الدر المختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: والحاصل أن القياس في جنس هذه المسائل أن يفعل المالک ما بداله مطلقًا لأنه متصرف في خالص ملكه.

(ردالمحتار ۴: ۴۰۱، کتاب القضاء، باب التحکیم، مسائل شتّى)

وفي شرح المجلة: الماء والكلأ والنار مباحة والناس في هذه الأشياء الثلاثة شركاء ...فمن سبق إلىٰ شيئ من ذالک من وعاء أو غيره وأحرزه فهو أحق به وهو ملک له دون من سواه، يجوز له تمليكه بجميع وجوه التمليک.

(شرح المجلة ۴: ۱۷۵، المادة ۱۲۳۴، الباب الرابع في بيان شركة الإباحة، الفصل الأول)

د بجلۍ له میټر څخه زیات استعمال کول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د بجلۍ له میټر څخه زيات استعمالول او قيمت کم ورکول روا دي؟ **بينواتوجروا**.

المستفتي: ساقي محمد، نوشهره... ۲۴/ ذى القعده ۱۳۹۶هـ

الجواب: د حکومت د رعايت مطابق د بجلۍ مصرفول روا دي، زيات قابل غور دی (۱) **وهوالموفق**

د میټر په بندولو د پاخه شوي خوراک څښاک حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې په موجوده وخت کې يو شمير خلک ميټر په کورونو کې بند کړي، وجه دا بيانوي چې په بند ميټر باندې مصرف ډېر کم راځي، په خلاص ميټر باندې ډېر زيات مصرف راځي، ايا په دغه ميټر باندې د خوراک څښاک پخول روا دي او که نه؟ **بينواتوجروا**.

المستفتي: حکيم غلام حسن، مانيرى پايان، صوابى......۲۴/ ۱۰/ ۱۹۸۹ع

---

۱) في شرح المجلة: مخالفة المستأجر مأذونيته بالتجاوز إلى مافوق المشروط توجب الضمان وأما مخالفته بالعدول إلى مادون المشروط أو مثله لاتوجبه.....تعدى الاجير هوأن يعمل عملًا أو يتحرك حركة مخالفين لأمرالآجر صراحةً كان أودلالةً، المراد بالعمل المخالف لأمرالاجر دلالة أن يعمل الأجير في المستأجر فيه عملًا لايرضى به المالك....لأن كل عمل لم يكن ماذونًا فيه إذا كان من شأنه أن لايرضى به المالك يكون منهيًا عنه دلالة، فدخل في العمل المخالف لأمرالآجر دلالةً.
(شرح المجلة ۲: ۷۰۹، المادة ۶۰۵، الكتاب الثاني في الإجارات، الباب الثامن)

الجواب: دغه اقدام خيانت دی، (١) ليکن په دې سره دغه خوراک څښاک نه حراميږي (٢) **وهوالموفق**

د حکومت څخه د بجلي يا د مالکي غلا کول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې د موجوده حکومت څخه د بجلي يا د مالکې وغيره غلا کول روا دي او که نه؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي جناب تاج محمد. کوهاټ

الجواب: الملح قبل الاحراز جاز أخذه خفية لأن المسلمين شركاء فيه لحديث ورد بذلك(٣) بخلاف الثاني، الاأن يقال أنها..............

---

١) وفي مجموعة قواعدالفقه :الخيانة مخالفة الحق ينقص العهد في السر ونقيض الخيانة الأمانة .(مجموعة قواعدالفقه ٢٨٥،بحث الخاء)

٢) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالىٰ :(قوله اكتسب حراماً الخ) توضيح المسألة ما في التاتارخانية حيث قال :رجل اكتسب مالًا من حرام ثم اشترى قبل الدفع بها ودفعها أو اشترى قبل الدفع بها ودفع غيرها أو اشترى مطلقاً ودفع تلك الدراهم لو اشترى بدراهم آخر و دفع تلك الدراهم ،قال أبونصريطيب له ولايجب عليه أن يتصدق إلا في الوجه الأول ،وإليه ذهب الفقيه أبوالليث.....وقال الكرخي في الوجه الأول والثاني لايطيب وفي الثلاث الأخيرة، يطيب، وقال أبوبكر لايطيب في الكل لكن الفتوى الآن على قول الكرخي دفعاً للحرج عن الناس.

(ردالمحتار ٤: ٢٤٤،مطلب اذا اكتسب حراماً ثم اشترى فهوعلى خمسة أوجه)

٣) وفي المشكوة :عن عائشة رضي الله تعالىٰ عنها.... (پاتې حاشيه په بل مخ)

نار محرزة(۱) فافهم، وهوالموفق.

د بجلۍ د زيات بيل په راتلو باندې د مصرف کوونکي لخوا د ټيليفون محکمې ته د کمو روپيو ورکول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې ما په هوټل کې د بجلۍ کنکشن لګولی. تر شپږو مياشتو پورې بند وو، بيا يو ځل د بجلۍ بيل ۱۲ زره روپۍ راغلو کوم چې بېخي زيات دی او ما دومره بجلۍ نه ده استعمال کړې، که چېرته زه د هغه په بدل کې د ټيليفون محکمې ته کمې روپۍ ورکړم نو آيا په شرعي ډول ګنهګار يم او که نه؟ بينوا توجروا

المستفتي: جناب زربت خان. دی مال هوټل.
ايبټ آباد.....۲۶/ شوال ۱۳۹۹هـ

الجواب: مظلوم له ظالم څخه خپل حق په روا او پټ ډول تر لاسه کولو کې شرعي مجرم نه دی. ماخوذ از شامي كتاب الكراهية(۲)......

(د حاشيې پاتې برخه) أنها قالت يارسول الله !ما الشيئ الذي لايحل منعه؟ قال :الماء والملح والنار .

(مشكوة المصابيح ۲۶۰،باب إحيار الموات،الفصل الثالث)

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :(قوله المسلمون شركاء في ثلاث) أى شركة إباحة لاشركة ملك ،فمن سبق إلى شيئ من ذلک في وعاء أو غيره و أحرزه فهو أحق به وهو ملک له دون من سواه....،وإن أخذه أحد منه بغير إذنه ضمنه.....(قوله النار)..... إذا أوقد ها في موضع مملوک فإن له منعه من الإنتفاع بملكه ،فأما إذا أراد أن يأخذ من فتيلة سراجه لو شيئاً من الجمر فله منعه لأنه ملكه.

(رد المحتار ۶:۳۱۲،كتاب إحياء الموات ،فصل الشرب)

۲) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى :ليس لذي الحق أن ياخذ غير جنس حقه و جوزّه الشافعي وهوالأوسع . (الدر المختار)..... (پاتې حاشيه په بل مخ)

وکتاب الحجر[1] وهو الموفق

(د حاشيې پاتې برخه) وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالیٰ: أن عدم جواز كان في زمانهم، أما اليوم فالفتوى على الجواز....وفيه وجد دنانير مديونه وله عليه دراهم فله أن يأخذه لإتحادهما جنسا في الثمنية.

(الدر المختار مع رد المحتار ۵: ۳۰۰، كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

۱) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالیٰ: (قوله يعنى بلا أمره) لأن للدائن أن يأخذ بيده إذا ظفر بجنس حقه بغير رضا المديون فكان للقاضي أن يعينه....قال الحموي أن عدم جواز الأخذ من خلاف الجنس كان في زمانهم لمطاوعتهم في الحقوق والفتوى اليوم على جواز الأخذ عند القدرة من أى مال كان لاسيما في ديارنا لمداومتهم العقوق.

(ردالمحتار ۵: ۱۰۵، كتاب الحجر)

(ومثله في الفقه الإسلامي وأدلته ۷: ۵۴۵۱، كتاب السرقة)

باب مسائل البیشی

(د کمیټی مسائل)

کمیټی (هره میاشت د شریکانو په اجتماعي روپیو د پچې (قرعه اندازي) په ذریعه د تقسیمولو) حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې مثلاً دیرش کسان جمع شوي دي، هر یو یوه ورځ سل سل روپۍ ورکوي او په لسو ورځو کې دیرش زره روپۍ جمع کیږي، بیا پچه اچول کیږي نو د یوې ورځې. بیا په همدې ډول سل سل روپۍ اچوي او لس ورځې وروسته بیا پچه اچوي، بیا د یو چا وخیږي، تردې چې ټول کسان پوره شي. هریو کس ته خپلې دیرش دیرش زره روپۍ رسیږي، چاته مخکې او چاته وروسته، دغه معامله روا ده او که ناروا؟ **بينوا توجروا.**

المستفتي: مصباح الدین، صده، کوهاټ.... ۱۹۱۹/۳/۲۳ع

الجواب: چونکه دغه پچه اچول (قرعه اندازي) د پاک خاطر او بې انتظامۍ لیرې کولو لپاره ده نه د تملیک او تملک لپاره، لهذا په ظاهره په دې کې کوم کراهت نشته (١) **وهوالموفق**

---

١) وفي حاشية الهداية: كمايكون القرعة في القسمة لتطييب القلوب، وصورتها أن يكتب أسامي الشركاء ويجعلها بطاقات ويطوي كل بطاقة ويجعلها شبه البندقة ويدخلها في طين ثم يخرجها ثم يدلكها ثم يجعلها في وعاء أو في كمه ثم يخرج واحداً بعد واحدٍ. (الهداية ١٦٥:٣، حاشيه نمبر ١، كتاب الشهادة، باب من يقبل شهادته ومن لايقبل)

وقال العلامة العيني: (كالقرعة) في أنها ليست بحجة..... وأراد به القرعة التي بعد القسمة لتعيين الأنصباء، وأنها ليست بحجة ومع هذا يجوز استعمالها في تعيين الأنصباء. (البناية على الهداية ٤١٣:١١، كتاب الشهادة، باب من يقبل شهادته ومن لايقبل) وفي شرح المجلة: كيفما يتصرف صاحب..... (باتي حاشيه په بل مخ)

د کمېټۍ په شریکانو کې د یوه شریک د مړ کېدو مسئله

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې نن سبا کاروباري خلک عموما کمېټه اچوي، د هغې طريقه داسې ده چې معلوم کسان هره ورځ لس يا پنځوس روپۍ مثلا جمع کوي، بيا د مياشتې په اولنيو تاريخونو کې پچه (قرعه) راووځي، د چا نام چې راووځي ټولې روپۍ هغه ته ورکوي، په هره مياشت کې همدا معمول روان وي، هر يوه ته خپلې روپۍ ضرور ورکول کيږي، مګر په نمبر سره ورکول کيږي، اوس سوال دا دی چې شرعاً دغه مروجه طريقه روا ده که نه؟ او د يو شريک د مړ کېدو په صورت کې مسئله څه ده؟ مهرباني به مو وي په ځواب سره مو ونازوئ؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: اسلم خان اورکزئی، کرم ايجنسی ... ۲/۳/۱۹۱۹ع

الجواب: دغه معامله بذات خود روا ده، دا قيمار نه دی، په دې کې ماته خوړل نشته، صرف مخکې وروسته کېدلی شي. (۱) البته که چېرته په دغو شريکانو

(د حاشيې پاتې برخه) الملک المستقل بملکه يتصرف أيضاً في الملک المشترک أصحابه بالاتفاق کذلک.... يجوز لأحد أصحاب الحصص التصرف مستقلاً في الملک المشترک بإذن الآخر.

(شرح المجلة ۴: ۱۱، ۱۲، المادة ۱۰۶۹، ۱۰۷۱، الفصل الثاني في بيان کيفية التصرف في الأعيان المشترکة)

۱) قال الإمام ابن الهمام رحمه الله تعالیٰ: فکما أن تعليق الاستحقاق بخروج القرعة قمار فکذلک تعيين المستحق بخلاف قسمة المال المشترک لأن للقاضي هناک ولاية التعيين من غير قرعة وإنما يقرع تطييباً للقلوب ونفياً لتهمة الميل عن نفسه فلايکون ذلک في معنى القمار.

(فتح القدير ۷: ۲۲۹، کتاب الدعوى، باب مايدعيه الرجلان)

کې کوم يو له ګټلو مخکې مړ شي نو د هغه ټول قسطونه د هغه ورثه وو ته دې واپس کړی شي او کوم شريک چې د ګټلو وروسته مړ شي؛ نو د هغه له ورثه وو دې د داخل شويو روپيو پرته واپس واخلي، (۱)کنه نو دغه معامله قيمار شو (۲)

وهوالموفق.

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالیٰ: يبدء من تركة الميت الخانية عن تعلق حق الغير بعينها ......بتجهيز .....ثم تقدم ديونه التي لها مطالب من جهة العباد.
(الدر المختار ۵:۵۳۵،كتاب الفرائض)

۲) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالیٰ:لأن القمار من القمر الذي يزداد تارة وينقص أخرى، وسمي القمار قماراً لأن كل واحد من المقامرين ممن يجوز أن يذهب ماله إلیٰ صاحبه، ويجوز أن يستفيد مال صاحبه وهو حرام بالنص.
(ردالمحتار ۵:۲۸۵،كتاب الحظر والإباحة،فصل في البيع)

باب التصرف فی الملکیة

په خپل ملکیت کې داسې تصرف کول په کوم سره چې ګاونډي ته ښکاره ضرر رسیږي

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې که چیرته یو کس په خپل ملکیت کې تصرف کول غواړي، لیکن په دغه تصرف سره نږدې ګاونډي ته ښکاره ضرر رسیږي، آیا دا ډول تصرف د شرعي اصولو له مخې روا دی او که ناروا؟ **بینوا توجروا**

المستفتي: نامعلوم ۱۹۷۵ء/ ۵/ ۱۳

الجواب: دا تصرف ناروا دی، لمافی ردالمحتار ۴: ۲۲، من تصرف فی خالص ملکه لایمنع ولو أضرّ بغیره لکن ترك القیاس فی محل یضرّ بغیره ضررًا بینًا، وقیل وبه أخذ کثیرمن المشائخ وعلیه الفتوی(۱) وقال بعد أسطر: قلت الضرر البین یزال ولو قدیما، کما أفتی به علامة المهنداری(۲) وبمعناه في شرح الأشباه: ۷۶(۳).

نوټ: ضرر بین هغه ضرر دی کوم چې ښکاره وي، دلیل ته محتاج نه وي، همدارنګه له هغه څخه ځان ساتل کېدی نه شي. **وهوالموفق**

---

۱) ردالمحتار ۴: ۲۴۵، باب المتفرقات، مطلب دبغ داره وتأذی الجیران)

۲) ردالمحتار ۴: ۲۴۵، باب المتفرقات، مطلب الضرر البین یزال ولو قدیمًا)

۳) وفي شرح الأشباه: الضرر یزال، أصلها قوله علیه الصلاة والسلام: لاضرر ولاضرار...... وفسّره في المغرب: بأنه لایضرّ الرجل أخاه ابتداءً ولا جزاءً.
(شرح الأشباه ۸۵، القاعدة الخامسة، الضرر یزال)

د یو چا په شرعي ملکیت کې له اجازې پرته تصرف ناروا دی

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د یو خاص قوم درمن خیل یوه ژرنده ده او د هغې لپاره یو نهر هم دی، د درياب اوبه په دغه نهر کې بهیږي او شاو خوا ځمکو ته هم بهیږي، آیا دغه قوم د خپلې ژرندې لپاره دبل قوم کهته خیل په ځمکه کې له اجازې پرته نهر کندلی شي؟ **بینواتوجروا**

المستفتي میر شاهد الله، وزیرستان...... ۱۹۷۲ع/۷/۱۹

الجواب: واضحه دي وي چې د چا په شرعي ملکیت کې له اجازې پرته تصرف کول ناروا دی، (۱) والمسئلة واضحة ولا اختلاف فیها **وهوالموفق**

په خپله ځمکه کې د کور جوړوونکي په زوره منع کول

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې یو کس د کلي په خلکو کې تنګ شو، بېرون په خپل فصل کې کور جوړوي، دده ګاونډیان په ده باندې دغه کور بندوي، آیا دده ګاونډیانو ته په شریعت کې دا حق شته چې هغوی په ده باندې کور بند کړي؟ ځکه چې هغوی دده له ضرر څخه وار شوي دي. **بینواتوجروا.**

المستفتي: نامعلوم............ ۴/ جون ۱۹۷۵ع

الجواب: **محترم المقام دامت برکاتهم، السلام علیکم،** واضحه دي وي چې په خپله

---

۱) قال العلامة الحصکفي: لایجوز التصرف في مال غیره بلا إذنه ولا ولایته.
(الدر المختار ۵: ۱۴۰ کتاب الغصب، مطلب فیمایجوز من التصرف بمال الغیر بدون إذن صریح)
وفي شرح المجلة: لایجوز لأحد أن یتصرف في مال الغیر بلا إذنه....فتصرف الغیر في مال الغیر ممنوع إلا تکون وصایة أو ولایة أو تدعوا ضرورة فیجوز.
(شرح المجلة ۱: ۲۶۲، المادة نمبر ۹۶)

خمکه کې کور جوړول هیڅ ضرر نه دی، (۱) لهذا له دې څخه منع کوونکی ظالم دی، کما فی شرح المجلة: ۶۵۸، الضرر الفاحش هو کل مایمنع الحوائج الأصلية يعني المنفعة الأصلية المقصودة من البناء كالسكنى أو يضرّ البناء بأن يجلب عليه وهنًا ويكون سبب انهدامه (۲) وبمعناه في جامع الفصولين (۳) وهو الموفق.

آيا په خپله خمكه د ونې لگول او په خپل كور كې په لوړ آواز د راډيو غږول ضرر دی؟

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې زيد په خپل ملكيت كې داسې كړي مثلا (۱) په خپله خمكه كې د ونو لگول، (۲) په خپل كور كې په لوړ (اوچت) آواز سره د راډيو وغيره اوريدل په كوم سره چې بل همسايه ته په يقيني ډول تكليف دی، د شريعت له مخې زيد ته په خپله خمكه

---

۱) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ولايمنع الشخص من تصرفه في ملكه إلا إذا كان الضرر بجاره ضرراً بيّنًا فيمنع من ذلك وعليه الفتوى. (الدر المختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: المراد بالبيّن وهو مايكون سببًا للهدم أو يخرج عن الإنتفاع، بالكلية وهوما يمنع الحوائج الأصلية كسدّ الضوء بالكلية.

(رد المحتار ۴، ۴۰۱، باب التحكيم، مسائل شتّى، مطلب اقتسموا داراً وأراد كل منهم فتح باب)

۲) شرح المجلة لسليم رستم باز رحمه الله تعالى ۶۵۸، المادة نمبر ۱۱۹۹)

۳) في جامع الفصولين: أصابه بالقسمة ساحة لا بناء فيها وأصاب الآخر البناء فأراد ذوالساحة أن يبنى فيها ويرفع بناءه، فقال ذوالبناء إنک تسدّ علىّ الريح والشمس فلا أدعک ترفع البناء فله منعه لا في ظاهر الرواية لأن ذا الساحة منعه عن الانتفاع بملكه ولولم يتلف عليه ملكًا ولامنفعةً فلا يمنع منه، كرجل له شجرة يستظل بها جاره أراد قلعها لايمنع منه ولو تضرر به جاره إذ رب الشجرة بالقلع يمنعه عن الإنتفاع بملكه.

(جامع الفصولين ۲: ۱۹۴، الفصل الخامس والثلاثون فيما يمنع عنه ومالا يمنع)

کې د ونو لګول وغیره روا دي او که نه؟ د بلې ځمکې له ضرر څخه مراد د بل کس د ځمکې طرفته د نم تلل دي او د ځمکې په فصل (حاصل) کې د کافي نقصان باعث جوړ شوی دی؟ بینواتوجروا.

المستفتي: مولانا ثناء الله، ورانه کرک..... ۱۹۸۶ع/۴/ ۳۰

الجواب: ضرر نمبر (۱) ضرر بیّن نه دی، البته د ونو سیوری ضرر بیّن ګڼل شوی دی، (۱) لیکن په صورت مسئوله کې هغه موجود نه دی او ضرر نمبر (۲) نه ضرر بیّن دی او نه غیر بیّن، لأن مرادهم من الضرر مایضر البناء والزرع دون الضرر الشرعي، فليراجع الى شرح المجلة ۶۵۶م ۱۱۹۹، ۱۲۹۹ (۲) **وهوالموفق.**

په خپله ځمکه کې له تیارې شوې چینې څخه د خلکو منع کول

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې ایا یو کس په خپله ځمکه کې له تیارې شوې چینې څخه خلک ایسارولی شي؟ **بینواتوجروا.**

المستفتي: بذریعه حضرت مفتي صاحب مد ظله..... ۲۱/ جمادی الثانیه ۱۳۹۶ھ

---

۱) في شرح المجلة: الضرر الفاحش هوكل مايمنع الحوائج الأصلية يعني المنفعة المقصودة من البناء كالسكنى أو يضرّ البناء بأن يجلب عليه وهناً ويكون سبب انهدامه.... يدفع الضرر الفاحش بأيّ وجه كان مثلاً لو اتخذ في اتصال دار دكان حداد أوطاحون وكان من طرق الجديد و دوران الطاحون يحصل وهن للبناء أو أحدث في جانبها فرن أو معصرة فتأذى صاحب الدارمن دخان الفرن ورائحة المعصرة حتى تعذرت عليه السكنى، فهذا كله ضرر فاحش يدفع ويزال بأى وجه كان.

(شرح المجلة لسليم رستم باز رحمه الله تعالى ۶۵۸، المادةنمبر ۱۱۹۹. ۱۲۰۰)

۲) في شرح المجلة: من امتدت أغصان شجر بستانه إلى دارجاره أوبستانه فلجاره أن يكلفه تفريغ هوائه بالربط والقطع. (شرح المجلة: ۶۵۶، المادة: ۱۱۹۶)

الجواب: که چیرته دغه قوم له بل ځای څخه اوبه ترلاسه کولی شي؛ نو دوی د همدغې چینې مالک له خپل ملکیت څخه له تلو راتلو څخه منع کولی شي، کما فی شرح التنویر: ولو کانت البیر أو النهر فی ملک رجل فله أن یمنع مرید الشفعة من الدخول فی ملکه إذا کان یجد ماءً بقربه، وفی رد المحتار ۵ : ۲۸۸، قال العلامة المقدسی لم أر تقدیر القرب وینبغی تقدیره بالمیل کما فی التیمم () وهو الموفق.

د کتاب حقوق په خپل نوم د لیکلو حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کراموددې مسئلې په باره کې چې نن سبا که چیرته یو څوک مثلاً کوم کتاب په ډیر کوشش ولیکي او چاپ یې کړي، نو که چیرته دویم کس د هغه مقبولیت او ګټه وویني په خپله یې هم چاپ کړي او د هغه د طبع حقوق په خپل نوم کړي، لومړنی (اصل) کس د دغه کتاب له چاپ کولو څخه قانوناً محروم کړی دی، په دې صورت کې که چیرته لومړی کس د حفظ ماتقدم په ډول خپل کتاب رجستر کړي اګر که بلا ضرورت یې ظاهر نه کړي ترڅو چې نورو ته د رجسټری د عام جواز علم ونه شي، نو روا دی او که ناروا؟ بیا که چیرته په خپل شي سره د ضرورت معاش حاصلول وغواړي نو هغه څنګه کړي؟ **بینوا توجروا**

المستفتي اکرام الحق، راولپنډی....۱۸/ اګست ۱۹۷۳ع

---

۱) ردالمحتار ۵: ۳۱۲، کتاب إحیاء الموات، فصل الشرب)

وفي خلاصة الفتاوی: وإن کان الحوض في دار رجل أو في بستانه فاسقی آخر منه، لیس لصاحب الدار والبستان أن یأخذ ذلک منه إلا أن لصاحب الملک أن یمنعه من الدخول في ملکه، ولکل واحد أن یقول إن لی حقًا في دارک فإما أن توصلني إلی أوتمکني من الدخول، وهذا إذا کان مستقی غیر ذلک.

(خلاصة الفتاوی ۴: ۲۰۰، کتاب الشرکة، الفصل الأول في حکم المیاه)

الجواب: شرعاً دا اخيستل او خرڅول او دا منع تول ناروا دي (۱) وللتفصيل مقام آخر، وهوالموفق

بلا جواز د يو چا له بالاخانې څخه منع کول او بکته اوسېدونکي په پورتني منزل کې له تصرف کولو منع کول

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د زيد په يوه اباد ګودام باندې دپاسه بالاخانه او درې چنه دي کوم چې له ويش (تقسيم) پرته عاريةً يا د فيصله په وخت کې بکر ته د اوسېدو لپاره ورکړى شوې ده، له دوه نيم کلونو راهيسې ګودام او له ۸۰ کلونو څخه هغه بالاخانه آباده کړې ده، اوس زيد د بکر منع کول غوښتلي دي او بالاخانه په ذاتي ډول د خپل سکونت لپاره غواړي، ايا په شرعي ډول زيد بکر منع کولی شي يا دا که د بکر هم څه حقوق شته چې د شريعت له مخې د هغو لحاظ وشي؟ د درې چنونو په تصرف باندې زيد د شريعت له مخې خنډ اچولی شي که نه؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: ميا فضل اکبر، زيارت کاکا صاحب

الجواب: ترڅو چې زيد دا ثابته نه کړي چې بکر مستعير دی؛ نو له دې څخه مخکې بکر نه شي منع کولی، ځکه چې په ظاهره د بکر لپاره حق تعلی او ملک

---

۱) قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالى :وفي الأشباه لايجوزالاعتياض عن الحقوق المجردة کحق الشفعة.

(الدر المختار ۱۵ : ۴، کتاب البيوع ،مطلب لايجوز الإعتياض عن الحقوق المجردة)

وفي الهندية: أما شرائط الانعقاد: فأنواع .....ومنهافي المبيع وهو أن يکون مملوکاً في نفسه فلاينعقد بيع الکلأ.....وأن يکون متقوماً شرعاً.

(فتاوى هندية ۳، ۲، ۳، کتاب البيوع ،الباب الاول)

بالاخانه ثابت دی (۱)

(۲) که چیرته په دغه دري چتونو کې سفل ته هم کوم نقصان رسیدلی شي؛ نو خنډ اچولی شي (۲) فقط

د تابع جزئيات نه ترلاسه کېدو له وجې د قواعدو په بناء جواب ليکل شوی دی

وهوالموفق

د پلرونو اونيکونو د سلو کلونو څخه د قيام کوونکي کور د ملکيت مسئله

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې که چيرته يو کس د پلرونو او نيکونو لخوا له سلو کلونو څخه زيات په يوه کور کې

---

۱) قال العلامة ابن عابدين: أن وضع اليد والتصرف من أقوى ما يستدل به على الملک، ولذا تصح الشهادة بأنه ملكه....وليس للإمام أن يخرج شيئًا من يد أحد إلا بحق ثابت معروف.... فإن استمرار اليد عليها والتصرف فيها تصرف الملاک في أملاكهم أوالنظار فيما تحت أيديهم الأزمان المتطاولة قرائن ظاهرة أوقطعية على اليد المفيدة....إن الأراضي التي في أيدي الناس بمصر والشام المجهول انتقالها إليهم تقر في أيدي أربابها ولايتعرض لهم فيها بشيئ أصلاً.... باحتمال أنها كانت مواتًا فاحييت أو أنها انتقلت إليهم بوجه صحيح. (ردالمحتار ۳: ۲۸۱، باب العشروالخروج والجزية، مطلب القول لذي اليد أن الأرض ملكه)

۲) في الهندية: وإذا كان علو لرجل وسفل لآخر....فليس لصاحب العلو أن يبني علوه ولا أن يضع عليه جذعًا لم يكن ولايحدث كنيفًا إلا برضاه صاحب السفل عند أبي حنيفة رحمه الله تعالى، وقالا جاز لكل واحد منهما أن يصنع مالايضرّبه، وقيل هذا تفسير لقول أبي حنيفة رحمه الله تعالى يعنى أن أباحنيفة رحمه الله تعالى إنما منع عمامنع إذا كان مضرًا، وأما إذا لم يكن فلم يمنع، كما هو قولهما، فكان جواز التصرف لكل واحد منهما فيما لايتضرّر به الآخر فصلًا مجمعًا عليه.
(فتاوى هندية ۳: ۴۴۳، كتاب أدب القاضى، الباب الثاني والثلاثون في المتفرقات)

اوسیدونکی وي او د دغه کور ابادي هم د هغه پلرونو او نیکونو کړې وي، نو ایا دغه کس د شریعت له مخې د دغه کور مالک جوړېدلی شي؟ بینواتوجروا.

المستفتي: مزرا اکبر، چارسده.....۱۲/ جمادی الاول ۱۴۰۲ هـ

الجواب: په کوم ځای کې آبادي کول او په هغه ځای کې نسلاً بعد نسلاً اوسېدل موجب د ملک نه دي، (۱) **لعدم البيع والشراء وقبول الوصية والهبة ولعدم إحياء الموات، وهوالموفق.**

د ځمکې په دوکې سره د انتقال کوونکي او د زامنو په نوم د تملیک کوونکي حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د زيد پلار بكر له زيد سره سازش وکړو، د زيد څخه يې ځمكه د دوكې په ذريعه په بې خبرى كې د يو بل كس په نوم انتقال كړه او زيد په بې خبرى كې په هغې باندې دستخط وکړو، روپۍ بكر وصول كړې، يوه مياشت وروسته بكر هغه مشتري ته وويل چې زما يو بل زوی عمير د شفعې دعوه كړې ده، لهذا ښه به دا وي چې ته روپۍ واپس بيرته واخلې، هغه روپۍ واپس بيرته واخيستې او بكر ځمكه د خپل بل زوی په نوم انتقال كړه، سره له دې چې دغه ځمكه د زيد د مور په نوم ثبت شوې وه، لهذا شرعي حكم صادر كړئ؟ بينواتوجروا.

المستفتي: شاه مير، ميرانشاه..... ۱۹۷۵ع/ ۱۰/ ۱۳.

---

۱) وفي شرح المجلة: أسباب التملک ثلاثة، الأول: الناقل من مالک إلى مالک آخر كالبيع والهبة، الثاني: كون واحد خلف آخر كالإرث، الثالث، إحراز شيئ مباح لا مالک له. (شرح المجلة ۴: ۱۸۵، الباب الرابع في بيان شركة الإباحة، الفصل الثاني في بيان كيفية استملاک الأشياء المباحة)

وفي جامع الفصولين: أما التمليک فكبيع وشراء واجارة واستيجاروهبة وصدقة وإقرار وإبراء. (جامع الفصولين ۲: ۲، الفصل السادس والعشرون في مايبطل من العقود بالشرط)

الجواب: د صدق او ثبوت په شرط دغه بکر (دوکه ورکوونکی) مجرم دی. (۱) نه ددې ځمکې مالک دی او نه یې د زامنو په نوم تملیک کولی شي. (۲) **وهوالموفق**

په زور د حکومت لخوا ځمکه اخیستل او د بې کوره خلکو لپاره په هغې کې د کور جوړول

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د شریعت له مخې حکومت ته په زوره د ځمکو له څښتنانو څخه د ځمکې اخیستل او بزګرو (مزارعینو) ته په ورکولو سره د ځمکې د څښتنانو مالکیت ختم شوی دی او د بزګرو د ملکیت حق ثابت شوی دی او که نه؟ **بینوا توجروا**

المستفتي: حاجي سکندر. مانسهره...۱۲/ جون ۱۹۷۹ء

الجواب: دغه دواړه اقدامونه غیر اسلامي دي او دا د دین له اصولو سره په ټکر کې او د فساد برپا کوونکي اقدامات دي. (۳) البته د بې کوره خلکو لپاره

---

۱) قال الإمام البخاري رحمه الله تعالىٰ :وقال ابن أبي أوفى :الناجش أكل الربوا خائن وهو خداع باطل لايحل، قال النبي ﷺ :الخديعة في النار.
(صحيح البخاري ۱: ۲۸۷، كتاب البيوع ،باب النجش)

۲) في شرح المجلة :الأمربالتصرف في ملك الغير باطل....لايجوز لأحد أن يتصرف في مال الغير بلا إذنه .... وعدم الجواز شامل لجميع أنواع التصرف من استعمال.... وجميع ما يجزيه من العقود تمليكًا بعوض أو بغيره، يتوقف على إجازته.....فتصرف الغير في مال الغير ممنوع إلّا أن تكون وصايةً أو ولايةً أو تدعوا ضرورةٌ فيجوز.
(شرح المجلة ۱: ۲۶۲،المادة نمبر ۹۵، ۹۶)

۳) قال العلامة ابن عابدين :وليس للإمام أن يخرج شيئًا من يد أحد إلا بحق ثابت معروف. (ردالمحتار ۳: ۲۸۱،باب العشروالخراج ،ليس للإمام أن يخرج شيئامن يد أحد)
وأيضًا قال :لا أن يأخذه الحاكم لنفسه أو لبيت.... (باتي حاشيه په بل مخ)

باقاعده مکان یا د مکان په اندازه د ځمکې اخيستل طوعًا یا کرهًا روا دي، ويشهد بيع الحاكم طعام المحتكرين عند الضرورة(١) وهوالموفق

د بل چا د ځمکې طرفته د مائل شويو شاخونو په زوره د پرې کولو حکم

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د زید په خپل فصل کې په حد کې دننه يوه ونه ولاړه ده، د کومې يو شاخ چې د عمر د فصل طرفته مائل شوی دی او سيوری يې جوړ کړی دی. اوس عمر وايي چې دغه ونه له بيخه وباسه، آيا دده وينا صحيح ده؟ فتوی د کتابونو د حوالې سره راکړئ؟ بينواتوجروا.

المستفتي: غلام الله، جندول، دير

الجواب: د عمرو لپاره دا حق ثابت نه دی چې د هغه ونه غوڅه (پرې) کړي، يدل عليه ما في شرح المجلة ۶۵۶، أما اذا أدعى أن ظل الشجرة مضر بمزروعات بستانه فلا تقطع الشجرة(٢) بې شکه د دغه شاخ ترل يا پرې کول بالرضاء يا بالقضاء يا بغيرهما د

(د حاشيې باتې برخه) المال كما يتوهمه الظلمة، إذ لايجوز لأحد من المسلمين أخذ مال أحد بغير سبب شرعي.

(رد المحتار ٣:١٩٥، باب التعزير، مطلب في التعزير بأخذ المال)

١) قال المرغيناني رحمه الله تعالى: وهل يبيع القاضي على المحتكر طعامه من غير رضاه قيل هو على الإختلاف الذي عرف في بيع مال المديون، وقيل يبيع بالإتفاق لأن أباحنيفة رحمه الله تعالى يرى الحجر للدفع ضرر عام وهذا كذلك.

(الهداية ۴: ۴۷۲، كتاب الكراهية، فصل في البيع)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: فإن لم يبع بل خالف أمر القاضي عزره بما يراه رادعًا له، وباع القاضي عليه طعامه وفاقًا على الصحيح.

(الدر المختار ۵: ۲۸۲ كتاب الحظر والإباحة، فصل في البيع)

٢) شرح المجلة لسليم رستم باز رحمه الله تعالى: ۶۵۶)

فقهاء کرامو د تفصیل مطابق روا دي، فلیراجع الی شرح المجلة ۶۵۶،() جامع الفصولین ۲: ۲۹۶،()فقط.

حکومت ته د یوچا دمملوکه ځمکې بالعوض یا بلا عوض په زوره اخیستل

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د برطانیه د حکومت په وخت کې برصغیر کې یو قانون نافذ شو چې حکومت ته دا اختیار دی چې کله او چیرته وغواړي په مزروعه یا غیر مزروعه ځمکو باندې قبضه کوي هغه یې په خپل استعمال کې د راوستلو اجازه لري، د ځمکو د څښتنانو رضا ضروري نه ده، مالکانو ته وروسته په کوم وخت کې د نیتې له معلومیدو پرته برای نام عوض ورکول شوی دی او هغه هم له کلونو انتظار وروسته، په زیاتره صورتونو کې د مالکانو چونکه د آمدن همدا یوه ذریعه ده؛ نو ځکه د هغو له اخیستلو وروسته په ژوند کې بدي (ناوړه) ورځې لیدل شوي دي، په پاکستان کې هماغه تور قانون جاري دی.

حکومت في الحال په کوهاټ کې یوه غټه زرخیزه ځمکه په زور ترلاسه کړې ده

---

۱) وفي شرح المجلة :من امتدت أغصان شجر بستانه إلى دار جاره لو بستانه ،فلجاره أن يكلفه تفريغ هوائه بالربط لو القطع أى إذا القطع إذا أمكمن تفريغ الهواء من الأغصان بربطها فللجار أن يطالب صاحب الشجرة بالربط بالقطع ، وإلاطالبه بالقطع، وإن أمكنه مدّ بعض الأغصان إلى الشجرة وربطها فليس له أن يطالبه بقطع ذلك البعض ،كذا في فتاوى علي آفندي .(شرح المجلة ۶۵۶ ،المادة ۱۱۹۶)

۲) في جامع الفصولين :خرج شعب نخلته إلى جاره فللجار قطعها لتفريغ هوائه ،قالوا: هذا على وجهين ، فلو أمكمن تفريغه بشد الشعب على النخلة كله اوتفريغ بعضه بشد بعضها فله أن يأخذ ربّ النخلة بالشدّ لابالقطع فيما أمكن التفريغ بشدّه، وأما ما لايمكن تفريغه فله أن يأخذ ربّ النخلة بالشدّ لا بالقطع فيما أمكن التفريغ بشدّه، وأما مالايمكن تفريغه إلا بقطعه فالأولى أن يستأذن ربها فيقطع بنفسه أو يأذن له به ولو أبى يرفع إلى القاضي فيجبره على القطع .

(جامع الفصولين ۲ : ۱۹۶ ،الفصل الخامس والثلاثون فيما يمنع عنه ومالايمنع)

كومه چې د ډيرو خلكو ملكيت دی، په مالكانو كې يتيمان، كونډې او بې چاره هم شامل دي، د كومو د وخت تيريدل چې همدې ځمكې په فصل باندې دي، ټول مالكان د خپلې ځمكې په پرېښودلو باندې خوښ نه دي، وخت په وخت يې په دلائلو سره معروضات كړي دي، ليكن هيڅ نه اورېدل كيږي، پوښتنه دا ده چې (١) آيا په اسلامي فقه كې د همدې ملكيت د تحفظ څه شی موجود دی؟ كه چيرته مطلوبه تحفظ چيرته موجود وي نو د كرم له مخې د حوالو سره اصل عبارت، د اعراب او ترجمې سره وليكئ ترڅو سمه ساه واخلو؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: ميا لعل شاه، تهكال بالا، پشاور

الجواب: د حكومت لپاره روا نه دي چې له شرعي ضرورت پرته د چا مملوكه ځمكه واخلي، برابره ده كه بلا عوض وي او يا بالمعاوضه وي، **كما في الأشباه والنظائر ٢٠٢، وقد قدمناه عن رسالة أبي يوسف الى هارون الرشيد أن الامام ليس له أن يخرج شيئًا من يد أحد الا بحق ثابت معروف() وهوالموفق.**

د انګريزانو دقاتل دجايداد په ضبط كولوسره دهغه دملكيت ختميدو مسئله

سوال: څه فرمايلي دي علماء كراموددې مسئلې په باره كې چې د انګريزانو په زمانه كې كله چې قاتل مفرور شو؛ نو حكومت د هغه جايداد ضبط كړ او بيا يې په وروسته كې د پټواري په ذريعه ليلام كړ، د هغه متعلق څه حكم دی چې دا د هغه ملكيت دی او كه نه؟ د قاضي يا د حكم پر وړاندې څومره موده وروسته دعوه ساقطېدلی شي؟ **بينوا توجروا**

المستفتي: محمد عمر صاحب، لنډيواه، لكی مروت..... ١٤٠١ هـ/ ٦/ ٦

---

(١) الأشباه والنظائر ١٢٤، القاعدة الخامسة، تصرف على الرعية منوط بالمصلحة)
وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وليس للإمام أن يخرج من يد أحد إلا بحق ثابت معروف.
(ردالمحتار ٣: ٢٨١، كتاب الجهاد، باب العشر والخراج والجزية)

الجواب: چونکه د استیلاء کفار مثلا سبب ملک دی، (۱) لهذا د غه اخیستل او اخیستل موجب د ملک دی، البته د استیلاء د ختمېدو وروسته دا مشتري دي خپل قیمت واخلي، هغه ځمکه دي مخکني مالک یا د هغه ورثه وو ته دي واپس کړي، لما فی شرح التنویر ۳ : ۳۳۸، وبالثمن الذی اشتراه به لو اشتراه منهم تاجر أی من العدو( )فافهم اوحاکم اعلی چې څومره وخت ورکړی وي هغه معتبر دی (۳) وهوالموفق

د شاتو ملکیت او د هغو د شېږ په وخت کې د حاصلولو حکم

سوال: څه فرمایلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د شاتو مچۍ که چیرته یو ځای کوم چې د کوم کس ملکیت وي، هغه مالک یوه کوټه جوړه کړې وي، د ورځې په وخت کې له هغې څخه د شاتو اخیستل مشکل دي: نو د شپې په وخت کې د هغو شات اخیستل روا دي او که نه؟ **بینوا توجروا.**

المستفتي: عبد الرؤف شیوه ضلع مردان....۱۷/ جولائي ۱۹۷۹ع

الجواب: د شاتو مالک هغه کس یا قوم دی کوم چې د متعلقه ځمکې مالک دی (شامي ۵ : ۲۲۴) (۴)

---

۱) قال العلامة الحصكفي :وإن غلبوا على أموالنا ولو عبداً مؤمناً وأحرزوها بدارهم ملكوها.(الدر المختار ۳: ۲۶۶،باب استيلاء الكفار ،مطلب في أن الأصل في الأشياء الإباحة)

۲) الدر المختار ۳: ۲۶۸،باب استيلاء الكفار)

۳) قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى :قد استفيد من كلام الشارح أن عدم السماع بعد هذه المدة إنما هو للنهي عنه من السلطان فيكون القاضي معزولاً عن سماعها لما علمت من أن القضاء يتخصص ،فلذا قال إلا بأمر أى فإذا أمر بسماعها بعد هذه المدة تسمع ....الثاني : أن النهي حيث كان للقاضي لاينافي سماعها من المحكم. (رد المحتار ۴: ۲۸۱، كتاب القضاء ،مطلب هل يبقى النهي بعد موت السلطان)

۴) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى :عسل النحل في...(باتي حاشيه په بل مخ)

د شپې په وخت کې د شاتو په حاصلولو کې هيڅ ايذاء نشته، بخلاف اصطياد الطيورفي مكناتها بالليل(١) وهوالموفق.

د بل چا په ملكيت كې د شاتو پرې كول كله چې د ځمكې مالك هغه ته معلوم نه وي

سوال: څه فرمايلي دي علماء كرامو ددې مسئلې په باره كې چې د يو كس په ونه كې د شاتو مچيو ځاله كړې وي، هغه يو كس د همدې ونې څخه پرې كړه او مالک خبر نه و، نو دغه شات د هغه لپاره حلال دي او كه حرام؟ **بينواتوجروا.**

المستفتي: جناب شمس الرحمن، گجرات، مردان... ١٨/٦/١٩٧٢ع

الجواب: دا شات د ځمكې د مالک حق دى اگر چه هغه خبر نه وي، في ردالمحتار: عسل النحل في أرضه ملكه مطلقاً ٢: ٢١٩(٢) وهوالموفق.

(د حاشيې پاتې برخه) أرضه ملكه مطلقا لأنه صارمن إنزالها. (درمختار)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله ملكه مطلقا) أى وإن لم يعدها لذالك.

(رد المحتار ٤: ٢٤٤، كتاب البيوع، باب المتفرقات، فروع)

وفي شرح المجلة: إذا اتخذ النحل موضعاً في أرض إنسان فحصل منه عسل كثير فهو لصاحب الأرض وفيه العشر وليس لأحد عليه سبيل)

(شرح المجلة للأتاسي ٤: ٢٢٧، المادة ١٣٠٥)

١) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: اخذ الطير ليلاً مباح والأولى عدم فعله.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله والأولى الخ) لمافيه من تخفيف الألم عنه. (ردالمحتار ٦: ٣٣٧، كتاب الصيد)

وفي السراجية: أخذ الطير بالليل مباح لكن الأولى أن لايفعل.

(فتاوى سراجية ٣٧٣، كتاب الصيد، باب الاصطياد)

٢) ردالمحتار ٤: ٢٤٤، باب المتفرقات، قبيل باب مايبطل بالشرط ولايصح تعليقه به)

د دهريانو په غلبې سره له افغاني مالکانو څخه د ځمکو اخيستل په دهقانانو باندې په ويشلو سره ملکيت ختمېدی نه شي

سوال: څه فرمايلي دي علماء کرامو ددې مسئلې په باره کې چې د افغانستان په اسلامي حکومت باندې دهريان قابض شوي دي، هغوی له مالکانو څخه ځمکې اخيستې دي په دهقانانو باندې يې ويشلې دي، ايا دغو دهقانانو ته شرعًا له همدې ځمکو څخه استفاده روا ده او که نه؟ بينوا توجروا.

المستفتي: عبد الواحد نقشبندي، پاړا چنار ۱۴۰۰هـ/ ۶/ ۱۸

الجواب: چونکې د دهريانو په غلبې سره دار الاسلام دار الحرب نه ګرځي، لهذا دغه ځمکې الآن کما کان د مخکنيو مالکانو مملوک دي. (ماخوذ از شامی کتاب غلبة الکفار وغیره)(١) وهو الموفق.

---

١) قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى :لاتصير دار الإسلام دار حرب إلا بأمور ثلاثة، بإجراء أحكام أهل الشرک وباتصالها بدار الحرب وبأن لايبقى فيها مسلم أو ذمي آمنًا بالأمان الأول على نفسه. (درمختار)

وفي رد المحتار: (قوله لاتصير دار الإسلام دار حرب الخ) أى بأن يغلب أهل الحرب على دار من دورنا أو ارتد أهل مصر وغلبوا و أجروا أحكام الكفر أونقض أهل الذمة العهد، وتغلبوا على دارهم، ففي كل من هذه الصور لاتصير دار حرب إلا بهذه الشروط الثلاثة، وقالا :بشرط واحد لاغير وهو إظهار حكم الكفر وهو القياس..... إذا تحققت تلك الأمور الثلاثة في مصر المسلمين ثم حصل لأهله الأمان، ونصب فيه قاض مسلم ينفذ أحكام المسلمين عاد إلى دار الإسلام فمن ظفر من الملاک الأقدمين بشيئ من ماله بعينه، فهوله بلاشيئ..... قلت :حاصله أنه لما صار دار حرب صار في حكم ما استولوا عليه في دارهم. (ردالمحتار ٣: ٢٧٧، باب المستأمن، مطلب فيما تصيربه دار الإسلام دارحرب وبالعكس)

دفتاوی فريديه نهم جلد پای ته ورسيدو بعون الله تعالی